د لوړو زده کړو وزارت
تابش پوهنتون
د څېړنې او علمي مجلو معاونیت
د څېړنو امریت
د ملي ژورنال مدیریت


# تابش

## ملي علمي-څېړنیز ژورنال

د تابش پوهنتون ملي علمي- څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه


۱۴۰۴ ل کال | لومړی ټوک | لومړۍ ګڼه



- په اکاډمیک چاپېریال کې حسد او کینه
- د بازار اړتیاوو ته په کتو د پوهنتونونو په نصاب کې د علم او عمل د مطابقت
- د اړیکو او اتصال په ستراتېژیو کې د افغانستان جغرافیوي انځور
- د سیمه‌ییزو جوړښتونو پر وړاندې د افغانستان د بهرني سیاست ټاکونکي عناصر
- د نړیوالو معاهداتو پر لوریو د شرط حق اغېزې


ګڼه ۱


تابش
ملي علمي-څېړنیز ژورنال
۱۴۰۴ ل کال
لومړی ټوک لومړۍ ګڼه
ګڼه ۱


# TABESH

## NATIONAL ACADEMIC-RESEARCH JOURNAL


Biannual Academic-Research Journal *of* Tabesh University
Volume 01 | Issue 01 | 2025



- Envy and Malice in Academic Environments
- The Significance, Challenges, and Solutions of ...
- Geopolitical Remapping of Afghanistan in Connectivity ...
- Determinants of Afghanistan's Foreign Policy ...
- The Impact of the Reservation Right on the of ...



www.tabesh.edu.af
vc.research@tabesh.edu.af
Jalalabad, Nangarhar-Afghanistan

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوړو زده‌کړو وزارت
تابش پوهنتون
د څېړنې او علمي مجلو معاونیت
د څېړنو امریت
د ملي ژورنال مدیریت

# تابش ملي، علمي څېړنیز ژورنال

## د تابش پوهنتون علمي او څېړنیزه شپږمیاشتنۍ خپرونه

د۱۴۰۴ ل ۱۴۴۷ ق کال ـ لومړۍ ګڼه، اسد میاشت

# تابش ملي، علمي څېړنيز ژورنال


**د تابش پوهنتون علمي او څېړنيزه شپږمیاشتنۍ خپرونه**

**د امتياز خاوند**
تابش پوهنتون

**سرد بير (سرمنشي)**
وسيق‌الله همدرد

**مسؤل مدير**
پوهنيار محب‌الله الله‌يار

**د تصحيح مدير**
جواد احمدزی

**د توزيع مدير**
همايون بزرګ خېل



**تحرير هيئت**

- دوکتور خيرمحمد مومند
- پوهنيار دوکتور عبدالحميد سيرت
- دوکتور اسد الله محمدي
- دوکتور مجيب الرحمن
- پوهنيار مجيد الله ماموند
- استاد غفران الله صافی
- استاد حيات الله اشنا



چاپ تيراژ: ۵۰۰ ټوکه
چاپ ځای: زکريا ګرافيکس، جلال آباد
کلنی ګډون:

- ننګرهار : ۳۰۰ افغانۍ
- ولايات: ۶۰۰ افغانۍ
- بهرني هېوادونه: ۱۰۰ امريکايي ډالر

د يوې ګڼې بيه: ۱۲۰ افغانۍ
استادانو لپاره : ۸۰ افغانۍ
محصلينو لپاره: ۵۰ افغانۍ
همکارو ادارو لپاره: ۱۰۰ افغانۍ

# لیکلړ

**سرلیکونه**
**مخګڼه**


په اکاډمیک چاپېریال کې حسد او کینه ............................................ **3**
د بازار اړتیاوو ته په کتو د پوهنتونونو په نصاب کې د علم او عمل د..... **15**
د اړیکو او اتصال په ستراتېژیو کې د افغانستان جغرافیوي انځور ......... **33**
د سیمه ییزو جوړښتونو پر وړاندې د افغانستان د بهرني سیاست ........... **55**
د نړیوالو معاهداتو پر لوریو د شرط حق اغېزې ............................... **89**
په ننګرهار ولایت کې د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو د پرمختګ پر ........ **121**
په ننګرهار ولایت کې د سوال کولو لاملونه او د حل لارې چارې یې... **148**
په اسلامي شریعت او نړیوالو حقوقي اسنادو کې د سپلانیانو.............. **166**
د قاضي د عزل اسباب د اسلامي فقهې او د افغانستان د نافذه ............. **191**
وکالت د اسلامي شریعت او د مدافع وکیلانو د انسجام ...................... **218**
په ختیځ زون کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په............. **237**
د شبهې په اساس د حدودو د سقوط مواردو څېړنه ........................... **279**

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي أمرنا بالعلم والتعلم، وحثّ على التفكر والتدبر، فقال في محكم تنزيله: (وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا)، والصلاة والسلام على معلم البشرية الأول، سيدنا محمدٍ وعلى آله وصحبه أجمعين، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

د علم او پوهې ارزښت د انساني ټولنو د بنسټيزو ستنو له جملې څخه دی او همدا علم دی، چې انسان ته يې کرامت ورکړی، له نورو مخلوقاتو څخه يې ممتاز کړی او د خلافت عظمت يې ور په برخه کړی دی؛ د علم ارزښت او د عالم مقام ته قرآن کريم هم اشاره کړې ده: (يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ) (سوره المجادلة، ايت ۱۱) ژباړه: الله تعالی ستاسي څخه چي کوم کسان ايمان لرونکي دي او کومو کسانو ته چي علم ورکړ شويدی، الله به هغو ته لوړي درجې په برخه کړي.

له نيکه مرغه، تابش پوهنتون د علمي هڅو او ژمنتيا يو مهم پړاو ته رسېدلی، چې د دې پوهنتون په ټولنيزو علومو کې د ملي علمي ـ څېړنيزې مجلې لومړۍ ګڼه د چاپ په ګاڼه سنباليږي؛ دا مجله چې د دولسو علمي ـ څېړنيزو مقالو مجموعه ده، د علم، تفکر، تحليل، او څېړنې له پلوه يو ارزښتناک ګام ګڼل کيږی، چې د اسلامي، ملي او نړيوالو علمي معيارونو پربنسټ ترتيب شوې ده.

د دې مجلې تحرير هيئت او د پوهنتون رهبري هڅه کوي، څو د پوهنتون دننه او بهر علمي شخصيتونو ته داسې يو علمي چاپېريال برابر کړي، چې په‌کې د دوی فکري توليدات او څېړنې نه يوازې نشر شي، بلکې د علمي بحث، تبادلې، او پرمختګ وسيله هم وګرځي. د مقالو ليکوالانو او څېړونکو چې له بېلابېلو پوهنتونونو او علمي ادارو سره تړاو لري هڅه کړې ده، چې د خپلو څېړنو موضوعات د ملي اړتياوو، ټولنيزو ارزښتونو او معاصرو علمي ستونزو په نظر کې نيولو سره تر سره کړې، د دوی څېړنې د علمي اصولو، منطقي استدلال، معتبره ماخذونو او نويو ليدلوريو پر بنسټ ولاړې دي. په دې ګڼه کې راټولې شوې مقالې د بېلابېلو څانګو لکه شرعي، سياسي، حقوقي،

اداري، اقتصادي او ټولنیزو علومو پورې اړه لري، همدا راز دا مجله د هغو څېړونکو او محققینو لپاره یوه مقدمه ده، چې غواړې خپل فکري نوښت او علمي پرمختګ په یوه سالمه او علمي فضا کې وړاندې کړي؛ زمونږ هڅه دا ده، چې د افغاني څېړونکو تر منځ د څېړنې، تبادلې او همکارۍ فرهنګ لا پراخ کړو او د ملت د فکري پانګې د زیاتوالي لپاره د یوې علمي ذخیرې سبب شي.

د تابش پوهنتون مشرتابه، علمي شورا، او د مجلې تحریر هیئت ټیم ټول ژمن دي، چې دې علمي او څېړنیزې سلسلې ته دوام ورکړي او په عمومي ډول یې د علمي او څېړنیزو مقالو دقیقه ارزونه، اصلاح، خپرول او د لوړو زدهکړو وزارت اړونده ټولو معیارونو ته برابرول یې اصلي هدف دی؛ په پای کې، موږ له ټولو هغو درنو څېړنونکو، لیکوالانو، استادانو، ارزونکو او ټولو همکارانو څخه منندوی یو، چې د دې ګڼې په برابرولو کې یې له صداقت، اخلاص او مهارت څخه کار اخیستی دی؛ هیله ده، چې دا علمي مجله د علم، تحقیق او رڼا یوه څراغ وګرځي او د فکري ودې، علمي بیدارۍ او ملي پرمختګ وسیله شي.

**و أخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین.**

**تابش ملي علمي – څېړنېزې مجلې اداره او علمي ټیم**

**دوکتور حمیدالله مزمل**

لوړو زده کړو وزارت، د څېړنو، تألیف او ژباړې رئیس

# په اکاډمیک چاپېریال کې حسد او کینه

**لنډیز**

محصلان او سکالران له خپل اکاډمیک چاپیریال څخه زده کړه کوي او استادان یې د راتلوونکي مثالي انسانان وي. حسد او کینه بد عمل دی چې له مخاطب څخه زیات حسد کوونکي ته زیان رسوي، حسد په حقیقت کې د ځان خوړل دي، دا عمل ډېر بد ګڼل شوی دی او په اکاډمیکو بنسټونو کې لا بد عمل دی. په دې مقاله کې د حسد او کینې لاملونه ښودل شوي او دغه ستونزه په اکاډمیک چاپېریال کې ټولنیز، رواني، دیني او نورې خواوې او فکتورونه لري. که چېرې د دې څېړنې له تر سره کولو څخه وروسته په علمي ځایونو کې حسد کم شي، نو دا به لوی کار شوی وي چې همدا یې ارزښت ثابتوي. لیکوالو، څېړونکو او پوهانو ته ډېر زیان د هغوی خپل هم مسلکي رسوي، نو د همدې اړتیا پر بنسټ دغه څېړنه تر سره شوې ده، چې څنګه کولای شو دغې ستونزې ته حللاره پیدا کړو او د همدې ستونزې پر بنسټ دغه څېړنه تر سره شوه چې ولې په اکاډمیکو بنسټونو کې حسد شته؟ په اکاډمیکو بنسټونو کې د حسد او کینې لاملونه کوم دي؟ د دې څېړنې پوښتنه ده چې په لیکنې کې ځواب شوې ده او په اکاډمیکو بنسټونو کې د حسد او کینې څېړنه! یې موخه ده.

د پایلې په توګه ویلای شو چې په اکاډمیکو بنسټونو کې حسد او کینه شته چې دا ټولنیز، رواني، دیني او له نورو اړخونو څخه د پلټنې وړ دی او همدا لاملونه دي چې دغه ستونزه یې په علمي او اکاډمیکو اشخاصو کې پیدا کړې ده. څېړنه مروري ده او له تشریحي او تحلیلي مېتودونو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**کلیدي کلمې:** اسلام، اکاډمیک بنسټونه، روانپوهنه، ټولنپوهنه، حسد او کینه، فلسفه

**سریزه**

په علمي چاپېریال کې باید د علمي څېړنو، فکري صداقت او استدلال پر بنسټ د آزاد بحث اصولو ته ژمن اوسو؛ خو له بده مرغه، حسد او کرکه ډېر ځله د محققینو تر منځ اړیکو ته نفوذ کوي او دا منفي احساسات نه یوازې د افرادو تر منځ محدود دي، بلکې کله ناکله د بنسټیزو ستونزو په توګه را څرګندیږي، چې د علمي څېړنو پر کیفیت او د اکاډمیک چاپېریال پر فضا منفي اغېز کوي. دغه لیکنه کې هڅه کوو چې دا پدیده د مختلفو علمي برخو لکه ټولنپوهنه، روانپوهنه، اسلامي ثقافت، فلسفه، تاریخ او ژبپوهنې له نظره تحلیل کړو، ترڅو د حسد او کرکې اسباب، بڼې او پایلې روښانه شي.

**د څېړنې ستونزې**

الله تعالی په قران کریم کې د حسد او کینې د نه کولو په اړه ډېرې لارښوونې کړي دي؛ له همدې امله ویلای شو چې دا یو بد عمل دی چې دواړو خواوو ته زیان رسوي. څوک چې حسد کوي او له چا سره حسد تر سره کیږي، دواړه په زیان او تاوان کې دي. دغه ستونزه له بېسواده خلکو سره سره په باسواده خلکو کې هم شته، لامل یې دا دی چې انسان ټولنیز موجود دی او د وراثت له اغېزو ځان خلاصولای نه شي؛ ځکه ورته ځینې شیان له کورنۍ څخه په میراث کې پاتې کیږي او ځینې شیان له ټولنې زده کوي. په اکاډمیکو بنسټونو کې حسد او کینه لیدل کیږي چې دا سم کار نه دی او په سیده او ناسیده توګه د فرهنګي فقر، علمي وروسته پاتې والی، بې کیفیته تحصیل او تعلیم او د داسې نورو مسایلو د پیدا کېدو لامل ګرځي، د همدې ستونزې پر بنسټ دغه څېړنه تر سره شوې ده.

**د څېړنې ارزښت او اړتیا**

که چېرې په یوې ټولنې کې حسد او کینه کمه شي او یا هم نه وي؛ نو دا ټولنه به ورځ تر بلې د پرمختګ په حال کې وي. په اکاډمیکو بنسټونو کې د حسد او کینې موضوع د ډېر تأسف خبره ده، دا چې په اکاډمیکو بنسټونو کې له حسد او کینې څخه ځان ساتنه وشي او هغه عوامل وښودل شي چې په علمي ځایونو کې د لیکوالو، څېړونکو او استادانو تر منځ یې دغه ستونزه پیدا کړې ده، د دې څېړنې ارزښت ثابتوي او دا چې دغو ستونزه ته د حل لاره پیدا شي او دغه کړنې تر سره نه شي، چې ټولنه مو پرمختګ وکړي او

د فرهنګي پرمختګ، علمي بریاوو او لیکوالو ته دا موقع برابره شي چې لا نورې څېړنې وکړي؛ دا او دې ته ورته موضوعات د مقالې اړتیا وه.

**د څېړنې موخې**

په اکاډمیکو بنسټونو کې د حسد او کینې څېړنه!

په اکاډمیکو بنسټونو کې د حسد او کینې د لاملونو پلټنه!

**د څېړنې پوښتنې**

په اکاډمیکو بنسټونو کې حسد او کینه شته او که نه؟

په اکاډمیکو بنسټونو کې د حسد او کینې لاملونه کوم دي؟

**تېرو اثارو ته کتنه**

په پښتو ژبه کې په دې اړه ډېر څه نشته؛ خو په متفرقه کتابونو کې په دې اړه خبره شته چې د څېړنې اخلاق څه ته وايي؟ د څېړونکي اخلاق باید څنګه وي؟ د کشرانو لیکوالو له لیکنو څخه ګټه واخلو او که نه؟ او داسې نور مسایل په غیر مستقیم ډول د دې مقالې سره اړیکه لري؛ خو په اکاډمیکو بنسټونو کې د حسد او کینې موضوع یوه نوې خبره ده، چې مخکې په دې اړه څېړنه تر سره شوې نه ده.

**کړنلاره**

دغه څېړنه مروري ده او مېتود یې تحلیلي او تشریحي دی. مواد لوستل شوي، یاداشتونه اخیستل شوي او دغه څېړنه تر سره شوې ده.

**مونډنې/ اصلي موضوع**

حسد او کینه یو بد مرض دی چې انسانان پرې د ځینو لاملونو پر اساس اخته دي. انسان ټولنیز موجود دی او د ټولنې له اغېزو ځان خلاصولای نه شي. همدارنګه د انسان په داخل کې د بدو خوا شته چې دا هم د دې لامل کیږي چې انسان دې بد وکړي؛ خو بیا هم انسان باید له شر سره مبارزه وکړي او د خیر خوا یې پر شر غالبه وي.

په اکاډمیکو بنسټونو کې د ځینو علتونو پر اساس حسد او کینه لیدل کیږي، چې علمي مسایلو ته یې زیان رسولی دی، څېړنې یې ټکنۍ کړي، لیکوال یې کم کړي دي، د لیکوالو او استادانو تر منځ یې دښمني پیدا کړې او په لسګونو داسې نورې ستونزې وې چې دغه مقاله لیکل شوې ده.

**لومړی: د اسلامي مطالعاتو له آنده حسد او کرکه**
**د دیني متونو له مخې د علمي حسد تفسیر**

**حسد څه ته وايي؟:** حسد یو منفي دروني احساس دی چې پکې یو څوک د بل له نعمت، مقام یا بریا نه بدګمانه کیږي او یا غواړي چې دا نعمت ترې واخیستل شي، یا دا چې له ده سره وي، خو بل یې ونه لري.

دا له «غبطة» سره توپیر لري؛ ځکه غبطة د بل له بریا نه الهام اخلي؛ خو حسد کینه‌زیږې، ویجاړوونکې او زهرجنه هڅه ده. فیلسوف "برتراند راسل" وايي: "حسد د انسان له بدبختیو یو له سترو لاملونو څخه دی؛ ځکه نه یوازې د حسود زړه خوري، بلکې له نورو سره د تباهۍ اراده هم پکې پیدا کوي."

نوي روانپوهان حسد دوه ډوله بولي:
منفي حسد چې بد او تباه‌کوونکی وي؛

مثبت حسد یا مشروع رقابت چې انسان هڅوي د بل په څېر شي؛ خو له کینې پرته.

اسلامي مطالعاتو ته په کتو حسد یوه پخوانۍ او خطرناکه پدیده ده، چې قرآن کریم او مبارکو احادیثو کې ترې منعه راغلې ده.

رسول الله ﷺ فرمایلي: (ایَّاكُم وَالحَسَدَ یَأکُلُ الحَسَنَاتَ کَمَاتَأکُلُ النَّارُ الحَطَبَ)

«له حسده ځان وساتئ؛ ځکه چې حسد نیک عملونه داسې له منځه وړي لکه څنګه چې اور لرګي سوزوي (سنن أبي داود، ۲۶۴/۷، ۴۹۰۳).

په علمي چاپېریال کې حسد له اخلاقي حدودو څخه تېری ګڼل کیږي، کوم چې باید د محققینو تر منځ اړیکې تنظیم کړي (Bourdieu, 1984).

د حسد ډولونه او څرنګوالی په اکاډمیکه فضا او پوهنتونونو کې، حسد یوازې احساس نه پاتې کیږي، بلکې په اعمالو، تصمیمونو او ادارو کې خپل زهر شیندي. دا کسان:
د خپلو همکارانو شخصیت وژنه کوي؛
د بدنامۍ او شایعاتو خپرولو هڅې کوي؛
د نورو د ترقۍ، څېړنو او پروژو مخنیوی کوي؛
حتی علمي دعوتونه، اسناد او بریالیتوبونه پټوي یا تخریبوي.

ځینې وخت کمزوري مدیران چې د واسطې او چاپلوسۍ له لارې واک ته رسېدلي وي، د قانون تر نامه لاندې، له واک څخه د شخصي عقدو لپاره کار اخلي. دوی د قانون له چوکاټه د نورو د ځپلو لپاره استفاده کوي او ځان ته د عزت ناسم تصویر جوړوي؛ خو حقیقت کې دوی د اکاډمیک نظام نیمګړتیاوې او ناروغي نندارې ته وړاندې کوي.

**په علمي ډګر کې د ریا او نیت شخړه**

اسلامي مطالعات ټینګار کوي چې د علمي کار نیت بنسټیز اهمیت لري که چیرې علمي هڅې د شهرت غوښتنې سره ګډې شي؛ نو دا به د حسد لامل شي. په ځینو اسلامي مؤسسو کې د محققینو تر منځ سیالي د تقوا تر شعار لاندې پټ وي؛ خو په حقیقت کې دا سیالي د پټو جګړو، کرکې او حسد پر بنسټ ولاړه وي.

د امام غزالي په وینا د علمي حسد اصلي لاملونه د شهرت غوښتنه، د نفس لوړتیا او د نورو پر وړاندې ځان غوره ګڼل دي. هغه په خپل کتاب "احیاء علوم الدین" کې یادونه کوي، چې دا ډول حسد نه یوازې د فرد اخلاقي ارزښتونه له منځه وړي، بلکې ټول علمي چاپېریال خرابوي.

تاوانونه: د حسد له امله په اکاډمیک ژوند کې د علم او زده‌کړې اصلي هدف له یاده وځي؛ رقابت د اصلاح پر ځای، د انتقام بڼه غوره کوي؛ د ادارې فضا ناپاکه او له کینې ډکیږي، مبتکرین او مخلصین منزوي کیږي او نوښت له منځه ځي. د مصر نوموتي فزیک پوه احمد زویل یوه مشهوره جمله لري:

"غرب د ناکام تر شا ولاړ وي څو بریالی شي؛ خو موږ د بریالي تر شا ولاړ یو څو ناکام یې کړو "! (زویل، x).

**دویم: د روانپوهنې له نظره حسد او کرکه**

**نرګسیتي شخصیتونه او حسد:** روانپوهان استدلال کوي چې حسد اکثره له نرګسیتي شخصیتونو څخه سرچینه اخلي چې خپل ارزښت د خپلو لاسته راوړنو پر بنسټ ټاکي. دوی د نورو بریا د ځان لپاره ګواښ ګڼي(ego threat)، چې له امله یې کرکه او تحقیر را منځته کیږي (Paul, 1983).
کله چې د نرګیست خبره کوو؛ نو په دې باید پوه شو چې نرګسیت څه ته وايي:

نرګس په یونان کې د ښایسته شهزاده اسطوره ده، دی ډېر ښکلی وي او د نجونو د مینې پروا نه کوي، د حماسو یوه ځانګړنه دا ده چې اصلي کرکټر او قهرمان د مینې په مقابل کې بې پروا وي. نرګس د یوناني کیفسیوس زوی دی، مور یې له یو راهب څخه پوښتنه کوي چې زما زوی «نرګس» به ډېر عمر ولري او که نه؟ راهب ورته وایي، ستا زوی به تر ډېره ژوندی وي؛ خو په دې شرط چې ځان ونه پېژني. انګۍ یونانۍ ښکلې الهه ده او ډېره خبر لوستې وه، په یوه ښکلي شهزاده «نرګس – Narcissus» مَېنه شوه؛ خو نرګس یې مینه قبوله نه کړه. یوه ورځ نرګس خپل قواره په اوبو کې ګوري او په خپل ځان مَئېنیږي، د مینې د لاسته راوړلو «په ځان مَئېنتوب» لپاره چغې وهي او د اوبو پر غاړه مړ کیږي او د نرګس په نامه ګل یې په مړي شین کیږي.

د نارسیست فکر فروید له همدې اسطورې اخیستی دی او همدارنګه یې له نورو اسطورو او حماسو څخه هم داسې خبرې اخیستي دي، چې د حماسو او روانپوهنې اړیکې ثابتوي.

د فروید د ډېرو کمپلکسونو په شان یې دا فرضیه د نرګسیت ده، چې له حماسو یې کشف کړه او په معاصره روانپوهنه کې د بحث وړ موضوع ده. نرګسیت «نارسیسیزم» د سادیزم او مازوخیزم سره اړیکه لري او فروید د انګۍ او نرګس له اسطورې څخه د نارسیسیزم رواني اصطلاح ثابته کړه. دغه رواني ستونزه په ځینو انسانانو کې لیدل کیږي چې له دې جملې څخه علمي اشخاص او لیکوال هم د یادونې وړ دي. کله چې انسان په ځان مئېن شي، د نورو کارونه ورته ارزښت نه لري، نورو ته په کمه سترګه ګوري، د نورو غیبت کوي، څه چې ځان ته خوښوي، هغه نورو ته نه خوښوي او ځان ورته له نورو ډېر لوړ ښکاري. په څېړنو او علمي کارونو کې د کرکې او حسد یو اساسي لامل یې نرګسیت دی.

**د اسقاط او تحقیر میکانیزمونه**

په اکاډمیکو چاپېریالونو کې ځینې محققین ممکن د "پروجیکشن " (Projection)یا "اسقاط" رواني میکانیزم ته مخه کړي. دا یو دفاعي میکانیزم دی چې پکې فرد خپل ناسم یا نه منل شوي احساسات، فکرونه یا ځانګړنې نورو ته منسوبوي چې له دې لارې له خپل ځان سره د دغو منفي

ځانګړنو د منلو څخه ځان وژغوري. دا عمل د نورو د تحقیر لامل ګرځي او همدا د کرکې د خپرېدو سبب کيږي. حسد او کرکه نه یوازې شخصي احساسات دي، بلکې د ټولنیزو او اروایي میکانیزمونو نتیجه ده چې د علمي چاپېریال پر فضا منفي اغېز کوي.

**درېیم: د ټولنپوهنې له نظره حسد او کرکه**

**د ټولنپوهنې له اړخه حسد:** فرانسوی ټولنپوه پییر بوردیو (Pierre Bourdieu) په خپل کتاب Homo Academicus کې استدلال کوي چې علمي چاپېریال یوازې د علم د تبادلې ځای نه دی، بلکې د سمبولیکو شتمنیو، لکه علمي رتبې، شهرت او اعتبار د تر لاسه کولو لپاره یوه سیالي ده. دا سیالي حسد او احساسات راپاروي چې له امله یې ځینې محققین هڅه کوي نور بدنام کړي یا یې له سیالۍ وباسي (Bourdieu, 1984).

کله چې په ټولنه کې مادیاتو ته ډېر ارزښت ورکړل شي؛ د معنویاتو او اخلاقیاتو ځای مادیات نیسي. له همدې امله د ځینو وروسته پاتې ټولنو په تعلیمي نظام کې دغه ستونزې لیدل کيږي، چې کله نا کله ځینې خلک یوازې د رتبې تر لاسه کولو پسې ګرځي او دا په پام کې نه نیسي چې څېړنه یې څومره دقیقه او د کار ده؟ څومره خلک به ترې ګټه واخلي؟ لیکل شوی اثر یې څه ارزښت لري؟ د کومې ستونزې د حل په موخه لیکل شوی دی؟

په رواني لحاظه اکثره کورنۍ ماشوم ته په ماشومتوب کې حقه حقوق نه ورکوي، کله چې همدا ماشوم لوی شي، بیا غواړي چې ځان ثابت کړي، د ځان ثابتولو لپاره د شهرت پسې ګرځي. هغه ماشوم چې په ماشومتوب کې غندل شوی او صلاحیت ورکړل شوی نه دی، ځان ثابتول غواړي چې دا ستونزه هم د حسد او کینه لامل ګرځي.

د علمي قشر لپاره ښایي چې خپلې کړنې په اسلامي اوامرو برابرې کړي؛ نو بیا دغه ستونزې کمیږي او هر انسان چې ځان ته څه خوښوي، هغه به نورو ته هم خوښ کړي. ډېر وخت اکثره ستونزې په تعلیم یافته خلکو کې لیدل کيږي چې په دې فکر کول پکار دي. په رسنیو کې ډېر وخت یو لیکوال نور لیکوال بدناموي او کوښښ کوي چې د هغه مخه ونیسي چې دا موضوع فرهنګ او پرمختګ ته زیان رسوي او دولت دا مسؤلیت لري چې د داسې موضوعاتو مخه ونیسي. د لیکوالانو په بدنامۍ کې امکان لري چې د بهرنیو

ادارو لاس وي، که چېرې د پښتو ژبې لیکوالو تر منځ ترېګني روانه وي، معلومه خبره ده چې دوی به خپلې ژبې او فرهنګ ته کار نه کوي او د فرهنګي یرغل د مبارزې په برخه کې به له ستونزو سره مخامخ شي.

**د تبعیض میکانیزمونه او د کرکې بیا تولید**

د معاصرې ټولنپوهنې له نظره، حسد یوازې شخصي احساس نه دي، بلکې د ټولنیزو جوړښتونو نتیجه ده چې په علمي چاپېریال کې ځینې ډلې د نورو د پرمختګ مخنیوی کوي، د بېلګې په توګه د نویو محققینو یا د مختلفو نظریاتو لرونکو کسانو د ترفیع مخنیوی چې دا عملونه د کرکې د خپرېدو لامل ګرځي چې د علمي پرمختګ مخه نیسي.

په ځینو ټولنو کې د لیکوالو ډلې جوړې شوې وي، یوه ډله بله ډله بدناموي او کوښښ کوي چې هره ډله خپل ځان ته کار وکړي. دا کار په تعصب باندې اوړي او د فرهنګ او لیکوالۍ په غنامندۍ کې ستونزې جوړوي. همدا ستونزه دومره ستره شي چې په کرکه باندې واوړي.

د یوې خبرې یادونه ضروري ده چې کله کله د دغو ډلو په جوړولو کې د ځینو خلکو لاس وي، چې د یوې ټولنې ادب، فرهنګ او څېړنو ته کار ونشي.

د پوهنتونونو په چاپېریال کې د لوړ رتبه او ټیټ رتبه او همدارنګه د تحصیلي اسنادو موضوع هم په تعصب باندې اوړي، چې لاملونه یې ډېر زیات دي. ډېری وختونه داسې هم شوي دي چې ټیټ رتبه استادانو د رتبو په اخیستلو کې ستونزې جوړې شوې دي چې وروسته بیا همدا موضوع په کرکې اوښتې ده. په کمښتو او صلاحیت لرونکو ځایونو کې ډېر وخت لوړ رتبه استادان برخه اخلي چې دا هم د کرکې باعث ګرځي او په لسګونو داسې نور لاملونه دي چې د حسد او کینې لامل ګرځي.

**څلورم: فلسفه او علمي حسد ــــ د ذهنونو جګړه**

**فلسفه: د ځانونو تر منځ سیالي او حسد**

فلسفه د آزاد فکر، نظریې او د نوښت ارزښت بیانوي او د حسد لپاره یوه زېږنده فضا برابروي. دا ځکه چې دلته د "فکر کوونکي ذهن" مقام ته ځانګړې پاملرنه کوي. داسې فیلسوفان لکه هیګل او نیچه، د خپلو معاصرو

سره سختې فکري جګړې کړي، چېرې چې د "حقیقت د مالکیت" پر سر سیالي د سختو شخړو لامل ګرځېدلې(Nietzsche & Homo, 1888).

**فلسفي کرکه او د معرفتي برترۍ افسانه**

فلسفي کرکه اکثره وخت د سیال د معرفتي ارزښت کمولو هڅو کې ځرګندیږي. فلسفي بحثونه کله ناکله له انتقادي خبرو اترو څخه د سیال د ماتولو هڅو ته اوړي، نه د حقیقت د اثبات لپاره.

په فلسفه کې حسد او کرکه د فکري سیالیو او د حقیقت د مالکیت پر سر د شخړو له امله را منځته کیږي، چې د علمي چاپېریال پر فضا منفي اغېز کوي.

**پینځم: تاریخ ـــ د تېر د بیا لیکنې پر سر حسد او کرکه**

**تاریخ د سمبولیکو شخړو ډګر**

په تاریخي ډګر کې حسد د مسلک له طبیعت سره تړاو لري. هغه ځوک چې تېر تاریخ بیا لیکي، په اوسني وخت کې ستر سمبولیک ځواک لري. د فرانسوي تاریخپوه میشل دې سرتو (Michel de Certeau) په وینا: تاریخ لیکنه د تېر او اوسني تر منځ د تشې ډکولو هڅه ده چې د پخوانیو روایتونو د بیا تفسیر له لارې تر سره کیږي، نو هره نوې تاریخي څېړنه یا تفسیر د پخوانیو مؤرخینو مقام ته ګواښ پېښوي چې دا د کرکې او رد عملونو لامل ګرځي، کله ناکله د "علمي امانتدارۍ" تر شعار لاندې راځي( Certeau et .al., 1975

**د اکاډمیکو نسلونو تر منځ شخړه**

لکه څنګه چې په فلسفه او تاریخ کې د "زوړ ساتونکي" او "نوي څېړونکي" ترمنځ شخړه موجوده ده. دا شخړه نه یوازې د مقام پر سر ده، بلکې د تاریخي روایتونو د واک له لاسه ورکولو ویره پکې شامله ده. نوي محققین چې نوې نظریې او میتودونه وړاندې کوي، د پخوانیو مؤرخینو لخوا د ګواښ په توګه لیدل کیږي، چې دا د حسد او کرکې لامل ګرځي.

په تاریخي ډګر کې حسد او کرکه د سمبولیک ځواک، مقام او د روایتونو د واک پر سر شخړو له امله رامنځته کیږي چې د علمي پرمختګ مخه نیسي او د اکاډمیک چاپېریال فضا خرابوي.

**شپږم: د ژبپوهنې په مطالعاتو کې حسد او کرکه ـــ د داخلي او خارجي ژبو بېلګه**

**ژبې: د سمبولیکو ډګرونو نازکوالی**

په پښتو او انګلیسي ژبو کې د ژبپوهنې مطالعاتو کې حسد او کرکه د متونو د نوې لوستنې پر سر سیالیو کې څرګندېږي. هغه محققین چې نوې لارې چارې او نوښتونه وړاندې کوي، کله ناکله د شک او مخالفت سره مخ کیږي، په ځانګړې توګه که د دوی نظریات له دودیزو اکاډمیکو اصولو سره توپیر ولري.

**د ژبې له لارې سمبولیک تسلط**

فرانسوي ټولنپوه پییر بوردیو په خپل اثر Ce que parler veut dire کې استدلال کوي چې ژبه یوازې د اړیکو وسیله نه ده، بلکې د قدرت او نفوذ یوه وسیله هم ده. هغه کسان چې ژبني مهارتونه لري، کولی شي دا مهارتونه د نورو د ځنډې ته کولو لپاره وکاروي، چې دا عمل د کرکې او د ځان کم ارزښتۍ احساس ته لاره هواروي، په ځانګړې توګه د نویو محققینو لپاره ستونزه جوړوي (Bourdieu et al., 1982.).

د ژبپوهنې په ډګر کې حسد او کرکه د ژبې د سمبولیک ځواک له امله را منځته کیږي، چې دا ځواک د اکاډمیکو اړیکو پر جوړښت او پرمختګ ژور اغېز لري.

**پایله**

په اکاډمیک چاپېریال کې حسد او کرکه شته. که څه هم د علمي میتودونو او ظاهري بې‌طرفۍ تر سیوري لاندې پټ ساتل کیږي؛ خو بیا هم د پوهې د ډګرونو په رواني، ټولنیزو او کلتوري جوړښتونو کې ژورې ریښې لري. د دغو منفي احساساتو شدت د مختلفو علمي برخو له مخې توپیر لري؛ له ژبپوهنې په مطالعاتو کې چې پټه او خاموشه سیالي حاکمه ده، تر فلسفې او تاریخي څېړنو پورې په ښکاره او څرګنده توګه شخړې پکې لیدل کیږي. د دغو پدیدو درک کول د هغوی د توجیه کولو لپاره نه، بلکې د دوی د فعالیت میکانیزمونو د پوهېدو لپاره مهم دي چې یو عادلانه او ازاد اکاډمیک چاپېریال را منځته شي، لکه څنګه چې فیلسوف باروخ سپینوزا ویلي:

(ما هڅه کړې ده چې د انسانانو پر کړنو ونه خاندم، نه پرې وژاړم، نه ترې کرکه وکړم، بلکې پوه شم)

د سپینوزا دا وینا موږ ته یادونه کوي چې د انساني چلندونو د تحلیل پر مهال باید له قضاوت او احساساتي غبرګونونو څخه ډډه وکړو او پر ځای یې د پوهې او درک له لارې د دوی ریښې وپلټو. دا ډول لیدلوری کولی شي موږ سره مرسته وکړي چې د اکاډمیکو چاپېریالونو منفي اړخونه وپیژنو او د اصلاح لپاره یې ګامونه واخلو.

**مناقشه**

په دې موضوع په پښتو ژبې کې کار نه دی شوی؛ خو په ځینو کتابونو کې راغلي دي چې څېړونکی باید د څېړنې په تر سره کولو کې څنګه اخلاق ولري؟ د څېړنې اخلاق کوم دي؟ د عمر په لحاظ د کشرانو له اثارو څخه ګټه اخیستل کسرشان دی او ګټه نه اخیستل کسر شان دی؟ د څېړونکي اخلاق او مواصفات او داسې نور مسایل په غیر مستقیم ډول له دې څېړنې سره تړاو لري؛ خو دغه کار کاملاً له پخوانیو کارونو سره توپیر لري. د دې کار ارزښت او اړتیا، څېړنه د کومو ستونزو پر اساس تر سره شوې ده او داسې نورو موضوعاتو کې یې وضاحت شوی دی.

**وروستۍ نتیجه ګیري**

حسد او کینه یو بد عمل دی چې انسان ته نه ښایي تر سره یې کړي او په ځانګړي توګه مسلمان خو یې باید هېڅ تر سره نه کړي؛ ځکه چې الله تعالی یې منع کړې ده؛ خو بیا هم په وروسته پاتې هېوادونو کې دغه ستونزه لیدل کیږي چې ښه بېلګه یې نړۍ کې درېیمه درجه هېوادونه دي. په دې مقاله کې دا ثابت شوې ده چې په اکاډمیکو بنسټونو کې حسد او کینه شته او هغه لاملونه یې ښودل شوي دي چې ولې تر سره کیږي؟ دغه ستونزه د ټولنپوهنې له اړخه خبرو ته اړتیا لري، د ارواپوهنې له پلوه هم دا ستونزه پیدا کېدای شي او داسې نور فکتورونه ښودل شوي دي چې دا ستونزه ولې پیدا کیږي؟

**وړاندیزونه**

ولې په اکاډمیکو بنسټونو کې حسد او کینه تر سره کیږي، موضوع باندې دې څېړنه تر سره شي؟

د کمي تحقیق پر اساس دې د استادانو د خپلو نظریاتو څخه دا ثابت شي چې دا ستونزه ولې پیدا شوې ده او څنګه حل کېدای شي.

په اکاډمیکو بنسټونو کې حسد او کینه د وراثت او ټولنې سره څه اړیکه لري؟ په دې موضوع دې هم څېړنه تر سره شي.

**ماخذونه**


دا روایت سنن أبي داود ۷/ ۲۶۴ ت الأرنؤوط د حدیث شمیره ده ۴۹۰۳

د احمد زویل له مشهورو اقول څخه دي (الغرب لیسوا عباقرة و نحن لسنا أغبیاء، هم فقط یدعمون الفاشل حتى ینجح ونحن نحارب الناجح حتى یفشل

Pierre Bourdieu, Homo Academicus, Éditions de Minuit, 1984.

Pierre Bourdieu, Ce que parler veut dire, Fayard, 1982.

Friedrich Nietzsche, Ecce Homo, 1888.

Michel de Certeau, L’Écriture de l’Histoire, Gallimard, 1975

Paul Wachtel, The Poverty of Affluence, Free Press, 1983

**پوهندوی دوکتور سید اصغر هاشمي او پوهنیار خلیل الله حنیف**
د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، سید جمال الدین افغان پوهنتون، کونړ

# د بازار اړتیاوو ته په کتو د پوهنتونونو په نصاب کې د علم او عمل د مطابقت ارزښت، ستونزې او حل لارې

**لنډیز**
د پوهنتون په نصاب کې ټولنیزه اړتیا په پام کې نیول بنسټیزه موضوع ده او نصاب باید داسې جوړ شي چې د تیوري او عملي خوا تر منځ یې برابري او توازن موجود وي؛ خو په کور دننه په نصاب کې دغې برخې ته په کافي اندازه پاملرنه شوې نه ده، چې دا خپله یوه ستونزه ده او باید حل شي. نصاب خپل ارزښت لري؛ خو په دې برخه کې له لسګونو ستونزو سره مخامخ یو چې په مقاله کې د ستونزو حل لارې ښودل شوي دي. د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې نصاب که معیاري شي؛ نو ډېرې ټولنیزې، علمي، فرهنګي او داسې نورې ستونزې به حل شي، محصل به بازار کې د کار پیدا کولو صلاحیت ولري. نصاب د هرې ټولنې لپاره ارزښت لري؛ خو زموږ په نصاب کې ځینې داسې ستونزې شته چې په مقاله کې یې ستونزې او حل لارې ښودل شوي او باید پاملرنه ورته وشي. دغه مقاله ټولو محصلانو، نصاب جوړونکو، د لوړو زده کړو وزارت کار کوونکو، استادانو او د پوهنتونونو مسؤلینو ته د کار خبرې لري. که نصاب په بازار کې کار پیدا نه کړي، په نصاب کې د تیوري ـ نظري او عملي خوا تر منځ توازن موجود نه وي؛ نو نصاب به له ډېرو ستونزو سره مخامخ وي. پر همدې اساس ویلای شو چې دا څېړنه ارزښت لري او ټولنې ته یې ګټه دا ده چې د نصاب معیاري کېدو لارښوونه کوي، نصاب جوړونکي به د نصاب په جوړولو کې له دغو لارښوونو ګټه واخلي، محصلانو ته به یو داسې نصاب ولرو چې د نظري او عملي خوا تر منځ برابري به ولري او محصلان به مو د داسې نصاب درلودونکي وي چې په هېواد او سیمه کې به د کار پیدا کولو ښه صلاحیت ولري. د هېواد د کار بازار له مخې د پوهنتونونو په نصاب کې د علم او عمل پلټنه! او د کار بازار په پام کې نیولو سره د نصاب ارزښت،

ستونزې او حللارو څېړنه! يې موخې دي. موندنې يې ثابتوي چې په نصاب کې باید د نظري او علمي خوا تر منځ برابري موجوده وي، همدارنګه نصاب خپل ارزښت لري، خو په دې برخه کې له ځینو ستونزو سره مخامخ يو او حل لارې یې په مقاله کې ښودل شوي دي. په څېړنه کې له کتابتوني څېړنیز ډول او تشریحي او تحلیلي مېتودونو څخه ګټه اخېستل شوې ده.

**کلیدي کلمې**: بازار، کار، علم، عمل، توازن، نصاب

**سریزه**

د هغه هېواد تعلیمي سیستم ډېر پیاوړی وي چې وخت په وخت د ټولنې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره ښوونیز نصاب نوی کوي، نصاب د اړتیا پر بنسټ جوړوي او د وړ او با صلاحیته خلکو لخوا ترتیبوي. ښوونیز نصاب د هېواد بنسټ جوړوي، په حال کې ستونزې له منځه وړي، د ماضي ستونزو ته د پای ټکی ږدي او د راتلونکي لپاره یوه ښه طرحه وړاندې کوي. د پوهنتونونو نصاب ټولنې ته جوړېږي، د دې لپاره جوړېږي چې له ځوانانو څخه ښه ګټه واخیستل شي او ځوانه انرژي نوي کارونه وکړي؛ خو دغه کار هغه وخت کېدای شي، چې تحصلي نصاب بنسټیزې اړتیاوې پوره کړي او د ښوونې کسبي او عملي خوا تر منځ یې توازن شتون ولري. څه شی چې زده کيږي، باید د کار په بازار کې عملي اړخ ولري.

**د څېړنې ستونزې**

- د کار په بازار کې د ښوونیز نصاب په علم او عمل کې د مطابقت نه شتون.
- په کریکولم جوړولو کې د تیوري او عملي خوا تر منځ د توازن نه شتون.
- د هېواد د کار بازار په پام کې نیولو سره کریکولم نه جوړېدل.

**د څېړنې اړتیا او ارزښت**

ټولې څېړنې د اړتیاوو پر بنسټ تر سره کيږي او کوښښ یې دا وي چې څنګه لومړنۍ اړتیاوې پوره شي. د پوهنتونونو نصاب او د کار بازار ته نصاب جوړول یوه اړینه موضوع ده او ډېر ارزښت لري؛ خو په دې برخه کې ځینې ستونزې لیدل کيږي، چې په دغه مقاله کې ورته اشاره شوې او حللارې یې ښودل شوي دي. دغه بحث د ټولنې پرمختګ لپاره حیاتي دی او همدا یې ارزښت او اړتیا

ثابتوي. که چېرې نصاب ټولنیزې اړتیاوې پوره نه کړي، بې ارزښته کيږي او نه به يې اړتیا ثابته وي.

**د څېړنې پوښتنې**

- د کار بازار له مخې د پوهنتونونو نصاب د ښوونيزې زده کړې او عملي کار برابري لري او که نه؟
- د هېواد د کار بازار په پام کې نیولو سره د پوهنتونونو د نصاب ارزښت، ستونزې او حللارو په اړه کومې لارښوونې شتون لري او که نه؟

**د څېړنې موخې**

- د هېواد د کار بازار له مخې د پوهنتونونو په نصاب کې د علم او عمل پلټنه!
- د کار بازار په پام کې نیولو سره د نصاب ارزښت، ستونزې او حللارو څېړنه!

**تېرو لیکنو ته کتنه**

په یوه مقاله کې راغلي دي: (نصاب باید د کار بازار ته جوړ شي، په څېړنه کې له کیفي تګلارې ګټه واخیستل شي او له بېلابېلو کتابونو او مقالو یې استفاده کړې وي. د لیکوال په وینا: له کومو اثارو څخه چې په دې مقاله کې ګټه اخیستل شوې، ډېری لیکوالان په دې نظر دي چې نصاب باید د کار بازار ته جوړ شي، همدارنګه په نصاب کې باید دیني او ملي ارزښتونه په پام کې ونیول شي، د پوهې ابعاد له پامه ونه غورځول شي، په درسونو کې عملي او نظري لارې چارې، د نویو تکنالوژیکي مسایلو راوړل او نصاب باید د خلکو اړتیاوو او کار بازار ته په کتو جوړ شي) (حق پرست، ۱۴۰۲، ۲۶۰ مخ).

له دې مقالې سره زموږ د کار پایلې په ځینو مواردو کې ورته والی لري او یو شمېر توپیرونه هم لري. لیکوال یې په دې نظر دی چې نصاب باید د کار بازار ته جوړ شي، په لیکل شوې مقاله کې په دې اړه خبرې شته چې نصاب خپل ارزښت لري او یوه اړینه موضوع پکې دا ده، چې نصاب باید د بازار اړتیاوې پوره کړي، په دې برخه کې موږ له ځینو ستونزو سره مخامخ یو او په مقاله کې د ستونزو د حل وړاندیزونه تر سره شوي دي. لیکوال زیاتوي چې په نصاب کې باید دیني ارزښتونو ته پاملرنه وشي او په یاد تحقیق کې

هم په دې اړه خبره شته چې نصاب باید دیني خوا ولري. لیکوال زیاتوي چې په نصاب کې باید د عملي او نظري خوا ارزښت په پام کې ونیول شي، په لیکل شوې مقاله کې په دې اړه ډېرې خبرې شته چې په نصاب کې د عملي او نظري برخو ترمنځ توازن او برابري اړینه موضوع ده.

زموږ د مقالې پایلې په ډېرو برخو کې له یادې مقالې سره اړیکې لري؛ خو بیا هم ویلای شو چې دلته لیکوال یوازې لارښوونې کړې دي.

په یوې بلې مقالې کې راغلي دي: (په نصاب کې باید دیني اصولو ته پاملرنه وشي او که نصاب د ټولنیزو اړتیاوو پوره کولو لپاره جوړیږي، نو لومړنی اصل یې دیني اصولو ته ارزښت ورکول دي. مقاله په تحلیلي توګه لیکل شوې او پایله یې ثابتوي چې په نصاب کې دیني اصولو د پرمختګ لامل ګرځي) (خدرخېل، ۱۴۰۲، ۲۴۴ مخ)

له دې مقالې سره هم زموږ کار محتوایي اړیکې او توپیرونه لري. په دې څېړنه کې هم په نصاب کې د دیني اړخ د شتون یادونه شوې، چې زموږ له موضوع سره تړاو لري، خو بیا هم د دې خبرې یادونه کوم چې په یاده څېړنه کې د معیاري نصاب ارزښت، ستونزې او حل لارې ښودل شوي دي؛ خو د خدرخېل مقاله د نصاب ارزښت یوازې له دیني اړخ څخه تر څېړنې لاندې نیسي.

په یوې بلې مقالې کې راغلي دي: (په نصاب کې باید دیني موادو او مسایلو ته ډېره پاملرنه وشي او ډېرې وختونه ګورو چې په نصاب کې د دیني موضوعاتو او مسایلو کمی لیدل کیږي. یوه بله موضوع چې د ځینو شرقي هېوادونو په نصاب کې شتون لري، علم یې په دیني او عصري باندې ویشلی دی، چې دا هم په نصاب کې یوه ستونزه ده. په نصاب کې باید په دې ډېر ټینګار وشي چې اخلاقیاتو او معنویاتو ته ډېره برخه ورکړل شي. لیکوال زیاتوي چې په نصاب کې باید اسلامي اخلاقو ته پاملرنه وشي، اسلامي ټولنیزو ادابو ته باید ځای ورکړل شي. کله چې نصاب جوړیږي؛ نو په حتمي توګه باید تخصص ته یکې پاملرنه وشي) (رشید، هارون، ریاض، سعید احمد، ۲۰۲۱، ۳۶ مخ).

د نصاب په جوړولو کې تخصص، په نصاب کې دیني او اسلامي مسایل او موضوعات، په نصاب کې اخلاقي او معنوي خوا ته پاملرنه کول هغه موضوعات دي چې زموږ په څېړنه کې پرې بحث شوی.

د یوې بلې مقالې مفهوم دی: (په نصاب کې باید اسلام او دین ته ډېره پاملرنه وشي. د الله تعالی معرفت پکې وښودل شي او په بېلابېلو علومو کې باید نصاب له دیني موضوعاتو سره په مستقیمه او غېر مستقیمه توګه اړیکه ولري. کله چې وایو نصاب کې باید د الله تعالی معرفت ښکاره وي، نو دا یوه لویه موضوع ده چې دلته پرې ډېرې خبرې کولای نه شو. د مقالې لیکوال زیاتوي چې په نصاب کې باید د انسان، انساني مقام او په انسان دوستۍ باندې ډېرې خبرې او موضوعات شتون ولري. کله چې د انسان دوستۍ خبره کوو، د تصوف، عرفان او اسلامي دین له نظره باید دغه موضوع څرګنده شي او ځای ځای باید داسې مسایل راوړل شي چې یو انسان له بل انسان سره همدردي ولري، عدالت او رښتینولي په پام کې ونیسي، څه چې ځان ته خوښوي، همغه باید بل ته خوښ کړي او په لسګونو داسې نور مسایل یې ښې بېلګې دي. د ساینس او نورو علومو اړیکې له قران کریم سره څرګندې دي، کوښښ باید وشي چې د نورو علومو اړیکې له دین او مذهب سره څرګندې شي او په مثالونو کې وښودل شي. په وروستیو کې د دې خبرې یادونه هم کوي چې په نصاب کې باید داسې مسایلو ته ځای ورکړل شي چې په مستقیم او غیر مستقیم ډول پر لوستوونکي، محصلانو او د ښوونځیو په شاګرانو مثبتې اغېزې ولري( Begum, et al., 2022, P 394).

یاده لیکنه خورا ښه مقاله ده او د نصاب په اړه د کار خبرې لري او په مقاله کې ترې په مفهومي توګه ګټه اخیستل شوې ده. دغه مقاله د نصاب په ارزښت او د نصاب په جوړولو په برخو کې مهمې خبرې لري.

### د څېړنې تګلاره

په دې څېړنه کې له کتابتوني څېړنیز ډول او له تشریحي او تحلیلي مېتودونو څخه ګټه اخېستل شوې ده.

### موندنې/ اصلي موضوع

په پوهنتونونو کې تحصیلي نصاب د محصلانو مسلکي زده کړې، ذهني ودې، د نوښت او خلاقیت د پرمختیا او هڅونې لپاره هغه ټاکلی پلان او د

روزنې او زده کړو محتوا ده، چې د تطبیق لپاره یې د پوهنتون وسایل، اداري سټاف، تدریسي سیستم، د مضمون درسي مفردات او اهداف ځای پر ځای شوي وي. نصاب د یو شمېر تخصصي، ملي، نړیوال، عمومي او خصوصي موخو لپاره جوړېږي او په منظم او سیستماتیک چوکاټ کې ډیزاین او د امکاناتو سره سم په پام کې نیول کیږي.

**د تحصیلي نصاب ارزښت**

د نصاب ارزښت په دې کې دی چې د ټولنې او خلکو د اړتیاوو سره سم مسلکي متخصصین د وخت له غوښتنو سره سم په پوهه سمبالوي، تکنالوژي، د انسان د هوساینې وسایل او لارې، د ولسونو تر منځ د دوستانه اړیکو ټینګولو طریقې، کلتوري ارزښتونه، د علمي تحقیق کړنلاره، د روغتیا ډاډمنول او تامینول، فزیولوژیکي لومړیتوبونه برابرول د یو ښه نصاب محتوا ده. اهمیت یې په دې کې دی چې د ټولنې لومړیتوبونو باندې تمرکز کوي. نن ورځ هغه ټولنې هوسا او انساني لوړو درجو ته رسیدلې دي چې ځوانانو یې ښه نصابونه لوستي او د غوره خدماتو د تر سره کولو وړتیا لري. نصاب موږ ته دا ځواک را کوي چې له نړیوال کلي سره خبرې وکړو او روابط ورسره ولرو، له دوی څخه خپلې اړتیاوې پوره او ژوند مو ښه سمبال کړو.

د نصاب ارزښت په دې کې دی چې د یو هېواد راتلوونکی تضمین کړي. غوره ټولنیز خدمتونه، ټولنیز نظم او قانون، په ټولنې کې انساني درناوی، لوړ اقتصاد، په ځان بسیا هېواد او په لسګونو داسې نور اړین مسایل د یو هېواد لپاره اړین دي چې د کار د بازار برخه جوړوي او دغه برخه د نصاب په وسیله پوره کیږي. کله چې د یو هېواد نصاب پیاوړی وي، د هېواد او نړۍ ستونزو ته ځواب ویلای شي؛ نو اړتیا لیدل کیږي، چې هېواد باید مسلکي او متخصص کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي، دغه کار هغه وخت تر سره کېدای شي چې معیاري نصاب شتون ولري او نصاب د هر ډول ټولنیزو اړتیاوو ته ځواب ویوونکی وي. هره ټولنه د خپلو اړتیاوو پر بنسټ نصاب جوړوي؛ خو دا چې نړۍ د یو کور حیثیت لري او د کور ستونزې، پرمختګ او څېړنې مشترکې ګټې او زیانونه لري، له همدې امله د دې اړتیا هم لیدل کیږي چې په نصاب کې نړۍ والې اړتیاوې، محدودیتونه، اسانتیاوې

او ستونزې په پام کې ونیول شي. په څېړنه کې په دې بحث کېږي، چې د هېواد د کار بازار په پام کې نیولو سره د هېواد نصاب جوړولو ارزښت، ستونزې او حللارو په اړه څه وکړو؟ له همدې امله د افغانستان د شرایطو په پام کې نیولو سره د نصاب ارزښت اړینه موضوع ده. نصاب باید اسلامي او ملي عقلانیت ځواکمنتیا ولري، انسان ته د انسانیت لاربنوونکی وي، داسې لاربنوونې پکې شتون ولري چې تعصب بد عمل ګڼل شوی وي او په وروروولۍ کې د ژوند تېرولو نظر وړاندې کړي، د محصلانو ذهني مهارتونه لوړ کړي، فکر کولو ته یې وهڅوي، د فکري تولید ښه سرچینه وي او د عقلانیت ارزښت پکې بیان شوی وي، د ښوونې او روزنې پایلې یې منطقي وي او په محصلانو کې د نوښت ځواک پیدا کړای شي، تیوري او عملي کار توازن پکې شتون ولري او د نوښت او خلاقیت د تطبیق خصوصیات ولري. د پیداګوژیکي علومو پر بنسټ جوړ شوی وي. په نصاب کې باید بېلابېل اړخونه (جسمي، رواني، تربیتي، اخلاقي، دیني، مذهبي، هنري، مدني، فرهنګي، ټولنیز، اقتصادي او آن سیاسي) شتون ولري او د جوړښت او پرمختګ دغه برخې ورته اړیني دي، قانون او مقرراتو ته درناوی او د ژوند د اړتیاوو پېژندل پکې شتون ولري، له هر ډول مېتودونو پکې کار اخیستل شوی وي او په لسګونو داسې نورې خبرې ورته اړیني دي، نو ویلای شو چې ښه او پیاوړی نصاب د هېواد د پرمختګ لامل ګرځي او په راتلونکي کې پرې ډېرې ستونزې حل کولای شو. هر نصاب باید د وخت غوښتنې په پام کې ونیسي، په لنډ وخت کې اپډیټ شي، د پوهنتون خلک باید پر ټولنه او بازار سترګې ښخې کړي چې هلته هره تقاضا پیدا کېږي، دوی یې له پوهنتونو څخه عرضه وړاندې کړي، چې په دې ډول اندول سم ساتل کېږي. همدارنګه ژوند ډېر جالب دی، واګې یې زموږ په لاس کې دي، پرمختګ پکې کوو او که وروسته پاتې والی مو خوښ دی؟ په تعلیمي او علمي مرکزونو کې د معیارونو ټیټوالی د ټولنې په وروسته پاتې والي کې لوی لاس لري.

**د هېواد بازار ته په کتو د نصاب ستونزې**

د کار بازار ته ځوانان تربیه کول د پوهنتونونو کار دی او دغه کړنه د نصاب په وسیله تر سره کېدای شي. نصاب د یو هېواد د تعلیمي نظام بنسټ جوړوي، له همدې امله هېوادونه کوښښ کوي، چې داسې نصاب جوړ کړي

چې د ټولنې اړتیاوې پوره کړای شي، خو بدبختانه په وروسته پاتې هېوادونو کې دې موضوع ته جدي پاملرنه نه کیږي. د نصاب په جوړولو کې په لسګونو ستونزې شتون لري چې د ځینو ستونزو یادونه کوو او حللارې یې ښیوو.

**د هېواد د کار په بازار کې ښوونیز نصاب د علم او عمل مطابقت نه شتون**

موږ ځوانان ټولنې ته وړاندې کوو، د دې لپاره چې ټولنیزې اړتیاوې پوره کړي، د دغو اړتیاوو څرګندول او پېژندل او هغوی ته د حللارې لټول د هېواد لوړ پوړو وزارتونو کار دی چې په دې برخه کې هر وزارت خپله دنده لري؛ خو له ټولو وزارتونو څخه لوړو زده کړو وزارت اړین مسؤلیت لري او په دې برخه کې یې پاملرنه کولای شي چې د هېواد هر ډول ستونزو ته د پای ټکی کېږدي. د دغو ستونزو حل هغه وخت شونی دی، چې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې نصاب ته پاملرنه وشي، نصاب ټولنیزې ستونزې حل کړي، د اړتیا پر بنسټ جوړ شي او هغه څه چې په پوهنتونونو کې تدریسیږي، په ورته وخت کې عملي خوا ولري. د بېلګې په ډول په پوهنتونونو کې (د څېړنې بنسټونه) پوهنتون شموله مضمون په لېسانس، ماسترۍ او آن په دوکتورا کې لوستل کیږي؛ نو ښه دا ده چې زموږ محصلان له فراغت څخه وروسته وشي کولای چې ښه څېړونکي وي. د څېړنې نظري درس که په پوهنتون کې لوستل کیږي، د کار په بازار کې باید د کار ساحه ولري او محصلان وکولای شي، چې له دغه تیوریکي درس څخه په بازار کې ګټه واخلي. دا او دېته ورته مضامین د محصلانو لپاره د کار په ساحه کې اړین دي. همدارنګه (د ژباړې فن) یو بل مضمون دی، چې په ادبیاتو او ځینو نورو پوهنځیو او څانګو کې لوستل کیږي، دا هم هغه مضمون دی چې د کار په بازار کې ورته ډېره اړتیا لیدل کیږي؛ خو په لسګونو پوهنځیو کې داسې مضمونونه شته چې د بازار د اړتیاوو پر بنسټ تاکل شوي نه دي، چې د دغسې مضامینو ګټه ډېره لږه ده او حتا زیان رسولای شي. په دې برخه کې ځینې خبرې ډېرې اړینې دي، لومړی دا چې هر مضمون باید د اړتیا پر بنسټ غوره شي، د هر مضمون د کار ساحه مشخصه وي، د مضمون په غوره کولو کې د تیوري او عملي خوا توازن په پام کې ونیول شي او داسې نورې خبرې اړینې دي، چې په دې برخه کې ډېره پاملرنه شوې نه ده او دا خپله یوه ستونزه ده.

(د غرب فرهنګ له بېلابېلو مېتودونو څخه ګټه اخلي او کوښښ کوي، چې د بېلابېلو نظریو پر بنسټ لوړ اقتصاد ولري) (رجایی، ۱۳۸۶، ۱۴).

**د هېواد د کار بازار په پام کې نیولو سره د کریکولم نه شتون**: د هېواد په بازار کې د عرضې او تقاضا ارزښت ته پام نه کیږي. د انسانانو او بشري پانګې په برخه کې دا باید په پام کې ونیول شي، چې د یو هېواد نفوس څومره دی؟ څومره ډاکترانو ته اړتیا لري، څومره انجینران باید ولري؟ همدارنګه په بېلابېلو برخو کې باید د اړتیا پر بنسټ محصلان فارغ شي. که چېرې دا کار وشي، هر چا ته به مو دنده پیدا کړې وي او ټولنیزو اړتیاوو ته برابر خلک به مو فارغ کړي وي. دا یو څرګند حقیقت دی چې عقل، عقلانیت او پوهې ته کار کول انساني اړتیا ده؛ خو دغه کار د ټولنې اړتیاوې پوره کوي. دا به ډېره ښه وي چې هم ښه انسانان ولرو او هم مو دوی ته کار پیدا کړی وي. په نورو هېوادونو کې دې برخې ته ډېره پاملرنه کیږي؛ خو په درېیمه درجه هېوادونو کې په لسګونو ستونزې شته چې د نصاب په جوړولو کې ورسره مخامخ یو او نه شو کولای چې په سمه مانا نصاب ولرو.

(په بازارونو کې تولیدات خپل ارزښت لري، د تولیداتو صنعت او پرمختګ په مستقیم او غیر مستقیم ډول له نصاب سره اړیکې لري. دا چې هره ټولنه خپل تولیدات او صنعت لري، د ټولنو د پرمختګ کچه یو شان نه وي؛ باید نصاب داسې جوړ شي چې د ټولنې اړتیاوې پوره کړای شي او د ټولنې په پرمختګ کې بنسټیز رول ولري) (علی محمودی، ۱۳۸۲، ۱)

**د هېواد پر نصاب باندې د سیاسي لید لوري اغېزمنتیا**: نصاب باید له سیاست څخه پاک وي. سیاستونه خپل تاثیرات درلودای شي؛ خو ښه به دا وي چې د نصاب په جوړولو کې سیاسي توقعاتو او غوښتنو ته پام ونه شي او یو داسې نصاب جوړ شي چې د اوسنیو وختونو ستونزې حل کړي، ترڅو په راتلونکي کې پرمختللی هېواد ولرو او په ماضي کې له داسې ستونزو سره مخامخ نه شو چې بیا یې ارمان وکړو او ډېر بد مسایل راته د ټولنې په داخل کې په میراث پاتې شي. نصاب باید د سیاست قرباني نه شي او نه به دا سم کار وي.

**نصاب د اړتیا پر بنسټ نه جوړېدل**: د کار د بازار په پام کې نیولو سره د نصاب نه ترتیبول یوه بله ستونزه ده. که چېرې نصاب د خلکو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره جوړ شي؛ نو څرګنده خبره ده چې ډېرې ټولنیزې ستونزې

به حل شي. دا چې ولې نصاب د اړتیا پر بنسټ نه جوړیږي، دوه لاملونه لري: په ارادي توګه نصاب سم نه جوړول او د خپلو موخو په پام کې نیولو سره داسې نصاب جوړول چې سیاسي او واکدارې ډلې پرې خپلې موخې تر لاسه کړي. دلته د یوې بلې خبرې یادونه اړینه ده چې هغه بهرنۍ ډلې چې د یو هېواد په فرهنګ، سیاست، اقتصاد او ټولنیزو مسایلو کې د لاسوهنو اراده لري، دوی هم له بېلابېلو لارو څخه کار اخلي او کوښښ کوي، چې په نصاب کې داسې مسایل ځای پر ځای کړي چې خپلو موخو ته پرې ورسیږي. له ارادي خوا سربېره، ډېر وخت په غېر ارادي ډول هم دغه کړنې تر سره کېدای شي، که چېرې د یو هېواد علمي کچه ټیټه وي، د نصاب پر ارزښت خبر نه وي او یا دا توان ونه لري، چې ښه نصاب جوړ کړي، په دې صورت کې د کار بازار له ستونزو سره مخ کیږي. دا یو څرګند حقیقت دی چې د کار بازار له ځوان قشر څخه جوړیږي، د ځوان قشر پوهه او تعلیمي کچه پرې خپلې اغېزې لري، همدغه ځوانه انرژي چې د پوهې پر ګانه سمبال شي، کولای شي چې د یو هېواد ستونزې حل کړي، له همدې امله ویلای شو چې نصاب باید ټولنیزو اړتیاوو پر بنسټ جوړ شي، ترڅو د کار بازار د ځوانانو لپاره ښه فرصتونه ولري، ځوانان د ټولنې اوسنۍ اړتیاوې پوره او د ټولنې نویو تکنالوژیکي مسایلو او حالاتو ته ځواب ویونکي وي.

**د نصاب په جوړولو کې د تخصص ستونزې:** د کار بازار معلومول، ټولنیزې اړتیاوې څرګندول، د یوې ټولنې د ځوانانو نفوس، په ټولنه کې د ځوانانو تعلمي کچه او په لسګونو د داسې نورو مسایلو په پام کې نیولو سره نصاب جوړېدای شي. که غواړو چې لوړ اقتصاد ولرو، سیاسي ستونزې ونه لرو، بې کارۍ کچه راټیټه، ځوانان مو ښه ژوند ولري، ټولنیزې ستونزې نه وي، په رواني ډول ټولنه رنځوره نه وي، هر انسان په رواني توګه سالم وي او په لسګونو داسې نور مسایل په یو نه یو ډول له نصاب سره تړاو لري، نو ځکه ویلای شو چې نصاب باید د داسې کسانو له خوا جوړ شي، چې د نصاب جوړولو صلاحیت ولري او وکولای شي، چې د پورته یادو شویو ستونزو او د داسې نورو مسایلو په پام کې نیولو سره داسې نصاب جوړ کړي چې هېڅ ډول ستونزه ونه لري.

دا چې زموږ نصاب ټولنیزې اړتیاوې پوره کولای نه شي، لاملونه یې دا دي چې د جوړېدو پر وخت د کار بازار په پام کې نه نیول کیږي، همداراز ډېری وختونه د نصاب په جوړولو کې له متخصصو کسانو څخه ګټه نه اخیستل کیږي. د نصاب په جوړولو کې یوه اندازه پیسې ورکول کیږي، نو یواځې پیسو ته ارزښت ورکول کېدو له امله له متخصصو کسانو څخه په نصاب کې ګټه نه اخیستل کیږي.

که چېرې د پوهنتونونو په کچه نصاب جوړیږي، نو لاندې خبرې ورته اړینې دي:

- د نصاب جوړولو لپاره یواځې د پوهنتون استادان انتخابول اړین نه دي، د هر با صلاحیته کس څخه باید کار واخیستل شي. دغه امتیاز دې یواځې د پوهنتون استاد ته نه ورکول کیږي، د بېلګې په توګه د علومو اکاډمۍ غړیو او له نورو پوهانو څخه هم باید ګټه واخیستل شي.
- له بهر څخه له مستحقو کسانو څخه ګټه اخیستل اړین دي. دا به ډېره ښه وي چې له بېلابېلو هېوادونو څخه د کار خلک وغوښتل شي او د نصاب په جوړولو کې ترې ګټه واخیستل شي. نصاب چې جوړیږي، د هماغې هېواد اړتیاوو ته په کتو باید جوړ شي؛ خو بیا هم له بهر څخه راغلي مختصصین په دې برخه کې مرسته کولای شي.
- په نصاب کې باید لوړ تحصیلات په پام کې ونیول شي. لومړیتوب دوکتورا ته ورکړل شي چې دوکتور موجود وي، اړتیا نشته چې له ماسټر څخه کار واخیستل شي.
- له تحصیلي اسنادو پرته علمي رتبو ته باید ارزښت ورکړل شي؛ خو دوکتورا ته باید له ټولو علمي رتبو څخه لوړ ارزښت ورکړل شي. که چېرې یو پوهنتون دوکتور ولري او دی ونه غواړي چې د نصاب په جوړولو کې برخه واخلي؛ نو ښه به دا وي چې دوی ته جدي سپارښتنه وشي او په حتمي توګه پکې برخه واخلي.
- د نصاب په جوړولو کې باید له داسې کسانو څخه ګټه واخیستل شي، چې مخکې یې علمي کارونه کړي وي، علمي نړیوالې مقالې، داخلي مقالې او اثار یې لیکلي وي.

- د لیسانس، ماسټرۍ او دوکتورا لپاره باید یواځې او یواځې هغه کسان وغوښتل شي، چې دوکتورا ولري. ښه به دا وي چې مستحق کسان پیدا او ګټه ترې واخیستل شي (هاشمي، ۱۴۰۲، ۲).

د دې موضوع په پای کې ویلای شو چې د نصاب لپاره تخصص اړین دی، ترڅو د کار بازار ته یو ښه نصاب جوړ شي.

**زوړ نصاب:** ټولنې د بدلون په حال کې دي، د خلکو اړتیاوې بدلیږي او د کار بازار نوې غوښتنې لري، چې خلک یې باید پوره کړي. زوړ نصاب د زړو او پخوانیو ټولنو لپاره جوړیږي، دا چې ټولنې د بدلون په حال کې دي، غوښتنې بدلیږي، باید نصاب هم د وخت د اړتیاوو په پام کې نیولو سره نوی شي. نصاب باید په هرو دریو کلونو کې نوی شي، د اړتیا په صورت کې له دې مخکې هم نوی کیدای شي.

**د هیواد بازار ته په کتو د نصاب د ستونزو حل لارې**

نصاب باید د هیواد د کار بازار ته په کتو سره په داسې ډول جوړ شي، چې د عمل او علم تر منځ یې توازن شتون ولري. په بازار کې هغه وخت کار پیدا کیدای شي، چې د بازار اړتیاوو ته مناسب کار شتون ولري، د کار د شتون لپاره ځوانې انرژۍ ته اړتیا لیدل کیږي، ځوانان هغه وخت د ټولنې کار ته ځان برابرولای شي، چې د ټولنیزو اړتیاوو په پام کې نیولو سره ورته زده کړه ورکړل شي. داسې علم ورته وښودل شي، چې د ټولنې اړتیاوو ته ځواب ویوونکی اوسي. په یو ښه ښوونیز نصاب کې چې کوم مسایل تدریسیږي، هغه باید د ټولنې اړتیاوې پوره کړي، د زده شویو مسایلو کسبي خوا باید په ټولنې کې عملي خوا ولري. د ترلاسه شویو مسایلو او علومو د عمل میدان باید په ټولنې کې عملي خوا ولري. که چیرې د زده کړې میدان او د عمل میدان ترمنځ اړیکه شتون ونه لري؛ نو ترلاسه شوې زده کړه به د ټولنې په درد ونه خوري.

د کریکولم مضامین باید د کار بازار سره ورته والی ولري. ځوانانو ته هغه وخت کار پیدا کیدای شي، چې د کار بازار په پام کې نیولو سره داسې مسایل تدریس شي، چې د دوی او ټولنې اړتیاوې پوره کړي. په ښوونیز نظام کې سیاسي مداخلې ستونزې جوړوي. په نصاب باندې سیاسي اغیزې بدې پایلې درلودای شي. د یو هیواد ښوونیز نصاب باید د هر ډول سیاسي مسایلو څخه

پاک وساتل شي. نصاب د ټولنې اړتیاوو ته په کتو جوړیږي، چې د ځوانانو اړتیاوې پوره کړای شي؛ نو اړتیا به نه وي چې علمي نظام مو د سیاست قرباني شي. ټولنې د بدلون په حال دي، انسانان تکامل کوي، حالات بدلیږي، ډېر زاړه شیان نوي کیږي او نوي شیان د ټولنې اړتیاوو ته په پام کې نیولو سره پیدا شوي دي. په ټولنه کې هر بدلون له ښوونیز نصاب سره تړاو لري. کله چې یوه ټولنه بدلیږي، د بازار غوښتنې یې هم بدلیږي. له همدې امله ویلای شو چې نصاب باید د ټولنیزو غوښتنو له مخې جوړ شي.

(د ټولنې اړتیاوې باید ځرګندې وي او هم پوه شو چې څوک یې پوره کولای شي؟ ټولنیزې اړتیاوې باید پوره شي او که نه؟ د پوره کېدو ګټې یې څه دي؟ که دغه اړتیاوې پوره نه شي، کومې ستونزې به را پیښې شي؟ او په لسګونو داسې نورې پوښتنې په دې دلالت کوي، چې نصاب باید د ټولنیزو اقتصادي، سیاسي، فرهنګي، علمي او رواني ستونزو پر بنسټ جوړ شي) (رهداری، ۱۳۸۶، ۲۳).

د کار بازار هغه څوک معلومولای شي چې علمي وړتیا ولري او د تخصص خاوند وي. د بازار ستونزې له هر چا څخه ډېر د اړوندو برخو پوهان په سمه توګه درک کولای شي، د دغو ستونزو لپاره حل لارې لټول د څېړنې یوه برخه جوړوي، چې څېړونکي یې د حل لارې لټولای شي. ښه نصاب د ټولنیزو ستونزو د حل په موخه جوړیږي، د ځوانانو راتلونکې پرې ټاکل کېدای شي او د نصاب په وسیله کېدای شي، چې د ټولنې ډېرې ستونزې حل شي؛ خو په دې شرط چې نصاب په سمه توګه جوړ او تخصص ته پکې پاملرنه وشي. نصاب باید په هرو دریو کلونو کې نوی شي، دا چې ټولنه د بدلون په حال کې ده؛ نو ویلای شو چې نصاب هم باید د ټولنې له نوي کېدو او بدلیدو سره نوی او بدل شي. له نوي کېدو څخه موخه د ټولنې اړتیاوو ته ځواب ویوونکی نصاب جوړول دي.

**پایله**

پرمختللي هېوادونه ښه بازارونه لري، د دوی بازار موندنه او د بازار غوښتنې او تقاضا په پام کې نیول کیږي او په پوهنتونونو کې ورته داسې مضامین تدریسوي، چې د ټولنې اړتیاوې پوره کړي. پوهنتونونه دا دنده لري چې د بازار د غوښتنو په پام کې نیولو سره محصلان جذب، هغوی ته درس

ورکړي، روزنه یې وکړي او د دندو لپاره یې چمتو کړي. د هېواد بازارونه هغه وخت د عرضې او تقاضا بیلانس ساتلی شي چې د پوهنتونونو محصلینو ته داسې نصاب جوړ کړي، چې د بازار غوښتنې په کې په پام کې نیول شوې وي او په دې برخه کې توازن شتون ولري؛ نو د هېواد بازارونو لپاره یو داسې نصاب پکار دی، چې د علم او عمل برابري پکې شتون ولري. په مقاله کې په دې خبرې ټینګار شوی، چې پوهنتونونه د زده کړې ځایونه دي، د همدغو زده کړو د عمل میدان د هېواد په بازارونو کې کار پیدا کول، د بازار غوښتنې پوره کول او د بازارونو ستونزو ته ځان رسول دي؛ خو په دې برخه کې زیات شمېر ستونزې لیدل کیږي، لکه د هېواد بازار ته په کتو د کریکولم نه شتون، د متخصصو کسانو په وسیله د کریکولم نه جوړېدل، په کریکولم کې سیاسي ملحوظات، د ټولنې له نوي کېدو سره د نوي نصاب نه جوړول، د ټولنې لومړنیو اړتیاوو ته نصاب نه جوړول او داسې نور مسایل یې ستونزې دي، چې په مقاله کې یې د حل لارې ښودل شوي دي.

**مناقشه**

د موضوع په پام کې نیولو سره په اړونده موضوع باندې داسې کار تر سره شوی نه دی چې په سیده توګه له موضوع سره تړاو ولري، خو په غیر مستقیم ډول ځینې داسې مقالې او لیکنې شته چې د موضوع اړوند خبرې لري.

(ډېر لیکوال په دې نظر دي چې نصاب باید د کار بازار ته جوړ شي، همدارنګه په نصاب کې باید دیني او ملي ارزښتونه په پام کې ونیول شي، د پوهې ابعاد له پامه ونه غورځول شي، په درسونو کې عملي او نظري لارې چارې، د نویو تکنالوژیکي مسایلو راوړل او د کار، بازار او نصاب باېد د خلکو اړتیاوو ته په کتو جوړ شي) (حق پرست، ۱۴۰۲، ۲۶۰ مخ)

له دې مقالې سره زموږ د کار پایلې په ځینو مواردو کې ورته والی لري او یو شمېر توپیرونه هم لري. لیکوال یې په دې نظر دی چې نصاب باید د کار بازار ته جوړ شي، په لیکل شوې مقاله کې په دې اړه خبرې شته چې نصاب خپل ارزښت لري، چې یوه اړینه موضوع پکې دا ده، چې نصاب باید د بازار اړتیاوې پوره کړي، په دې برخه کې موږ له ځینو ستونزو سره مخامخ یو او په مقاله کې د ستونزو د حل وړاندیزونه تر سره شوي دي.

لیکوال زیاتوي چې په نصاب کې باید دیني ارزښتونو ته پاملرنه وشي او په یاد تحقیق کې هم په دې اړه خبره شته چې نصاب باید دیني خوا ولري. لیکوال زیاتوي چې په نصاب کې باید د عملي او نظري خوا ارزښت په پام کې ونیول شي، په لیکل شوې مقاله کې په دې اړه ډېرې خبرې شته چې په نصاب کې د عملي او نظري برخو ترمنځ توازن او برابري اړینه موضوع ده.

زموږ د مقالې پایلې په ډېرو برخو کې له یادې مقالې سره اړیکې لري، خو بیا هم ویلای شو چې دلته لیکوال یوازې لارښوونې کړې دي.

په یوه بله مقاله کې راغلي دي: (په نصاب کې باید دیني اصولو ته پاملرنه وشي او که نصاب د ټولنیزو اړتیاوو پوره کولو لپاره جوړېږي، نو لومړنی اصل یې دیني اصولو ته ارزښت ورکول دي. مقاله په تحلیلي توګه لیکل شوې او پایله یې ثابتوي چې په نصاب کې دیني اصولو د پرمختګ لامل ګرځي) (خدرخېل، ۱۴۰۲، ۲۴۴ مخ).

له دې مقالې سره هم زموږ کار محتوایي اړیکې او توپیرونه لري. په دې څېړنه کې هم په نصاب کې د دیني اړخ د شتون یادونه شوې، چې زموږ له موضوع سره تړاو لري، خو بیا هم د دې خبرې یادونه کوم چې په یاده څېړنه کې د معیاري نصاب ارزښت، ستونزې او حل لارې ښودل شوي دي، خو د خدرخېل مقاله د نصاب ارزښت یوازې له دیني اړخ څخه تر څېړنې لاندې نیسي.

په یوه بله مقاله کې راغلي دي: (په نصاب کې باید دیني موادو او مسایلو ته ډېره پاملرنه وشي او ډېرې وختونه ګورو چې په نصاب کې د دیني موضوعاتو او مسایلو کمی لیدل کیږي. یوه بله موضوع چې د ځینو شرقي هېوادونو په نصاب کې شتون لري، علم یې په دیني او عصري باندې ویشلی دی، چې دا هم په نصاب کې یوه ستونزه ده. په نصاب کې باید په دې ډېر ټینګار وشي چې اخلاقیاتو او معنویاتو ته ډېره برخه ورکړل شي. لیکوال زیاتوي چې په نصاب کې باید اسلامي اخلاقو ته پاملرنه وشي، اسلامي ټولنیزو ادابو ته باید ځای ورکړل شي. کله چې نصاب جوړېږي، نو په حتمي توګه باید تخصص ته پکې پاملرنه وشي) (رشید، هارون، ریاض، سعید احمد، ۲۰۲۱، ۳۶ مخ)

د پورته ټولو مقالو او لیکنو په پام کې نیولو سره زموږ کال له پخوانیو کارونو سره توپیر لري، موږ کوښښ کړی دی چې په نصاب کې د تیوري او علمي خوا توازن او برابري په پام کې نیول شوې ده او د دې برخې ارزښت ښودل شوی دی، ستونزې په ګوته شوي دي او حل لارې یې ښودل شوي دي.

**وروستي نتیجه ګیري**

نصاب باید د بازار غوښتنې پوره کړي، د کار پیدا کولو صلاحیت ولري او د تیوري او نظري خواوو سره سره باید عملي خوا ولري، په یوې ټولنې کې باید محصلانو ته داسې نصاب جوړ شي چې ټولنیزې او هر ډول اړتیاوې پوره کړي. پوهنتونونه دا دنده لري چې د بازار د غوښتنو په پام کې نیولو سره محصلان جذب، هغوی ته درس ورکړي، روزنه یې وکړي او د دندو لپاره یې چمتو کړي. د هېواد بازارونه هغه وخت د عرضې او تقاضا بیلانس ساتلی شي چې له پوهنتونونو محصلینو ته داسې نصاب جوړ کړي چې د بازار غوښتنې ورته په پام کې نیول شوي وي او په دې برخه کې توازن شتون ولري، نو د هېواد بازارونو لپاره یو داسې نصاب پکار دی، چې د علم او عمل برابري پکې شتون ولري. په یاده مقاله کې د نصاب د عملي او نظري خوا پر توازن او برابری باندې خبرې شوي دي او د همدې برخې ارزښت ښودل شوی دی، ستونزې په ګوته شوي دي او حل لارې یې په څېړنې کې وړاندې شوي دي.

**وړاندیزونه**

- د نصاب په جوړولو کې باید د نظري او عملي خوا تر منځ توازن او برابري موجوده وي.
- د نصاب په جوړولو کې باید سیاسي بې پلوي په پام کې ونیول شي.
- د نصاب په جوړولو کې باید له متخصصینو څخه کار واخیستل شي.
- نصاب باید د تخصص په پام کې نیولو سره د بازار اړتیاوې پوره کولای وشي.

**ماخذونه**


حق پرست، محمد سرور. (۱۴۰۲). مطالعه نصاب تحصیلي مبتنی بر بازار کار و ارایه ی الگوی مناسب برای پوهنتون های افغانستان. د کابل پوهنتون علمي او څېړنیزه مجله: د لوړو زده کړو پیاوړتیا ملي کنفرانس.

خدرخېل، خان محمد. (۱۴۰۲). دیني ضوابطو او د ټولنې اړتیاوو ته په پام تحصیلي نصاب. د کابل پوهنتون علمي او څېړنیزه مجله: د لوړو زده کړو پیاوړتیا ملي کنفرانس.

رجایی، سید محمد کاظم. (۱۳۸۶). تقاضای بازار اسلامی در مقایسه با بازار رقابت کامل. جستارهای اقتصادی پاییز و زمستان، شماره ۸.

رشید، هارون او سعید احمد ریاض. (۲۰۲۱). نظام و نصاب تعلیم مى اصطلاحات کى لي مولانا مودودی کا منهج: پاکسانی تناظر مى تجزیاتی مطالعه. تهذیب الافکار. جلد ۸. شماره ۲.

رهداری، مراد. (۱۳۸۶). نسبت اقتصاد بازار با دموکراسی. اقتصاد و جامعه، شماره ۱۱.

علی محمودی. (۱۳۸۲). بازار شناسی: ترکمنستان. بررسی های بازرگانی دوره جدید، شماره ۱.

هاشمي، سید اصغر. (۱۴۰۲). د کلستر طرحه.

Begum, uzma and frinds. (2022). Curriculum aims and objectives in an Islamic perspective: A Research study, journal of Islamic studies. Vol 3. Issue 1. P 394.

**دوکتور میوند صافی او پتنګ صافي**
د سیاسي علومو پوهنځی، تابش پوهنتون، ننګرهار – اقتصاد پوهنځی، تابش پوهنتون، ننګرهار

# د اړیکو او اتصال په ستراتېژیو کې د افغانستان جغرافیوي انځور

**لنډیز**

افغانستان چې د سویلي آسیا، مرکزي آسیا، منځني ختیځ او لرې ختیځ ترمنځ په څلور لاري کې پروت دی، پراخ ستراتیژیک ارزښت لري. دغه هېواد چې په تاریخي توګه د "آسیا زړه" او "تمدنونو څلورلارې" په نومونو یاد شوی، توان لري چې په سیمه کې د یو ارتباطي مرکز(Connectivity Hub) په توګه راڅرګند او د یوریشیا په کچه سوداګرۍ، انرژۍ لېږد او اقتصادي ادغام ته وده ورکړي. دا مقاله د افغانستان جغرافیوي ارزښت او په TAPI, BRI، CASA-1000 او CAREC په څېر مهمو سیمه ایزو پروژو کې ګډون په هکله کره څېړنه او ارزونه کوي. همدارنګه که څه هم دغه مقاله لیبرال (Liberal) روایتونه، اقتصادي وده، د ګډو ګټو منطق او د همکاریو له لارې سیمه ایز ټینګښت ستایي؛ خو د دې ټولو ترشا واقعتپاله (Realist) او قدرت محوره انګېزې هم په انتقادي توګه تر څېړنې لاندې نیسي. دغه مقاله په پای کې ټینګار کوي چې د افغانستان جغرافیایي موقعیت باید د سولې او سوکالۍ لپاره په اغېزمنه توګه وکارول شي او همدارنګه د بهرنیو ستراتېژیکو ګټو په هکله انتقادي لیدلوری خپل شي.

**کلیدي کلمې:** افغانستان، ستراتېژیکه جغرافیه، د نښلولو مرکز، سیمه‌ایز ادغام، اقتصادي وده، سیمه‌ایزه همکاري، بهرنۍ تګلاره

## سریزه

د افغانستان جغرافیایي موقعیت له ډېرې مودې راهیسې دغه هېواد په نړۍ کې له ستراتیژیک پلوه تر ټولو مهمو قلمرونو څخه ګرځولی دی. افغانستان چې د سویلي آسیا، مرکزي آسیا، منځني ختیځ او لرې ختیځ د تقاطع په نقطه کې پروت دی، د یو ځمکني طبیعي پله په توګه د بېلابېلو تمدنونو، کلتورونو، اقتصادونو او سیاسي ساحو تر منځ د نښلوونکي کانال رول

لوبوي. د دغه هېواد ځمکنۍ لار په تاریخي توګه د خلکو، توکو او افکارو د تګ راتګ لپاره یو حیاتي دهلېز پاتې شوی.

افغانستان د وربښمو لار په زمانه کې مرکزي رول لوبولی، هغه مهال سوداګرو له چین، هند، فارس او روم څخه د افغانستان له خاورې سفر کاوه. د همدغه مرکزي موقیعت له برکته افغانستان ته د "آسیا زړه"، "تمدنونو څلورلارې"، "د هند دروازه" او "د آسیا ستراتیژیک دهلېز "په څېر نومونه ورکړل شوي دي.

په اوسنۍ زمانه کې د نړیوال کېدو، اقتصادي ادغام او سیمه‌ایز اتصال په شرایطو کې د افغانستان اهمیت له نوې زاویې انځور شوی. لکه څرنګه چې نړۍ د انرژۍ، پانګې او معلوماتو د بهیر په وسیله په زیاتېدونکي ډول متقابل تړاو او وابستګۍ ته داخله شوې ده، په وچه کې ایسار افغانستان نور د یو جګړه‌ځپلي هېواد په توګه نه؛ بلکې د ټرانزیټ او سوداګرۍ د یوه احتمالي مرکز په توګه مطرح کیږي؛ یو داسې مرکز چې کولای شي د انرژۍ له زیرمو بډایه مرکزي آسیا، د انرژۍ تږې سویلي آسیا او چین تر منځ ادغام او اتصال اسانه کړي. د دغه ادراک بدلون د دې سبب شوی چې افغانستان ګڼو سیمه‌ایزو او نړیوالو موقعیتونو د نښلولو نوښتونو ته ورګډ شي، چې په هغوی کې د مرکزي آسیا د سیمه‌ایزو اقتصادي همکاریو پروګرام (CAREC)، د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هند پایپ لاین (TAPI)، CASA-1000 پروژه، د لاجورد دهلېز او د چین د "یو کمربند او یوې لارې" نوښت (BRI) نومونه یادولی شو.

له دغه پروژو سره یو شمېر داسې روایتونه ملګري شوي، چې د سیمه‌ایزې همکارۍ، بنسټیزو پراختیاوو او اقتصادي یووالي له لارې د سولې ژمنې کوي. پالیسي جوړوونکي، نړیوال سازمانونه او بهرني پانګه‌وال ډېری افغانستان د نښلونې په پروژو کې په دې دلیل شاملولو ته هڅوي چې دا چارې د سوداګرۍ په ودې، کاري فرصتونه په رامنځته کولو، بنسټونو په جوړولو او سیمه‌ایز ثبات په پیاوړي کولو کې مهم رول لوبولی شي. د دغه منطق له مخې، نښلونه یوازې یو اقتصادي امر نه؛ بلکې یو سیاسي او پراختیایي وسیله هم بلل کیږي، چې له افغانستان سره له جګړه‌ځپلي حالت

څخه یوه سوله‌ایز، مدغم او اقتصادي غوړېدلي حالت ته د رسیدو په برخه کې مرسته کولای شي.

خو دا خوشبینانه روایتونه بې جنجاله نه دي. په دغه بحثونو کې پېچلې جیوپولیتیکي سیالۍ او واقعپاله ستراتېژۍ پرتې دي، چې لوی سیمه‌ایز او نړیوال ځواکونه یې تعقیبوي. چین، روسیه، متحده ایالات، هند، پاکستان او ایران هر یو په خپل وار افغانستان ته په خپلو ستراتیژیکو لیدلوریو کې ځانګړی ځای ورکوي، چې دغه کړنې معمولاً د نفوذ پراخولو، انرژۍ دهلېزونو د خوندي کولو، د سیالانو د موازنې او مقابلې په موخه او د نرم ځواک په توګه ترسره کوي. له همدې امله د نړۍ او سیمې په کچه د اتصال په برخه کې د افغانستان مرکزي موقعیت هم یو فرصت دی او هم یو خطر! نو لکه څرنګه چې دغه هېواد له اقتصادي پلوه پورته تلای شي، همداسې بنایي په پراخو جیوپولیتیکي رقابتونو کې د یوې مهرې په توګه وکارول شي.

که څه هم نوي حکومت (اسلامي امارت) سیمه‌ایز اقتصادي ادغام ته لېوالتیا ښودلې او د نښلونې له پروژو څخه یې د ملاتړ اراده څرګنده کړې، خو نړیوال مشروعیت او بندیزونه لا هم عمده خنډونه ګڼل کیږي.

اوسمهال د بهرنیو په مشرۍ پر مخ وړل شویو پراختیایي پروژو دوام په ګډون زیات شمېر مسایل د سیاسي مشروعیت، د بشري حقونو د اندېښنو او امنیتي تضمینونو په هواري پورې تړلي دي. په دغه مقاله کې هڅه شوې، چې د نښلونې په اوسني نړیوال بهیر کې د افغانستان جغرافیایي او ستراتېژیک ارزښت وڅېړو او په دوی کې د ګډون له پلوه په هېواد کې د یادو مهمو سیمه‌ایزو نوښتونو ژمنې او خطرونه وارزوي.

په دغه مقاله کې به دا هم وڅېړل شي، چې افغانستان د اتصال په بېلابېلو ستراتېژیو او روایتونو کې څنګه ځای شوی، د اقتصادي پرمختګ او ثبات لپاره یې احتمالي ګټې څه دي.

په دغه مقاله کې هڅه کیږي چې د اتصال په بحث کې د افغانستان د رول هر اړخیزه کتنه وکړو او معلومه شي، چې هېواد څرنګه کولای شي چې خپله

جیوستراتیژیکه جغرافیه د خپلې ودې، امنیت او سیمه‌ایز ادغام په ګټه وکاروي.

### د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخې څو اړخیزې دي:

- لومړۍ او اساسي موخه یې د افغانستان د موقعیت جیوپولیټیک او ستراتیژیک اهمیت ارزول او د هغو مهمو سیمه‌ایزو او نړیوالو اتصال نوښتونو څېړنه ده، چې افغانستان پکې شامل او یا بیاځلې ورګډ شوی دی.
- دویمه موخه د دې څرګندول دي، چې څرنګه د دغو نوښتونو تر شا Liberal او (win-win) بیانیې په اصل کې جیوپولیټیکي او Realist اجنډاوې پټې کړې دي چې د قدرت په سیاست ولاړې دي.
- په پای کې د افغانستان لپاره په دې هکله د تګلارو وړاندیز او سپارښتنې شوي، ترڅو د هېواد پالیسي جوړونکي خپله ستراتیژیکه جغرافیه د دوامداره پرمختګ او سیمه ایزې همکارۍ لپاره په سمه توګه وکاروي.

### څېړنیزه تګلاره

دا مطالعه د ماهیت له مخې یو کیفي (Qualitatiave) تحقیق دی، چې په ثانوي سرچینو لکه علمي مقالې، دولتي راپورونه، د سیمه‌ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانسونو مواد لکه RECCA او CAREC او مطبوعاتي خپرونو باندې ولاړه ده. د څېړنې تګلاره تحلیلکوونکې او تفسیرکوونکې ده، چې د اتصال په بحث کې پر دوه ګونو روایتونو Liberal and Realist تمرکز کوي. د اتصال د بېلابېلو نوښتونو موردي مطالعات په انتقادي ډول ارزول شوي، ترڅو په نړیوالو او سیمه‌ایزو ادغام ستراتیژیو کې د افغانستان ځای او رول روښانه شي.

### د افغانستان ستراتیژیک او جغرافیایي ارزښت

د افغانستان ستراتېژیک او جغرافیایي موقیعت په اوسنیو نړیوالو او سیمه‌ایزو سیاستونو کې د نړۍ د هېوادونو لپاره خورا مهم بلل کیږي. یاد هېواد د سویلي آسیا، مرکزي او شمالي آسیا، منځني ختیځ او لرې ختیځ د زېرمو بډایو سیمو په ګډه لمنه کې پروت دی او ډېرى وختونه ورته د "آسیا

زړه" او "آسیا ځلورلارې" نومونه کارول شوي دي (Ghiasy & Saeedi, 2014; Salahi, 2022; Safi & Alizada, 2018; Dhaka, 2014, p. 97; Ganaie & Ganaie, 2022).

د بېلګې په توګه، بشیر احمد انصاري وايي:
دانشمندان تاریخ و جفرافیه ، افغانستان را بنامهای: معبر استراتیژیک، گذرگاه کشور گشایان، تقاطع جاده ابرشیم, بام دنیا . دروازه هند، دروازه شرقی جهان اسلام، منطقه حایل، چهار راه تمدنها ، دروازه بزرگ تجارت جهانی و بالاخره عده ای انراقلب اسیا نامیده اند (Ansary, 1380).

افغانستان د دې وړتیا لري، چې د اتصال د یو مهم ټکي او انرژۍ احتمالي دهلیز په توګه عمل وکړي او د آسیا او اروپا په لویو وچو کې د اړیکو په بڼه کې انقلاب رامنځته کړي او دغه ډول ارزښت یې پخوا د وریښمو لارې پر مهال هم درلود (Byrd, 2002; Mughal & Suleman, 2021; Mukhtar, 2022, p. 10)

د وریښمو د پخوانۍ دورې پر مهال افغانستان د خپل غوره جغرافیایي موقعیت څخه په ګټې اخیستنې سره د نړۍ بېلابېل تمدنونه لکه چین، هند، ایران، روم او یونان همدلته سره یو ځای کول.

د چین دولتي رسنۍ (CGTN) په ۲۰۲۱ز کال په یوه خپره کړې مقاله کې لیکلي وو چې:

افغانستان ستراتیژیک موقیعت لري. دا په مرکزي آسیا کې یوه څلورلاره ده، چې چین، سویلي آسیا او منځنی ختیځ سره نښلوي. پخوا دغه خاوره د وریښمو مشهورې لارې په نوم د تمدنونو د څلورلارې په توګه کارول کېده. د افغانستان جیوستراتېژیک موقعیت اوس بې‌حده مهم دی، ځکه په دې هڅه کې دی چې خپل پخواني موقف ته ور وګرځي او د یو مهم ځمکني پل په توګه راڅرګند شي (CGTN, 2021).

په اتلسمه پېړۍ کې افغانستان د روسیې او بریتانیا تر منځ د بفر زون سیمې په توګه پېژندل کېده (Ferguson & Hughes, 2019; Khan, 1998; Ganaie & Ganaie, 2022). همداراز د سړې جګړې په مهال د شوروي اتحاد او متحده ایالاتو تر منځ د سیالۍ ډګر و (Jalali, 2017; Jalalzai & Jefferess, 2011, p. 23). خو نن ورځ افغانان او نړیواله ټولنه غواړي افغانستان نه یواځې د یو نښلونکي په توګه وګوري، بلکې غواړي په بېلابېلو برخو کې د اقتصادي ودې یو مهم محرک هم وي او په دې توګه د براعظمي اتصال لامل شي

(Safranchuk, 2019, p. 24; SEE REECA, 2005; 2006; 2009; 2010; 2012; 2015; 2017, and Heart of Asia-Istanbul Process, 2011, Conferences).

د مغل او سليمان (2021) په وينا، افغانستان که څه هم په وچه کې بند دی، خو کولای شي چې د ايران، روسيې، چين او پاکستان ترڅنګ په يو'سيمه‌ايز مرکز او واکمن هېواد بدل شي (p. 22). د افغانستان جغرافيايي ارزښت د علامه اقبال لاهوري په يوه مشهور شعر کې هم انځور شوی، چې د دې ملت د کړاوونو او ګډوډ تاريخ علت ته هم اشاره کوي. هغه وايي:

اسـيا يــک پيکـر آب و ګـل اسـت
ملـت افغـان دريـن پيکـر دل اسـت
از فســــــاد او فســــــاد اســــــيا
از ګشــــــاد او ګشــــــاد اســــــيا

**په معاصرو اړيکو او د اتصال نوښتونو کې د افغانستان ځای او ونډه**

په ۲۱ز پېړۍ کې د نړيوالتوب موضوع له رامنځته کېدو سره د ازادو بازارونو، خپلواکۍ او اقتصادي ادغام موضوعګانې مل شوې او په داسې حال کې چې غير متصل (نا نښلېدلی) حالت يو خطر ګڼل کيږي افغانستان د اتصال ستراتيژيو او روايتونو کې يو مهم ځای خپل کړی دی.

ټول لوی او کوچني هېوادونه نښلوني او ادغام ته لېوال دي، ځکه نښلونه د اوسني نړيوال سياست يوه مهمه پرمختيايي ځانګړنه ده (Khanna, 2016; 2018).

پــه آسـيا کـــې هـــم د نښلـــونو بهيـــر پـــه چټکـــۍ ســـره مـــه پـــه زياتېـــدو او پراخېـــدو دی (Aziz; ESCAP, 2017, 2012). خـــو پـــه نړيوالـــه او سـيمه ايـزه کچــه يــې لــه افغانســتان پرتــه عملــي کــول ســتونزمن دي، لــه همـدې املـــه هغـــه هېوادونـــه چـــې پـــه خپلـــو لويـــو ســـتراتېژيو او بهرنـــۍ تګـــلارو کـــې نښـــلونه لومړيتـــوب ګڼـــي، پـــه ځـــانګړې توګـــه د يوريشـــيا بـــراعظم د ادغـــام پـــه برخـــه کـــې مجبـــور دي چـــې افغانســـتان پـــه خپلـــو نوښـــتونو، بحثونـــو او روايتونـــو کـــې ځـــای پـــر ځـــای او پاملرنـــه ورتـــه وکړي.

افغانستان چې د آسیا لویې وچې یو بېساری ځمکنی دهلېز او تجارتي څلورلاره ده، د سیمې د نښلونې په بهیر کې مرکزي رول لري. دا هېواد داسې موقعیت لري، چې د سیمې پټ پوتنشیلونه را برسېره کوي. د بېلګې په توګه له یوې خوا مرکزي آسیا هېوادونه د شتمنو طبیعي سرچینو خاوندان دي او مختلفو بازارونو ته د صادراتو اړتیا لري (Cornell & Starr, 2018)، له بلې خوا سویلي آسیا هېوادونه او چین د انرژۍ او طبیعي زیرمو بېساري لوړه تقاضا لري، چې له پوره کېدو پرته یې اقتصادي وده تقریباً ناشونې ده. مرکزي آسیا هېوادونو د شوروي اتحاد له زوال راهیسې هڅه کړې چې له نړیوال اقتصاد سره ځان وتړي. له همدې امله په دې برخه کې افغانستان د ټولې سیمې د یوځای کولو لپاره مهم دی (Mudabber, 2016; Safranchuk, 2019). د RECCA د ۲۰۱۷ کال کلني راپور له مخې افغانستان د مرکزي، سویلي او سوېل لوېدیځې آسیا ترمنځ د سړکونو، رېل پټلیو، نل لیکو او برېښنا لېږد مزیو لپاره تر ټولو لنډ او ارزانه مسیرونه برابروي (REECA, 2017, p. 8).افغانستان د هند او چین لپاره په ختیځ او د مرکزي آسیا، منځني ختیځ او اروپا لپاره په لوېدیځ کې د یوې "دروازې" حیثیت لري (Mukhtar, 2022).

په افغانستان کې د بنسټونو او ترانسپورتي دهلېزونو جوړول د مرکزي او سویلي آسیا تر منځ د چین په ګډون اقتصادي نښلونې او ادغام ته پراخوالی او چټکتیا ورکولای شي. افغانستان د نړۍ هېوادونو ته د یو بار وړونکي څلورلارې په توګه خدمت کولای شي؛ هغوی کولای شي د افغانستان له لارې د سړکونو، د ګازو نل لیکو، د برېښنا مزو او اورګاډي پټلیو په مټ سیمې او نړۍ ته لاره پیدا کړي. په دې توګه افغانستان د سیمې د نښلونو په اړوند حالت کې په یو مرکز بدلېږي؛ او د سیمې تر منځ نوي تبادلات او بازارونه پرانیزي چې مرکزي آسیا، جنوبي آسیا، منځنی ختیځ او اروپا ټول ترې ګټه اخلي. په بېلابېلو د نښلولو نوښتونو او د هغوی په روایتونو کې افغانستان نقش ورکړل شوی دی (REECA, 2015; 2017).

د مرکزي آسیا د سیمه‌ایز اقتصادي همکاریو پروګرام (CAREC) د اقتصادي اتصال یو دهلېز دی، چې په 1997 کال کې تأسیس شو. د انرژۍ لېږد، ترانسپورټ، سوداګري او د ګډې همکارۍ پیاوړتیا یې اصلي موخې دي، تر

ځو مرکزي آسیا، سویلي آسیا، قفقاز هېوادونه او په ځانګړي توګه افغانستان کې سوله او اقتصادي هوساینه رامنځته شي (Mughal & Suleman, 2021). په دغه نوښت کې افغانستان د یو نښلوونکي، د اتصال د مرکز او د عرضي دهلېز په توګه ځای شوی دی. د دې پروژې موخه د ګډې همکارۍ له لارې اقتصادي وده، د سوداګرۍ زیاتېدل او سیالۍ د ډګر پراخېدل دي( CAREC, 2020). د TAPI یا "د سولې نل لیکې "مفکوره هم له 2001 وروسته بیا راژوندۍ شوه او افغانستان په کې د یو ملاتړي په توګه مطرح شو. TAPI یوه لویه اتصالي پروژه ده، چې موخه یې له مرکزي آسیا څخه د سویلي آسیا هېوادونو ته د طبیعي ګاز اړتیا پوره کول او د سیمه‌ایز ادغام او نښلونې پیاوړتیا ده (Rafique, 2020). ویل کیږي چې د TAPI تر بشپړېدو وروسته به افغانستان خپله سیمه‌ایزه نښلوونکې ونډه لا پیاوړې کړي او د ګوادر بندر ته به لاسرسی ومومي، کوم چې د ټرانزیټ او سوداګرۍ راټوکېدونکی مرکز دی (Mughal & Suleman, 2021).

په 2011 کال کې لوېدیځ هڅه وکړه چې افغانستان په یو پراخ اتصالي نوښت کې بیاځلې ځای پرځای کړي، چې هغه "د نوې وربښمو لارې ستراتیژي" وه. د دغه پلان له مخې هڅه کېده چې یوه نړیواله اقتصادي او ترانسپورتي شبکه او یو لړ دهلېزونه جوړ شي، چې مرکزي آسیا، سویلي آسیا او منځنی ختیځ سره وتړي او افغانستان یې په مرکز کې ځای پر ځای شي (Pantucci & Lain, 2017). د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن ویلي وو: ((د ترکمنستان د ګازو ډګرونه کولای شي د پاکستان او هند مخ پر زیاتېدونکې انرژۍ اړتیاوې پوره کړي او له لارې یې هم افغانستان او پاکستان ته د پام وړ ترانزیتي عواید ورکړي. د تاجکستان پنبه کېدای شي په هندۍ ټوکر بدله شي. له افغانستان څخه فرنیچر او مېوه جات د آستانې یا ممبۍ بازارونو او آن هاخوا سیمو ته رسېدلای شي)) (Jisi, 2014, p. 132).

د وربښمو د نوې لارې موخه سیمه‌ایزې سوداګرۍ، اقتصادي همکارۍ او ترانسپورت ته وده ورکول او په پای کې په افغانستان کې تلپاتې اقتصادي پرمختګ یقیني کول وو. له همدې امله د افغانستان د اتصال پټ ظرفیت د را برسېره کولو لپاره د"آسیا زړه" تر عنوان لاندې ځو مهم کنفرانسونه هم

ترسره شول، چې موخه یې د افغانستان او ګاونډیانو ترمنځ سیمهایزې همکارۍ ته وده ورکول وو (Quie, 2014).

هند او چین هم افغانستان د خپلو اتصال نوښتونو کې بیاځلې ځای کړ. د بېلګې په توګه، د چین ولسمشر هو جنتاو او د افغانستان ولسمشر حامد کرزي په 2012 کال په بېجینګ کې د شانګهای د همکاریو سازمان (SCO) په سرمشریزه کې د ترکمنستان-افغانستان-تاجکستان-چین د ګازو نل لیکې د جوړولو وړاندیز وخېړه (SCO, 2012). نن ورځ افغانستان د چین د یو کمربند او یوې لارې نوښت (BRI) او د نړیوال شمال-سویل سوداګریز دهلېز (INSTC) یوه مهمه برخه ګڼل کیږي.

د اتصال(نښلولو) بله پروژه چې افغانستان پکې شامل دی او ادعا کیږي چې افغانستان د اروپا او بالکان له بازارونو سره نښلوي، د "لاجورد دهلېز "په نامه یادیږي. د ترانزیت، سوداګرۍ او ټرانسپورټ دغه تړون په 2012 کال کې جوړ شو، تر څو د افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان، جورجیا او ترکیې ترمنځ سیمه ایز اقتصادي ادغام او د سوداګرۍ په اساس نښلونه(اتصال) پیاوړې کړي (REECA, 2017, p. 19). CASA- CASA-1000 د مرکزي آسیا او جنوبي آسیا ترمنځ د بریښنا د لیږد پروژه ده، چې افغانستان پکې کلیدي برخه لوبوي. د یوې څېړنې له مخې اټکل کیږي، چې CASA-1000 به هر کال د افغانستان عامه عواید له 88 څخه تر 175 میلیونه ډالرو پورې زیات کړي او له 100,000څخه ډېر غیرمستقیم کاري فرصتونه به رامنځته کړي. همدارنګه افغانستان د واخان دهلېز په نوم د نښلونې(اتصال) په یوه نوښت کې هم نقشه شوی. دغه نوښت په خپل ډول کې ځانګړی دی، ځکه موخه یې دا ده چې د بدخشان ولایت د واخان تنګي له لارې چین، پاکستان، تاجکستان او افغانستان سره ونښلوي. ګومان کیږي چې دا پروژه به افغانستان ته حیثیت ورکړي، اقتصادي حالت به یې ښه کړي او په پایله کې به له نړۍ سره د افغانستان اقتصاد مدغم کېدو ته لار هواره کړي، چې دا یو حقیقي ګټور حالت بلل کیږي.

افغانستان په هغو ترانسپورټي دهلېزونو کې هم شامل شوی چې اورګاډي پټلۍ پکې راځي. د بېلګې په توګه د تاجکستان–افغانستان–ترکمنستان او تاجکستان–افغانستان–ایران ریل لارې؛ او د هند–ایران–افغانستان لار د

چابهار بندر له لارې یادولی شو. برسېره پر دې، افغانستان د سویلي کورېډور (میانمار-بنګله‌دېش-هند-پاکستان-افغانستان-منځنۍ آسیا)پروژه کې هم شامل ګڼل کیږي (Safranchuk, 2019).

همدارنګه افغانستان د "Azure"لاجورد لارې په پروژه کې د یوه مهم نښلوونکي په توګه مطرح شوی. دا پروژه د ترانزیت او سوداګرۍ یو دهلېز دی، چې افغانستان له مرکزي آسیا، قفقاز، بالکان او مرکزي اروپا سره نښلويYar, Zahid & Miakhil, 2023).

د TAP-500 پروژه د نښلونې یو بل نوښت دی، چې افغانستان پکې د یوه مهم لوبغاړي په توګه برخه لري. دغه پروژه غواړي مرکزي آسیا له سویلي آسیا سره د افغانستان له لارې وتړي. موخه یې دا ده چې له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته برېښنا انتقال کړي (Saeedi & Kadyrova, 2018).

د TAP-500 تر څنګ، افغانستان په TUTAP بریښنا په پروژه کې هم شامل دی (REECA, 2015, p. 59). دغه پروژه د دې لپاره طرحه شوې چې مرکزي آسیا له سویلي آسیا سره وتړي، په کوم کې به چې له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان څخه اضافه برېښنا د افغانستان له لارې پاکستان ته ولېږدول شي (Masomy, 2021).

افغانستان د هند د مرکزي آسیا د پالیسۍ لپاره یو نه بدلېدونکی عنصر ګڼل کیږي. دا هېواد د هند لپاره مرکزي آسیا ته د لاسرسي یو مهم نښلوونکی او ترانزیتي مرکز دی. د بېلګې په توګه، چابهار بندر له سترو پروژو څخه ده، چې موخه یې له افغانستان او ایران په تېرېدلو سره سویلي آسیا او هند له مرکزي آسیا سره نښلول دي (Hindustan Times, 2016). چابهار د پاکستان د ګوادر او کراچۍ بندرونو بدیل ګڼل کیږي. هندي روایتونه استدلال کوي چې د دغه نوښت له لارې به افغانستان وکولای شي د پاکستان له خاورې تېرېدو پرته له تودو اوبو (سمندر) سره وصل شي.

د نړیوال بانک د معلوماتو له مخې، په دې وروستیو کې "د خیبر پاس اقتصادي دهلېز(KPEC) " په نوم یوه اقتصادي پروژه پیل شوې، چې د خیبر درې له لارې افغانستان او پاکستان له مرکزي آسیا سره نښلوي (World Bank, 2019). همدارنګه افغانستان د "پنځه ملتونو د اورګاډي پټلۍ

دهلیز (FNRC)"په پروژه کې هم شامل دی (Safi & Alizada, 2018). د نښلونې او اتصال دغه براعظمي نوښت چې د افغانستان له لارې به تېرېږي، د یوې بېساري یوریشیایي رېل کرښې په توګه ګڼل کیږي، چې چین، تاجکستان، قرغزستان، افغانستان او ایران به ونښلوي او سوداګرۍ او اقتصادي یووالي ته به وده ورکړي. ګومان کیږي چې FNRC به افغانستان د ایران له لارې له اروپا او د مرکزي آسیا له لارې له چین سره ونښلوي (RECCA, 2017, p. 21).

له بلې خوا افغانستان د ډیجېټل ورېښمو په لار کې هم شامل دی، چې موخه یې په مرکزي، سویلي او سوېل لوېدیځه آسیا (چین په ګډون) کې د سیمه‌ایزې نښلونې او د پوهې اقتصاد پراختیا ده. د ډیجېټل ورېښمو لارې د ملاتړ ارزښت دا دی، چې له امله به یې افغانستان د سمندري او قاروي مخابراتو یو ستر سوداګریز او ترانزیتي مرکز وګرځي (Safi & Alizada, p. 36).

سربېره پردې، د افغانستان د ناپییلې نښلونې وړتیا د رامنځته کېدو لپاره ګڼ شمېر د نښلونې او ادغام پلاتفورمونه راټوکېدلي دي. د بېلګې په توګه RECCA او د آسیا زړه -استانبول بهیر یادولو وړ دي. همدارنګه نور سیمه‌ایز سازمانونه او پلاتفورمونه هم مرسته کوي، چې افغانستان د "نښلونې یو مرکز" په توګه په پښو ودروي؛ لکه د سویلي آسیا د سیمه‌ایزې همکارۍ ټولنه (SAARC)، د آسیایي پراختیا بانک تر چتر لاندې د مرکزي آسیا د سیمه‌ایزو اقتصادي همکاریو پروګرام (CAREC)، د اقتصادي همکارۍ سازمان (ECO)، د ملګرو ملتونو د آسیا او ارام سمندر اقتصادي او ټولنیز کمېسیون (UNESCAP)، د یو کمربند او لارې نوښت (BRI)، د منځني دهلېز پروژه او افغانستان له هر پوله دېته لېواله دی، چې خپله د نښلوونکې وړتیا او د سیمه‌ایز ادغام اسانتیا په عمل کې ثابته کړي، (د RECCA 2015، 2016، 2017 کنفرانسونو ته مراجعه وکړئ). د افغانستان د نښلونې هیلې د دې هېواد له ستراتېژیک موقیعت، کرنیزو-زرغونو سیمو او کاني سرچینو راټوکېدلي دي (Safi & Alizada, p. 20; Ghosh, 2023). افغانستان د 2000 مو کلونو په منځ کې دغه تګلاره خپله کړه، رڅو هېواد بیا د سیمې په یو څلورلار او مرکز بدل کړي. له هماغه مهاله د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ بنسټیزه موخه نښلونه او سیمه‌ایز ادغام

ګرځېدلې ده. د اوسني اسلامي امارت په ګډون، ټولو حکومتونو دا لومړیتوب ګڼلی چې د افغانستان خاوره په یوه اتصالي مرکز بدله کړي. د دې هدف لپاره بېلابېلو حکومتونو د پولې پورې غاړې ګڼ شمېر ترانسپورتي او سوداګریز تړونونه لاسلیک کړي، ګڼ نړیوال کنوانسیونونه یې منلي او په ټول هېواد کې یې یو شمېر ځانګړي اقتصادي زونونه او څوګوني ترانسپورتي او لوژستیکي مرکزونه جوړ کړي (REECCA, 2017).

اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته هم وښوده چې غواړي افغانستان بېرته د وریښمو لارې یوه مهمه برخه کړي. د بېلګې په توګه د حکومت ویاند ذبیح الله مجاهد څرګنده کړه، چې طالبان غواړي د یو کمربند او یوې لارې نوښت سره یوځای شي (Hindustan Time, 2021).

**د نښلوني نوښتونو تر شا پرتې بیانیې**

پیاوړې تجربي بنیټ چې سیمه‌ایز اتصال او اقتصادي ادغام کولای شي اقتصادي وده، پانګونه او د پوهې او ټکنالوژۍ لېږد رامنځته کړي ( ADB, 2013). د آسیا پراختیایي بانک د یو راپور له مخې، نښلونه او ادغام سوداګرۍ او پانګونې ته اسانتیا برابروي، د نښلونې بنسټونه پیاوړي کوي، د خلکو تګ راتګ زیاتوي، د سیمه‌ایزو عامه توکو عرضه ډېروي او د بنسټونو د ودې لپاره لاره هواروي، د ورتیا لوړولو له لارې د سرحدونو پورې اړوند د پالیسۍ همغږي ډېروي (ADB, 2022). په تېرو کلونو کې ګڼو مطالعاتو دا وړاندیز کړی چې د سیمه‌ایزې اقتصادي همکارۍ او اقتصادي ودې تر منځ یوه مثبته اړیکه شتون لري. سیمه‌ایزه اقتصادي همکاري سوداګرۍ، پانګونې او د پوهې لېږد ته اسانتیا برابروي، چې دا هر یو د تولید او ودې لپاره مهم ګڼل کیږي. دغه مطالعات زیاتوي چې ځینې ځانګړي عوامل لکه د هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ وړتیا او په یو هېواد کې د بنسټیزو زیربناوو کچه د بریالۍ سیمه‌ایزې اقتصادي همکارۍ او ادغام عمده پارامترونه دي. همدارنګه دوی استدلال کوي چې دغه ډول همکارۍ نوې انګېزې رامنځته کولای شي، ترڅو د د اوږدمهاله سولې او ثبات په لور ګام واخیستل شي. دا ټولې آزادې ادعاوې او روایتونه دي. خو باید په انتقادي ډول و ارزول شي چې آیا دغه روایتونه په حقیقت کې کومې پټې واقعپالې او ځواک‌محورې اجنډاوې لري او که نه؟

د اتصال ټول هغه نوښتونه چې افغانستان یې یو ځای کېدو ته لېوالتیا لري، د دې ترشا منطق دا دی، چې افغانستان اقتصاد به ورسره وده وکړي؛ په ټول هېواد کې به نوي سرکونه، لوی لارې، تونلونه او د ټرانسپورټ دهلېزونه جوړ شي، چې نه یوازې په افغانستان بلکې په ټولې سیمه کې به سوداګرۍ ته وده ورکړي (Rimmad, 2015; Brunner, 2013; Rizvi et al., 2014).

سربېره پردې د ADB راپور اټکل کړی چې په افغانستان کې له پنځوسو څخه ډېرو لارو جوړول به د ټولې سیمې سوداګري 15٪ لوړه کړي (ADB, 2005). همدارنګه، داسې وړاندوینه کیږي چې د افغانستان صادرات به 202٪ لوړ او د هېواد کورنی ناخالص تولید (GDP) به 4.1٪ زیات شي. له ټولو مهمه دا چې د هېواد دننه به دایمي دندې رامنځته شي. لنډه دا چې که د افغانستان د نښلونو او ادغام پټ ظرفیت په بشپړ ډول فعاله او عملي شي، دا به د هېواد او ټولې سیمې اقتصاد او سیاست لپاره یو مهم بدلون وي.

نښلونه به افغانستان ته دا زمینه هم برابره کړي، چې له سمندر او تودو اوبو سره وصل شي، دغه کار به د هېواد اقتصاد او سوداګرۍ لا پیاوړې کړي. سربېره پر دې، که افغانستان په یو نښلوونکي مرکز بدل شي، نو د هېواد دننه د سولې په ټینګښت کې به هم مرسته وکړي (Mughal & Suleman, 2021). همداراز اټکل کیږي، چې نوي اقتصادي فرصتونه به رامنځته او دا به په افغانستان کې د ناامنۍ بنسټیز عوامل لکه وروسته پاتې والی، د بنسټیزو سرچینو کمښت او د بشري پانګې ټیټه کچه له منځه یوسي. ټول د نښلونو نوښتونه دا ادعا کوي چې د دوی له لارې به دندې رامنځته شي، زېربناوې به پراختیا ومومي او کورنی تولید به وغوړیږي. لکه څرنګه چې مخکې هم و ویل شول دغه ټولې ادعاوې او روایتونه دي. خو باید په انتقادي توګه وڅېړل شي، چې آیا دغه کیسې کومې پټې واقعیالې او ځواک‌محورې اجنډاوې لري او که نه!

**د اصلي واقعیتپالو اجنډاوو انتقادي تحلیل**

افغانستان د نښلوني ستراتیژیکو روایتونو کې چې ځینې یې 'geoeconomic qua' او ' نیو لیبرال جیوپولیټیک' بلل کیږي. یو ښکېل هېواد دی. د 'geopolitics'

بېلګې په توګه له دغو ستراتېژیو راوتلي روایتونه ډېر لیبرال رنګ لري (Basu, 2021; Zhiyong, 2018).

دوی استدلال کوي چې د دوی نښلونه افغانستان له مرکزي آسیا، سویلي آسیا او سمندر سره نښلوي، چې په پایله کې به د هېواد بنسټونه جوړ شي (Ganaie & Ganaie, 2022; Safi & Alizada, 2018). دا هم وايي چې که د افغانستان د نښلونو پوتنشیل پوره شي، هېواد ته به اقتصادي ګټه ورسېږي او سیاسي حیثیت به یې لوړ شي (Cacicedo, 2022). دا ټول لیبرال روایتونه دي، خو واقعپالي او جیوپولیټیکي اجنډاوې لري.

د دغو روایتونو تر شا واقعپالي او جیوپولیټیکي موخې په لاندې ډول دي:

- غواړي د خپلو د نښلونې ستراتېژیو له لارې خپلې جیوپولیټیکي پایلې تر لاسه کړي (Felbab-Brown, 2022).
- غواړي داډ ترلاسه کړي چې له افغانستان څخه ترهګري د دوی هېوادونو ته وانه وړي (Tadjbakhsh, 2011; Clarke, 2016; Pant, 2014).
- نور جیوپولیټیکي اهداف یې دا دي چې خپل ځواک او د نفوذ ساحه پراخه کړي او سیمه‌ایز سیال ځواکونه مهار او انډول کړي (Dhaka, 2014; Clarke, 2013; Manish & Kaushik, 2019).
- یو بل جیوپولیټیک او واقعپال هدف دا دی چې افغانستان په ملي او نړیواله کچه د اقتصاد-انرژۍ-سرچینو د امنیت په هڅو کې په یو بل "استخراجي زون" بدل کړي(Colibasanu,2023. د اټکل له مخې د افغانستان طبیعي زېرمې له ۱ څخه تر 3 ټریلیون ډالرو ارزښت لري (Najafizada, 2011; Aziz, 2012).

**پایله او سپارښتنې**

د افغانستان موقعیت د سیمه‌ایز اتصال، اقتصادي پراختیا او سیاسي یووالي لپاره یو مهم ستراتېژیک امتیاز وړاندې کوي. خو په داسې حال کې چې لیبرال روایتونه د همکاریو له لارې د سوکالۍ ژمنه کوي، دا روایتونه وخت ناوخت له ژورو واقعپالو انګېزو سره یو ځای وي یا یې تر شا پټوي. د دې لپاره چې افغانستان ریښتینې ګټه پورته کړي، باید دا تعامل په ځیرکتیا مخې ته یوسي؛ خپلواکه تصمیم‌ګیري او حاکمیت وساتي او ډاډ ترلاسه کړي، چې

د نښلوني هڅې يې د ملي پرمختګ له موخو سره همغږې دي. د افغانستان د نښلونو وړتیا پوره کول کولای شي، نه یوازې د هېواد اقتصاد په بنسټیزه توګه بدل کړي، بلکې د ټولې سیمې د ثبات او هوساینې لپاره هم ګټور تمام شي.

د افغانستان د دغه ستراتیژیک موقیعت څخه د اعظمي ګټې اخیستنې لپاره د لاندې کړنو وړاندیز کیږي:

- ملي ګټې دې د اتصال له پروژو سره په داسې توګه همغږې شي چې متقابلې ګټې تضمین شي.
- مشرتابه دې د زیربناوو، سوداګرۍ او سرحد هاخوا همکاریو د مدیریت لپاره خپل بنسټیز ظرفیتونه لوړ کړي.
- د لویو لارو، لویو سرکونو او تونلونو په څېر بنسټیزو زیربناوو جوړولو ته لومړیتوب ورکړي.
- په ډیجېټل نښلونې کې دې پانګونه زیات کړي، ترڅو د سیمې په وده کوونکي ډیجېټل اقتصاد کې ځان شامل کړي.
- په بهرني سیاست کې دې له ټولو سیمهایزو قدرتونو سره توازن وساتي او د "هېجینګ(hedging)" تګلاره خپله کړي، یعنې له یو اړخ سره هم خپله بشپړه تکیه تړلې پرېنږدي.
- له هر څه دمخه په امنیتي برخه کې شریکانو هېوادونو ته د باور ورکولو هڅه وشي او یو سیمه ایز میکانیزم وده وکړي، ترڅو د زیربنایي پروژو خوندیتوب له ورانکارۍ او ناامنۍ څخه ډاډمن کړي.
- ټول افغانان او د هغوی سیمهایزې ډلې (انساني او کلتوري جغرافیې) دې په دې پروژو کې شامل شي، ترڅو ټول قومونه او سیمې د نښلونې له پروژو ګټه واخلي او کومه ډله څنډې ته پاتې نشي.
- خصوصي سکتور ته دې په دغو پروژو کې برخه ورکړل شي او په تړونونو کې شفافیت یقیني شي.
- د نښلوني نوښتونو د بریالي او نرم پلي کولو لپاره دې د څارنې او ارزونې یو مناسب سیستم پلان او په احتیاط سره پلی شي.

## ماخذونه

Asian Development Bank. (2003). *Regional cooperation and integration in a changing world*. Author. https://www.adb.org/sites/default/files/publication/30224/regional-cooperation-changing-world.pdf

Asian Development Bank. (2019). *Strategy 2030 operational plan for priority 7: Fostering regional cooperation and integration, 2019–2024*. Author. https://doi.org/10.22617/SPR200023

Azhar, M., & Muhammad, A. (2015). South Asia–Central Asia interregional connectivity: The future perspective. *Central Asia Journal*, *77*, 31–44.

Aziz, M. (2012). *Afghanistan: The geopolitics of regional economic integration – The emergence of China as the new facilitator* (CIDOB Policy Research Project: Sources of Tension in Afghanistan and Pakistan – A Regional Perspective). Barcelona Centre for International Affairs.

Basu, N. (2021, July 16). Jaishankar pitches for connectivity with Afghanistan via Chabahar, takes jibe at China, Pakistan. *ThePrint*. https://theprint.in/diplomacy/jaishankar-pitches-for-connectivity-with-afghanistan-via-chabahar-takes-jibe-at-china-pakistan/697497/

Brunner, H. P. (2013). *What is economic corridor development and what can it achieve in Asia's subregions?* Asian Development Bank.

Byrd, W. (2002, May). Economic activity and financing in the regional context: Exploiting the new opportunities [Paper presentation]. *Tripartite Ministerial Meeting of Afghanistan, Iran, and Pakistan on Cooperation for Development*, Tehran, Iran.

CGTN. (2021, June 15). What is the new type of international relations China is proposing? *CGTN*. https://news.cgtn.com/news/2021-06-15/What-is-the-new-type-

of-international-relations-China-is-proposing--116xd6FFxHa/index.html

Clarke, M. (2013). China's strategy in "Greater Central Asia": Is Afghanistan the missing link? *Asian Affairs: An American Review, 40*(1), 1–19.

Clarke, M. (2016). "One belt, one road" and China's emerging Afghanistan dilemma. *Australian Journal of International Affairs, 70*(5), 563–579.

Colibasanu, A. (2023, January 25). China in Afghanistan: Rare opportunity or poisoned chalice? *Geopolitical Futures*. https://geopoliticalfutures.com/china-in-afghanistan-rare-opportunity-or-poisoned-chalice/

Cornell, S. E., & Starr, S. F. (2018). *Modernization and regional cooperation in Central Asia: A new spring?* Central Asia-Caucasus Institute & Silk Road Studies Program.

Dhaka, A. (2014). Factoring Central Asia into China's Afghanistan policy. *Journal of Eurasian Studies, 5*(1), 97–106.

Felbab-Brown, V. (2022, September 13). China's and India's realpolitik relations with the Taliban regime. *China-India Brief (No. 210)*. Centre on Asia and Globalization.

Ganaie, R. A., & Ganaie, M. A. (2022). India's Afghanistan policy: A quest for strategic space post the US withdrawal. *Humanities & Social Sciences Communications, 9*, 462. https://doi.org/10.1057/s41599-022-01489-7

Ghiasy, R., & Saeedi, M. (2014). *The Heart of Asia Process at a juncture: An analysis of impediments to further progress*. Afghan Institute for Strategic Studies.

Ghosh, A. (2023). China, Afghanistan and BRI. In S. Kumar (Ed.), *China's BRI in different regions of the world: Cooperation, contradictions and concerns* (pp. 130–143). Routledge.

Hindustan Times. (2021, September 7). Taliban say they "desire" to join China-Pakistan Economic Corridor projects. *Hindustan Times*. https://www.hindustantimes.com/world-news/taliban-say-they-desire-to-join-china-pakistan-economic-corridor-projects-101630976453

Hu, Z. (2018, January 7). Geostrategic significance of CPEC's extension into Afghanistan. https://bit.ly/2T0DhIC

Jalalzai, Z., & Jefferess, D. (Eds.). (2011). *Globalizing Afghanistan: Terrorism, war, and the rhetoric of nation building*. Duke University Press.

Khan, I. (1998). Afghanistan: A geopolitical study. *Central Asian Survey, 17*(3), 489–502. https://doi.org/10.1080/02634939808401049

Khanna, P. (2016). *Connectography: Mapping the future of global civilization*. Random House.

Manish, & Kaushik, P. (2019). CPEC, Afghanistan and India's concerns. *India Quarterly, 75*(2), 253–261.

Masomy, M. J. (2021). Afghanistan as a land bridge between Central Asia and South Asia for economic cooperation: Challenges and opportunities. *Electronic Journal of Social and Strategic Studies, 2*, 91–111.

Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan. (2005). *Regional Economic Cooperation Conference on Afghanistan (RECCA I), Kabul: Final declaration*. https://mfa.gov.af

Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan. (2006). *Regional Economic Cooperation Conference on Afghanistan (RECCA II), New Delhi: Final declaration*. https://mfa.gov.af

Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan. (2009). *Regional Economic Cooperation Conference on Afghanistan (RECCA III), Islamabad: Final report*. https://mfa.gov.af

Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan. (2010). *RECCA IV: Building cooperation for regional prosperity*. https://mfa.gov.af

Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan. (2012). *RECCA V: Final declaration and project summary*. https://mfa.gov.af

Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan. (2015). *RECCA VI: Advancing Afghan connectivity and regional economic integration*. https://recca.af

Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan. (2017). *RECCA VII: Deepening connectivity and expanding trade through investment in infrastructure and improving synergy*. https://recca.af

Mudabber, Z. (2016, July 12). Afghanistan's role in the Central Asia–South Asia energy projects. *The Diplomat*. https://thediplomat.com/2016/07/afghanistans-role-in-the-central-asia-south-asia-energy-projects/

Mughal, P., & Suleman, S. (2021). Global geopolitical dynamics and prospects for Afghanistan's regional connectivity. *NUST Journal of International Peace & Stability*, *4*(2), 16–34.

Najafizada, E. (2016, September 12). China lays new brick in Silk Road with first Afghan rail freight. *Bloomberg*. https://www.bloomberg.com/news/articles/2016-09-12/china-lays-new-brick-in-silk-road-with-first-afghan-rail-freight

Pant, H. V. (2014). *India's Afghanistan muddle*. HarperCollins.

Pantucci, R., & Lain, S. (2017). *China's Eurasian pivot: The Silk Road Economic Belt*. Routledge.

Quie, M. (2014). The Istanbul Process: Prospects for regional connectivity in the heart of Asia. *Asia Europe Journal*, *12*(3), 285–300.

Rafique, M. (2020, October 12). TAPI gas pipeline project: A catalyst for regional connectivity. *Daily Times*. https://dailytimes.com.pk/676932/tapi-gas-pipeline-project-a-catalyst-for-regional-connectivity/

Rizvi, H. A. (2014). The China–Pakistan Economic Corridor: Regional cooperation and socio-economic development. *Strategic Studies, 34/35*, 1–17.

Rolland, N. (2015, February 12). China's new Silk Road. *The National Bureau of Asian Research*. https://www.nbr.org/publication/chinas-new-silk-road/

Saeedi, T., & Kadyrova, R. (2018, February 26). Start of a new corridor – TAPI, TAP-500, TAP fiber optic link, railway line. *News Central Asia*. http://www.newscentralasia.net/2018/02/26/start-of-a-new-corridor-tapi-tap500-tap-fiber-optic-link-railway-line/

Safi, M., & Alizada, B. (2018). *Integrating Afghanistan into the Belt and Road Initiative: Review, analysis and prospects*. Friedrich-Ebert-Stiftung.

Safranchuk, I. (2019). Afghanistan's political future and its role in Eurasian cooperation. *India Quarterly, 75*(1), 15–28.

Salahi, Z. (2022). Afghanistan: A junction of Asia's connectivity. *The National Bureau of Asian Research*. https://www.nbr.org/publication/afghanistan-a-junction-of-asias-connectivity/

Sánchez-Cacicedo, A. (2022). *Unlocking Afghanistan's connectivity potential: Opportunities for the EU?* (EUISS Brief No. 15). European Union Institute for Security Studies.

Shaofeng, C. (2010). China's self-extrication from the "Malacca dilemma" and implications. *International Journal of China Studies, 1*(1), 1–24.

Tadjbakhsh, S. (2011). *South Asia and Afghanistan: The robust India-Pakistan rivalry*. Peace Research Institute Oslo.

United Nations Economic and Social Commission for Asia and the Pacific. (2017). *Enhancing regional economic cooperation and integration in Asia and the Pacific*. United Nations.

Wang, J. (2012, October 17). March West: China's geopolitical strategy of rebalancing. *Global Times*.

Wolf, S. O. (2021). *China–Pakistan Economic Corridor of the Belt and Road Initiative*. Springer.

Yar, F. G. M., Zahid, S., & Miakhil, J. M. (2023). Afghanistan's geopolitical and geo-economic significance in regional connectivity and development. *Journal of Political and Legal Sovereignty*, *1*(2), 78–86.

Zhao, H. (2016). Afghanistan and China's new neighbourhood diplomacy. *International Affairs, 92*(4), 891–908.

**پوهنیار دوکتور عبدالحمید سیرت**
د حقوقو ځانګه، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، تابش پوهنتون

# د سیمه ایزو جوړښتونو پر وړاندې د افغانستان د بهرني سیاست ټاکوونکي عناصر

**لنډیز**
افغانستان د مرکزي او سویلي آسیا ترمنځ د یو ستراتیژیک پُل په توګه د خپل ځانګړي جغرافیايي موقعیت له امله په سیمه ییزو سیاستونو کې د مهم رول لوبولو بشپړ ظرفیت لري؛ خو دغه ظرفیت د یو لړ سیاسي، امنیتي او اقتصادي عواملو له امله اغېزمن شوی، چې لاندې یې یادونه کولای شو:

لومړی: د جغرافیايي موقعیت او ګاونډیو هېوادونو سره اړیکې د بهرني سیاست اصلي محورونه جوړوي. دویم: امنیتي ننګونې او په ځانګړي ډول د ترهګرۍ شتون، د افغانستان د بهرني سیاست په ټاکلو کې مهمه برخه ده. درېیم: د اوسنې حکومت نړیوال مشروعیت موضوع یو اساسي فکتور دی، چې نړیوال ملاتړ یې د بهرني سیاست پر پیاوړتیا اغېز لري، څلورم: اقتصادي همکارۍ او سیمه ایزې پروژې لکه د ټاپي او کاسا 1000 هم د بهرني سیاست یوه مهمه برخه تشکیلوي. سربېره پردې ، د سیمهییزو او نړیوالو قدرتونو ترمنځ د توازن ساتل، په سیمه ایزو جوړښتونو کې د ګډون د شرایطو د پوره کولو موضوع، په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو د حقونو درناوی، هغه مسایل دي چې د افغانستان بهرنی سیاست پرې ولاړ دی او د سیمه ایز جوړوښتونو پر وړاندې د افغانستان د بهرني سیاست ټاکوونکو عناصرو کې شمیرل کیږي.

ددې څېړنې موضوع دا ده چې سیمه ایز جوړښتونه د افغانستان د بهرني سیاست مهمې برخې دي او اوسنی حکومت باید پدې برخه کې ګټور سیاست ولري، چې د همدې سیاست تنظیم ته پدې څېړنه کې اشاره شوې او د دې څېړنې موخه دا ده، چې مونږ ته د افغانستان لپاره د سیمه ایزو جوړښتونو

پر وړاندې بهرني سیاست ټاکوونکي عناصر په علمي لحاظ روښانه شي. د مقالې د څېړلو نوعیت بیا کتنه (Review article) ده او نتیجه ګیري داسې کوو چې په سیمه ییزو جوړښتونو کې ګډون او رول یې د هېواد بهرني سیاست اغیزمنتیا او بریا لپاره خورا مهم دي.

**کلیدي کلمې:** اړیکې، افغانستان، بهرني سیاست، سمیه ایز جوړوښتونه، عناصر

**سریزه**

الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله. اما بعد: فعوذ باالله من الشطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم (لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ) (القران الكريم، سوره الممتحنه الاية ۸)

ژباړه: الله تاسو هغو خلکو سره د نېکۍ او عدالت کولو څخه نه منع کوي چې تاسو سره یې په دین کې جګړه نه ده کړې او له خپلو کورونو یې ویستلي نه یاست. یقیناً الله عادل خلک خوښوي.

الله تعالی موږ ته په ټولنیز او سیاسي ژوند کې د انصاف او امانتداري لارښوونه کړې ده. سیاست او حکومتولي هغه برخې دي چې په ټولنه کې د خلکو په چارو کې عدل او انصاف تضمینوي همدې ته په پام سره په اوسنۍ نړۍ کې هر هېواد نړیوالې پاملرنې، مرستو، همکارۍ او دوه اړخیزو اړیکو ته اړتیا لري؛ افغانستان په اقتصادي لحاظ کمزوری هیواد دی، چې د نړیوالو پاملرنې، مرستو، دوه اړخیزو، سیمه ایزو او نړیوالو اړیکو ته لا ډېره اړتیا لري.

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې په نړیوال سیاست کې مهمه ونډه درلودې او اوس یې هم لري. په غزنوي دوره کې یې بلخ، هرات او غزني د اسلامي نړۍ سیال او د تمدن مرکزونه وو. په احمدشاهي دوره کې په ټولیزه توګه د افغانستان د بهرني سیاست محور له «هندي مسلمانانو دفاع» وه، چې د هند پر سیاست یې ژوره اغېزه وکړه او له همدې ځایه یې بیا د انګلیس پر

استعمار هم خپله وېره خپره کړه. د نوولسمې پېړۍ په پیل کې یې د هند د میسور له ټیپو سلطان او د فرانسې له ناپلیون سره یوځای د انګلیسي استعمار پرخلاف ګټور پلانونه طرحه کړل. په همدې پېړۍ کې یې د نړیوال سیاست مهمو پېښو او لوبو (لوی لوبې) ته ځان چمتو کړ.

د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې پرمهال افغانستان داسې پالیسۍ ته مخه کړه، چې وروسته د سړې جګړې په دوران کې "جواهر لعل نهرو" او "چو این لای" د همدغه پالیسۍ پرمټ د ناپییلو هېوادونو غورځنګ جوړ کړ، همدارنګه په سړه جګړه کې یې هم ستر رول ولوباوه، چې نړۍ یې نوره له دغه ډرامې او وېرې وژغورله او دا مهال بیا امریکا په نوي نړیوال نظام کې هم قاطع رول څرګند کړ.

له دغه لنډ تاریخي شالید څخه څرګندیږي، چې افغانستان د تاریخ په اوږدو کې خارجي سیاست درلود او په کوم پړاو کې چې ترې دا واک اخیستل شوی، د دې لپاره یې جګړې (د آزادۍ جګړې) هم کړې دي، په هر پړاو کې یې د خارجي سیاست جلا جلا اصول درلودل؛ خو یو اصل یې (ناپیيلتوب) چې ډېر عام دی او ډېری نړیوالو پېښو کې یې همدا دریځ غوره کړی دی.

افغانستان د آسیا په زړه کې موقعیت لري او له تاریخي پلوه د منځنۍ آسیا، سویلي آسیا، منځني ختیځ او ختیځې آسیا د نښلولو مرکز بلل کیږي. د افغانستان دغه ځانګړي موقعیت ته په کتو سره، سیمه ایز توب او سیمه‌ایز پیوستون د دغه هېواد په بهرني سیاست کې یو له بنسټیزو اړتیاوو څخه شمېرل کیږي. همدارنګه، په سیمه کې افغانستان د سولې او ثبات لپاره د باور جوړونې، اقتصادي همکاریو، سوداګرۍ او ټرانزیټ په ډګر بدلول او د سیمې او نړۍ هېوادونو ته د دې اهمیت او جیو-اکونومیک او جیو پولیټیک ظرفیت ورپېژندلو او شته خنډونو له منځه وړلو په برخه کې د دغه هېواد د سیمه ایزې ډیپلوماسۍ اصلي بنسټ جوړوي.

افغانستان د نړۍ په یوه داسې ستراتېژیکه سیمه کې پروت دی، چې په دې سیمه کې د انرژۍ نوې لوبه روانه ده، د وربښمو د نویو لارو جوړولو بازار پکې تود او د نړۍ د ځواک تله، له لوېدیځ څخه پر دې خوا درنیږي، له بلې خوا دغه هېواد اوسمهال د نړیوالو ځواکونو ترځنګ له خپلو ګاونډیانو سره

هم ښکېل دی. له دغو ټولو سره د مخ کېدو او هر څه د ځان په ګټه تمامولو لپاره قوي خارجي سیاست ته اړتیا ده. داسې خارجي سیاست، چې نه یوازې دا چې د افغانستان اړیکې له نړۍ سره ښې کړي؛ بلکې تر یوه بریده پورې افغانستان د نورو هېوادونو له منفي سیاست او لاسوهنو هم وژغوري او ترڅنګ یې له هېوادونو سره دوه اړخیزې اړیکې اوږدمهالې او دواړو هېوادونو ته ګټورې وي. د افغانستان بهرنی سیاست باید په بېلابېلو برخو کې پیاوړی شي.

د ۲۰۲۱ م کال راهیسې چې اسلامي امارت په افغانستان حاکم شوی دی تر اوسه پورې په رسمي ډول د سیمې او نړۍ د هېوادونو لخوا په رسمیت نه دی پېژندل شوی او دغه کار د اوسني حکومت د بهرني سیاست د بریا لپاره تر ټولو لوی خنډ بلل کیږي ، خو سره له دې د نړۍ او سیمې په کچه یو شمیر هېوادونو سره عملاً سیاسي اړیکې لري او د متقابلو سیاسي تعاملاتو په اساس د خپل بهرني سیاست د بریالیتوب لپاره هڅې کوي، چې د افغانستان اوسني حکومت بهرني سیاست موضوع ډېره پراخه ده او دا په یوه مقاله کې نه رانغاړل کیږي، له همدې امله په دغه مقاله کې د سیمه ایزو جوړښتونو پر وړاندې د افغانستان بهرني سیاست ټاکوونکي عناصر تر بحث او څېړنې لاندې نیول شوي دي.

**د څېړنې ارزښت**

د دغه څېړنې اهمیت د افغانستان د بهرني سیاست په جوړښت کې د متوازنې، همغږې او پرمختللې ستراتیژۍ د جوړولو لپاره اساسي رول لري. افغانستان د دغه موضوع په رڼا کې کولی شي د سیمه ایزو جوړښتونو پر وړاندې خپل موخې او پلانونه مشخص کړي، چې دا د ثبات، امنیت او اقتصادي ودې پر لور د پرمختګ لپاره مهم دي.

**د څېړنې موخې**

په دغه څېړنه کې د افغانستان د بهرني سیاست اړوند د سیمه ایزو جوړښتونو پر وړاندې د بهرني سیاست ټاکوونکو عناصرو ته کتنه شوې، چې مهمې موخې یې لاندې روښانه شوې:

1. **د سیمه ایز سیاست تحلیل**: د افغانستان د بهرني سیاست ټاکوونکو عناصرو تفصیلي تحلیل، ترڅو معلومه شي چې په دغه سیاست کې کوم عوامل مهم رول لري او یاد سیاست ته څه ډول شکل ورکړل شي.
2. **په امنیتي خنډونو پوهه ترلاسه کول**: د هغو امنیتي خنډونو پېژندل چې افغانستان ورسره مخ دی، په ځانګړې توګه د تروریزم او افراطیت له امله او د دې خنډونو په وړاندې د سیمه ایزو همکاریو اړتیا څرګندول.
3. **اقتصادي همکارۍ او پرمختګ ته زمینه برابرول**: د سیمه ایزو جوړښتونو په رڼا کې د اقتصادي همکارۍ او پانګونې فرصتونه مشخصول، ترڅو د افغانستان اقتصادي ودې ته زمینه برابره شي.
4. **د سیمه ایزو اړیکو پراختیا**: د افغانستان د بهرني سیاست په برخه کې د سیمه ایزې همکارۍ د پراختیا لپاره د لارو چارو موندل، یعني له سیمه ایزو سازمانونو سره اړیکې څه ډول قوي کېدای شي.

پورتینو موخو ته په پام سره ویلای شوو، چې د دې څېړنې موخې د افغانستان د بهرني سیاست د مختلفو عناصرو او د دغه سیاست د اغېزمن مدیریت لپاره اړینې او ستراتیژیکې دي. د یادو موخو له پېژندنې وروسته پوهیږو، چې د افغانستان حاکم نظام مسؤلین د سیمه ایزو جوړښتونو پر وړاندې یو اغېزمن او متوازن بهرنی سیاست غوره کړي.

## د څېړنې مسئله

د دې څېړنې مسئله په لاندې ډول روښانه کیږي:

د افغانستان د بهرني سیاست ټاکونکي عناصر د سیمه ایزو جوړښتونو پر وړاندې د ځینو مهمو مسایلو په ګډون د امنیتي همکارۍ، اقتصادي اړیکو او د سیمه ایزو سیاسي ډګرونو د ثبات پر اساس پېژندل کیږي. افغانستان هڅه کوي چې د ګاونډیو هیوادونو سره د متقابلو ګټو په رڼا کې اړیکو ته پراختیا ورکړي، په داسې حال کې چې د تاریخ او کلتور له پلوه هم ژورې اړیکې لري. د ګاونډیو هېوادونو لکه پاکستان، ایران او چین نفوذ هم د افغانستان په بهرني سیاست کې مهمه ونډه لري. د دې مسایلو څېړنه د افغانستان د ثبات او پراختیا لپاره مهمه ده. په دې توګه د افغانستان د بهرني سیاست په تشکیل کې سیمه ایزو جوړښتونه او د هغوی پر وړاندې موجود سیاستونه د یوې مهمې څېړنیزې موضوع په توګه مطرح کیږي، چې دا په خپل ذات کې د

څېړنې لپاره خلا پیدا کوي نو پدې څېړنه کې یادو موضوعاتو د اساسي حل په موخه پوره پاملرنه شوې ده.

**دڅېړنې پوښتنې**

1. د افغانستان لپار کوم سیمه ایز جوړښتونه شتون لري او په یادو جوړښتونو کې د ګډون پر وړاندې کوم خنډونه پراته دي؟
2. د سیمه ایزو جوړووښتونو پر وړاندې د افغانستان د بهرني سیاست ټاکونکي عناصر کوم دي؟

**د څېړنې فرضیه**

د افغانستان د بهرني سیاست اغېزمنتیا له سیمه ایزو جوړښتونو سره د همکارۍ پراختیا، د امنیتي ستونزو اغېزمن مدیریت او د اقتصادي همکارۍ د فرصتونو ترلاسه کولو سره مستقیم تړاو لري؛ په دې توګه، د افغانستان د بهرني سیاست اغېزمنتوب به د دې همکارۍ د پیاوړتیا په ترڅ کې د ملي ګټو د تامین او د سولې او ثبات د ټینګښت لامل شي.

دا فرضیه د څېړنې لپاره یوه قوي بنسټ وړاندې کوي، چې د افغانستان د بهرني سیاست د پرمختګ لپاره د سیمه ایزو همکاریو پر وړاندې بهرني سیاست ټاکوونکو عناصرو او د ملي ګټو پر بنسټ د اغېزمنو لارو چارو موندلو په برخه کې مرسته وکړي.

**د څېړنې میتود**

دا مقاله د کیفي میتود په رڼا کې د موجوده لیکنو، څېړنو، مقالو او راپوروونو بیاکتنې(Review) او مطالعې په اساس لیکل شوې او همدې تګلارې په مرسته لومړۍ سیمه ایزو جوړښتونه مطالعه او بیا د هغوي د موخو، مسؤلیتونو او فعالیتونو په رڼا کې د افغانستان د بهرني سیاست ټاکوونکي عناصر په پراخه او جامع توګه تحلیل او څېړل شوې دي.

**د افغانستان لپاره سیمه ایزو جوړښتونو او د بهرني سیاست ټاکوونکي عناصر**

د افغانستان اسلامي امارت له واک ته رسیدو وروسته کوښښ کړی، چې د خپل اقتصاد محوره او متوازن سیاست پر مټ د سیمې او نړۍ له هیوادونو سره نږدې اړیکې جوړې کړي. له هغو هېوادونو پرته چې په افغانستان کې

مستقیماً له افغان ملت سره په جګړې ښکېل و، د افغانستان اسلامي امارت توانېدلی چې د سیمې او نړۍ له نورو هیوادونو سره نږدې او مثبتې اړیکې جوړې کړي. په دې لړ کې د بهرنیو چارو وزرات مشرتابه مناسبه وګڼله چې په کابل کې د سیمې د هیوادونو د ځانګړو استازو په سطحه یوه سیمه ایزه غونډه راوبولي، ترڅو د ګډو مسایلو په هکله د لا زیاتې سیمه ایزې همکارۍ لپاره باور جوړونه وکړي.

د دې لپاره چې د افغانستان د سیمه ایزو جوړښتونو څرنګوالی واضح شي او هم څرګنده شي چې په دوی د افغانستان د بهرني سیاست ټاکوونکي عناصر کوم دي، نو په دوو مباحثو چې لومړی د افغانستان لپاره سیمه ایز جوړښتونه او دویم یې په سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان بهرني سیاست ټاکوونکي عناصر روښانه کوو:

**لومړی مبحث: د افغانستان لپاره سیمه ایز جوړښتونه**

افغانستان په تیره یوه نیمه لسیزه کې د سیمه ایزې همپالنې لپاره ډېرې هڅې کړي، چې د هغې په پایله کې افغانستان د سیمه ایزو سازمانونو او پلاټفورمونو (اقتصادي همکاریو سازمان (ایکو)، د سویلي آسیا سیمه ایزو همکاریو سازمان (سارک)، شانګهای همکاري سازمان، په آسیا کې د متقابل عمل او باور جوړنې اقداماتو کنفرانس (سیکا)، د منځنۍ آسیا اقتصاد لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی پروګرام (سپیکا)، د آسیا پېسفیک هیوادونو لپاره د کلیو پراختیا او ادغام مرکز (سردپ)، کولمبو پلان، د منځنۍ آسیا لپاره سیمه ایزه اقتصادي همکاري (کاریک) او د آسیا همکارۍ ډیالوګ)غړیتوب ترلاسه کړی او د ځینو پروسو لکه د آسیا زړه، استانبول پروسه او د افغانستان په اړه د سیمه ایزو اقتصادي همکاریو کنفرانس (ریکا) د رامنځته کولو، نوبت یې وکړ. ځکه په نننۍ نړۍ کې چې د یو کلي حیثیت لري، هیڅ هېواد خپل مشکلات په یوائې ځان نشي حل کولای، نو مجبور دی چې سیمه ایزو تعاملاتو ته مخه کړي (https: //mfa.gov.af/page/10273).

افغانستان هوساینې ته د رسېدو او د اقتصادي سرچینو د تأمین او سیمه ایزو همکاریو د ټینګښت او غوړېدا لپاره په داخلي او بهرنۍ کچه د یادو کارونو او فعالیتونو د همغږي کولو لپاره د بهرنیو چارو وزارت په آډانه کې په ۱۳۹۱ کال کې د سیمهایزو همکاریو ریاست تاسیس کړ. په دې

توګه د سیمه‌ییزو همکاریو ریاست د عمده موخو څخه د سیمه‌ایزو همکاریو د پراخې کړنلارې د تدوین په اړه یې طرحې او نظریاتو وړاندې کول، د افغانستان دیپلوماسی دستګاه په چوکاټ کې د سیمه‌ایزو همکاریو اړوند پالیسو اجراء او همغږي کول شمېرل کیږي. دغه ریاست د داخلي او بهرنیو بنسټونو سره په پوهاوي او همغږۍ سره د سیمه‌ایزو همکاریو د پرمختګ او ټینګښت لپاره فعالیت کوي (https: //mfa.gov.af/page/10273).

دا چې د افغانستان په بهرني سیاست کې سیمه ایز جوړښتونه په بېلابېلو وختونو کې رامنځته شوي، نو د دې لپاره چې دا جوړښتونه په سمه توګه روښانه شي، هر یو یې په جلا جلا توګه تر مطالعې لاندې نیسو:

**لومړی مطلب: د اقتصادي همکاریو سازمان (ECO)**

د اقتصادي همکاریو سازمان (ایکو) یو سیمه‌ایز اقتصادي سازمان دی. درې هېوادونه ایران، پاکستان او ترکیه په ۱۳۴۱ هـ کال (۱۹۶۲ م) کې دا سازمان د «RCD» یا «سازمان همکاری پیشرفت منطقه‌ای» په نوم تاسیس کړ.

دا سازمان په لومړیو کې د «RCD» یا د سیمه ایزو همکاریو د پرمختګ یې نوم و او وروسته له ۵۷ کلني انقلاب څخه د سازمان فعالیتونه ودرېد، خو په ۱۳۶۴ کال کې د «ایکو» په نوم بېرته فعالیت پیل کړ.

د شوروي له سقوط وروسته په ۱۳۷۲ کال کې افغانستان، آذربایجان، قزاقستان، ترکمنستان، قرقیزستان، ازبکستان او تاجیکستان هم په دغه سازمان کې شامل شوي دي. اوس مهال اکو د ۱۰ غړو هېوادونو سره، شاوخوا ۴۸۰ میلیون نفوس او ۸٬۶۲۰٬۶۹۷ کیلومتر مربع مساحت ساحه لري او د نفتو، ګازو او صنعت امکانات لري.

د دغه سازمان اساسنامه ښیئ چې ایکو د غړیو هېوادونو اقتصادي پرمختګ ته وده ورکوي او د دې سیمې تجارتي خنډونه له منځه وړي. د ایکو نور اهداف د انساني منابعو ګډ پرمختګ لپاره برنامې ترتیبول، د ترانسپورت او ارتباطاتو پرمختګ چټکول دي. د ایکو رسمي ژبه انګلیسي ده او مرکزي دفتر یې د ایران په تهران ښار کې دی (امیدي ، ۱۳۸۸. ص ۱۲۵)

**موخې**

- د دوامداره اقتصادي پرمختګ او د خلکو د ژوند ښه کولو شرایطو ته وده ورکول.
- د سیمه‌ایز او نړیوال تجارت پراختیا او سوداګریزو خنډونو له منځه وړل.
- د سیمې او نړیوال تجارت ادغام په موخه هڅې کول.
- ترانسپورت او ارتباطاتي زیربناوو ته پرمختګ ورکول.
- د خصوصي سکتور او آزاد اقتصاد ترویجول.
- د ایکو اړوند سیمو د زراعت او صنعت پوتنشل په اغېزمنه توګه کارول.
- د مخدر موادو کنترول، چاپیریال ساتنه او د تاریخي او فرهنګي اړیکو پیاوړتیا.
- د سیمه‌ایزو او نړیوالو سازمانونو سره ګټورې همکارۍ.
- د اقتصادي همکارۍ، تعلیمي، علمي، تخنیکي او فرهنګي مبادلاتو تحقق.
- د ایکو سازمان موافقه‌نامو او د نورو سیمه ییزو او نړیوالو سازمانونو سره د همکارۍ د اړیکو اغېزمن کارول.
- د اقتصادي پروګرامونو، ملي پرمختګ او اکو اهدافو ترمنځ پیوستون.
- د ایکو له سیمې بهر بازارونو ته د آزاد لاسرسي لپاره ګډې هڅې (موسی زاده، ۱۳۸۸، ص. ۳۲۷).

**دویم مطلب: د سارک سازمان SAARC ( South Asian Association for Regional Cooperation)**

سیمه‌ایزو همکاریو ته تمایل یوه نړیواله پدیده ده، چې آسیا هم له دې بهیر څخه مستثنی نه ده (امیدي. ۱۳۸۸. ص۱۴). همدې ته په پام سره د سارک (د سویلي آسیا د سیمه ایزو همکارۍ ټولنه) د نړیوال تجارت یوه اصطلاح او د سیاست او اقتصاد په برخو کې له مهمو سیمه ایزو سازمانونو څخه دی، چې شاوخوا یو نیم میلیارد نفوس په کې شامل دی او یوه پراخه جغرافیایي سیمه یې تر پوښښ لاندې راوستې ده، د نړۍ ۴۰ سلنه غریب خلک په سارک کې شاملو هېوادونو کې ژوند کوي. (موسی زاده، ۱۳۸۸. ص ۳۲۷).

سارک په اتم دسمبر ۱۹۸۵ کې د بنګله دیش د ولسمشر ضیاء نور رحمان له خوا مطرح شو او په رسمي توګه یې د موجودیت اعلان وکړ، دا سازمان د نړیوالو مؤسساتو او مرستنه کوونکو نهادونو سره پراخه همکاري لري. همدارنګه امریکا، جاپان، چین او جنوبي کوریا د له ۲۰۰۵ م کال راهیسې، اروپا اتحادیه له ۲۰۰۶ م کال راهیسې او د ایران اسلامي جمهوریت له ۲۰۰۸ کال راهیسې د ناظر غړو په توګه په کې ګډون لري (رحیمي، ۱۳۸۵. ص ۲۸۱).

په سارک کې د افغانستان غړیتوب په ۲۰۰۵ م کال کې د هند له خوا وړاندیز شو، چې بالاخره په ۲۰۰۷ کال کې د سارک بشپړ غړی شو (ابراهیمي، ۱۳۸۷. ۳۰۵).

د ۱۹۸۳ م کال د اګست په میاشت کې د بنګله‌دیش، سریلانکا، هند، پاکستان، نیپال، مالدیو او بوتان مشران په نوي ډهلي کې د یوې غونډې پر مهال د سویلي آسیا د سیمه ایزې همکارۍ ټولنې (سارک) د تاسیس اعلامیه ومنله او دوی موافقه وکړه چې په لاندې پنځو برخو کې به همکاري وکړي:

- زراعت او کلیوالي پرمختګ
- اړیکې، علم، ټیکنالوژي او هوا پېژندنه
- روغتیایي او ټولنیز فعالیتونه
- ترانسپورت
- د بشري ځواک د کچې لوړول (موسی زاده، ۱۳۸۸. ص ۳۲۸).

**موخې**

د سارک سازمان جوړېدو فلسفه په اصل کې اقتصادي بنسټ لري او سیاسي اهداف یې په دویم ځای کې قرار لري. د سارک بنسټ ایښودونکو تر ټولو مهمې موخي د نوموړي سازمان د اساسنامې له مخې په لاندې ډول ذکر کوو:

- د سویلي آسیا د خلکو د ټولنیزو اړتیاوو پوره کول او د ژوند کیفیت لوړول
- اقتصادي ودې چټکول او د ټولې سیمې پوتانشیل کارول ترڅو د ټولنیزو پروګرامونو او د زراعت پرمختګ ته وده ورکړي او د ټولو خلکو لپاره مناسب ژوند رامنځته شي.

- د سویلي آسیا په هېوادونو کې د غړو ترمنځ همکارۍ پیاوړي کول
- د ځو اړخیزو توافقاتو ځوکمنول او یو بل د ستونزو او مشکلاتو درک
- په اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، علمي او تخنیکي برخو کې اغېزمنې همکارۍ او ګډې هڅې
- له پرمختللیو هېوادونو سره د همکارۍ اړیکو ته وده ورکول
- د غړو هېوادونو ترمنځ د نړیوالو مسایلو په اړه همکاري
- لــه نړیوالــو او ســیمه‌ایزو ســازمانونو ســره همکــاري چــې ورتــه موخې لري (امیدي، ۱۳۸۸. ص ۱۲۵).

**درېیم مطلب: شانګهای د همکاریو سازمان Shanghai Cooperation Organization (SCO)**

د ۱۹۹۶ کال د اپریل په ۲۶ نېټه د چین په شانګهای ښار کې پنځه هېوادونه: د روسیې فدراتیف جمهوریت، د چین د خلکو جمهوریت، د قزاقستان جمهوریت، د قرغیزستان جمهوریت او د تاجیکستان جمهوریت د یو بل پر وړاندې د باور د پیاوړتیا او په سرحدونو کې د وسلو د کمولو په موخه "شانګهای" په نوم یوه تشکیل تاسیس کړ. البته له دې مخکې د شوروي اتحاد د وخت ولسمشر ګورباچف په ۱۹۸۹ کال کې چین ته په سفر کې د سرحدي اختلافاتو د حل لپاره لوړې کچې خبرې اترې پیل کړې وې، مګر د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته هر هېواد دا خبرې اترې په انفرادي ډول تعقیب کړې. د قزاقستان، چین، قرغیزستان، روسیې او تاجیکستان د مشرانو لخوا دوه هوکړه لیکونه په ترتیب سره په ۱۹۹۶ کال کې په شانګهای او په ۱۹۹۷ کال کې په مسکو کې د سرحدي سیمو کې د اعتماد جوړولو په اړه او د آلماتا (۱۹۹۸)، بیشکک (۱۹۹۹) او دوشنبې (۲۰۰۰) په غونډو کې د لاسلیک شویو اسنادو لنډیز د یادو هېوادونو ترمنځ د تعاملاتو او دیپلوماتیکو او سیمه ایزو همکاریو د پیاوړتیا او پراختیا لپاره جدي چمتووالی برابر کړ. په پای کې د ۲۰۰۱ کال د جون په ۱۵ نېټه د شانګهای په ښار کې د مشرانو په پنځمه غونډه کې د شانګهای غړو هېوادونو د ازبکستان جمهوریت هم د غړیتوب لپاره ومانه او د یوې اعلامیې په لاسلیک سره یې د شانګهای د همکاریو سازمان تشکیل اعلان کړ. یو کال وروسته، په ۲۰۰۲ کال کې د شانګهای د غړیو هېوادونو د مشرانو په غونډه کې په پیترزبورګ کې د سازماني جوړښت په اړه توافق وشو او سند یې لاسلیک شو؛ په دغه سند کې

د حقوقي، سیاسي، اصولو او سازمان اهدافو اړوند موضوعات مشخص شول. د شانګهای د همکاریو سازمان (SCO) د ۳۰ میلیونه او ۱۸۹ زره متر مربع ساحې سره، د آسیا د ساحې درې پر پنځمې برخه او شاوخوا یو نیم میلیارد نفوس لري، چې د ځمکې د ټول نفوس شاوخوا یو پر څلورمه برخه جوړوي (انوري، ۱۳۸۸. ص ۹-۱۰).

اقتصادي او تجارتي همکارۍ د امنیتي او سیاسي موضوعاتو د حل وروسته په دویم ګام کې په پام کې نیول شوي. چې د غړیو هېوادونو مشرانو د یاد سازمان له تاسیس وروسته په لومړۍ لیدنه کې چې په ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر په ۱۴ نېټه په آلماتا کې ترسره شو، د دې هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سیمه ایزې همکارۍ د اهدافو او اصلي محورونو په اړه یوه یاداشت لاسلیک کړ (لوکین، ۱۳۸۴. ص ۲۸).

روسي او چینایي د دغه سازمان رسمي ژبې دي. د شپږو اصلي هېوادونو (چین، روسیې، قزاقستان، قرغزستان، تاجیکستان او ازبکستان) سربېره (انوري، ۱۳۸۸. ص ۹-۱۰) څلور نور هیوادونه لکه هند، ایران، مغولستان او پاکستان د ناظر په توګه عضویت لري، افغانستان د ۲۰۱۲ م کال څخه د څارونکي په توګه منل شوی دی، د (Association of Southeast Asian Nations) یاد سویل ختیځې آسیا اتحادیه او د (Commonwealth of Independent States) CIS مستقلو هیوادونو استازي د شانګهای د همکارۍ په غونډو کې د مېلمه په توګه ګډون کوي (لوکین، ۱۳۸۴. ص ۲۸).

**د همکارۍ برخې:** د شانګهای سازمان همکاري په درې برخو کې (۱- سیاسي او امنیتي۲- اقتصادي ۳- ټولنیزو) ارزول کېدای شي.

**لومړۍ برخه : په سیاسي او امنیتي برخو کې همکارۍ**

۱- په بهرنیو سیاستونو کې مشترک دریځونه نیول او په سیمه ایزو او نړیوالو مسایلو کې ګډ سیاستونه غوره کول
۲- د ترهګرۍ، افراطیت او ځان غوښتنې سره د مبارزې لپاره ګډ اقدام
۳- د مخدره توکو قاچاق، د وسلو قاچاق او غیرقانوني مهاجرت سره د مبارزې لپاره همکارۍ
۴- د وسلو د کنټرول او بې وسلې کولو په برخه کې همکارۍ.

**دویمه برخه : په اقتصادي، کاري او سوداګرۍ برخو کې همکارۍ**
۱- د اقتصادي او سیمه ایزو همکاریو پیاوړتیا او پراختیا.
۲- د سوداګرۍ، پانګونې پراختیا او په غړیو هېوادونو کې د آزادې پانګې اچونې، توکو او خدماتو د جریان لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کول؛
۳- د سړکونو او ترانسپورت د پراختیا پر وړاندې خنډونو لرې کول
۴- په مختلفو برخو کې د معلوماتو تبادله
۵- د انرژۍ او ټرانزیټ په برخو کې همکارۍ
۶- په سیمه کې د اوبو سرچینو مدیریت.

**درېیمه برخه: په ټولنیزو برخو کې همکارۍ:** د ښوونې، سپورټ، روغتیا، سیاحت پراختیا او کلتوري تبادلو په برخه کې همکارۍ.

**موخې**
۱) د غړیو هېوادونو ترمنځ د څو اړخیزو همکاریو د تثبیت لپاره د متقابل باور، دوستۍ او ښه ګاونډیتوب پیاوړتیا
۲) له ترهګرۍ، ځان غوښتنې او افراطیت سره د هر ډول مبارزې په برخه کې ګډه همکاري
۳) په مختلفو سیاسي، تجارتي، اقتصادي، دفاعي، چاپېریالي، کلتوري، علمي، ټیکنالوژۍ، ښوونې، انرژۍ، ترانسپورت او نورو برخو کې د سیمه ایزو همکاریو هڅونه
۴) د غړیو هېوادونو د ژوند شرایطو د لوړولو لپاره د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري متوازن او ټولنې پرمختګ لپاره ګډ اقدام او ګډون
۵) د نړیوال اقتصاد په برخه کې د تعامل د لارو چارو همغږي
۶) له نورو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو سره د همکاریو پیاوړتیا
۷) د نړیوالو شخړو د مخنیوی او د هغو مسایلو حل او فصل کې همکارۍ چې نړۍ به په ۲۱م پېړۍ کې ورسره مخ وي(زاهدي، ۱۳۸۵. ص۵۸-۵۹).

**څلورم مطلب: د آسیا د تعامل او اعتماد جوړونې کنفرانس- سیکا (CICA)**
د آسیا د تعامل او اعتماد جوړونې کنفرانس (په انګلیسي: Conference on Interaction and Confidence-Building Measures in Asia) چې په لنډ ډول یې سیکا (CICA) بولي، یو داسې سازمان دی، چې په اوسني وخت کې ۲۷

اساسي غړي او ۸ هیوادونه او ۵ سازمانونه د څارونکو په توګه لري. د آسیا د تعامل او اعتماد جوړونې کنفرانس لومړی ځل د ۱۹۹۲ کال د اکتوبر په پنځمه نېټه، د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د ۴۷مې غونډې په جریان کې، د هغه وخت د قزاقستان ولسمشر نور سلطان نظربایف لخوا وړاندیز شو. د دغه کنفرانس د فعالیت موضوع په آسیا کې د تعامل، عملي اقداماتو او میتودونو له لارې د باور جوړونې لاس ته راوړل دي.

د سیکا دوه اساسي سندونه د دغه کنفرانس اهداف او میتودونه معرفي کوي. لومړی سند د CICA د غړیو هیوادونو ترمنځ د همکاریو اصولو اعلان دی، چې د ۱۹۹۹ کال د سپټمبر په ۱۴مه نېټه د قزاقستان په الماتا ښار کې د غړیو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په لومړۍ غونډه کې لاسلیک شو. دوهم سند د CICA منشور دی، چې د ۲۰۰۲ کال د جون په څلورمه نېټه په الماتا کې د دې کنفرانس د غړیو هیوادونو د مشرانو په لومړۍ غونډه کې نهایي شو. دغه دوو سندونو د سیکا د راتلونکي پرمختګ لار وټاکله.

د دې سازمان غړي په درې ډلو ویشل شوي: ثابت غړي، څارونکي غړي او د څارونکي سازمانونه. په اوسني وخت کې ۲۷ ثابت غړي لري او ۸ هیوادونه او ۵ سازمانونه په کې د څارونکو په توګه شامل دي، ثابت غړي هیوادونه یې عبارت دي له: افغانستان، اذربایجان، بحرین، بنګله‌دېش، کمبودیا، چین، مصر، هند، ایران، عراق، اسرائیل، اردن، قزاقستان، قرغزستان، منګولیا، پاکستان، فلسطین، قطر، جنوبي کوریا، روسیه، سریلانکا، تاجکستان، تایلینډ، ترکیه، متحده عرب امارات، ازبکستان او ویتنام.

**هغه هېوادونه چې د څارونکو په ډله کې شامل دي :** اندونیزیا، یوکراین، متحده ایالات، بلاروس، جاپان، فیلیپین، لاوس او مالیزیا.

**هغه سازمانونه چې د څاروونکو په ډله کې شامل دي:** ملګري ملتونه، د اروپا د امنیت او همکاریو سازمان، د کډوالو نړیوال سازمان، د عربو اتحادیه او د ترکي ژبو هیوادونو پارلماني مجمع Conference on Interaction and Confidence-Building Measures in Asia,. n.d.).

**پنځم مطلب: د منځنۍ آسیا د اقتصاد لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی پروګرام (سپیکا)(SPECA)**

د منځنۍ آسیا د اقتصاد لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی پروګرام (SPECA) United Nations Special Programme for the Economies of Central Asia د ۱۹۹۸ م کال د مارچ په ۲۶مه نېټه د تاشکنت د اعلامیې پر اساس رامنځته شو. دغه سازمان د دې لپاره پیل شو، چې په منځنۍ آسیا کې سیمه‌ایزه همکاري پیاوړې کړي او دغه هېوادونه له نړیوال اقتصاد سره یو ځای کړي. د SPECA غړي هېوادونه عبارت دي له: اذربایجان، افغانستان، قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان څخه. د ملګرو ملتونو د اروپا د اقتصادي کمیسیون (UNECE) او د آسیا او ارام سمندر لپاره د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیز کمیسیون (ESCAP) په ګډه توګه د دغه پروګرام د فعالیتونو لپاره عمومي ملاتړ برابروي (United Nations Economic Commission for Europe, n.d)

**موخې**

۱. د دې پروګرام موخې د SPECA په سیمه کې اقتصادي همکاري اسانه کول دي، چې له نړیوال اقتصاد سره یې د ګډون کوونکو هیوادونو یوځای کېدل اسانه کړي او د دوامداره پرمختیایي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره د سرحدونو ترمنځ همکارۍ لپاره یوه پلېټ فارم برابروي.

۲. SPECA: د ملګرو ملتونو یو بې پلوه پلېټ فارم دی، چې د ګډون کوونکو هیوادونو ترمنځ د سیمه‌ایزو اقتصادي همکاریو او د ۲۰۳۰ م کال د اجنډا د ترلاسه کولو لپاره نړیوال اقتصاد ته د دوی یوځای کېدو په اړه ستراتېژیکو موضوعاتو بحث کوي؛

- ✓ اړوندې وړتیا لوړولو لپاره د فعالیتونو ملاتړ او همغږي کوي؛
- د اړوندو نړیوالو قانوني اسنادو، معیارونو، لارښونو او وړاندیزونو سره سمون ته هڅونه کوي.
- د ګډون کوونکو هیوادونو ترمنځ د غوره ملي تجربو تبادلې ته هڅونه کوي(United Nations Economic Commission for Europe, 2023).

**شپږم مطلب: د آسیا پیسفیک هیوادونو لپاره د کلیو پراختیا او ادغام مرکز سردپ-(CIRDAP)**

د آسیا او ارام سمندر لپاره د کلیوالي پراختیا د یوځای کولو مرکز Centre on Integrated Rural Development for Asia and the Pacific (CIRDAP) چې په بنګله‌دېش کې مېشت بین الحکومتي سازمان دی، د کلیوالي پراختیا او د فقر له منځه وړلو په چارو کې بوخت دی. دا مرکز د ۱۹۷۹ کال د جولای په ۶مه نېټه د آسیا-ارام سمندر سیمې هېوادونو او د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان (FAO) په نوښت او د ملګرو ملتونو یو شمېر نورو ادارو او مرستندویو کوونکو په ملاتړ سره جوړ شو. په پیل کې یې شپږ غړي هیوادونه لرل، خو اوس یې غړیتوب پنځلسو هیوادونو ته رسېدلی دی. افغانستان، بنګله‌دېش (کوربه هیواد)، هند، اندونیزیا، ایران، لاوس، مالیزیا، میانمار، نیپال، پاکستان، فیلیپین، سریلانکا، تایلند، ویتنام، فیجي جمهوریت یې اوسمهال غړیتوب لري (Activists call to revise Saarc convention on trafficking, 2015).

د دغه ادارې مرکز په چمري هاوس کې دی، چې د برتانوي راج د وخت مانۍ ده او د بنګله‌دېش د سترې محکمې مخې ته په ډاکه کې موقعیت لري، اوسنی عمومي رئیس د تایلینډ ډاکټر چیرډساک ویراپات دی(Nasiko, 2015).

**موخې**

- د کلیوالي پراختیا (IRD) په برخه کې په ملي توګه اقدام کول او د سیمې په کچه د همکارۍ پراخول.
- د خپلو غړیو هېوادونو لپاره د خدمتي ادارې په توګه اقدام کول.
- د غړیو هېوادونو لپاره د ګډو فعالیتونو هڅونه چې دواړه انفرادي او ټولیزې ګټې ولري.
- د پرمختیایي بهیر له لارې د خلکو په ګډون سره د فقر له منځه وړل (Centre on Integrated Rural Development for Asia and the Pacific, n.d).

**اووم مطلب: کولمبو پلان (CP) Colombo Plan**

کولمبو پلان په ۱۹۵۱ کال کې د اوو غړیو هېوادونو له خوا تاسیس شو، چې استرالیا، کاناډا، سریلانکا، هند، نیوزیلینډ، پاکستان او بریتانیا پکې شامل وو. د کولمبو پلان هدف دا و چې د اسیا-پېسفیک په سیمه کې اقتصادي او پرمختیایي فرصتونه پیاوړي او بیا ورغوي.

د کولمبو پلان له مخې پرمختللیو هېوادونو له پرمختیایي هېوادونو سره مرسته کوله، چې په دې فکر کې فزیکي پانګه او ټکنالوژیکي انتقالات شامل وو او د مهارتونو پراختیا یو لویه برخه وه. پداسې حال کې چې په غړیو هېوادونو کې د هوایي ډګرونو، سړکونو، ریل پټلۍ، بندونو، روغتونونو، د سرې فابریکو، سیمنټو فابریکو، پوهنتونونو او فولادو فابریکو په څېر زیربناوې جوړېدې، پراخ روزنیز پروګرامونه پیل شول، ترڅو د ځایي خلکو مهارتونه وده وکړي، پانګې په اغېزمن ډول اداره او اقتصادي پرمختګ ته زمینه برابره شي. د بشري پانګې پراختیا او د همکارۍ د مفکورې پر بنسټ د کولمبو پلان پروګرامونه د وخت په تېریدو سره د غړیو هېوادونو اړتیاوو سره سم بدلون مومي، ترڅو د ژر بدلېدونکي نړیوال اقتصادي چاپېریال غوښتنې پوره کړي.

غړي هېوادونه یې عبارت دي له: افغانستان، استرالیا، بنګلادش، بوتان، بروناي، فیجی، هند، اندونیزیا، ایران، جاپان، لاوس، مالېزیا، مالدیو، منګولیا، میانمار، نیپال، نیوزیلند، پاکستان، پاپوا نیو ګیانا، فیلیپین، سعودي

عربستان، سنګاپور، سویلي کوریا، سریلنکا، تایلینډ، د امریکا متحده ایالات، ویتنام، پخوانۍ کمبودیا، کاناډا، سویلي ویتنام او بریتانیا وو.

**موخې**

- د آسیا او اقیانوس په سیمه کې د اقتصادي پاملرنې او ټولنیز پرمختګ زیاتول.
- د غړیو هیوادونو ترمنځ د تخنیکي همکاریو او ټیکنالوژۍ لېږد زیاتول.
- د غړیو دولتونو ترمنځ د اقتصادي پرمختګ چټکوالي په موخه د تخنیکي همکاریو په اړه معلوماتو ته کتنه کول.
- د غړیو هېوادونو ترمنځ د پرمختګ په برخه کې د تجربو لېږد او تبادله اسانه کول، د سوېل-سویلي همکارۍ پر مفهوم له ټینګار سره ( Colombo Plan, n.d).

**اتم مطلب: د منځنۍ آسیا لپاره سیمه ایزه اقتصادي همکاري کاریک- (CAREC)**

د مرکزي آسیا سیمهایزه اقتصادي همکاري Central Asia Regional Economic Cooperation (CAREC)د ۱۱ هېوادونو او پرمختیایي شریکانو ګډه هڅه ده، چې د همکارۍ له لارې د پرمختګ هڅونه کوي، ترڅو له دې لارې اقتصادي وده چټکه او د فقر کچه راټیټه شي. دغه پروګرام د "ښه ګاونډیان، ښه شریکان او ښه لیډ" تر عنوان لاندې پرمخ ځي.

دغه پروګرام د سیمه ایزو عملي او په پایلو ولاړو پروژو او پالیسۍ اقداماتو لپاره آسانتیاوې رامنځته کوي، چې د دوامداره اقتصادي ودې او ګډې سوکالۍ لپاره مهمې دي. د ۲۰۰۱ کال د پیل راهیسې تر دسمبر ۲۰۲۳ پورې، CAREC د ۵۱.۰۲ میلیارده ډالرو په ارزښت پانګونې راجلب کړې دي، چې د څو اړخیزو ټرانسپورټي شبکو په جوړولو، د انرژۍ، سوداګرۍ او امنیت ښه والي، د خلکو او توکو د آزاد تګ راتګ په اسانولو او د اقتصادي دهلیزونو د جوړولو لپاره یې بنسټ ایښی دی.

(CAREC 2030) د دغه پروګرام لپاره تر ۲۰۳۰ کال پورې نوی اوږدمهاله ستراتېژیک چوکاټ برابر کړی. دا ستراتیژي د دې لپاره ده، چې خلک، پالیسۍ او پروژې سره ونښلوي، تر څو ګډ او دوامدار پرمختګ ته زمینه برابره شي او په سیمه کې د اقتصادي او ټولنیزې همکارۍ لپاره د غوره

پلیټ فارم په توګه خدمت وکړي، همدارنګه افغانستان، اذربایجان، چین، ګرجستان، قزاقستان، قرغزستان، مغولستان، پاکستان، ترکمنستان او ازبکستان یې غړي هېوادونه دي (CAREC Program, n.d).

**نهم مطلب: د آسیا همکارۍ ډیالوګ Asia Cooperation Dialogue (ACD)**

د آسیا د همکارۍ ډیالوګ (ACD) The Asia Cooperation Dialogue (ACD) د ۲۰۰۲ کال په جون کې د تایلېنډ په چا-آم، کې پیل شو، چېرې چې د ۱۸ آسیایي هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو د لومړي ځل لپاره غونډه وکړه. ACD د ټولې آسیا لپاره یو پراخ فورم دی او د خپل ډول لومړی ناسته ده. د دې فورم موخه داده چې په آسیا کې د ټولو هېوادونو په ګډون یوه آسیایي ټولنه جوړه کړي، پرته له دې چې نورو سازمانونو څخه نقل وکړي یا د بل چا پر وړاندې کوم بلاک رامنځته کړي. د دې فورم یو مهم اصل دا دی، چې آسیایي قوتونه سره یوځای او د آسیا د سیالۍ وړتیاوې پیاوړې کړي، د آسیا په بېلابېلو او بډایه سرچینو باندې تینګار وکړي. د ACD اصلي ارزښتونه مثبت فکر، غیر رسمي چارې، رضاکاري، غیر سازماني تشکیل، خلاصون، د تنوع درناوی، د غړیو هېوادونو د رضایت کچه او د ACD د بهیر پرمختګ دی.

ACD له پیل راهیسې په دوو برخو کې چټک پرمختګ کړی دی:

**لومړی: په ډیالوګ کې:** د ACD وزیران هر کال په وزیرانو غونډو کې سره راټولیږي، ترڅو د دغه سازمان پرمختګ، د سیمه ایزې همکارۍ مسایل او د آسیا د یووالي د پیاوړتیا لپاره لارې چارې وڅیړي. د بهرنیو چارو وزیران په همدې ترخ کې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلۍ په څنډو کې هم سره ویني، ترڅو د ACD د پروژې همکارۍ په اړه یو بل ته تازه معلومات ورکړي، په نړیوالو ستونزو خبرې وکړي او په نړیوال ډګر کې د "آسیا غږ" پیاوړی کړي.

**دویم: په پروژو کې:** اوس مهال ګڼ شمېر هېوادونو په شلو مهمو برخو کې د لومړنیو هڅوونکو په توګه خپل وړاندیزونه وړاندې کړي، لکه انرژي، کرنه، بایو ټکنالوژي، سیاحت، د فقر کمول، د معلوماتي ټکنالوژۍ پرمختګ، بریښنایي زده‌کړې او مالي همکاري.

ټايلينډ په ۲۰۰۴ م کال کې د ACD د لومړۍ غونډې کوربه توب وکړ او د ACD فکري ټانک شبکه يې جوړه کړه، چې علمي بنسټونه، پرمختيايي شبکې او څېړنيزې ډلې پکې شاملې دي، ترڅو د ACD د علمي څانګې په توګه خدمت وکړي. موخه يې داده چې ژورې څېړنې وشي، د ACD د پرمختګ ملاتړ او د لومړنيو هڅوونکو پروژو لپاره اسانتيا برابره کړي.

ټايلينډ د ACD پيل وکړ او موخه يې دا وه، چې د آسيا ځواکونه سره يوځای کړي او له نورو سيمو سره د آسيا د سيالۍ وړتيا زياته کړي، له همدې امله دوی د آسيا په بېلابېلو سرچينو او بډايه کلتوري تنوع ټينګار کوي.

په ACD کې اوس مهال (۳۵) هېوادونه شامل دي، چې افغانستان، بحرين، بنګله‌دېش، بوتان، بروناى دارالسلام، کمبوډيا، چين، هند، اندونيزيا، ايران، جاپان، قزاقستان، کوريا، کويټ، قرغيزستان، لاوس، ماليزيا، منګوليا، ميانمار، نيپال، عمان، پاکستان، فلسطين، فيليپين، قطر، روسيه، سعودي عربستان، سينګاپور، سريلانکا، تاجکستان، تايلېنډ، ترکيه، متحده عربي امارات، ازبکستان او ويتنام پکې شامل دي.

د ACD (د آسيا د همکارۍ ډيالوګ) اصلي موخې په لاندې ډول دي:

- د همکارۍ په ټولو برخو کې د آسيايي هېوادونو ترمنځ تړاو پياوړی کول، د آسيا ګډ ځواکونه او فرصتونه پېژندل چې له دې لارې به د فقر کچه راټيټه شي او د آسيا د خلکو د ژوند کيفيت به ښه شي، له دې سره به په آسيا کې يو علم محوره ټولنه رامنځته او د ټولنې او خلکو ځواکمنتيا به زياته شي.
- په آسيا کې د سوداګرۍ او مالي بازار پراخوالی او د سيالۍ پر ځای د آسيايي هېوادونو د خبرو اترو ځواک پياوړی کول او په بدل کې د نړيوال بازار په کچه کې د آسيا اقتصادي سيالۍ وړتيا لوړوالی.
- په بشپړ ډول د آسيايي همکارۍ حلقه کارول، د آسيا شته امکانات او ځواک پياوړي کول او د موجوده همکارۍ چوکاټونه بشپړول او ملاتړ يې کول، تر څو د نورو سيمو لپاره يو اغېزمن شريک وګرځي.
- د آسيا براعظم په يوې داسې ټولنې بدلول چې له نړۍ سره په مساوي شرايطو اړيکې ولري او د متقابلې سولې او سوکالۍ په برخه کې مثبت اغېز ولري (Asia Cooperation Dialogue, n.d).

**دویم مبحث: د سیمه ایزو جوړښتونو پر وړاندې د افغانستان د بهرني سیاست ټاکونکي عناصر**

افغانستان په تېرې یوې نیمې لسیزې کې د سیمه‌ایزې همغږۍ لپاره ډیرې هڅې کړې دي او په بېلابېلو سازمانونو او پلاتفورمونو کې یې غړیتوب ترلاسه کړی، چې هر یو یې په ځانګړو برخو تمرکز لري. په یادو سیمه‌ایزو سازمانونو او پروسو کې د افغانستان غړیتوب وضعیت د اسلامي امارت له حاکمېدو څخه وروسته ځنډیدلی او نه شي کولی چې په یادو سیمه ایزو جوړښتونو کې خپل استازي ولري، ترڅو د خپلو مسؤلیتونو، کړنو او غوښتونو په اړه نظریات، غوښتنې او وړاندیزونه شریک کړي او د غړیتوب د ځنډیدو تر ټولو لوی لامل د ملګرو ملتونو او نورو هېوادونو له خوا په رسمیت نه پېژندل کېدل دي. د سیمه ایزو جوړښتونو پر وړاندې د افغانستان د بهرني سیاست ټاکوونکي عناصرو لپاره تر ټولو لوی خنډ او رسمیت پېژندنه ده .

له بلې خوا افغانستان اوس هم په پرله پسې ډول په یادو سازمانونو کې د غړیتوب د بیرته دوام لپاره هڅې کوي، ترڅو په سیمه کې د اقتصادي، امنیتي او پرمختیایي همکاریو په برخه کې خپل رول پراخ کړي، خو دا چې په دغه برخه کې کوم ډول کړنې ترسره شي، مونږ په دې هکله د دوو لارو وړاندوینه کوو:

**لومړی مطلب: په سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان د غړیتوب د ځنډېدو عوامل او بیاځلې اعادې او دوام لارې چارې**

د دې لپاره چې په سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان د غړیتوب د ځنډېدو عوامل او بیاځلې اعادې او دوام لارې چارې موضوع ښه روښانه شي، په دوو جلا جلا عناوینو کې یې تر څېړنې لاندې نیسو:

**لومړی جز: په سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان د غړیتوب د ځنډېدو عوامل**

په سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان د غړیتوب ځنډېدل او یا محدودېدل یو شمېر سیاسي، امنیتي او اقتصادي عواملو پورې تړلي دي، چې لاندې عوامل د دغه ستونزې مهمې برخې ګڼل کیږي:

**لومړی پراګراف- نړیوال مشروعیت موضوع:** د اسلامي امارت حکومت د ډېرو هېوادونو او نړیوالو بنسټونو لخوا په رسمیت نه دی پېژندل شوی، چې دغې موضوع د افغانستان لپاره په سیمه ایزو سازمانونو کې د غړیتوب دوام یا نوي کولو کې خنډ پیدا کړي دی. نړیواله ټولنه په دې برخه کې د بشري حقونو، ښځو د حقونو او د ټولشموله حکومت جوړولو په اړه اندیښنې لري.

**دویم پراګراف- سیاسي بې‌ثباتي:** د ۲۰۲۱ کال په اګست کې د اسلامي امارت واک ته رسېدو له نړیوالو او سیمه‌ایزو سازمانونو سره د افغانستان اړیکې پیچلې کړي. اسلامي امارت تر اوسه د ډېرو هېوادونو لخوا په رسمیت نه دی پېژندل شوی، همدغه ستونزه په مختلفو سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان ګډون له ځنډ سره مخ کړی.

**دریم پراګراف- اقتصادي ستونزې:** د افغانستان اقتصادي حالت د اسلامي امارت له راتګ وروسته خراب شوی دی. زیات شمېر نړیوالې مرستې بندې شوې او اقتصادي بندیزونه هم لګېدلي، چې د افغانستان پر نړیوالو اړیکو هم اغېزه کړې دغه اقتصادي فشارونه د دې لامل شوي، چې افغانستان په سیمه ایزو اقتصادي جوړښتونو او سازمانونو کې فعال حضور ونه لري.

**څلورم پراګراف- امنیتي اندیښنې :** په افغانستان کې د داخلي امنیتي ننګونو او نا امنیو د سیمې هېوادونه اندېښمن کړي دي، چې دغه وضعیت د سیمه ایزو همکاریو په پروسو کې د افغانستان ګډون اغېزمن کړی دی.

**پنځم پراګراف: د همکاریو نوي میکانیزمونه:** سیمه ایز هېوادونه، لکه پاکستان، ایران او منځنۍ آسیا کوښښ کوي، چې د اسلامي امارت له حکومت سره خپلې مستقیمې اړیکې جوړې کړي. دا اړیکې که څه هم په ځینو برخو کې پرمختګ ښيئ، خو په رسمي ډول یې سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان غړیتوب ته ستونزې زیاتې کړې دي، نو ویلای شو چې سیاسي مشروعیت نشتوالی، اقتصادي ستونزې، امنیتي ګواښونه او د اسلامي امارت حکومت د رسمیت پېژندلو موضوع په سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان د غړیتوب د ځنډېدو عوامل دي.

**دویم جز: په سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان د غړیتوب د بیاځلې اعادې او دوام لارې چارې**

په سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان د غړیتوب بیاځلي اعادې او دوام لپاره د یو شمېرګامونو اخیستل اړین دي. دغه ګامونه سیاسي، اقتصادي، امنیتي او ډیپلوماتیک ابعاد لري. لاندې لارې چارې د دغه هدف لپاره اغېزمنې بلل کېدای شي:

**لومړی پراګراف- د نړیوال مشروعیت ترلاسه کول:** نړیوال مشروعت ترلاسه کول په دوو برخو ویشلی شو، چې هر یو په لاندې ډول روښانه کوو:

لومړی فقره- ټولشموله حکومت جوړول: د سیمې اکثره جوړښتونو کې شامل هېوادونه په کراتو دا خبره تکراروي، چې اسلامي امارت ته اړینه ده چې ټولشموله حکومت جوړ کړي، په کوم کې چې د ټولو قومي، سیاسي او ټولنیزو ډلو استازیتوب وشي.

دویمه فقره: نړیوالو غوښتنو ته غاړه ایښودل: د سیمې اکثره هېوادونه دا خبره کوي، چې اسلامی امارت باید نړیوالو او اړوندو سازمانونو غوښتنو او معاهداتو عمومي او ضروري پرنیسپونو ته درناوی وکړي او که یادو برخو کې اسلامي امارت ګامونه اخیستي وي، نو دا باید نړیوالو ته ثابته کړي.

**دویم پراګراف- د ډیپلوماتیکو اړیکو پیاوړتیا:** د ډیپلوماتیکو اړیکو د پیاوړتیا لپاره لاندې اقدامات خورا مهم دي، چې هر یو یې په لاندې ډول روښانه کوو:

لومړی فقره- د سیمې هېوادونو سره مثبتې اړیکې: افغانستان کولی شي. له ګاونډيو هېوادونو لکه پاکستان، ايران، چين، او منځنۍ آسيا هېوادونو سره خپلې اړيکي لا ټينګې او ګډې ګټې په نښه کړي. دا هېوادونه د سيمه ايزو سازمانونو مهم غړي دي او د دوی ملاتړ د افغانستان د غړيتوب په بيا اعاده کې مهم رول لري.

دويمه فقره- له ملګرو ملتونو او نورو نړيوالو سازمانونو سره اړيکې: که افغانستان د ملګرو ملتونو يا نورو نړيوالو بنسټونو سره ښې اړيکې وساتي، دا به د سيمه ايزو سازمانونو په کچه هم د ملاتړ لپاره زمينې برابرې کړي.

**درېيم پراګراف- اقتصادي اصلاحات او مشارکت:** پدې برخه کې افغانستان د خپل جيواکانوميک موقعيت څخه په ګټه اخيستې لاندې اقدامات کولای شي:

لومړی فقره- اقتصادي پروګرامونه: افغانستان باید په سیمه ایزو اقتصادي پروژو کې خپله برخه ثابته کړي. لکه د تاپي ګازو پايپ لاين پروژه د کاسا(1000) برېښنا پروژه او د لاجورد لارې د سوداګريزو لارو پرانېستل يادولی شو.

دويمه فقره- د پانګونې جذب: افغانستان باید د سیمه ایزو او نړیوالو پانګوالو لپاره امنيت او قانوني بنسټونه پياوړي شي، ترڅو پانګونې ته زړه ښه کړي. دا به د اقتصادي ثبات او همکارۍ یوه مهمه برخه وي.

**څلورم پراګراف- امنيتي همکاريو ته ژمنتيا:** په دې برخه کې لاندې اقدام خورا مهم دی، چې اوسنی حکومت يې په عملي ډول د سيمې او نړۍ هېوادونو ته ثابت کړي:

لومړی فقره: د ترهګرۍ پر ضد مبارزه: افغانستان باید په سیمه کې د ترهګرۍ پر ضد مبارزه کې فعاله ونډه واخلي او ثابته کړي، چې خاورې څخه يې د هيڅ هېواد پر ضد کار نه اخيستل کيږي. ځکه دا د سيمې هېوادونو او نړيوالو د انديښنو يوه لويه برخه ده.

دويمه فقره: سيمهايز امنيتي تړونونه: د امنيتي همکاريو تړونونو کې ګډون کول او د سيمې هېوادونو سره په ګډو امنيتي مسايلو کار کول به افغانستان، نړيوالې او سيمه ايزې همکارۍ ته وده ورکړي.

**پنځم پراګراف- د سیمه‌ایزو جوړښتونو سره د اړیکو بیا رغونه:** پدې اړه لاندې اقدامات پکار دي چې ترسره شي:

لومړی فقره- سیمه ایزو سازمانونو سره خبرو ته چمتووالی: افغانستان باید چمتووالی وښيئ چې د شانګهای همکاری سازمان د سارک سازمان او نورو سیمه‌ایزو اقتصادي او امنیتي همکاریو تړونونو کې خپل رول په فعاله توګه ولوبوي.

دویمه فقره- د پخواني غړیتوب اعاده: که افغانستان د سیمه ییزو سازمانونو پخواني څارونکي غړیتوبونه غواړي، نو اړینه ده چې د هغو سازمانونو له اصولو او پروتوکولونو سره همغږي وښيي.

**شپږم پراګراف- بې‌طرفي او د ګاونډیانو سره ښه اړیکې:** اسلامي امارت ته په کار ده چې پدې اړه بې‌طرفه موقف غوره او هڅه وکړي، چې افغانستان په سیمه ایزو سیالیو کې بې‌پلوه پاتې شي او د ګاونډیو هېوادونو سره ښه ډیپلوماتیک توازن وساتي. دا به افغانستان ته د دې اجازه ورکړي چې په سیمه ایزو سازمانونو کې خپل رول زیات کړي او په سیمه ایزو جوړوښتونو کې شاملو غړیو سره په انفرادي ډول د ښو اړیکو جوړول خورا مهم دي.

**اووم پراګراف- د بشري مرستو او پراختیایي همکاریو زیاتوالی:** د افغانستان اوسني نظام باید پدې اړه لاندې اقدامات ترسره کړي:

**لومړی فقره- د بشري مرستو زیاتول:** د نړیوالو بشري مرستو د جذبولو لپاره، افغانستان باید د نړیوالو بنسټونو سره په روڼتیا او اغېزمنتوب کې همکار و اوسي.

**دویمه فقره : پراختیایي پروژې کې ګډون :** افغانستان باید د سیمه ایزو او نړیوالو پروژو په لاره اچولو کې ګډون وکړي، ترڅو د اقتصاد پیاوړتیا ته زمینه برابره شي.

د پورته مواردو څخه په لنډ ډول ویلی شو، چې په سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان غړیتوب بیا اعاده او دوام یو داسې بهیر دی، چې سیاسي، اقتصادي او امنیتي اصلاحاتو ته اړتیا لري. که افغانستان د نړیوالو غوښتنو ته ځواب و وايي او د سیمې هېوادونو سره خپلې اړیکې ټینګې کړي، دا به د

دې لامل شي چې په سیمه ییزو سازمانونو کې بیا ځلې خپل حالت ترلاسه کړي او په پای کې خپل رول پیاوړی کړي.

**دویم مطلب: په سیمه ایزو جوړښتونو کې د افغانستان د بهرني سیاست ټاکونکي عناصر**

د افغانستان د بهرني سیاست ټاکونکي عناصر په سیمه‌ایزو جوړښتونو کې له مختلفو سیاسي، اقتصادي، امنیتي او جغرافیایي فاکتورونو څخه اغېزمن کیږي. دغه عناصر په لاندې ډول دي:

**لومړی جز: جغرافیایي موقعیت**

د لا وضاحت لپاره یې لاندې دوه موضوعات یادولی شوو:

لومړی پراګراف- ستراتیژیک ځای: افغانستان په آسیا کې د مرکزي او سویلي اسیا ترمنځ په یوه ستراتیژیکه سیمه کې پروت دی. دا هېواد د منځنۍ آسیا، سویلي آسیا، ایران او چین ترمنځ د یوې مهمې سوداګریزې لارې په توګه موقعیت لري. دغه موقعیت افغانستان ته د دې زمینه برابروي، چې د سیمه ایزو همکاریو د مرکز په توګه خپل بهرنی سیاست جوړ کړي.

دویم پراګراف- د ګاونډیو هېوادونو اغېزې: افغانستان د شپږو مهمو ګاونډیو هېوادونو (پاکستان، ایران، چین، ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان) تر منځ موقعیت لري. د دې ګاونډیو هېوادونو سره اړیکې د افغانستان بهرني سیاست یو مهم عنصر ګڼل کیږي.

**دویم پراګرف- امنیتي وضعیت:** لومړۍ فقره: نړیوال امنیتي تړونونه: د افغانستان له امنیتي وضعیت سره سم د بهرني سیاست جوړښت کې د نړیوالو سازمانونو (ملګرو ملتونو، شانګهای سازمان او نورو) امنیتي چارې مهمې دي چې دا هغه وخت ممکن دي چې افغانستان په یادو سازمانونو کې خپل موقف او حالت ترلاسه کړي.

**دریيم پراګراف- ملي او نړیوال سیاسي مشروعیت:** د هر هېواد د حکومت بهرنی سیاست د یاد هېواد له مشروعیت او رسمیت سره مستقیمه اړیکه لري، چې پرته له دغه مشروعیت څخه حکومتداري او سیاست له ډېرو ستونزو سره مخ کېدای شي، د همدغه حقیقت په پام کې نیولو سره لاندې مواردو ته اشاره کوو:

لومړی فقره: نړیوال مشروعیت: په افغانستان کې اوسنی حکومت پرته له روسیې څخه نور د ډېرو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو له لوري په رسمیت نه دی پېژندل شوی، له همدې امله د افغانستان بهرنی سیاست د مشروعیت ترلاسه کولو پورې تړلی ده، ترڅو نړیوال ملاتړ او اړیکې ټینګې کړي.

دویمه فقره: ملي مشروعیت: د بهرني سیاست پرمخ بیولو لپاره ملي مشروعیت خورا مهم دی او پرته ملي مشروعیت څخه داخلي سیاست رامنځته کېدای نه شي، نو هر نظام ته پکار ده، چې په داخلي کچه د علمي معیارونو په پام کې نیولو سره د ملي مشروعیت لپاره ګامونه واخلي او ټولشموله حکومت د اصولي او علمي معیارونو په چوکاټ کې جوړ کړي، ترڅو د نورو هېوادونو او سیمهایزو سازمانونو ملاتړ جلب کړي.

**څلورم پراګراف- اقتصادي اړتیاوې او همکارۍ:** اوسني حاکم نظام ته پکار ده، چې د **افغانستان جیواکانومیک** ته په پام سره د سیمه ایزو جوښتونو پر وړاندې خپل بهرنی سیاست اقتصاد محوره کړي او دا هغه وخت شوني ده، چې په افغانستان کې سیمه ایزې پروژې پیل شي، چې پدې اړه د لاندې مواردو یادونه کولای شوو:

لومړی فقره: سوداګریزه همکاري: د سیمه ایزو جوړښتونو پر وړاندې د افغانستان د بهرني سیاست عناصر د افغانستان بهرنی سیاست د اقتصادي همکاریو په لور د هڅو او د سیمهایزو اقتصادي تړونونو (لکه د تاپي او کاسا 1000 پروژو) په پیاوړتیا پورې تړلی دی، ترڅو په هغې کې شاملو هېوادونو سره افغانستان د یو ښه موقف په اساس مخ ته لاړ شي.

دویمه فقره: پانګونه او مرستې: افغانستان نړیوالو او سیمه ایزو مرستو او پانګونې ته اړتیا لري. د بهرني سیاست یوه مهمه برخه دا ده، چې د نړیوالو مرستو جلبولو لپاره یوه داسې تګلاره رامنځته شي، چې د نړیوالې ټولنې باور ترلاسه کړي او هم پدې سره د بهرنۍ پانګې اچونې لپاره لازم عملي اقدامات چې په نړیوال کچه د منلو وړ وي ترسره کړي.

**پنځم پراګراف- د سیمې او نړیوالو قدرتونو انډول ساتنه:** پدې اړه لاندې مواردو څخه یادونه کولای شو، ترڅو اوسنی حکومت د سیمه ایزو جوړښتونو پر وړاندې له یو ښه سیاسي موقف سره مخ ته لاړ شي:

لومړی فقره: سیمه ایز ځواکونه: افغانستان اوسني حکومت باید هڅه وکړي، چې د سیمه‌ایزو قدرتونو لکه چین، روسیې، ایران، پاکستان او هند تر منځ خپل بهرنی سیاست په متوازن ډول طرحه کړي. دغه توازن باید داسې وساتي چې افغانستان په سیمه ایزو سیالیو کې بې‌طرفي اختیار کړي، ترڅو په سیمه ایزو جوړښتونو کې په ښه سیاست سره مخ ته لاړ شي.

دویم فقره: نړیوال ځواکونه: افغانستان د امریکا او لوېدیځو هېوادونو سره د اړیکو په بیا رغولو کې ستونزې لري، خو د بهرني سیاست یوه مهمه برخه باید دا وي چې څنګه د لوېدیځ او سیمې هېوادونو تر منځ د اړیکو تعادل وساتي، ترڅو ټول هغه سیاسي نزاکتونه چې د سیمې هېوادونه یې له غرب په ځانګړې ډول امریکا سره لري رعایت کړي او په ورته وخت کې د دواړو خواوو سره هم ښه اړیکي ولري.

**شپږم پراګرف- کلتوري او دیني اړیکې پالل:** پدې هکله لاندې کړنې ترسره کول اړینې دي:

لومړی فقره: له اسلامي نړۍ سره اړیکې: افغانستان د اسلامي هېوادونو سازمان (OIC) غړی دی او له دغه سازمان سره همکاري کول د بهرني سیاست یوه مهمه برخه ده او ترڅنګ یې اکثره سلامي هېوادونه د افغانستان په سیمه ایزو جوړښتونو کې ځانګړی ځای لري، نو د دیني اړیکې د اسلامي نړۍ او سیمه ایزو جوړښتونو لپاره مهم عنصر دی.

دویمه فقره: کلتوري ډیپلوماسي: افغانستان کولی شي په سیمه‌ایزه کچه د کلتوري او تاریخي اړیکو له لارې خپل رول پیاوړی او د سیمې په کلتوري سازمانونو کې فعاله برخه واخلي او خپل ځای او موقف لوړ کړي.

**اوم پراګراف- نړیوال ډیپلوماتیکي اصول او تړونونه:** سیمه ایز سیاست د نړیوال سیاست تابع دی او پرته له نړیوال دیپلوماتیکي اړیکو په سیمه ایزو جوړښتونو کې یې ښه سیاسي موقف له ستونزو سره مخ وي.

لومړی فقره: ملګرو ملتونو اصولو ته درناوی: د افغانستان بهرنی سیاست د نړیوالو اصولو او ملګرو ملتونو تړونونو سره همغږي کېدای شي، ترڅو د نړیوال مشروعیت او قانوني ملاتړ په برخه کې بریالی وي.

دویمه فقره: بشري مرستې او پراختیایي پروژې: د بشري مرستو جذب او د پراختیایي پروژو عملي کول د بهرني سیاست لپاره مهم دي، ځکه چې نړیوالې ټولنې سره له دې لارې افغانستان سره اړیکې ټینګیږي، نو لازمه ده، چې پدې برخه کې هم یوه واضیحه تګلاره شتون ولري.

**اتم پراګراف- د داخلي سیاست اغېزې:** پدې اړه د لاندې مواردو تنظم خورا مهم دی او دا به مرسته وکړي چې افغانستان د سیمه ایزو جوړښتونو پر وړاندې ښه بهرنی سیاست ولري:

لومړی فقره: داخلي ستونزې: داخلي سیاسي ستونزې لکه قومي او سیاسي اختلافات، د بهرني سیاست پر جوړښت اغېزې لري. که داخلي ثبات تأمین شي، افغانستان به وتوانیږي، چې په سیمهایزو او نړیوالو سازمانونو کې پیاوړي موقف ولري او پیاوړي سیاسي ګامونه واخلي.

دویمه فقره- د حکومت او خلکو ترمنځ واټن: د یو هېواد داخلي سیاست د همغه هېواد د خلکو د رضایت د کچې پورې تړلی دی، ځکه د حکومت څخه د خلکو رضایت د حکومت او خلکو ترمنځ واټن کموي او په پایله کې د یو پیاوړي داخلي ملاتړ په اساس په سیمه ایز سیاست کې خپل رول اداء کوي، نو اسلامي امارت مشرانو ته پکار ده، د ټولو هغو اقداماتو څخه چې هغه په اساس د خلکو او حکومت ترمنځ د واټن سبب ګرځي په جدي ډول مخنیوي وکړي ترڅو خلک او حکومت په یو نظر مخ ته لاړ شي.

**پایله**

په پایله کې ویلی شوو، چې افغانستان د خپل ستراتیژیک موقعیت، تاریخي، سیاسي او کلتوري ارزښتونو له مخې د سیمه ایزو جوړښتونو په وړاندې یو ځانګړی بهرنی سیاست غوره کړي، افغانستان د منځنۍ او سویلي آسیا په تقاطع کې پروت دی، چې د انرژۍ، سوداګرۍ او ترانزیټ د لارې له امله یې سیمه ایزې اړیکې اړیني ګڼل کیږي. د دغه ستراتیژیک موقعیت په نظر کې نیولو سره افغانستان هڅه کړې چې له ګاونډیو هېوادونو سره توازن وساتي او د سیمهایزو تړونونو په چوکاټ کې خپل رول پیاوړی کړي، افغانستان له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره ژورې کلتوري، ژبنۍ او مذهبي اړیکې لري. دغه اړیکې د افغانستان د بهرني سیاست په جوړښت کې مهم رول لري، ځکه چې افغانستان هڅه کوي په سیمه کې له ګډو کلتوري او

تاریخي ارزښتونو څخه په اغېزمنه توګه ګټه پورته کړي. د افغانستان اقتصادي پراختیا او ثبات له ګاونډیو هېوادونو سره د سوداګرۍ او پانګونې پراختیا ته اړتیا لري. د بهرني سیاست په چوکاټ کې افغانستان هڅه کوي چې په سیمه کې د اقتصادي همکاریو، د بیارغونې او پرمختیا لپاره د سیمه‌ایزو او نړیوالو مرستو جلب ته وده ورکړي.

همدارنګه سیمه‌ایزې امنیتي ستونزې او ترهګري د افغانستان لپاره ستر چیلنجونه دي. افغانستان کوښښ کړی چې د سیمه‌ایزو امنیتي تړونونو له لارې د سیمه ایزې همکارۍ او ګډو امنیتي تګلارو پر بنسټ خپل امنیتي ګواښونه راکم کړي او په سیمه کې د سولې او ثبات لپاره همکاري وکړي، د افغانستان بهرني سیاست ټاکونکي عناصر له جغرافیایي موقعیت، امنیتي او سیاسي وضعیت، اقتصادي اړتیاوو، سیمه‌ایزو او نړیوالو اړیکو څخه اغېزمن دي. که افغانستان وکولی شي په دې برخو کې توازن وساتي او د نړیوالو او سیمه‌ایزو هېوادونو سره په اصولي ډول اړیکې ټینګې کړي، نو دا به د سیمې په کچه د افغانستان بهرنی سیاست پیاوړی کړي.

**مناقشه**

افغانستان د سویلي، مرکزي او لوېدیځې آسیا ترمنځ په داسې ستراتیژیک موقعیت کې پروت دی چې دا هېواد د سیمه‌ایزو سیالیو او نفوذ مرکز ګرځولی دی. همدا جغرافیایي موقعیت، د کورنیو کمزوریو ترڅنګ، د افغانستان بهرنی سیاست د نورو هېوادونو د سیاستونو تابع کړی دی.

د امنیتي ګواښونو، اقتصادي کمزورۍ، سیاسي بې‌ثباتۍ او د مسلکي ظرفیتونو د نه شتون له امله افغانستان نه دی توانېدلی چې یوه روښانه، خپلواکه او ابتکاري بهرنۍ تګلاره رامنځته کړي. د شانګهای همکارۍ سازمان، CPEC، CASA-1000 او نورو سیمه‌ایزو ابتکاراتو کې د ګډون فرصتونه شته، خو د اغېزمن ګډون لپاره یوه همغږې او ملي ګټو ته ژمنه تګلاره اړینه ده.

که په لنډ ډول ووایو: تر هغې پورې چې افغانستان خپل کورني بنسټونه پیاوړي نه کړي او د بهرني سیاست لپاره واضح ستراتیژیک لید ترسیم نه کړي، په سیمه‌ایزو جوړښتونو کې به یې رول محدود او د نورو د ارادو تابع پاتې شي.

**پایله اخیستنه**

له پورته تحلیلونو له مخې څرګندېږي، چې د افغانستان بهرنی سیاست له تاریخي، جغرافیایي، امنیتي، اقتصادي او سیاسي واقعیتونو ژور اغېزمن شوی دی. د هېواد ستراتیژیک موقعیت افغانستان د سیمه‌ایزو جوړښتونو یوه مهمه برخه ګرځولې، خو کورنۍ کمزورۍ، بې‌ثباتي او د مسلکي ظرفیتونو کموالی د دې سبب شوي چې افغانستان په یادو جوړښتونو کې تر ډېره د نورو تابع وي. د ګاونډیو هېوادونو نفوذ، د نړیوالو اجنډاوو فشارونه او د ملي اجماع کمښت هغه اساسي عوامل دي چې د بهرني سیاست خپلواکي او سیمه ایزو جوړوښتونو کې ټاکونکو عناصرو مؤثریت یې محدود کړی دی. پایله دا ده چې د افغانستان د بهرني سیاست د پیاوړتیا لپاره باید یو روښانه ستراتیژیک لید، د ملي ګټو پر بنسټ تګلاره او له سیمه‌ایزو واقعیتونو سره همغږی عمل رامنځته شي، ترڅو هېواد وکولای شي په سیمه‌ایزو جوړښتونو کې یو فعال، اغېزناک او خپلواک رول ولوبوي.

**وړاندیزونه**

د سیمه‌ایزو جوړښتونو پر وړاندې د افغانستان د بهرني سیاست ټاکوونکو عناصر تر عنوان لاندې مقالې لپاره وړاندیزونه خورا مهم دي

لومړی: له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو پیاوړتیا: افغانستان باید د خپلو ګاونډیو هېوادونو سره د باور پر بنسټ اړیکې پراخې او پیاوړې کړي. دا به د امنیتي، اقتصادي او کلتوري همکاریو لپاره یو مهم ګام وي. په ځانګړې توګه، د پاکستان، ایران، او منځنۍ آسیا له هېوادونو سره په ډیپلوماتیکو او سوداګریزو برخو کې لا زیاتې هڅې وکړي، ترڅو سیمه‌ایزو ننګونو ته په ګډه ځواب وویل شي.

دویم: په سیمه‌ایزو اقتصادي تړونونو کې فعاله ونډه: افغانستان باید د سیمه ایزو اقتصادي تړونونولکه د شانګهای همکاریو سازمان (SCO) او د اقتصادي همکاریو سازمان (ECO) په چوکاټ کې خپله ونډه زیاته کړي. دا به د افغانستان اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره کړي او سیمه‌ایزو سوداګریزو فرصتونو څخه د ګټې اخیستنې لپاره زمینه برابره کړي.

دریم: د امنیتي همکاریو پراختیا: افغانستان باید په سیمه ایزو امنیتي جوړښتونو کې فعاله ونډه واخلي، ترڅو د ترهګرۍ، قاچاق او نورو سرحدي ګواښونو په وړاندې ګډه مبارزه وکړي. دا به د افغانستان د ملي امنیت د تامین لپاره یو مهم ګام وي او په سیمه کې به د ثبات او سولې په ټینګښت کې مرسته وکړي.

څلورم: د نرم ځواک (Soft Power) کارول: افغانستان کولای شي له خپل نرم ځواک څخه په اغېزمنه توګه کار واخلي. کلتوري، ژبني او تاریخي مشترکات د افغانانو او د سیمې نورو ملتونو تر منځ د اړیکو پیاوړتیا لپاره یو ځواکمن عنصر دی. د فرهنګي تبادلو، تعلیمي همکاریو او هنري پروګرامونو پراختیا د نرم ځواک د پیاوړتیا لپاره ګټورې لارې دي.

پنځم: د سیمه‌ایزې همکارۍ لپاره منځګړتوب رول: افغانستان کولای شي د خپلو ګاونډیو هېوادونو او نړیوالو لوبغاړو تر منځ د یو منځګړي په توګه د سیمه‌ایزو ستونزو په حل کولو کې مرسته وکړي. د سولې او ثبات لپاره د ډیپلوماسۍ له لارې منځګړي رول غوره کول به د افغانستان نړیوال دریځ پیاوړی کړي او سیمه‌ایزې اړیکې به لا پراخې کړي.

شپږم: د انرژۍ او ترانسپورتي پروژو پراختیا: افغانستان باید په سیمه کې د ترانزیټ او انرژۍ د لارو د وصل لپاره له شته فرصتونو څخه ډېره ګټه واخلي. ټاپي (TAPI) ګاز نل لیکه، کاسا-1000 (CASA-1000) برېښنا پروژه او د لاجوردو لارې په څېر اقتصادي پروژو کې د افغانستان فعاله ونډه کولی شي دغه هېواد د یو مهم اقتصادي او ټرانزیټي مرکز په توګه تثبیت کړي.

که په پورته وړاندیزونو عمل وشي نو ان شاالله د افغانستان د بهرني سیاست لپاره به عملي او اغېزمنې لارې چارې پیدا او په سیمه کې به د پایداره ثبات، اقتصادي پرمختګ او امنیت د ټینګښت لپاره ګټور ثابت شي.

**ماخذونه**

ابراهیمی‌نژاد، م. (۱۳۸۷). سازمان‌های مالی و پولی بین‌المللی (چاپ ششم). تهران: سمت.

امیدی، ع. (۱۳۸۸). منطقه‌گرایی در آسیا: نگاهی به سازمان آسه‌آن، سارک و اکو. تهران: دفتر مطالعات سیاسی و بین‌المللی.

انوری، ح.، و رحمانی موحد، م. (۱۳۸۸). سازمان همکاری شانگهای: چشم‌اندازی به‌سوی جهان چندقطبی (چاپ دوم). تهران: مرکز چاپ و انتشارات وزارت امور خارجه.

رحیمی بروجردی، ع. (۱۳۸۵). همگرایی اقتصادی: ترتیبات تجاری منطقه‌ای و بازارهای مشترک. تهران: سمت.

زاهدی انارکی، م. (۱۳۸۵). سازمان همکاری شانگهای از تئوری تا عمل. فصلنامه مطالعات آسیای مرکزی و قفقاز، دوره چهارم، شماره ۵۵، ۵۸-۵۹.

لوکین، ا. و. (۱۳۸۴). بولتن ویژه سازمان همکاری شانگهای و دورنمای توسعه**. تیوا کامران، تهران: موسسه فرهنگی مطالعات و تحقیقات بین‌المللی ابرار معاصر.

موسی‌زاده، ر. (۱۳۸۸). سازمان‌های بین‌المللی (چاپ دهم). تهران: میزان.

Activists call to revise Saarc convention on trafficking. (2015, December 2). The Kathmandu Post. Archived from the original on December 12, 2015. Retrieved February 27, 2016.

Asia Cooperation Dialogue. (n.d.). About ACD. Retrieved October 18, 2024, from http: //www.acd-dialogue.org/about-acd.html

CAREC Program. (n.d.). About CAREC. Retrieved October 18, 2024, from https: //carecprogram.org/?page_id=31

Centre on Integrated Rural Development for Asia and the Pacific. (n.d.). In Wikipedia. Retrieved October 18, 2024, from https: //en.wikipedia.org/wiki/Centre_on_Integrated_Rural_Development_for_Asia_and_the_Pacific#cite_note-1

Colombo Plan. (n.d.). Who we are. Retrieved October 14, 2024, from https: //colombo-plan.org/who-we-are/

Conference on Interaction and Confidence-Building Measures in Asia. (n.d.). In Wikipedia. Retrieved October 18, 2024, from https: //en.wikipedia.org/wiki/Conference_on_Interaction_and_Confidence-Building_Measures_in_Asia

https: //mfa.gov.af/page/10273

Nasiko, R. (2015, October 23). Lands PS resigns to join UN's CIRDAP. **The Fiji Times, p. 1. Archived from the original on October 24, 2015. Retrieved February 27, 2016.

United Nations Economic Commission for Europe. (2023, December). SPECA Terms of Reference. Retrieved October 18, 2024, from https: //unece.org/sites/default/files/2023-12/SPECA%20ToR_EN.pdf

United Nations Economic Commission for Europe. (n.d.). Introduction. Retrieved October 18, 2024, from https: //unece.org/introduction.

**پوهنیار محب‌الله الله‌یار او رفیع الله‌رفیع**
د حقوقو څانګه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، تابش پوهنتون

## د نړیوالو معاهداتو پر لوریو د شرط حق اغېزې

**لنډیز**
په نړیوالو معاهداتو کې د شرط حق اینودل او په لوریو یې اغېزې د هېوادونو د ګټو او د عامه مصالحو د ساتنې لپاره ډېر مهم حق دی چې یو هېواد یې د معاهدې د لاسلیک، تصویب، منلو، تائید یا الحاق پر مهال تر هر نوم او عبارت لاندې صادروي او د هغې په وسیله د ځان پر وړاندې د معاهدې د ځینو مقرراتو د حقوقي اغېزو د نشتوالي یا تعدیل غوښتنه کوي. کله چې هېوادونه په هره مرحله کې د شرط حق کېږدي؛ نو د دې معاهدې هغه احکام چې شرط پکې اینودل شوی، د اړوند هېواد لپاره تعدیلېږي. د معاهدې هغه احکام چې په هغو کې شرط نه دی اینودل شوی، د ټولو لوریو لپاره د اجراء وړ دی. دغه مقاله د نړیوالو معاهداتو پر لوریو د حق شرط اغېزې واضح کوي. په دې برخه په بېلابېلو ژبو کې لیکنې شوي، په دې لیکنو کې د نړیوالو اسنادو له نظره د شرط حق څېړل شوی، په ځینو کې د اسلامي حقوقو له نظره د شرط حق څېړل شوی او په ځینو څېړنو کې د داخلي قوانینو له نظره د شرط حق څېړل شوی.

د شرط حق د لومړي ځل لپاره د عمر رضی الله عنه په زمانه کې د عبدالرحمن بن غنم او اهل جزیري ترمنځ د شوې معادې تر نهایي کېدو وروسته د عمر رضی الله عنه لخوا شرط حق څخه ګټه واخیستل شوه او بیا په ۱۹۶۹م کال د نړیوالو معاهداتو د حقوقو په کنوانسیون کې په رسمیت سره وپیژندل شو.

د څېړنې موخه داده، چې شرط حق روښانه کړي او په شرط اینودونکي هېواد سربېره د معاهدې نوریو لوریو ته د شرط له امله راجع کېدونکي اثار او اغیزې وڅېړي.

څېړنه له دې اړخه ارزښتمنه ده چې دولتونو ته د معاهدې په دننه کې د شرط حق اثار او اغیزې په ګوته کوي او دولتونه دې ټکي ته متوجې کوي چې د

شرط حق له داسې منلو څخه ډډه وکړي چې د اثارو له عهدې څخه یې بیا وتلی نه شي.

دغه لیکنه نظري اړخ لري چې په کتابتوني څېړنه متکي ده او تر ډېره پکې له معتبرو او لومړي لاس منابعو څخه ګټه اخیستل شوې ده. د پایلې په توګه ویلی شو چې په نړۍ والو معاهداتو کې د شرط حق یوازې د معاهدې شرط ایښودونکي هېواد ته اثار نه رامنځته کوي، بلکې هغه هېوادونه چې له شرط حق سره یې موافقه کړې یا یې نه ده؛ په یو ډول نه یو ډول د شرط حق له تاثیر لاندې راځي.

**کلیدي ټکي:** نړیوال معاهدات، د معاهدې لوری، د شرط حق، د شرط قید

**۱. سریزه**

د شرط حق په عمومي ډول د نړیوالو عمومي حقوقو او په ځانګړې توګه د معاهداتو حقوقو اړوند موضوع ده، په نړیوالو تړونونو کې به د یو دولت موقف له درې حالاتونو خالي نه وي، یا به نړیواله معاهده بې له قید و شرط مني، یا به یې له سره نه مني او یا دا چې معاهده په مشروط ډول مني. همدا چې کله یو دولت د نړیوالو معاهداتو لاسلیک په مشروط ډول وکړي، دا ډول حالت ته نړیوالو حقوقو کې د شرط حق ویل کیږي چې دولتونو ته د لاسلیک، تصویب او الحاق پرمهال حاصل دی او کولای شي یو تړون د ځینو موادو د نه منلو په شرط ومني، بناً دغه حق له ځان اثار پرېږدي چې په شرط ایښودونکي هېواد سربېره نورو لوریو ته هم راجع کیږي.

اصولاً هغه هېوادونه چې غواړي ترمنځ یې معاهده د غړیتوب له پیاوړي قوت څخه برخمه شي او نه غواړي چې پروړاندې یې ځینې مخالفتونه شتون ولري، شرط حق ایښودلو ته اجازه ورکوي او دا غوره ګڼي چې د یو کوچني مورد په اختلاف نظر باید د ټولې معاهدې د منلو فرصت دلاسه ورنه کړل شي. که چېرې د شرط حق له لوی محدودیت سره مخ وي، شوني ده معاهده هم له محدود غړیتوب سره مخ شي؛ خو په معاهده کې د غړیتوب تر ټولو لپاره مهمه داده چې د شرط حق په وړاندې کولو سره د پځوانیو غړو حقوقي مکلفیتونه کوم حالت ته پاتې کیږي او نوي هم د پخوانیو په څېر د ټولې معاهدې پروړاندې بشپړ مکلفیت لري که ځینې برخې له استثنی برخمنېږي. دغه راز شاید یو شمېر هېوادونه د نوي غړي له حقوقي وضعیت سره

مخالفت وښيي او د غړیتوب موقف يې ونګوي. دغه ټول هغه موارد دي چې د شرط حق يې په خپلو حقوقي اغېزو کې تر څېړنې لاندې نیسي او واضح کوي چې د یوې معاهدې نوي او پخواني غړي د شرط حق په کارولو سره له کوم ډول حقوقي موقف سره مخامخ کيږي.

### ۱.۱. د موضوع اهمیت

۱- له بین المللي معاهداتو سره بېلابېل هیوادونه د یوځای کېدو پر وخت یا تر دې وړاندې کولای شي د شرط له حق څخه ګټه پورته کړي. د دا ډول شروطو وضع کول له ځانه سره حقوقي پایلې لري، چې د دې پایلو اغیزې څېړل خورا مهمه موضوع ده.

۲- دا موضوع د هیوادونو د سیاسي استازو، د پارلمان غړو او د حقوقو او نړیوالو اړیکو ټولو لارویانو او مینه والو ته ځانګړی اهمیت لري.

۳- د دې څېړنې په بشپړېدو سره د شرط د حق اغیزې د ملي او بین المللي حقوقي اسنادو له نظره مقایسه شوي او ترمنځ بې توپیرونه او ورته والی مه په ډګه شوی دی.

### ۲.۱. د څېړنې اهداف

۱: د شرط حق پېژندنه او د شرط د حق د ایښودلو د طریقو واضح کول.

۲: په دولتونو باندې د شرط حق اغېزې او تاثیرات په ګوته کول

### ۳.۱. د موضوع ستونزه (پرابلم)

د شرط حق یوه داسې موضوع ده، چې د معاهدې پرمهال مطرح کيږي او پر بنسټ يې يو هېواد د معاهدې ځینې مواد د ځان په اړه مستثنی کوي یا يې اغیزې محدودي، بنآ داسې انګیرل کيږي چې د شرط حق یوازې او یوازې شرط ایښودونکي هېواد ته اثار رامنځته کوي، مګر په عمل کې شرط حق د معاهدې په نورو لوریو هم اغیزې شیندي او دا موضوع ډېرو ته ګونګه ده چې زه غواړم د خپلې څېړنې په دننه کې د معاهدې پر لوریو د شرط حق اغیزې راوسپړم.

### ۴.۱. د موضوع د لیکلو کړنلاره

دا څېړنه نظري اړخ لري او په ترسره کولو کې مې له تشریحي او مقایسوي میتود څخه ګټه پورته کړېده.

د شرط حق او اړونده موضوعاتو په ښه شکل د پوهېدلو لپاره مې مطالب په بېلابېلو فصلونو، مبحثونو او مطلبونو وېشلي دي.

د موادو په راټولولو کې هڅه شوې چې د لومړي لاس منابعو او معتبرو کتابونو څخه استفاده وکړم، خو په ځينو مواردو کې که احياناً لومړی لاس ماخذونو ته لاسرسی ممکن نه و، بيا له دويم لاس ماخذونو څخه استفاده شوې. يعنې که چيرې په اصلي او اساسي منابعو کې موضوع پيدا شوې نه وي، بيا علمي مجلو او مقالو ته هم مراجعه شوې ده.

د ماخذ ليکنې په برخه کې مې د APA له اصولو څخه ګټه پورته کړېده.

**۵.۱. پخوانيو ليکنو ته منطقي کتنه**

د شرط حق په اړه مشخص کتاب چې پر همدې موضوع ليکل شوی وي، پښتو او دری ژبو کې شتون نلري، د شرط حق په تړاو د معاهداتو حقوقو کتابونو کې لکه:

۱- نړيوال معاهدات (پوهنوال دوکتور مصطفی نيازی) په دغه کتاب کې په کلي بڼه د اسلامي فقهي او بين المللي اصولو په رڼا کې د نړيوالو معاهداتو په اړه بحث شوی چې په لنډ ډول په کې د شرط حق له پېژندنې څخه يادونه شوې ده.

۲- حقوق معاهدات بين المللی (دکتر محمد رضا ضيائی بيګدلی)، نوموړي کتاب کې د شرط حق او له ډولونو يې بحث شوی؛ خو د اغېزو په اړه يې صراحتاً څه نشته پرته له دې چې يوازې د معاهداتو د حقوقو کنوانسيون له مادو يې سطحي يادونه کړې ده،

۳- حق شرط بر معاهدات حقوق بشری (دکتر پوريا عسکری)، نوموړي کتاب کې د بشري حقوقو اړوند معاهداتو کې د شرط حق څخه بحث شوی خو په کل کې پر نړيوالو معاهداتو د شرط حق له اغېزو نه يادونه شوې او نه کومه برخه کې ورته اشاره شوې.

۴- د نړيوالو تړونونو پېژندنه (پوهنيار عبدالناصر ستانکزی)، د دغه کتاب د محتوا بحث هم تر ډېره د نړيوالو تړونونو پر پېژندنه څرخي، د شرط حق مهفوم، د شرط حق او اعلاميې حقوقي شرايط، د شرط حق مشروعيت او حقوقي ماهيت او د درېيم فصل په دويم مبحث کې د حقوقي

اغېزو تر عنوان لاندې لنډ بحث کړی مګر مشخصاً یې موضوع روښانه کړې نه ده.

۵- عمومي نړیوال حقوق (پوهیالی عبیدالله اخندزاده)، نوموړي کتاب کې د شرط حق پېژندنه او اړوند څو هغه مسایل یاد شوي چې د شرط حق اغېزې په کې نامشخصې او واضح نه دي.

۶- د نړیوالو معاهداتو حقوق (ډاکتر رضاموسی زاده) کتاب چې فضل ولي شهراني ژباړلی؛ تر ډېره بریده د شرط حق له څرنګوالي، ډولونو، و یانا ژمنلیک د مادو یادونه او هغه اغېزې څېړلي چې یوازې د مادو متن ترې اجمالي یادونه کړې؛ خو زما توپیر ورسره همدا دی چې ما یې اغېزې له حقوقي، استرداد او بېرته ګرځېدنې اړخونه هم څېړلي دي.

**۲. د معاهداتو او حق شرط پېژندنه:**

له ټولو وړاندې د معاهدې پېژندل مهم دي چې په دغه مبحث کې موږ د اسلامي او غربي علماوو له نظره د معاهداتو لغوي او اصطلاحي تعریفونه ذکر کوو.

**۲.۱. د معاهداتو لغوي او اصطلاحي پېژندنه**

په لغوي لحاظ معاهده د عهد څخه اخیستل شوې. عهد د وصیت، امان، میثاق او ذمې په معنی دی(الفیومی، ۱۴۱۴ه.ق).

همدارنګه عهد یو چا ته په یو شي کې د وړاندې کېدلو، پناه، ذمې او قسم په معنی هم دی(آبادي، ۱۳۹۸).

د لغوي معنی په نظر کې نیولو سره پوهانوو د معاهدې لپاره یو لړ اصطلاحي تعریفونه ذکر کړي، چې دلته یې د ځینو څخه یادونه کوو:

معاهده هغه عهد دی چې د دوو افرادو یا دوه ډلو ترمنځ ترسره کیږي. یا هم معاهده د دوه یا زیاتو حکومتونو ترمنځ د اړیکو د تنظیم تړون دی(مصطفی او نور)

پورتنی تعریف د معاهدې بشپړ تعریف نه دی، ځکه په پورتني تعریف کې د افرادو، ډلو او حکومتونو یادونه شوې ده، په داسې حال کې معاهده د نړیوالو سازمانونو ترمنځ هم رامنځ ته کېدای شي، له بل لوري په پورتني تعریف کې د معاهدې د حقوقي پایلو او آثارو څخه هم یادونه شوې نه ده.

د ویانا د ۱۹۶۹ م کال د معاهداتو حقوقو کنوانسیون له مخې د معاهدې تعریف: د یاد کنوانسیون لومړی مادې لومړی بند د معاهدې د تعریف به اړه داسې صراحت لري: (معاهده عبارت له هغه توافق څخه ده چې د دولتونو ترمنځ د نړیوالو حقوقو په اړانه کې په لیکلې بڼه منعقد کیږي، پرته له ځانګړې عنوان او له دې چې په یو واحد سند یا څو اړوندو سندونو کې منعکس شوی وي (ویانا کنوانسیون، ۱۹۶۹م، ۱(۱)).

د ویانا د ۱۹۸۶ م کال د معاهداتو حقوقو کنوانسیون هم معاهدې ته د پورتني تعریف ورته یو تعریف ذکر کړی دی. دغه کنوانسیون معاهده داسې تعریف کړې: معاهده د هغه بین المللي توافق په معنی ده چې د هېوادونو ترمنځ په کتبي ډول منعقد کیږي او نړیوال حقوقو ته ژمن وي (د نړیوالو معاهداتو کنوانسیون، ۱۹۸۶م، ۲ماده).

په پورتنیو تعریفونو کې هم یوازې د دولتونو یادونه شوې او نړیوالو حقوقو د نورو شخصیتونو یادونه پکې شوې نه ده، په داسې حال کې د دولتونو سربېره د نړیوالو عمومي حقوقو نور شخصیتونه هم د نړیوالو معاهداتو د ترسره کولو صلاحیت لري، له بل لوري پورتني تعریفونه یوازې د معاهدې شکلي تعریفونه دي او د معاهدې ماهیت ته یې کوم پاملرنه کړې نه ده.

د نړیوالې معاهدې لپاره غوره او بشپړ تعریف استاد پوهاند دوکتور مصطفی نیازي وړاندې کړی چې معاهده داسې تعریفوي:

"هغه لیکلی اتفاق دی چې د نړیوالو حقوقي اشخاصو ترمنځ له دې کبله رامنځته کیږي چې د نړیوالو اسنادو د قواعدو مطابق ځانګړې حقوقي پایلې منځته راوړي "(نیازی، ۱۳۹۶).

پورتنی تعریف د معاهدې یو بشپړ تعریف دی ځکه له یو لوري په پورتني تعریف کې د نړیوالو حقوقي شخصیتونو یادونه شوې او د نړیوالو عمومي حقوقو په شخصیتونو، کې دولتونه او نړیوال سازمانونه شاملیږي او له بل لوري د نړیوالو عمومي حقوقو د اصولو په رڼا کې د حقوقي او قانوني پایلو یادونه پکې شوې او دا خبره اړینه ده چې د نړیوالو معاهداتو څخه د نړیوالو عمومي حقوقو د اصولو په رڼا کې د معاهدې لوریو ته حقوقي پایلې او آثار

رامنځ ته کيږي؛ نو په همدې اساس پورتنی تعريف د نړيوالې معاهدې يو بشپړ تعريف ګڼل کيږي.

### ۲.۲.د شرط حق پېژندنه

د معاهداتو حقوقو په اړه د وين کنوانسيون په دويمه ماده کې د شرط حق داسې تعريف شوی دی: « د شرط حق له يوې اړخيزې بيانيې څخه عبارت دی چې يو هېواد يې تر هر نوم يا عبارت لاندې د يوې معاهدې تصويب، منلو تاييد يا له هغې سره د يوځای کېدو پرمهال صادروي او د هغې له مخې د خپل ځان په اړه د معاهدې ځينو حقوقي مقرراتو د اثارو تعديل يا نه ګډون په اړه خپل قصد بيانوي»(ويانا کنوانسيون، ۱۹۶۹م، ۲).

## ۳. پر بين المللي معاهداتو د حق شرط اغيزې

### ۱.۳. د شرط حق منل او پر لوريو يې اغېزې

د ويانا په ۱۹۶۹ ز کال د معاهداتو حقوقو کنوانسيون کې د حق شرط منلو يا مخالفت تر نامه لاندې اړوند مقررات راغلي چې هيڅ شرط نه شي کيدای د يو هېواد له خوښې پرته پرهغه تحميل شي يا د کنوانسيون بېلابېل حالتونه. دا چې دغه رضايت د حق شرط له اعلان وړاندې وي يا وروسته پيش بيني کړې دي. ددغه کنوانسيون د ۲۰ مادې په لومړي بند کې راغلي دي: (هغه شرط حق چې د يوې معاهدې له لوري يې يادونه شوې وي د ژمنو هېوادونو هوکړې ته اړتيا نه لري، مګر په هغه صورت کې اړين دي چې د هغوی د هوکړې الزاميت په معاهده کې قيد شوی وي، د حق شرط په اړه د نورو هېوادونو هوکړه چې په معاهده کې تجويز شوې وي اړينه نه بولي؛ خو په عمل کې په معاهده کې د شرط حق تجويز کيدای شي په بيلابيلو بڼو رامنځته شي او په لاندې ډول ابهامونه له ځان سره ولري.

ددې امکان شته چې حق شرط په معاهده کې په صريح نه بلکې په ضمني تو ګه راوړل شوی وي. په دې صورت کې دا پوښتنه پيدا کيږي چې ايا کولای شو د ژمنو هېوادونو د هوکړې پرته او دمعاهدې په ضمني تجويز سره شرط عملي کړو او که نه ؟ د ۲۰ مادې له لومړي بند څخه په ډاګه کيږي چې د شرط حق ضمني تجويز بسنه نه کوي او د ژمنو هېوادونو هوکړه او رضايت اړين او حتمي دی.

یا په بل عبارت ویلي شو هغه شرط حق چې په ښکاره او څرګند ډول په معاهده کې نه وي راوړل شوی د ژمنو هېوادونو هوکړه ورته لازمي ده (الکوزی، ۱۳۷۸هـ).

ددې امکان شته چې د شرط حق په معاهده کې په ځانګړي ډول نه بلکې په عمومي ډول تجویز شوی وي. په دې صورت کې دا پوښتنه مطرح کیږي چې په معاهده کې په عمومي ډول د شرط حق تجویز ته په پاملرنې سره ایا هېوادونه کولای شي د شرط حق چې د معاهدې بېلابېلو قواعدو ته مایل وي، اعلان کړي او که نه ؟ د ۲۰ مادې له لومړي بند څخه په ډاګه کیږي؛ د حق شرط باید په ځانګړي ډول نه په عمومي ډول تجویز شوې وي. په دې صورت کې بیا د ژمنو هېوادونو رضایت او هوکړې ته اړتیا نه لیدل کیږي. د ۲۰ مادې د لومړي بند وروستي عبارت سره امکان لري چې په یوه معاهده کې د شرط حق د څرګند او ښکاره تجویز سربیره د غړیو هېوادونو د هوکړې الزامیت هم قید شوی وي.

په سر کې داسې برېښي چې دغه عبارت ددې بند له لومړي بند له لومړي عبارت سره ټکر ولري؛ خو باید دې ته مو پام وي چې د کنوانسیون چمتو کوونکو داسې موارد په پآم کې درلودل چې د معاهدې د لومړنیو غړیو شمیر کم وو، وروسته د نورو دولتونو په الحاق سره یې شمیر زیات شوی دی. په داسې مواردو کې کیدای شي په یوه معاهده کې د شرط حق د منلو سربیره په معاهده کې د هغه څرګند تجویز د ژمنو هېوادونو په هوکړې پورې وتړل شي .

بل ابهام په دې ماده کې دادی چې د شرط حق په کومو حالاتو کې حقوقي اغیزې لري؟ ایا د شرط حق د رایو په اتفاق سره منل شوی یا دغړیو اکثریت رایه بسنه کوي؟ او یا دا چې انفرادي منل هم کافي دي؟

کنوانسیون پورتني درې معیارونه په پآم کې نیولي او بېلابېل موقعیتونو ته یې په پاملرنې سره مقررات وضع کړي دي چې په لاندې ډول یې تر څېړنې لاندې نیسو.

د ویاناکنوانسیون د ۲۰مادې په دویم بندکې راغلي دي: (په هغه مورد کې چې د مذاکره کوونکو د محدود شمیر او دغه راز د معاهدې دموضوع او موخې

څخه جوته شي چې د معاهدې په وړاندې د الزامیت په برخه کې د هر غړي هېواد رضایت اړین شر ط دي نو حق شرط هم باید د معاهدې د ټولو غړیو له لوري ومنل شي).

په هغه صورت کې چې معاهدې کوم خاص وضعیت او شرایط نه وي ټاکلي، شرط په دوو حالاتو کې د منلو وړ دی: لومړی؛ د یو طرفه اعلامیې په واسطه په صریح ډول د شرط منل چې په هر وخت کې رامنځته کېدلی شي او که چېرته یې د شرط له تاییدولو وړاندې منلی وي، د شرط وړاندې کوونکي لخوا یې بیا ځل د شرط له تاییدولو وروسته د منلو اړتیا نشته. دویم؛ په ضمني بڼه د ۱۲ مې مادې د سکوت له مخې چې په شرط پورې اړوند ابلاغیه له کوم وخته تر لاسه کړل شوه.

که چېرته شرط حق د سازمان په اساسنامې پورې اړوندوي، د شرط حق منل د سازمان د باصلاحیته ارګان پر تصویب پورې تړاو لري؛ خو دا چې بسنټلیک په بل ډول پیشبیني کړې وي. د سازمان د مقرراتو په پام کې نیولو سره باصلاحیته ارګان باید پر بنسټلیک وارد شوی شرط په ضمني بڼه ونه مني. دا ځکه لکه څنګه چې سازمان شرط اینودونکی اړخ د یو غړي په صفت مني، همدا منل په ټولو غړو اطلاق کیږي او د هر یوه بېلابېل منلو ته اړتیا نه لیدل کیږي.

په هغه صورت کې چې اساسنامه لا لازم الاجرا شوې نه وي او سازمان هم تشکیل شوی نه وي او لاسلیک کوونکی غړی تر ۱۲ میاشتو پورې پر شرط حق اعتراض ونه کړي، شرط منل شوی ګڼل کیږي.

د غه قبلونه که د سازمان لخوا د اساسنامې له لازم الاجرا کېدو څخه وروسته او یا د لاسلیک کوونکو غړو لخوا مخکې له لازم الاجرا کېدو څخه وي، پر شرط حق د ارزونې، نقد یا د باور له لزوم څخه نه ګڼل کیږي.

له دې وړاندې مو ددوه اړخیزه او څو اړخیز معاهدو په اړه د رایو په اتفاق د حق شرط منلو قاعده ذکر کړه په دې ځای کې غواړو دانقطه ور زیاته کړو چې ددې قاعدې د عملي کیدو لپاره باید دوه نورې قاعدې په پام کې ونیسو.

**۳.۱.۱. د لوریو لخوا د شرط حق د منلو قاعدې**

**۳.۱.۱.۱. د رایو په اتفاق د حق شرط منلو قاعده**

په هغه صورت کې چې د رایو په اتفاق د حق شرط منلو قاعده د عملي کېدو وړ ده چې د معاهدې په اړه په خبرو کې د ګډون والو هېوادونو شمیر محدود وي. دلته دا پوښتنه مطرح کیږي چې د معاهدې دغړیو د شمیر د زیاتوالي په صورت کې هم باید له همدې قاعدې ګټه پورته شي اوکه نه ؟ داسې بریښي چې د مذاکرې د ګډونوالو د شمیر قاعده نه شو کولای د معاهدې موضوع او موخې له قاعدې پرته عملي کړو ځکه د معاهدې موضوع او موخه د معاهدې بشپړتیا او دا چې په ټولو یو شان عملي شي، زیان اړوي (بیګدلی، ۱۳۸۵هـ).

**۲.۱.۱.۳. د معاهدې موضوع او موخې په پام کې نیولو قاعده**

په اصل کې دا شرط حق د لومړي شرط حق بشپړونکی دی او د دواړو شرطونو په شتون کې کولای شو د ۲۰ مادې ۲ بند عملي کړو. دا شرط دا نقطه په ډاګه کوي؛ هغه معاهدې چې قراردادي ماهیت لري او موخه یې دغړیو د حقوقو او ژمنو توازن ساتل دي؛ باید معاهده د ټولو غړیو لپاره یوشان وي؛ د ویانا کنوانسیون د ۲۰ مادې په ۳ بند کې راغلي (په هغه صورت کې چې معاهده د یو نړیوال سازمان د جوړیدو سند وي د شرط منل د یاد سازمان په باصلاحیته ارګان پورې اړه لري، مګر دا چې معاهدې کوم بل ترتیب ښودلی وي). د شرط حق د رایو په اکثریت منلو له قاعدې دنړیوالو سازمانونودجوړېدو په سندونو کې ګټه پورته کیږي. له دې قاعدې څخه دګټې اخیستنې لامل کیدای شي دا وي چې د نړیوالو سازمانونو تصمیمونه د رایو په اکثریت نیول کیږي.

د یادونې وړ ده د اعلان شویو شرطونو په تړاو د سازمان د باصلاحیته ارګان اقدام هغه مهال باصلاحیته ارګان وي او د هېوادونو د نظر ترلاسه کولو ته اړتیا نشته. کیدای شي د سازمان د جوړیدو سند تر نافذیدو وړاندې د اعلان شویو شرطونو په اړه د هېوادونو ترمنځ د نظر اختلاف رامنځته شي، په دې صورت کې به د اختلاف له منځه وړلو له پاره کوم ارګان ته مخ کیږي؟ په دې اړه باید ووایو چې د سازمان د جوړیدوسند له نافذید و وړاندې د شرط وړاندې کول حقوقي اغیزه نه لري او تر نافذیدو وروسته قانوني ارګان هماغه د سازمان باصلاحیته ارګان دی او دشرطونو مسلې ته به حل لاره مومي .

کله نا کله کیدای شي د باصلاحیته ارګان دتشخیص په اړه دنظرا ختلاف رامنځته شي. هغه په دې معنی چې ځینې وایي د سازمان باصلاحیته ارګان د سازمان عمومي غونډه او ځینې نور بیا وایي چې دغه ارګان د سازمان اجرائیوي شوری ده، په دې حالت کې باید دې خبرې ته اشاره وشي چې د سازمان عمومي غونډه چې د معاهدې ټول غړي پکې ګډون کوي، د سازمان له اجرائیوي شوری څخه چې د غړیو شمیر یې محدود وي، باصلاحیته ده.

د ۲۰ مادې په څلورم بند کې راغلي چې که چیرته شرطونه په پورتنیو بندونو کې شامل نه وي او معاهدې کومه بله لاره هم نه وي په ډاګه کړې:

الف) دیو هېواد شرط حق منل ددې لامل کیږي چې دواړه هېوادونه دمعاهدې په وړاندې د اجرا وړګرځېدو په صورت کې یا د اجرا وړ ګرځېدو له پیل سره د یو بل پر وړاندې د معاهدې لوري ګڼل کیږي؛

ب) د یو هېواد شرط حق په وړاندې دیو غړي هېواد مخالفت د مخالف او شرط وړاندې کوونکي هېواد ترمنځ دمعاهدې داجرا وړ ګرځېدو لامل نه ګرځي؛ خو په هغه صورت کې چې مخالف هېواد د خپل مخالفت موخه او هدف په بشپړ ډول په ډاګه کړی وي؛

ج) هغه ګام چې دمعاهدې په وړاندې د یو دولت د الزامیت په ډاګه کول منعکس کړي سربېره پر دې د شرط حق پکې نغښتې وي، همدا چې یو غړی هېواد د شرط حق ومني، قانوني بڼه خپلوي(عسکري، ۱۳۹۰هـ).

لومړۍ برخه د شرط وړاندې کوونکي او شرط منوونکي هېواد ترمنځ د شرط حق د نسبي والي قاعده په ډاګه کوي. له دې برخې سره سم د معاهدې تر نافذیدو وروسته شرط حق منل د شرط د وړاندې کوونکي او منوونکي هېوادونو ترمنځ د معاهدې د حقوقي اغیزو او د هغو مقرراتو د تعدیل لامل ګرځي. له دې نه دا په ډاګه کیږي چې د معاهدې د یو غړي له لوري د شرط حق په منلو سره د شرط حق قانوني جنبې غوره کوي. داسې بریښي چې دا اصول د معاهدې د یو غړي له لوري د شرط حق منل شرط حق ته قانوني بڼه ورکوي په داسې حال کې چې د ویانا کنوانسیون ۱۹ مادې (ج) بند وایي چې شرط حق هغه مهال اعتبا رپیداکوي چې د معاهدې د موضوع او موخې سره په ټکر کې نه وي.

په پورتنیو اصولو کې دوه پام وړ ټکي دي؛ یو دا چې که چیرې شرط حق د معاهدې آن د موخې او موضوع سره په ټکر کې هم وي؛ خو چې د یو غړي له لوري ومنل شي، معتبر دی او بل دا چې پورتني دوه اصول د یو بل سره په ټکر کې نه دي، بلکې د ویانا کنوانسیون په پآم کې لري چې د معاهدې د موضوع او موخې سره د اختلاف او نه اختلاف د تشخیص او په ګوته کولو مسله هېوادونو ته وسپاري.

که چیرته وروسته ټکي درست وګڼل شي دا به منفي پایلې ولري؛ ځکه هېوادونه به د خپلو ګټو پر بنسټ نه دا چې د معاهدې د موضوع او موخې سره په ټکر کې دي؛ که شرطونه ومني یا به یې مخالفت کوي. که چیرته لومړی ټکی سم او پر ځای وبلل شي؛ نو دې پایلې ته رسیږو چې د کنوانسیون ۲۰ مادې څلورم بند او (الف) برخې د یاد کنوانسیو ن ۱۹ مادې ج بند منسوخ کړی دی. د همدې مادې د څلورم بند د (ج) برخې څخه هم کولی شو ددې ټکي د تائید له پاره استفاده وکړو؛ ځکه چې دغه اصول په ډاګه کوي چې د حق شرط د اعتبار او قانوني اغیزې هغه مهال پیلیږي چې د غړیو هېوادونو څخه یو یې ومني. په دغو اصولو کې پرته له دې چې د شرط حق د معاهدې له موضوع او موخې سره مطابقت ولري او که نه ؟ خو شرط دا وړاندې کړی چې یو ژمن هېواد هغه ومني. داسې برېښي چې کنوانسیون هڅه کوي په دې برخه کې نرمښت او اسانتیا رامنځته کړي. له همدې امله ویلای شو چې شرط حق هغه مهال قانوني بڼه خپلوي چې د معاهدې د یولوري له خوا ومنل شي (عسکري، ۱۳۹۰هـ)

د شرط وړاندې کوونکي هېواد پروړاندې د معاهدې د یو غړي هېواد د مخالفت په اړه د کنوانسیون د ۲۰ مادې د څلورم بند په (ب) برخه کې راغلي چې د یو ژمن یا غړي هېواد مخالفت، د مخالفت کوونکي او شرط وړاندې کوونکي هېواد ترمنځ دمعاهدې د اجرا وړ ګرځیدو مخه نشي نیولی، مګر د اچې مخالفت کوونکی د خپل مخالفت موخه په ډاګه کړي. پورتنۍ قاعده دویانا کنوانسیون له خلاقیتونو څخه بلل کیږي؛ ځکه له دې وړاندې هېوادونو او دغه راز د نړیوالې محکمې له نظره دیو غړي هېواد مخالفت د اجرا وړ ګرځیدو او نافذیدو مانع ګرځیده. له دې قاعدې نه دا پایله ترلاسه کولی شو چې د مخالفت کوونکي او شرط ایښودونکي هېواد ترمنځ اړیکې

یوازې د معاهدې په هغو برخو کې چې په وړاندې یې شرط ایښودل کیده، نه تامینیدای او نورې برخې د اجرا وړ وې. ددې موضوع د ښه ثبوت لپاره د نژادي تبعیض په اړه د افغانستان غوره کړی دریځ د یادونې وړ دی.

د کنوانسیون د ۲۰ مادې د ۴ بند د (ب) برخې وروستي عبارتونه په ډاګه کوي چې: "د ا چې مخالفت کوونکي هېواد په بشپړ ډول د خپل مخالفت موخه په ډاګه کړې"

دغه عبارت مخالفت کوونکي هېواد ته پراخ واک په لاس کې ورکوي. هغه په دې ډول چې کولای شو ووایو دمعاهدې نافذیدل یا نه نافذیدل د مخالفت کوونکي هېواد په ارادې پورې اړه لري(موسی زاده، ۱۳۹۳هـ).

د ۲۰ مادې پنځم بند وایي : " د ۲ او۴ بند د پلي کیدو په موخه که چیرته معاهدې کوم بل ترتیب نه وي وړاندې کړی د یو هېواد شرط حق هغه مهال دبل هېواد له لوري منل شوی ګڼل کیږي چې وروستي هېواد د شرط په وړاندې خپل مخالفت د شرط څخه د خبریدو یا دمعاهدې پر وړاندې دخپل الزامیت د اعلان تر نیټې یو کال وروسته نه وي په ډاګه کړی". د کنوانسیون د ۲۰ مادې وروستي بند د شرط حق د ضمني منلو د مسلې په تړاو ځینې اصول په ډاګه کړي چې مهم یې عبارت دي له:

د شرط حق منل یوازې په صریح ډول د شرط حق د منلو اعلان نه دی، بلکې د اعلان شوي شرط په وړاندې د هېوادونو چوپتیا هم د شرط حق منلو په معنی ده. له شرط سره مخالفت، د منلو برخلاف باید څرګند او روښانه وي. د هیڅ هېواد له لوري د ضمني مخالفت ادعا د منلو وړ نه ده؛ له شرط سره په ډاګه شوي مخالفت ته داعتبار ورکولو لپاره هېوادونه باید د معاهدې په وړاندې خپل الزامیت مخکې یاهم له هغې سره په یوه وخت کې اعلان کړې وي؛ هغه هېوادونه چې دمعاهدې په وړاندې خپل الزامیت مخکې له مخکې اعلان کړې وي، د شرط حق د اعلان د نېټې څخه تر ۱۲ میاشتو پورې ددې فرصت لري چې د شرط په وړاندې خپل مخالفت په ډاګه کړي، پرته له دې ددغو هېوادونو له لوري شرط حق منل کیږي؛ هغه هېوادونه چې د شرط حق له وړاندې کولو مخکې یې د معاهدې په وړاندې خپل الزامیت اعلان کړی نه وي، د شرط حق د اعلان د نېټې وروسته د ۱۲ میاشتو تر پای ته درسیدو وړاندې د معاهدې په وړاندې د نه رضایت په صورت کې

ددې فرصت لري چې د شرط حق په وړاندې خپل مخالفت په ډاګه کړي، پرته له دې شرط حق د هغو له لوري منل شوی بلل کیږي.

هغه هېوادونه چې د شرط د اعلان د نیټې وروسته د ۱۲ میاشتو تر پای ته رسیدو پورې د معاهدې پر وړاندې د خپل الزامیت اعلان ونه کړي، کولای شي د الزامیت د اعلان پر مهال له شرط حق سره خپل مخالفت وښيي، پرته له دې شرط حق د هغو له لوري منل شوی ګڼل کیږي (موسی زاده، ۱۳۹۳هـ).

**۳.۱.۲. د شرط حق د منلو معیارونه**

**۳.۱.۲.۱. د شرط حق منل د شخصي او موضوعي معیار له مخې**

مخکې څرګنده شوه چې دویانا (1969) کنوانسیون دیته اجازه ورکړې چې د معاهدې په متن یا یو څومتونو خپل شرط حق څرګند کړي، مګر ددې سره سره یې په ځینو حالاتو کې د شرط حق قبلول رد کړي چې دا خپله د معاهدې په متونو پورې تړاو لري. ددغو کړنو یوه برخه په ۱۹ ماده (الف) او (با) فقره کې ذکر شوي او ځینې د معاهدې د اطرافو په اراده پورې تړاو لري چې دغه عام اصل په صریح اعتراض سره ردوي او دا په ۲۰ ماده ۴ فقره د الف په فقره کې ذکر شوي. البته په دغه حالت کې به رد د دولت په شخصي دلیل ولاړ وي، په دې معنی چې دغه اعتراض کوونکي هېواد به نه غواړي ددغې معاهدې پر اساس له شرط محق کوونکي هېواد سره اړیکې تبادله کړي. د یادونې وړده چې د شرط حق منل یا نه منل په دې دوه حالاتو کې کومه غټه ستونزه نه رامنځته کوي.

البته ستونزه هغه مهال رامنځته کیږي چې استناد یې موضوعي معیار ته وي، یعنې د شرط حق منل یا ردول هغه چې دویانا کنوانسیون په ۱۹ ماده د (ج) په فقره کې راغلي؛ ځکه په دې ماده کې هغه نظرتقنین شوی چې دوی د مشورې په توګه نړیوالې محکمې ته وړاندې کړی و او لندیز یې دا و چې شرط حق هغه مها ل قابل د منلو ندی چې د معاهدې د موضوع یا هدف سره په ټکر کې وي.

البته ستونزه په دې کې ده چې دا به څوک معلوموي چې شرط حق د معاهدې د موضوع یا هدف سره په ټکر کې دی. په دې معنی چې کومه مرجع به دا معلوموي؟ یا په بل عبارت ایا د نورو غړو هېوادونو له لوري د شرط حق

قبلول شرط حق ددغه هېواد او نورو لوریو هېوادونو ترمنځ په اړیکو باندې اغېز غورځوي، که څه هم چې د موضوع یا هدف له مخې د معاهدې مخالف وي؟ یا ددې عکس که چیرې حق شرط په قاطع توګه رد شي نو ایا دا ددې مانع ګرځي چې محق شرط هېواد به دنورو اطرافو هېوادونو سره اړیکې نه قایموي که څه هم چې حق شرط د موضوع یا هدف د معاهدې سره په ټکر کې نه وي(عسکري، ۱۳۹۰هـ).

### ۲.۳. د شرط په حق باندې اعتراض

د نړیوالو حقوقو لارښود په ۶.۲.۱ مواردو کې په شرط باندې اعتراض پدې ډول تعریف شوې ده؛ دا د یو لوري لخوا اعلامیه ده یعنې یو دولت یا نړیوال سازمان د بل دولت یا نړیوال سازمان په لګول شوي شرط باندې نیوکه په مکتوبي ډول صادروي، پدې هدف چې د هغې مخالف دی یا یې اثار نه مني؛ خو غوره دا ده چې د خپل اعتراض دلایل هم د ځانه سره ولري ( The Guide to Practice of Reservation).

### ۱.۲.۳. اعتراض کوونکي

هغه څوک چې په لګول شوي شرط حق باندې اعتراض کولی شي عبارت دي له: د تړون لوري (هر دولت یا نړیوال سازمان چې په تړون کې دخیل وي؛ دوی ته د تړون حقوقي اثار راجع کیږي، مګر هر کله چې د تړون څخه ووتل؛ نو بیا ورته د تړون حقوقي اثار نه راجع کیږي" ( The Guide to Practice of Reservation, 2.6.3.).

### ۲.۲.۳. په شرط حق د اعتراض اثار

د ۱۹۶۹ ز کال د معاهداتو حقوقو کنوانسیون څلورمې مادې (۴) بند (ب) جز کې راغلي؛ په شرط باندې اعتراض، د شرط ایښودونکي او معترض ترمنځ د معاهدې د لازم الاجرا مانع نه ګرځي، مګر دا چې اعتراض کوونکي په صریح او قطعي ډول د ځان او شرط ایښودونکي ترمنځ د معاهدې د اجراء مخالفت وکړي.

په هغه صورت کې په شرط اعتراض د شرط د اجراء مانع ګرځي چې شرط د دولت یا نړیوال سازمان لپاره اثر رامنځته کړي. په معتبر شرط اعتراض د معترض او شرط ایښودونکي ترمنځ د معاهدې لازم الاجرا کیدو مانع نه ګرځي، مګر دا چې د معاهدې له اجراء کېدو څخه وړاندې معترض د خپل

ځان او شرط ایښودونکي ترمنځ د معاهدې د نه اجراء په اړه صراحت وړاندې کړي. د معترض او شرط ایښودونکي ترمنځ د معاهدې د اجراء په صورت کې د دوی ترمنځ قراردادي اړیکه په هغو حدودو کې نه تطبیق کیږي چې په شرط کې تاکل شوي دي.

که چیرې د معاهدې هغه مقررات چې پرې شرط حق نه دی وضع شوی، له هغو مقرراتو سره نژدې اړیکه ولري چې پرې شرط وضع شوی دی، د شرط مقرراتو په څېر د اجرء وړ نه دي. که چیرې یو شرط د معاهدې مقررات استثناء کړي وي او د دې شرط په تړاو مخالفت وشي، دغه مخالفت حقوقي اثر لري او د شرط په حدودو کې معاهده د شرط ایښودونکي او معترض ترمنځ نه اجراء کیږي.

که چېرې د معاهدې مقرره تعدیل شي، بیا که ورسره مخالفت وشي، دغه مخالفت حقوقي اغېز نه لري، مګر دا چې دغه مخالفت په لوړه کچه وي (The Guide to Practice of Reservation,4.3).

**۳.۲.۳. د شرط په حق باندې د اعتراض اړوند ځینې بېلګې**

لومړی: که د یو دولت په شرط حق باندې د معاهدې د نورو غړو دولتونو لخوا اعتراض وشي، اعتراض د شرط حق ایښودونکي او معترض دولت ترمنځ د معاهدې د اجرا مانع کېدلی نشي، مګر داچې د معترض دولت قصد په معاهده کې د شرط حق ایښودونکي دولت د غړیتوب پر نه منلو دلالت وکړي.

په لومړي سر کې معاهده ددوی ترمنځ په بشپړ ډول لازم الاجرا نه ګڼل کیږي بلکې د شرط حق اړوند مقرراتو پلي کېدل له پامه غورځول کیږي.

مګر دغه اصول شرط حق پورې اړوند مجاز دي، له دې مخې که معترض دولت له شرط حق ایښودونکي دولت سره د معاهدې په لاز م الاجرا کېدو مخالفت ونه کړي، شرط حق پورې اړوند مقررات به یې ترمنځ اجرا نه شي. خو که چېرته شرط حق قابل د منلو نه وي، معترض دولت چې شرط حق یې د کنوانسیون له موخې او موضوع سره په ټکر کې ګڼلي وي، نشي کولي د کنوانسیون د پلي کېدو پرووړاندې شرط پورې اړوند مقررات لرې

کړي. یعنې هغه مقررات چې پلي کول یې د کنوانسیون دتحقق لپاره اړین دي، ومني.

دویم: د شرط د بې باوره کېدو له امله د تصویب یا الحاق بې باوره کېدل: دا ټاکنه په معاهده کې د دولت د رضایت څخه د ملاتړ په اصل ټینګار کوي. د دغه اصل له مخې هېڅ دولت له خپلې خوښې پرته د معاهدې پر منلو مکلف نه دی. دا اصل د نړیوالو معاهداتو د حقوقي اعتبار بنسټ ږدي. یعنې هغه توافق چې د معاهدې جنس و ګوهر تشکیلوي، د دولتونو برابري او یوځای کېدو رضایت ده. په دې اساس د دولتونو ترمنځ هره معاهداتي مقرره چې تصویب کړې یې وي، یوازې او یوازې په هغه حالت کې الزامي بڼه غوره کوي چې د دوی ترمنځ په مشترک رضایت او خوښی رامنځته شوې وي (دلیلي، ۱۳۹۶هـ).

دریيم: له اصل تصویب یا الحاق څخه د فاسد شرط حق لرې کېدل او د دولت متعهد کېدل له ټولې معاهدې سره؛ دا ټاکنه د بشري حقوقو د ملاتړو ناظرو ارګانونو لخوا منل کیږي، په بشري حقوقو کې د یوې معاهدې ساتنه له ځانګړي اهمیت څخه برخمنه ده او نه باید د نړیوالو معاهداتو د تصویب قرباني شي (قضایلي، ۱۳۸۵).

کله چې دولت له کومې معاهدې سره یوځای کیږي، په حقیقت کې د هغه موضوع او هدف مني. اوس که چېرته له دغې یوځای کېدنې سره داسې شرط حق هم وي چې د موضوع او هدف سره سازګار نه وي، باید له یوځای کېدو څخه جلا شي؛ ځکه نور کوم منطق نشته چې دولت دې له معاهدې سره وتړل شي او هغه دې له موضوع او هدف سره برابر نه وي.

### ۳.۳. د شرط حق نه منل او پر لوریو یې اغېزې

د حق شرط حقوقي اغیزې اوله هغه سره مخالفت ترسرلیک لاندې د ویانا کنوانسیون ۱۲ مادې په سر کې په لومړي او دویم بندونو کې د حق شرط حقوقي اغیزې او بیا په دریم بند کې د حق شرط سره د مخالفت حقوقي اغیزې تر څېړنې لاندې نیسو.

د ویانا د ۱۹۶۹ م کال د معاهداتو حقوقو کنوانسیون ۲۱ مادې په لومړي بند کې راغلي چې: هغه شرط حق چې د ۱۹، ۲۰ او ۲۱ مادې سره سم د

معاهدې د بل غړي پروړاندې اینښودل شوی وي: الف) د هغه هېواد له پآره چې شرط حق یې وړاندي کړي وي د معاهدې هغه برخه او په هماغه کچه د هغې مقررات چې پروړاندې شرط وړاندې شوی وي د مقابل لوري له پاره تعدیلیږي ؛ ب- د معاهدې د بل غړي له پاره دمعاهدې هماغه مقررات او په هماغه کچه د هغه هېواد له پاره چې له شرط حق نه یې ګټه پورته کړې وي، تعدیلیږي.

پورتنی بند د حق شرط دمتقابلې اغیزې ته اشاره کوي چې له مخې یې دواړه هېوادونه شرط حق وړاندې کوونکي او منوونکي د حق شرط له قوانینو څخه په مساوي ډول برخمنیږي. یا په بل عبارت دا چې شرط حق وړاندې کوونکي په دې برخه کې څومره ښیګڼې او معافیتونه ترلاسه کوي په هماغه کچه شرط منوونکی هېواد هم له دې ښیګڼو او معافیتونو څخه برخمنیږي د کنوانسیون د ۲۱ مادې دویم بند وایي: (د حق شرط پخپله د معاهدې د ټولو غړیو له پاره د معاهدې مقررات نه تعدیلوي.) د غه بند د حق شرط د حقوقي اغېزو د نسبيت قاعدې ته په اشاره سره وايي چې د شرط حق یوازې پر شرط وړاندې کوونکي اوشرط منوونکي هېواد باندې حقوقي اغیزه لري او په هیڅ صورت دمعاهدې ټول غړي تر اغیز لاندې نه راولي.

د نسبيت قاعده په اصل کې له شرط وړاندې کوونکي هېواد سره دحقوقي اړیکو په برخه کې د معاهدې د غړیو هېوادونو د ازادۍ او خپلواکۍ ضمانت کوي د نسبيت قاعدې د نشتوالي په صورت کې باید شرط حق د معاهدې د ټولو غړیو له لوري ومنل شي او که چیرته یا د شرط حق د ټول غړیو له لوري ومنل شي؛ نو بیا به د حق شرط هیڅ شتون ونه لري اود حق شرط به د معاهدې پر ټولو غړو الزامي او د معاهدې یو جز وګرځي د ۲۱ مادې ۳ بند په ډاګه کوي چې که چیرې یو هېواد چې له شرط سره مخالفت کوي د معاهدې د نافذیدو سره د یاد هېواد او هغه هېواد ترمنځ چې شرط حق وړاندې کړي د معاهدې هغه برخه او مقررات چې پروړاندې یې شرط حق وړاندې شوی، د عملي کیدو وړ نه دي (دلیلي، ۱۳۹۶هـ).

### ۳. ۳. ۱. د شرط حق په وړاندې د غبرګون اغیزې

دولتونه ځیني وخت د شرط حق په وړاندې د منلو، اعتراض او یا چوپتیا په شکل غبرګون ښيي، چې همدې ته د شرط حق په وړاندې غبرګون ویل

کیږي. ددې لپاره چې د شرط حق په وړاندې غبرګون ښه روښانه شي د شرط حق په وړاندې د غبرګون حقوقي اثار تر بحث لاندې نیسو:

### ۳. ۳. ۲. نامعتبر شرط حق ته د غبرګون حقوقي آثار

د معاهداتو د حقوقو د کنوانسیون له مخې، له یوې خوا د نړیوالو حقوقو له آمره قواعدو سره د اجبار او یا تناقض له امله د معاهداتو د بې اعتبارۍ او له بلې خوا د عدم صلاحیت، تېروتنې، تقلب او فساد له امله د بې اعتبارۍ ښکاره توپیر موجود دی. د نړیوالو حقوقو له آمره قواعدو سره د اجبار او یا تناقض په صورت کې د ویانا کنوانسیون د ۵۱، ۵۲ او ۵۳ مادو له مخې معاهده د غړو له غوښتنې پرته خود به خوده باطله ده. د ویانا کنوانسیون د ۵۴ مادې له مخې غړي نشي کولی وروسته د معاهدې د اعتبار په برخه کې توافق وکړي.

دا بې باوري به په ټولې معاهدې اغېزښندونکې وي. برعکس د بې باورۍ د نورو دلایلو پر بنسټ، بې باوري باید د معاهدې د یو غړي دولت لخوا وغوښتل شي. پدې شرایطو کې غړي کیدای شي په صریح یا ضمني ډول د معاهدې په اعتبار توافق وکړي او کیدای شي د بې باورۍ تر خاصو شرایطو لاندې یوازې د معاهدې په ځینو مادو اغېز وکړي (Commentary to Draft Article 41).

کولی شو د شرطونو په برخه کې هم لدې اصولو کار واخلو او په دې صورت کې هغه شرط حقونه چې د اجبار او ګواښ له لارې برابر شوي دي او هغه شرط حقونه چې د عمومي نړیوالو حقوقو له آمره نورمونو سره په ټکر کې دي په خپله باطلیږي. د معاهدې نور غړي نشي کولی دا ډول شرط حقونه د سکوت له لارې په صریح یا ضمني ډول ومني. په دې صورت کې شرط حق ورکوونکی دولت د معاهدې غړی نه ګڼل کیږي. په بل عبارت د شرط حق بې باوري په معاهده کې د دولت د غړیتوب په بې باورۍ پای ته رسیږي.

د عدم صلاحیت، تېروتنې، تقلب او فساد له امله د شرط حق د بې باورۍ په حالاتو کې شرط حق په خپله نه باطلیږي، مګر دا چې د معاهدې د یو غړي له خوا یې بطلان غوښتل شوی وي. په هغه صورت کې چې دا ډول غوښتنه

شوې وي، شرط حق باطلېږي. په پایله کې د شرط حق ورکوونکي دولت او نورو غړو دولتونو ترمنځ معاهده نه پلې کیږي.

د دغه ډول شرایطو په بې اعتبارۍ کې یوازې شرط شاملېږي، نه ټوله معاهده؛ خو معاهد د غړو ترمنځ لازم الاجرا پاتې وي او د شرط حق د موضوع اړوند مادې د شرط حق ورکوونکي دولت او نورو غړو ترمنځ د پلي کېدو وړ نه دي.

**۴.۳. نامشروع شرط حقونو ته د غبرګون حقوقي اثار**

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، نامشروع شرط حق هغه دی چې د معاهدې په واسطه یې تنظیم منع شوی وي. کله چې یو دولت خپل رضایت په هغې معاهده کې چې شرط حق پکې لازمي منع شوی وي اعلانوي او په ورته وخت کې یو بل حق شرط وړاندې کوي، د دې دولت په مقاصدو کې تناقض رامنځته کیږي.

د قاعدې له مخې د شرط حق په دې شرایطو کې دولت باید د تفسیري اعلامیې په توګه وګڼو. دا ډول اعلامیه نشي کولای د معاهدې له امله په حقوقو او تعهداتو اغېز پرېباسي، بلکې یوازې د معاهدې تفسیر ده. له دې امله د غړو ترمنځ ټوله معاهده د پلي کېدو وړ ده. پدې شرایطو کې د دولتونو غبرګون په دې اعلامیې کوم اغیز نه لري؛ ځکه چې د اعلامیې په هر شرط او په اړه یې اعتراض، تعهداتو ته بدلون نه ورکوي (UN, Treaty Handbook, 2000).

که د دولت لخوا وړاندې شوې بیانیه د تفسیري اعلامیې له حده واوړي او ځانته د شرط حق چوکاټ واخلي، وړاندې کوونکی دولت یې د معاهدې په غړو کې نه شمېرل کیږي (دلیلي، ۱۳۹۶هـ).

**۵.۳. مشروع او معتبر شرط حق ته د غبرګون حقوقي اثار**

د مشروع او معتبر شرط حق په برخه کې باید ووایو چې که یو دولت صریحاً یو شرط حق ومني، د معاهداتو د حقوقو د ویانا کنوانسیون ۲۱ مې مادې ۱ بند له مخې، شرط حق ورکوونکی دولت سره د هماغه دولت په اړیکو کې، معاهده په هغه ډول چې د شرط حق له مخې بدله شوې ده، پلي کیږي. د ویانا کنوانسیون د همدې مادې له مخې عدم اعتراض یا سکوت هم د شرط حق د منلو په معنی دی.

د معاهداتو د حقوقو کنوانسیون د (۲۰) مادې د ۴ بند له مخې که یو دولت په شرط حق اعتراض وکړي، دا کار کیدای شي د معترض او شرط حق ورکوونکي دولت ترمنځ د معاهدې د لازم الاجرا کیدو مانع شي. که معترض دولت د معاهدې له لازم الاجرا کېدو سره کوم مخالفت ونلري هغه مادې چې د شرط حق موضوع نه وي، د هغوی ترمنځ په اړیکو کې پلي کېدی شي او د غړو ترمنځ د شرط حق ورکوونکي دولت د شرط حق موضوع نه ترسره کیږي.

له پورته بحث څخه دا پایله ترلاسه کېدلی شي چې د معاهدې له موضوع او هدف سره ټکر لرونکي شرط حقونه هېڅ ډول حقوقي اثر نلري.

### ۶.۳. د شرط حق استرداد او پر لوریو یې اغېزې

د ویانا د ۱۹۶۹ م کال د معاهداتو کنوانسیون په ۲۲مادې کې راغلي:

(۱ پرته له هغو موارد و چې په معاهدې کې په بل ډول راوړل شوی وي شرط حق په هغه وخت کولای شو بیرته واخلو او د هغه هېواد رضایت چې شرط حق یې منلی د هغه له پاره منصرف کیدل یا له شرط حق څخه د تیریدو اعلان اړین نه دی؛

۲) پرته له هغو موارد و چې په معاهد ه کې په بل ډول راوړل شوی وي له شرط حق سره مخالفت کولای شو هر وخت کې رد کړو؛

۳) پرته له هغو موارد و چې د معاهدې په بل ډول ذکر کړی وي او یا په بل اصل اوقاعده هوکړه شوې وي:

الف: له شرط حق نه تېرېدل یوازې هغه مهال پر بل غړي هېواد حقوقي اغیزه لري چې له شرط نه د تیریدو اعلان ورته شوی وي.

ب- د شرط حق پر وړاندې د مخالفت ښودلو نه منصرف کیدل یوازې هغه حقوقي اغیزه لري چې له دې کار څخه هغه هېواد چې شرط یې وړاندې کړی وي، خبر ورکړل شوی وي) (ویانا کنوانسیون، ۱۹۶۹، ۲۲ ماده).

د شرط حق سره له مخالفت څخه د تیریدو ترسرلیک لاندې د وین کنوانسیون ۲۲ مادې د شرط حق بیرته اخیستلو او د شرط حق وړاندې کولو په اړه د نیوکو د بیرته اخیستلو په تړاو ځینې مقررات وضع کړي چې په لاندې ډول یې بحث لاندې نیسو:

د متذکره اصولو له مخې کولای شو هر وخت چې یې وغواړو شرط حق بیرته واخلو، مګر دا چې په معاهده کې په دې اړه بل ډول صراحت راغلی وي او د هغه هېواد رضایت چې شرط حق یې منلی د هغه له پاره منصرف کیدل یا له شرط حق څخه د تېریدو اعلان اړین نه دی.

همدارنګه غیر له هغه حالاتو چې معاهدې کې بل ډول ذکر راغلی وي له شرط حق سره مخالفت هر وخت کولای شو رد کړو.

همدارنګه غیر له هغو حالاتو چې معاهدې کې بل ډول تصریح شوي وي او یا په بل اصل او قاعده هوکړه شوې وي له شرط حق نه تیریدل یوازې هغه مهال پر بل غړي هېواد حقوقي اغیزه لري چې د شرط نه د نه تیریدلو اعلان

ورته شوی وي همدارنګه د شرط په وړاندې د مخالفت ښودلو نه منصرف کیدل یوازې هغه مهال حقوقي اغیزه لري چې له دې کار څخه هغه هېواد چې شرط یې وړاندې کړي وي خبر شوي وي(اخنزاده،).

د معاهداتو د حقوقو په اړه د ویانا کنوانسیون په متن کې همدا لویه اشتباه ګڼل کیږي چې تراوسه یې له معاهدې د شرط ایښودونکي لوري لپاره د وتلو د علت وضاحت نه دی غوښتی. د وتلو د علت ښکاره کول ممکن لوریو ته له ځان سره ګڼې مزایاوې ولري چې یو یې ترې د لوریو ترمنځ د حقوقي دعوې د څېړلو په موخه اړوندې قضایي مرجع ته د قضیې په څېړلو کې د روښانتیا دلیل معلومولو اسانتیا رامنځته کول دي.

ځکه دا شوني ده چې یو شرط وړاندې کوونکی تر شرط ایښودو وروسته خپلې اشتباه ته متوجه شي او هغه ددې لپاره چې لوري یې په ضعف پوی نشي، له معاهدې څخه بېرته پرته له کوم دلیل وړاندې کولو ووځي چې دا شاید د معاهدې د نورو لوریو ترمنځ د سترې بې باورۍ رامنځته کولو ته لار هواره کړي.

**۴. په شرط حق کې د تېروتنې اغېز**

که چېرته په کومه نړیواله معاهده کې د شرط حق وړاندې کولو پرمهال داسې تېروتنه وشي چې یا د شرط حق وړاندې کوونکي یا د شرط حق منونکي لوري له داخلي قوانینو سره په ټکر کې وي، په داسې حال کې د شرط حق حقوقي حیثیت څه کېدلی شي او د دغې تېروتنې حل ته کومه لاره شته ؟

یادې پوښتنې ته په ځواب کې لومړی د تېروتنې او بیا د شرط حق پر څېړلو حاکمه مرجعه تر بحث لاندې نیسو.

لومړی خودا چې په یوې نړیوالې معاهده کې د غړیتوب غوښتنه باید په لیکلې او مکتوبې بڼه وي، غړیتوب ته نوماند دولت باید دی چې په دغې برخه کې له نهایت احتیاط او دقت څخه کار واخلي، تر هرڅه وړاندې د معاهدې ټول شکلي او ماهوي اړخونه په زیرتیا سره مطالعه او د خپلو داخلي قوانینو له روحیې سره یې مقایسه کړي. په ۱۹۷۶ز کال د ملګرو ملتونو سازمان حقوقي مشاور وړاندیز وکړ چې هم د شرط حق وړاندې کول او هم یې استرداد باید د باصلاحیته مقام له لوري وشي. له باصلاحیته مقام څخه موخه د دولت رئیس، حکومت رئیس او یا هم د بهرنیو چارو وزیر ښودل شوي دي.

دلته بیاهم دا سوال پیدا کیږي چې یو شخص ته د باصلاحیته اصطلاح د کومې مرجع په اعتبار کارېدلی شي؟

د دې پوښتنې ځواب لپاره ښاغلي پاول ریوټر وایي: دا د هېوادونو د اساسي قوانینو په داخلي احکامو پورې اړوندېږي چې د بهرنیو تړونونو د لاسلیک لپاره څوک باصلاحیته مرجع ګڼي (پاچا، رئیس جمهور، لومړی وزیر او ...). د بېلګې په بڼه د افغانستان اساسي قانون ۶۴ مې مادې ۱۷ بند صراحت لري: د قانون له حکمومونو سره سم د دولتونو ترمنځ د معاهدو د عقد لپاره د باور لیکونو ورکول (د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲).

یعني که چېرته خپله جمهور رئیس کومې معاهدې لاسلیکولو ته نه ځي؛ کولی شي د خپل ځان لخوا لېږدوونکي شخص ته د نړیوالې معاهدې د لاسلیک اختیار ورکړي چې دا په خپله د باصلاحیته مقام صفت خپلولی شي.

که چېرته په کومه معاهده کې د شرط حق اړوند تېروتنه شتون ولري په دې اړه کمیسیون په لاربنود کې د یو شوي پوښتنلیک په مرسته لومړی جهت په بهرنی برخه کې نړیوال سازمان یا یې اړونده نړیواله محکمه بنودل شوې او دویم قدم کې د هېواد په داخل کې باصلاحیته مرجع.

د نړیوالو معاهداتو د حقوقو کنوانسیون لاربنود د نظارتي ارګان تر عنوان لاندې دا وړاندیز کړی چې لوري دې د شرط حق د صحت او تېروتنې معلومولو لپاره یو نظارتي نهاد وټاکي او هغوی ته دې د هغوی د کړنو ماهیت او حدود په ګوته کړي. دغه راز دې د شرط حق د ارزونې لپاره ځانګړي صلاحیتونه ورکړي او په اړونده برخه کې دې ورسره پوره همکاري وکړي.

د شرط ایښودونکي هېواد لپاره خو د ویانا د نړیوالو معاهداتو د حقوقو کنوانسیون ۲۲ مادې د برآت لاره پرېښې چې شرط ایښودونکی لوری هر وخت پرته له کوم قیدو شرط کولی شي له خپل وړاندې کړي شرط مخ واړوي یا له معاهدې ووځي.

**۵. پایله**

په پایله کې ویلی شو چې دولتونه د معاهداتو پروړاندې اصولاً کولی شي درې ډوله تصمیمونه ونیسي؛ ۱) غیر مشروط غړیتوب. ۲) مشروط غړیتوب. ۳) له غړیتوب مخ اړونه (امتناع) چې د شرط حق هم په مشروط غړیتوب پورې تړلی. ددې لپاره چې شرط حق ومنل شي باید د شرط په حق کې د دولتونو بشپړ رضایت موجود وي، دغه راز د نړیوالو معاهداتو سره په ټکر کې نه وي. که چېرته د شرط حق د نړیوالو قواعدو سره په ټکر کې وي او یا د شرط ایښودونکي دولت نړیوال تعاهد نقض کړي، د شرط حق په دغه حالت کې د منلو وړ نه دی.

دغه راز که په یوې نړیواله معاهده کې د یو هېواد له لوري د شرط حق وضع شي او نور هېوادونه پرې اعتراض وکړي، دا اعتراض د معاهدې د تطبیق مانع نه ګرځي، مګر په هغه صورت کې چې ۱) په معاهده کې یې په صریح ډول یادونه شوې وي. ۲) دغه د شرط حق نورو بین المللي سازمانونو او هېوادونو ته اثار ایجاد کړي.

د مشروع او معتبر شرط حق په برخه کې که یو دولت صریحاً یو شرط حق ومني، د معاهداتو د حقوقو د ویانا کنوانسیون ۲۱ مې مادې ۱ بند له مخې، شرط حق ورکوونکی دولت سره د هماغه دولت په اړیکو کې، معاهده په هغه ډول چې د شرط حق له مخې بدله شوې ده، پلي کیږي. د ویانا کنوانسیون د همدې مادې له مخې عدم اعتراض یا سکوت هم د شرط حق د منلو په معنی دی.

د نړیوالو سازمانونو په اساسنامو کې د شرط حق د سازمان په اساسنامې پورې اړه لري. نړیوال سازمان د یو سند پر بنسټ چې په هغه کې اصول او موخې، تشکیلات ، د غړو حقوق او دندې، د غړیتوب شرایط او ... راغلي وي ، رامنځته کیږي. ددغه ډول سندونو پروړاندې د شرط وړاندې کول په سند کې د راغلو احکامو سره سم ترسره کیږي . که چیرې په سند کې دشرط په اړه څه نه وي ویل شوي ، نو بیا موضوع د سازمان د واکمن او باصلاحیته برخې چې معمولاً عمومي غونډه چې په هغو کې ټول غړي ګډون لري، له لوري ترڅېړنې او ارزونې لاندې نیول کیږي. د بېلګې په توګه: د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامه کې راغلي چې هېوادونه نشي کولی چې په دې اساسنامه کې د شرط له حق څخه استفاده وکړي.

که چیرې د معاهدې کومه برخه چې په هکله یې د شرط حق وضع شوی وي، تعدیل شي او شرط وضع کوونکی هېواد ورسره مخالفت وکړي، دغه مخالفت حقوقي اثر نه لري، مګر دا چې دغه مخالفت په لوړه کچه وي. مثلاً د یو هېواد مقننه قوې اکثریت غړي ورسره مخالفت وکړي یا د هېوادونو جمهور رئیسان وي.

د معاهداتو د ډولونو له اړخه د ویانا (۱۹۶۹) کال د معاهداتو حقوقو کنوانسیون د معاهداتو په ټولو ډولونو (دوه اړخیز، څو اړخیز، عام نړیوال معاهدات، قانون جوړونکي نړیوال معاهدات او نور) کې د شرط حق منل شوی، البته د نړیوالو حقوقو ځینو پوهانو لکه رضاضیایي بېګدلي قانون جوړونکو معاهداتو کې د شرط حق په اړه بېل نظر لري: هغه تعریف ته چې د تقنیني معاهدو په اړه مو وړاندې کړې په پاملرنې سره داسې بریښي چې ددې ډول معاهدو پر وړاندې د شرط وړاندې کول د منلو وړ نه دي.

هغه دلایل چې له مخې یې د تقنیني معاهدو پروړاندې د شرط وړاندې کول د منلو وړنه دي کولاي شو په لاندې ډول یاد کړو :

د تقنیني معاهدو عام والي او نړیوالتوب : تقنیني معاهدې چې منځپانګه یا محتوا یې پر نړیوال عمومي نظم راڅرخي اصولا لاندې موضوعات رانغاړي :

- د سولې د معاهدې له لارې د نړیوالو کشالو هواري (د ۱۹۱۹ د ورساي معاهده)
- د نړیوالو سازمانونو د جوړیدو سندونه (دنړیوالې ټولنې میثاق د ملګرو ملتونو منشور.......)
- بشر دوستانه قواعد
- سرحدي، ناپییلتوب او د ځمکي دسپارلو هوکړه لیکونه .

د پورتنیو سندونو پر وړاندې دشرط وړاندې کول د هغې له موخې او موضوع سره په ټکر کې دي.

**مناقشه**

پوښتنه: ایا د شرط حق او د شرط قید ترمنځ توپیر شتون لري؟

د شرط قید باید د شرط له حق سره یو شان و نه بلل شي. د شرط قید هغه شرط یا شرطونه دي چې د خبرو پرمهال د معاهدې په وروستي متن کې ځای پر ځای کیږي، په داسې حال کې چې د شرط حق بیا هغه دی چې د لاسلیک، تصویب، الحاق یا منلو پرمهال د یو شمېر هېوادونو له لوري نورو هغو ته وړاندې کیږي. د وین په کنفرانس کې د "شرط قید" په اړه څه نه دي ویل شوي. په داسې حال کې چې د شرط قید اصطلاح د معاهدې د ټولو غړو یا د یوه ځانګړي لوري او نورو لوریو او یا د معاهدې د دوو غړو ترمنځ د شوې معاهدې د ځینو مادو حقوقي اغېز روښانه، محدود او یا هم بدلوي.

پوښتنه: د شرط حق د قبول شرایط کوم دي؟

ددې لپاره چې د شرط حق قابل د قبول وګڼل شي نو د دوو شرایطو تحقق اړین دی:

اول: د سهي رضایت وړاندې کول؛ په دې معنی چې د شرط حق باید د دولت د استازي شخص یا د صالح قایم مقام په واسطه وړاندې شوی وي او له تیروتنې، تقلب، فساد، شک او اجبار څخه پاک وي.

دویم: د شرط حق باید د مشروع هدف متضمن وي، په دې معنی چې د شرط حق ګټه باید د آمره قواعدو سره په ټکر کې نه وي.

څنګه کولی شو د شرط حق نامشروعیت تشخیص کړو؟
لومړی حالت؛ کله چې د شرط حق د معاهدې له هدف سره په ټکر کې وي، په دې معنی چې د معاهدې ۲/۳ برخه غړي یې په شرط حق اعتراض وکړي.
دویم حالت؛ د نړیوالو سازمانونو لخوا د شرط حق د نامشروعیت تشخیص؛ له نړیوال سازمان څخه موخه د عدالت نړیواله محکمه ده چې کولی شي د هېوادونو له خوا وړاندې شوی شرط نامشروع تشخیص کړي.

درېیم حالت؛ کله چې د شرط حق له نړیوالو حقوقي قواعدو (اسنادو) سره په ټکر کې وي یا د هېوادونو نړیوال تعاهدات نقض کړي.
د شرط حق د معاهدې په کوم پړاو کې وضع کېږي؟

د شرط حق د معاهداې په لاندې پړاوونو کې مطرح او وضع کېدلی شي:
1. د مذاکراتو پر مهال د شرط حق وضع کول
2. د امضاء پر مهال د شرط حق وضع کول
3. د تصویب یا تصدیق پر مهال د شرط حق وضع کول
4. تصویب، قبولي یا تصدیق
5. د الحاق پر مهال د شرط حق وضع کول

پوښتنه: د شرط حق وړاندې کوونکي هېواد لپاره د شرط د حق د منلو څخه وروسته کوم اثار راجع کېږي؟

الف) د هغه هیواد له پآره چې شرط یې وړاندې کړي وي د معاهدې هغه برخه او په هماغه کچه د هغې مقررات چې پروړاندې شرط وړاندې شوي وي د مقابل لوري له پاره تعدیلیږي.

ب- د معاهدې د بل غړي له پاره دمعاهدې هماغه مقررات او په هماغه کچه د هغه هیواد له پاره چې له شرط حق نه یې ګټه پورته کړي وي، تعدیلیږي . د حق شرط خپله پخپله د معاهدې د ټولو غړیو له پاره د معاهدې مقررات نه تعدیلیږي د غه بند د حق شرط د حقوقي اغیزو دنسبیت قاعدې ته په اشاره سره وایي چې د شرط حق یوازې پر شرط وړاندې کوونکي اوشرط منوونکي هیواد باندې حقوقي اغیزه لري او په هیڅ صورت دمعاهدې ټول غړي تر اغیز لاندې نه راولي.

**پایله اخیستنه**

۱- د شرط حق کې چې د معاهدې کوم احکام بیان شوي، د شرط ایښودونکي دولت پروړاندې دغه احکام د پلي کېدو وړ نه دي، دغه راز هغه احکام چې د هغو په اړه شرط وضع شوی نه وي ولې هغو احکامو ته ډېر ورته وي چې د هغو په هکله شرط وضع شوی وي، دغه احکام هم د نېږدېوالي په سبب د شرط ایښودنکي دولت پروړاندې د اجرا وړ نه دي. مګر د معاهدې نور لوري بیا ددغو احکامو په رعایت مکلف دي.

۲- د شرط حق وضع کول یولړ مزایاوې هم له ځان سره لري چې د معاهداتو په انعقاد کې اسانتیا رامنځته کوي، د معاهدې د تطبیق قلمرو روښانه کوي، د هېوادونو داخلي قوانینو سره د ټکر مخه نیول کېږي.

۳- مګر ددې باوجود شرط حق یو لړ نیمګړتیاوې هم لري چې په نړیوالو اړیکو کې د تزلزل سبب ګرځي، د معاهدو یووالی زیانمنوي، د معاهدې د لوریو د تعاهداتو د التزام توازن له منځه وړي او د بین المللي معاهداتو نظام تر پوښتنې لاندې راولي.

۴- د دولتونو د عملي چلند په څیړنه کې معلومیږي چې د نړیوالو عرفي حقوقو له نظره، هغه شرطونه چې په خپله معاهده کې منع شویدي او هغه شرطونه چې د معاهدې له هدف او موضوع سره په ټکر کې وي، نامشروع ګڼل کیږي.

۵- کله چې حق شرط نامشروع وي په دې صورت کې حق شرط هېڅ اغېز نه لري او دا وړاندې شوې غوښتنه د نړیوالې معاهدې په اړه تفسیري اعلامیه ګڼل کېږي.

۶- د شرط حق معمولاً په څو اړخیزو معاهداتو کې د اجرا وړ دی. په څو اړخیزو معاهداتو له جملې څخه په تقنیني معاهدو کې د شرط حق وضع

کول د منلو وړ نه دي، لکه د ملګرو ملتونو منشور. په دوه اړخیزو معاهداتو کې له دغه حق څخه استفاده ځکه نشي کیدای چې په دوه اړخیزو معاهداتو کې د دواړو لوریو د وجایبو د توازن ایجاب کېږي چې په دوه اړخیزو معاهداتو کې د شرط حق و ضع کول دغه توازن له منځه وړي. په دوه اړخیزو معاهداتو کې د شرط حق وضع کول په دې معنی دي چې د معاهدې یو لوری په بل لوري باندې خپلې غوښتنې ومني.

۷- هېوادونه کولی شي چې د خپل شرط له حق څخه تېر شي. په دې هکله د نورو هېوادونو موافقه اړینه نه ګڼل کېږي، مګر په هغه صورت کې چې د هغو هېوادونو موافقه ضروري وي چې شرط حق یې منلی وي.

۸- په نړیواله کچه د شرط حق د منلو لپاره یو لړ اصولو وضع شوي دي. لومړی؛ یې د شرط حق باید کتبي وي. دویم؛ د شرط حق وضع کوونکی هېواد به په رسمي توګه د دغه حق د وضع کولو غوښتنه کړې وي. درېیم؛ له حق شرط څخه تېرېدل به هم په کتبي بڼه وي.

۹- د ۱۹۶۹ کال او نه د ۱۹۸۶ کال د معاهداتو په کنوانسیونونو کې د شرط حق څخه د انصراف دلایل نه دي غوښتل شوي.

**وړاندیزونه**

لومړی: دا چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي قدرمن محصلین په نړیوالو معاهداتو کې د شرط حق اهمیت ته پوره پاملرنه وکړي او په دې برخه کې د خپلې پوهنیزې لوړتیا په خاطر پوره مطالعه وکړي.

دویم: که د حقوقي او سیاسي علومو په نصابونو کې د شرط حق په عنوان مستقل مضمون ځای پر ځای کړل شي، د محصلینو د مسلکي ظرفیت سازۍ په برخه کې اغېزناک تمامېدلی شي.

درېیم: د بهرنیو چارو وزارت د دیپلوماتیکو روزنیزو برنامو په برخه کې نوموړې موضوع ته د مضامینو له اړخه ځانګړې پاملرنه وشي.

څلورم: د اسلامي هېوادونو واکمنو ته پکار ده چې په نړیواله کچه له نورو غیر اسلامي هېوادونو سره د معاهداتو په لاسلیک کولو کې نهایت دقت څخه کار واخلي او دې ته متوجه وي چې له شرط حق څخه په کومو مواردو کې معقوله ګټه اخیستی شي.

پنځم: افغان لوړ پوړو چارواکو او دیپلوماتانو ته پکار ده چې د اسلامي شریعت او داخلي قوانینو په پام کې نیولو سره د نړیوالو معاهداتو د غړیتوب پرمهال د شرط حق په کارولو کې احتیاط څخه کارواخلي ترڅو داسې څه ترې پاتې نشي چې تطبیق یې بیا د اسلامي شریعت او داخلي قوانینو له احکامو سره په ټکر کې واقع شي.

**ماخذونه**


ابراهیم مصطفی او نور (ـــــــ). المعجم الوسیط عربي اردو، ژباړن: ابن سرورمحمد اویس او عبدالنصیر علوی، لاهور، اردو بازار، مکتبه رحمانیه، ۷۵۴.

احمد بن محمد بن علی المقری الفیومی(۱۴۱۴ق). مصباح المنیر فی غریب الشرح الکبیر للرافعی، موسسه دارالهجره، ۱۶۵.

الکوزی احمد جاوید (۱۳۸۷ هـ ش). د نړیوالو اړیکو اصول، خوست، سوله خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ، ۲۰ مخ.

بیګدلي داکتر رضا ضیایي، ۱۳۸۵. حقوق معاهدات بین المللی، چاپ سوم. چاپ ګنج دانش. ۱۰۵ مخ

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د عدلیې وزارت رسمي جریده، د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۳هـ ش کال، پرلپسې ګڼه (۸۱۸)، ۶۴ ماده.

د معاهداتو د حقوقو کنوانسیون (۱۹۶۹ ز د مې ۲۳ نېټه).

د معاهداتو د حقوقو کنوانسیون (۱۹۸۶ ز د مارچ ۲۱ نېټه).

دلیلی مریم، ۱۳۹۶. حق شرط در حقوق بین املل معاهدات. انتشارات خرسندی، تهران. ۴۹-۴۴.

رضا موسی زاده، ۱۳۹۳.مخکنی ماخذ، ۱۴۰ مخ.

عسکری، داکتر پوریا (۱۳۹۰هـ ش). حق شرط برمعاهدات حقوق بشری. مطالعات پژوهشهای حقوقی، تهران.، ۱۲۷، ۱۳۰-۱۳۱.

فضایلي دکتر مصطفی، ۱۳۸۵هـ. کنوانسیون رفع تبعیض علیه زنان و شروط کلی وارد بر آن، نشریه مرکز امور حقوقی بین المللی. ۴۰ مخ

موسی زاده، رضا، ژباړه: محمد نظیم سمون، (۱۳۹۳) نړیوال سازمانونه، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، ۴۸، ۵۹.

نيازی پوهاند دوکتور مصطفی ، ۱۳۹۶ کال، نړيوال معاهدات (د اسلامي فقهې او بين المللي اصولو په رڼاکې)، مسلم خپرندويه ټولنه، جلال آباد، ۱۴ مخ.

Report of the International Law Commission, Sixty- third session, General Assembly, Supplement No. 10,p. 156-160.

UN, Treaty Handbook, prepared by the Treaty Section of the office of Legal Affairs, 2000,p.10

2.6.3 of the Guide to Practice of Reservation.

2.6.9 of the Guide to Practice of Reservation.

4.3 of the Guide to Practice of Reservation.

**حیات الله اشنا او مجاهد حبیبي**
تشبث او اداره څانګه، اقتصاد پوهنځی، تابش پوهنتون

# په ننګرهار ولایت کې د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو د پرمختګ پر وړاندې ستونزې او حل لارې

**لنډیز**
کوچني او متوسط کاروبارونه د مخ پر ودې هېوادونو په اقتصادي پرمختګ کې مهمه ونډه لري. د پرمختللو هېوادونو د پرمختګ یو لامل هم کوچني او متوسط کاروبارونه دي، چې د هېواد په اقتصاد کې اساسي رول لري. دغه کاروبارونه په اسانۍ سره پیل کیږي او په مختلفو برخو کې فرصتونه رامنځته کوي. لکه د دندو فرصتونه رامنځته کول، د داخلي ټکنالوژۍ د ښه والي لپاره زمینه برابرول او په عموم کې د هېواد پرمختیا لپاره زمینه سازي کول. د دغې څېړنې اساسي هدف د هغو خنډونو او ستونزو رابرسیره کول او تحلیل دی، چې په اوسني حالت کې د هېواد او په ځانګړي توګه د ننګرهار ولایت د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو په وړاندې پراته دي.

په څېړنه کې مو د لومړي او دویم لاس معلوماتو څخه استفاده کړې چې کمي او کیفي بڼه لري. په ننګرهار ولایت کې (۲۷۲) کوچني او متوسط کاروبارونه چې تولیدي برخه کې فعالیت کوي موجود دي، چې په مجموع کې زما د څېړنې جمعیت تشکیلوي او هدف ته د رسېدلو لپاره ترې لومړې (A sample Frame) اخستل شوی، چې د ننګرهار ولایت په مرکزي برخو کې واقع ول. د احتمالي نمونې اخستنې د تخنیکونو په برخه کې د (Systematic Random Sampling) تخنیک په اساس، (۱۵۹) کوچني او منځني تولیدي کاروبارونه د (Online Sampling Size) سافټویر په مرسته محاسبه او انتخاب شوي.

د دې څېړنې له پایلو څخه جوتیږي، چې په افغانستان خاصتاً ننګرهار ولایت کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو پروړاندې پرتې ستونزې عبارت دي له مالي وسایلو او فني کارمندانو له کموالي، د بازار له نشتون، رقابت، لوړ

مالیات، انرژي، خام مواد، قاچاق، ګمرکات، د دولت نه ملاتړ تر مطالعې لاندې نیول شوي دي. د دغې څېړنې تر ټولو زیات اهمیت د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو مالکانو، دولتي ادارو او څېړونکو ته دی.

**کلیدي کلمې:** کوچني او منځني کاروبارونه، تولیدي ستونزې او غیر تولیدي ستونزې

**سریزه**

دا چې د هر ملي اقتصاد لپاره کوچني او متوسط کاروبارونه د ملا د تیر حیثیت لري او په ټولنه کې د دندو فرصتونه رامنځته کوي؛ نو په زیاتره پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو کې د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو شتون د ملي اقتصاد په ثبات کې عمده رول لري، ځکه اقتصادي وده په چټکۍ سره زیاتېږي، د کمې اندازې پانګونې سره د غربت کچه کمېږي، په هېواد کې اختراع ته زمینه برابرېږي، نوښتونه رامنځته کیږي، د تشبث ظرفیت سره په ټکنالوجۍ کې پرمختګ منځته راځي، د بېکارۍ کچه راټیټیږي، د کورنۍ عاید زیاتېږي، په ټولنه کې بې وزلۍ او نابرابرۍ له منځه ځي او دا چې کوچني او منځني کاروبارونه د نړۍ ډېرې هېوادونو ته په کافي اندازه د ضرورت وړ محصولات او خدمات وړاندې کوي؛ نو ځکه د یو ځانګړي اهمیت څخه برخمن دي.

کوچني او متوسط کاروباورنه هغه کاروبارونه دي چې په فردي ډول او یا هم په ټولیز ډول تولیدات او خدمات ارایه کوي، لږې سرمایې ته اړتیا لري او عایدات یې هم د ثقیله او درنو صنایعو او لوی پانګونې په پرتله لږ وي، په کوچنیو کاروبارونو کې د ګڼ کتلوي صنعت په پرتله کم شمیر کسان په کار بوخت وي. (ستانکزی، امین، ۱۳۹۸، ص ۸).

ډېرى هېوادونو، چې د ښه اقتصاد لرونکي دي له کوچنیو او منځنیو کاروبارونو څخه پیل کړي او ثقیله صنعت او لوی پانګونې ته رسېدلي دي. زموږ د هېواد په اوسنیو شرایطو کې یوازې دولت نه شي کولای په هره برخه کې سرمایه ګذاري وکړي او د خلکو لپاره د کاروبار زمینه برابره کړي؛ نو د کوچنیو کاروبارونو رول ورځ تربلې زیاتېږي. کوچني او منځني کاروبارونه د یو هېواد ګڼ شمیر وګړو

لپــاره د کاروبــار زمينــه مســاعدوي او د ملــي اقتصــاد اهــدافو تــه د رسېدو لپاره مهم ګڼل کيږي (احمدزی، ميرويس، ۱۳۹۹، ص ۲).

سره له دې چې د افغانستان په څېر کمزوري اقتصاد لرونکي هېواد ته کوچني او متوسط کاروبارونه حياتي اهميت لري، ولې تر وروستيو وختونو پورې ورته چندان توجه نده شوې، بېکاري په کې زياته او د کورني توليداتو اندازه يې کمه شوې ده. دا چې په هېواد کې ډيرې طبيعي سرچينې، د پروسس لپاره کافي خام توکي، کوچنی پانګه او کاري ځواک شته؛ خو له هيڅ يو څخه په مؤثره او مفيده توګه استفاده نده شوې نو په همدې اساس د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو ايجاد هغه لاره ده، چې په هغې سره د فرصتونو او منابعو د ضايع کېدو مخنيوی کيږي، په کوچنيو کاروبارونو کې د کمې پانګې په کارولو سره د هېواد دننه شته منابع په کار لويږي او د ملي توليد په زياتوالي کې ورڅخه کار اخستل کيږي.

څرنګه چې په افغانستان کې د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو د پرمختيا په وړاندې ډيری داسې ستونزې وجود لري، چې ياد کاروبارونه ترې متضرره کيږي. په همدې اساس داسې څېړنې ته اړتيا ده، چې نوموړې ستونزې تثبيت او د حل لارې ورته په ګوته شي. د بلې خوا د اقتصادي ودې په وړاندې کاروباري محدوديتونه لکه: د زيربناو نه شتون، فساد او ناامنی هغه څه دي، چې اقتصادي وده يې ورو کړې ده؛ خو که د دا ډول ستونزو د حل لپاره په هېواد کې د پانګونې فرصتونه رامنځته شي؛ نو کاروباريان به د کاروبار کولو لپاره تشويق، کاروبارونه به زيات او د دولت د عوايدو د زياتوالي لامل به شي. پدې خاطر موږ هڅه کوو څو هغه لاملونه پيدا کړو، چې په لومړي سر کې يې په کوچنيو او متوسطو کاروبارونو اغيزه کړې او د يادو کاروبارونو د پرمختيا په وړاندې خنډ ګرځيدلي دي.

**د څېړنې ستونزه**

کوچني او متوسط کاروبارونه که څه هم، چې د افغانستان خاصتاً ننګرهار ولايت د اقتصادي پرمختيا لپاره اساسي رول لري؛ ولې د بېلابېلو لاملونو له کبله يې څنګه چې په کار وه پرمختيا نده کړې او برعکس د رکود سره مخ شوي دي، بناً بايد وڅېړل شي، چې کومې داسې ستونزې موجود دي، چې د ذکر شوو کوچنيو او متوسطو کاروبارونو د اقتصادي نه پرمختيا يا رکود

سبب ګرځي. د بلې خوا د ذکر شوو کاروبارونو مالکان د دغو ستونزو په پېژندلو کې لا کافي مهارت نلري او نه په اړونده برخه کې لازمي څېړنې ترسره شوي. پدې توګه د پورته نکاتو په کتو سره مې لازمه وبلله، چې په هېواد کې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو د پرمختيا په وړاندې شته ستونزې پيدا، تجزيه او تحليل کړم.

**د څېړنې موخې**

په ننګرهار ولايت کې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو د پرمختيا پر وړاندې د ستونزو مشخص کول.

په ننګرهار ولايت کې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو د پرمختيا پر وړاندې د تکراريدونکو ستونزو مشخص کول

په ننګرهار ولايت کې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو د پرمختيا پر وړاندې د تکراريدونکو ستونزو د حل لپاره لارې پيدا کول.

**د څېړنې پوښتنې**

په ننګرهار ولايت کې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو پرمختيا په وړاندې کومې ستونزې موجودې دي؟

په ننګرهار ولايت کې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو پرمختيا په وړاندې کومې ستونزې ډېرې تکرارېدونکې دي؟

په ننګرهار ولايت کې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو پرمختيا په وړاندې د تکرارېدونکو ستونزو د حل لپاره کوم لازم اقدامات او حل لارې پکار دي؟

**کاروباري پوهه**

**د بزنس مفهوم Nature of Business**

د ادبیاتو له نظره د (Business) لغوي معنی د مصروفیت له حالت State of being څخه عبارت ده؛ خو په حقیقت کې Business پراخه اقتصادي مفهوم لري، چې عبارت له ټولو هغه مشروع کارونو ده، چې د اجناسو او خدماتو د تولید او توزیع پورې اړه لري او د ګټې د لاسته راوړلو په مقصد ترسره کیږي (خلیلزی، ۱۳۹۶، ص ۱۰- ۱۱).

**د بزنس تعریف Definition of Business**

د Business اصطلاح د ډېرو لیکوالانو لخوا تعریف شوې، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

د (L.H.Haney) له نظره Business: له هغه انساني فعالیت څخه عبارت دی، چې د شتمنۍ د اماده کولو (تهیه کولو) لپاره د اخیستلو او خرڅولو په ذریعه سره ترسره کیږي.

د Urwic او Hunt له نظره : په Business کې ټول هغه سوداګریز او صنعتي فعالیتونه شامل دي، چې خلکو ته شیان او خدمات وړاندې کوي او هدف یې د ګټې لاسته راوړل وي.

یا Business عبارت له فعالیت ځای څخه دی، چې اجناس او خدمات چې د ټولنې غړي ورته ضرورت لري؛ جوړوي او توزیع کوي او د ټولنې غړي د هغه اجناسو لپاره خواهش او د اخیستلو په مقابل کې د قیمت د تادیه کولو توانایي لري (خلیلزی، ۱۳۹۶، ص ۱۰، ۱۱).

## د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو پېژندنه

### د کوچني کاروبار مفهوم

کوچنی کاروبار داسې کاروبار دی، چې د مالک په واسطه په فعاله توګه رهبري کیږي، د صنعت ساحه یې نسبتاً کوچنۍ او متوسطه وي او په عمومي ډول د خپل انکشاف لپاره په خپلو داخلي سرمایوي منابعو باندې متکي وي.

د اقتصادي پرمختګ د کمیټې مطابق یو کاروبار هغه وخت کوچنی دی، چې د لاندې عواملو نه دوه یا له دوه څخه زیات ولري.

د کاروبار مدیریت یې خپله د کاروبارو مالک ترسره کوي.

د عملیاتو ساحه یې محلي وي .

د صنعت اندازه یې په خپله ساحه کې د لویو دستګاوو په تناسب کوچنۍ او متوسطه وي.

### د کوچني کاروبار تعریفونه

کوچنی کاروبار د اندازې، عایداتو او تنظیمي واکونو له پلوه له یو هیواد څخه بل هیواد ته په لویه کچه کې توپیر لري او په بیلابیلو ډولونو تعریف شوي. د بیلګې په ډول د امریکا په متحده ایالاتو کې هغه کاروبار کوچنی او متوسط کاروبار ګڼل کیږي، چې د پنځه سوو تنو څخه کم کارکوونکي ولري، د اروپا اتحادیې هیوادونه بیا هغه کاروبار کوچني او متوسط کاروبار شمېري، چې کارکوونکي یې له پنځوسو څخه کم وي او استرالیا بیا هغه کاروبار، چې کارکوونکې یې له شلو تنو څخه کم وي. انګلستان په ۱۹٦۹ م کال کې کوچني کاروبارونه داسې تعریف کړي دي؛ هغه تصدي، چې د ۲۰۰ څخه کم کارمندان ولري او خپله د تصدۍ مالک خپله دا تصدي وچلوي او په مارکېټ کې نسبتاً کوچنۍ برخه ولري کوچنی کاروبار بلل کیږي.

همداشان په ډنمارک کې کوچني کاروبارونو کې ٤۹ -۱ پورې کارګاران او متوسط کاروبار کې بیا ۱۹۹ -۵۰ پورې کارګران او لوي کاروبار کې له د ۲۰۰ څخه زیات کارګران کار کوي (Habibi, 2016).

### په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو تعریف

په افغانستان کې ASMED د کوچنیو او متوسطو کارباروںو د پرمختیا اداري دغه ډول کاروبارونه په دریو کټګوریو مایکرو یا ډیر کوچني، کوچني او متوسطو وېشلي دي. مایکرو یا ډېر کوچني هغه کاروبارونه دي چې تر لسو پورې کارکوونکې او شتمني یا کلنی عاید یې تر سلو زرو دالرو پورې ورسېږي. کوچني کاروبارونه هغه دي، چې د کارکوونکو تعداد یې د ۱۱ څخه تر ۵۰ پورې وي او شتمي یا کلنی عاید یې تر دریو میلیونو دالرو پورې وي. متوسط کاروبارونه هغه کاروبارونه دي، چې د کارکوونکو شمېر یې د ۵۱ څخه تر ۳۰۰ پورې وي اوشتمني یا کلنی عاید یې تر پنځلس ملیونو دالرو پورې ورسېږي. (شیرازي، ۱۳۹۰).

**په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ځانګړتیاوې**
**(Characteristic of SMEs in Afghanistan)**

مخکې له دې چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په ځانګړتیاو بحث ترسره کړو اړینه ده چې په کټګوریو یې هم وویشو.

الف: ډېر کوچنی او متوسط کاروبار: په افغانستان کې دا ډول کاروبارونه زیات تر سترګو کیږي. د کارمندانو تعداد یې د ۱ څخه ۱۰ پوری وي. دا ډول کاروبارونو کې د کاروبار مدیر خپله د کاروبار مالک وي او خپله کاروبار اداره کوي یعنې په خپله مارکېټ مطالعه کوي، د مشتریانو تقاضا ګوري او د هغه سره سم ځان عیاروي لکه د زرګری دوکان د بوټانو دوکان او داسې نور.

ب: کوچنی کاروبار: په افغانستان کې په کوچنیو او متوسطو کاروبارونو کې د کارمندانو تعداد د ۱۱ څخه ۵۰ پوری وي. د کاروبارو مدیریتي چارې خپله مدیریت کوي او ځینې وختونه یې مدیرتي او د استخدام چارې د ځان په ځای بل مدیر ته سپارلی وي. په دا ډول کاروبارونو کې د کاروبار مالک خپلو کارګران کارته یوځې رهنمایي کوي (نیازی، ۱۳۹۱، ص ۴، ۱).

**د کاروبار اندازه (Size of Business)**

د کاروبار او سوداګرۍ د سایز اندازه د هغې د کارګرو د تعداد او د ثابتې شتمنی څخه معلومیږي، په افغانستان کې په کوچنیو کاروبارونو کې د افرادو تعداد د (۱۱-۵۰) پورې وي، د شتمنیو ارزښت یا کلنی عاید یې (۳۰۰۰۰۰۰) دالرو ته رسیږي. په داسې حال کې چې د منځنیو کاروبارونو

د افرادو تعداد (۵۱ ـ۳۰۰) پورې وي او شتمنی یا کلنې عاید یې (۱۵۰۰۰۰۰۰) دالرو ته رسېږي.

**ساده وسایل او ماشین آلات (Simple Tools and Machine)**

که چېرته سوداګري په وړه پیمانه وي؛ نو په هغې کې وسایل او ماشین آلات ساده، سرمایه او تربیه شوي کارګر یې کم وي. په داسې حال کې چې په منځینو کاروبارونو کې نسبت کوچنیو کاربارونو ته وسایل پرمختللې وي او د سرمایې او کارګرانو تعداد یې هم زیات وي.

**کورنۍ مرستې (Family Assistance)**

په کوچني او متوسط کاروبارکې د کورنۍ غړي هم په کارکولو کې مرسته کولی شي او کارګر هم ساتلي شي ليکن د کارګرو تعداد محدود يا ډيرکم وي؛ خو په منځنيو کاروبارونو کې بيا مالک يوازې د مديريت دنده په غاړه لري او يا امکان لري، چې مديريت هم د ادارې بل کس ترسره کړي.

**غير رسمي روابط (Informal Relation)**

په کوچنيو او متوسطو کاروبارونو کې د مالک او کارګر روابط غير رسمي وي، ځکه چې د کارګرو تعداد ډيرکم وي؛ نو په دې توګه مالک د هغوی سره په مستقيمه رابطه کې وي، د هغوی د مسائلو څخه خبر وي او د هغوی د مسائلو د حل کولو کوشش کوي.

**د کار د تخصص محدود والی (Limited Specialization)**

په دې قسم کاروبار کې د سوداګرو د کار تخصص محدود وي او د هغې صلاحيتونه په محدوده دايره کې وي، که دا د خرڅلاو يا د اخستلو کاروبار وي او يا مالي وي.

**په تصميم نيونه کې مرکزيت (Centralized Decision Making)**

څرنګه چې د کوچني او متوسط کاروبار ټول اختيارات او واک د مالک سره وي؛ نو په همدې توګه د تصميم نيولو صلاحيت هم د هغه سره وي او په بعضی وختونوکې ځينې اختيارات کارګرو ته هم ورکول کيږي.

**د سرمايې تهيه (Supply of Capital)**

په کوچني او متوسط کاروبارکې عموماً سرمايه په خپله مالک برابروي د کوم بانک او مالي اداري د قرض نه بغير يې پر مخ بيايي او په بعضې وختونو کې د خپلو رشته دارو، دوستانو او اقاربو څخه مالي کمک غواړي.

**محدود توليد (Limited production)**

دا چې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو توليدي منابع کمې دي په همدې اساس په يوه محدوده ساحه کې خپل توليدات ترسره کوي او د توليداتو لپاره يې د بازار ساحه هم محدوده ده. د هيواد په اقتصاد يې نسبت لويو کاروبارونو ته اغيزه کمه ده چې علت يې همدا محدودې منابع او توليدات دي.

**د منابعو محدوديت**

کوچنی کاروبار په کافي اندازه منابـع نه لري، چې په مارکېټ کې حاکميت پيدا کړي. د محدودو منابعو له کبله يې وده او توليد کم وي. په يوه ځانګړې ساحه کې خپل فعاليت ترسره کوي او مشتريان يی هم کم وي.

**د بازار يوه معينه برخه ترلاسه کول**

کوچنی کاروبار د يو معين بازار محدوده برخه لاسته راوړي او د محدودی برخې لپاره توليدات ترسره کوي. ياد کاروبارونه د يوې ساحې محدوده برخی لپاره توليدات ترسره کوي او په مارکيټ يې اغيزه هم کمه وي.

**د زياتو کارګرانو درلودل**

د کوچني کاروبار کوونکو سره سرمايه کمه او کارګران ورسره ډېر وي او دوی سره دومره سرمايه نه وي، چې پرمختللي ماشينونه پرې واخلي.

**اختصاصي مهارت**

کوچني کاروباریان معمولاً اختصاصي مهارت لرونکي وي او د صنایع په وړو ساحو کې فعالیت کولای شي. دا ډول کاروبارونو کې هغه کسان په فعالیت بوخت وي چې د همغی برخی تجربه ولري. د مثال په ډول د خیاطۍ په دکان کې کاریګر یوازې د خیاطۍ په برخه کې مهارت لري.

**د مدیریتي سطحو نشتوالی**

د کوچنیو صنایعو مدیر خپله د کاروبار مالک وي او کوم ځانګړی تشکیل نه لري بلکه ټولې چارې خپله مدیریت کوي لکه تصمیم نیونه، استخدام، اعلانات، خرڅلاو او داسې نور. د کاروبار په هکله لومړی علم د کاروبار مالک سره وي؛ نو په دې خاطر په کوچنیو کاروبارونو کې مدیریتي سطحې لکه د لوړې سطحې مدیر، د منځنۍ سطحې مدیر او د ټیټې سطحې مدیر شتون نه لري او ټولې چارې د کاروبار مالک مدیریت کوي.

**د کاروبار وسعت**

کوچنی کاروبار د منطقوي بازار لپاره خدمات اجرا کوي. یوازې د یوې مشخصې ساحې لپاره تولیدات ترسره کوي (نیازی، ۱۳۹۱، ص ۱۰- ۱).

**د لوی او کوچنیو کاروبارونو تر منځ توپیر:**

اقتصادي توان یې فرق لري: کوچني کاروبارونه نشي کولای په اسانۍ سره په خپل اقتصاد کې فوري تغیر رامنځ ته کړي، مګر لوي کاروبارونه کولی شي.

مختلفو مارکېټونو ته د خدماتو وړاندې کول: لوی صنایع د مختلفو مارکېټونو لپاره خدمات وړاندې کوي، مګر کوچني صنایع یا خونه غواړي او یا نشي کولای، چې مختلفو مارکېټونو ته خدمات وړاندې کړي.

په کوچني کاروبار کې خطر، ګټه او د سرمایه ګذارۍ تصمیم نیونه: په کوچني کاروبار کې خطر، ګټه او د سرمایه ګذارۍ تصمیم نیول خپله د کاروبار د مالک لخوا صورت نیسي مګر په لویو کاروبارونو کې دا تصمیمونه د منیجر لخوا صورت نیسي.

د مختلفو اقتصادي منابعو څخه استفاده کول: د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د تولید زیاته برخه د دوهمي( Semi Finished Goods or

Finished Goods) منابعو څخه وي په داسې حال کې چې د لویو کاروبارونو د تولید زیاته برخه معمولاً د لمړنیو منابعو (Raw Material) څخه وي.

**د کوچنیو او لویو کاروبارونو ترمنځ ارتباط**

کوچني کاروبارونه د لویو کاروبارونو تر تاثیر لاندې راځي؛ په کوچني کاروبار باندې اقتصادي بحران ډېر کم تاثیر اچوي او خپل ځان په خپله عیاروي کوچني او متوسط کاروبارونه د اقتصاد لپاره یوه تکیه ده.

کوچني صنایع د لویو صنایعو لپاره مواد تهیه کوي او لوی صنایع دا مواد په کار تمامو موادو تبدیلوي. کوچنی صنایع د موادو څخه یو مشخص جنس جوړوي او د لویو صنایعو لپاره په کار راځي؛ د مثال په توګه کوچني کاروبارونه لوی کاروبارونو لپاره د تولید لیبل، کاغذ، اعلانات او داسې نور ترسره کوي.

کوچنی صنایع چې کوم تولیدات کوي لوی صنایع ترې هغه د خپلو موادو د تکمیل لپاره اخلي لکه کارتن د وړو تصدیو څخه اخلي او هغې کې خپل مواد برابروي

کوچني کاروبارونه تولید کوي او غټ کاروبارونه یې د خپل مالي طاقت په واسطه او هغه موقف چې په مارکېټ کې لري اخلي او په خپل نوم یې خرڅوي. د مثال په ډول د الکوزي شرکت ځینې توکې لکه کاغذي دسمال، بسکټ، لاسي پلاستیکونه او داسې نور د کوچنیو کاروبارونو لخوا تولیدیږي، چې د الکوزي شرکت لوګو او نوم څخه په استفادې په مارکېټ کې پلوري او یاد شرکت ته یوه اندازه ګټه ورکوي.

ډېری غټ کاروبارونه خپل ترمیماتي دندې کوچنیو صنایعو ته سپاري.

**کوچنیو او متوسطو کاروبارونو ته د خلکو لیوالتیا**

کوچني او د منځنی کچې تشبثات په ټوله نړۍ کې د کاري بوختیاو په رامنځ ته کولو کې پراخه برخه لري، که ارقامو ته ولیدل شي، نو د ټولې نړۍ ۹۰ سلنه کاروبار همدې کوچنیو او منځنیو کچې کاروبارونو څخه جوړ دي، چې ۵۰ سلنه کاري مشغولتیا د همدې کاروبارونو په وسیله رامنځته شوې ده (نایبزی، عبدالولی، ۲۰۲۲، ص ۳، ۲۴۵، دعوت میډیا).

عموماً په غریبو یا د اقتصاد له اړخه په پرمختلونکېو هېوادونو Developing Countries کې د لاندې ځانګړنو له کبله کوچنیو او متوسطو کاروبارونو ته د خلکو لیوالتیا زیاته ده:

کم کاروباري مهارتونه: عموما په غریبو هېوادونو کې کاروباري مهارتونه کم وي، یعنې هر ډول کاروبار کول په دا ډول هېوادونو کې دودیزه بڼه لري، کلتور او رسم و رواج یې د کاروبار بڼه اغېزمنه کړې وي، نو له هم دې کبله په دا ډول ټولنو کې خلک لوې کاروبار او پانګوونه په اسانۍ سره نه کوي او کوچني یا د منځنۍ کچې کاروبار ته مخه کوي.

لږه پانګه: د سیمې او نړۍ اکثریت خلکو سره د پانګې اچوونې او کاروبار لپاره شتمني کمه ده او نشي کولی چې لوی کاروبار دې پرې پیل کړي؛ نو له دې کبله مجبور دي، چې کوچني یا متوسط کاروبارونه پیل کړي. په مقابل کې لوی کاروبارونه زیاتې پانګونې ته اړتیا لري؛ نو ناممکنه ده چې ټول خلک دې لوې کاروبارونه پیل کړي؛ خو په ټولنه کې ډېر داسې کسان شته چې د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو لپاره پانګه په لاس کې لري. همدا علت دی، چې خلک کوچني او متوسطو کاروبارونو ته مخه کوي (نایبزی، عبدالولی، ۲۰۲۲، ص ۴، ۲۴۵، دعوت میډیا).

په کوچنیو او متوسطو کاروبارونو کې د تکنالوجۍ کم استعمال: په اوسني عصر کې د غټو کاروبارونو لپاره تکنالوجي اړینه ده. د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو په نسبت غټ کاروبارونه پرمختللې تکنالوجۍ ته اړتیا لري او د تکنالوجۍ د استعمال لپاره اړ دي چې مسلکي کسان وګماري. د ویب سایټ، انټرنیټ او داسې نورو برخو کې مسلکي کسانو ته اړتیا وي او هر یو ته غټ کاروباریان اړ دي چې معاشات ورکړي. د مثال په توګه ټولنیزو رسنیو کې د بازار موندنې په برخه کې مسلکي کس ته اړتیا ده. د دې په مقابل کې که چېرته کوچنیو او متوسطو کاروبارونو ته نظر واچول شي لیدل کیږي، چې ساده او کوچنۍ تکنالوجۍ څخه پکې استفاده کیږي او لګښت یې هم کم دی (نایبزی، عبدالولی، ۲۰۲۲، ص ۴، ۲۴۵، دعوت میډیا).

**په افغانستان کې کوچنیو او متوسطو کاروبارونو ته لنډه کتنه**

افغانستان غوندې په وروسته پاتې هېوادونو کې د وړو کاروبارونو ایجاد ډېرې زیات مهم او د پلې کېدو وړ دی، ځکه د داسې هېوادونو وګړي د سترو کمپنیو د

جوړلو وس نه لري، په افغانستان کې د وړو کاروبارونو د ایجاد اړتیا له دې هم قیاسولی شو چې ډېری افغانان بې روزګاره ګرځي او کلونه د دندې پلټنه کوي؛ خو خپله د دې فکر نه کوي چې یو عادي کار وبار را پیل کړي، همدارنګه په نوره نړۍ کې د دولتي دندو سربیره شخصي کمپنۍ او ادارې هم په زیات حجم سره کارمندان استخداموي چې په افغانستان کې دا برخه هم بیخي په نشت حساب ده، نو د بې روزګارۍ کچې کمولو لپاره لازمه ده چې کوچني کاروبارونه رامنځته شي. له بله پلوه، که وکتل شي افغانستان یو وارداتي هېواد دی چې خلک یې زیاتو خوړو، پوښاک، روغتیایي خدماتو او د ژوند په بیلابیلو برخو کې تولیداتو او خدماتو ته اړتیا لري نو دداسې یوه هېواد لپاره ضرور ده چې واړه کاروبارونه ایجاد، تقویه او باالاخره په سترو تولیدي او خدماتي کمپنیو بدل شي. تاسې به لیدلي وي چې د ماشومانو د لوبو پلاستیکي سامان آلات، پاپړ، چپس او چنړه چوړ غوندې عادي توکې کمی پانګی اچونې ته اړتیا لري. دولت او عام خلک کولای شي هغه ترلاس لاندې ونیسي چې پدې سره اوزګار خلک په کار شوې وي او د بلی خوا به مو تولیدات خپل وي. د تجارتي نړۍ اوسنی فکر دا دی چې واړه کاروبارونه همداسې واړه نه پاتې کیږي د سترو کمپنیو لومړنی پل له همداسې وړو او له کمې سرمایه ګذارۍ څخه اخیستل شوی دی. د نړۍ سترې کمپنۍ چې اوس په نړۍ باندې راج چلوي یو وخت همداسې کوچنۍ سرمایې، کمو کارمندانو او کم ځای څخه راپیل شوې دي، چې اوس د نړۍ په هر کونج کې خپل تولیدات او خدمات عرضه کوي او دولت ورته د ایجاد اسانه قواعد، خام مواد، ځای او په کم سود قرې اماده کوي او کوچني کاروبارونو تقویه کوي یې (نایبزی، عبدالولی، ۲۰۲۲، ص ۱، ۲۴۵، دعوت میډیا).

کوچني کاروبارونه له دې اړخه هم مهم دي، چې زموږ د ژوندانه ډېری اړتیاوې له همدغه کاروبارونو څخه پوره کیږي سلماني، نجاري، دکانداري، نلدواني او داسې نور ټول د کوچني او متوسط کاروبارونو په ډله کې راځي.

لوي کاروبارونه تر ډېره حده د خپلو خدماتو او توکو په لیږد او تر لګښت کوونکو پورې په رسولو کې هم د کوچنیو کاروبارونو څخه ګټه اخلي. د محلي اقتصاد لویه برخه په کوچنیو او متوسطو کاروبارونو ولاړه ده او همدغه کاروبارونه د یوې ټولنې په اقتصادي پرمختګ او د نویو تولیداتو او خدماتو په ایجاد او نوښتونو کې مهمه ونډه لري. همدغه کاروبارونه دي چې

وګړو ته یې کاري فرصتونه برابر کړي. باید ووایو چې د ډیرو هیوادونو د کارګری ځواک اکثریت برخه په کوچنیو او متوسطو کاروبارونو بوخت دي.

**اصلي موضوع**

**په ننګرهار ولایت کې کوچني او متوسط کاروبارونه**

ننګرهار یو له هغه ولایتونو څخه دی، چې په دې وروستیو کې د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو لپاره مساعد ګڼل شوی دی. دغه ولایت په هر موسم کې معتدله او پاکه هوا لري. د دې ولایت جغرافیاوي موقعیت ددې باعث ګرځیدلې چې د زراعت ترڅنګ پکې بېلابېل صنعتونه ښه وده وکړي. یاد ولایت د پاکستان سره پراخ سرحد لري همدا علت دی، چې پانګوال د پانګوونې په موخه یاد ولایت ته زیات ارزښت ورکوي او په مختلفو سکتورونو کې یې پانګونه کړې ده. دلته به په هغو صنعتونو تفصیلي بحث ترسره شي، چې په ننګرهار ولایت کې یې د پام وړ پرمختګ کړی او په بیلابیلو برخو کې یې د خلکو اړتیاوې پوره کړی دي.

**تخنیکي کاروبارونه**

تخنیکي کاروبارونه یو له هغه کاروبارونو څخه دي، چې د پیل لپاره یې ځانګړې پوهې او مسلک ته اړتیا لیدل کیږي. د مثال په ډول د ماشینریو، برقي وسایل، موټرو، تلویزونونو، مبایلونو، یخچالونو، بخاریو، واټرپمپونو او داسې نورو برقي اسبابو تولید او ترمیمول.

**صنعتي کاروبارونه**

د صنعت اصطلاح د کاروبار هغه فعالیتونو ته اشاره ده، چې د اجناسو تولید پورې اړه لري. په دغه فعالیتونو کې د استخراج څخه وروسته د توکو تولید یا د پروسس له مرحلې څخه تیریږي. په صنعتي برخه کې یو هم تولیدي کاروبارونه دي، چې خام مواد په نیمه تمام شوي او یا تمام شوي تولیداتو باندې بدلوي. دغه کاروبارونه د هیواد په اقتصاد کې ډیر مهم رول لري. د نړۍ د پرمختللي هیوادونو اقتصاد په صنعتونو ولاړ دی، لکه د امریکا، روسیې، چین، جاپان او داسې نور پرمختللي هیوادونه. په دی هیوادونو کې د اوسپنې، دوا، رخت، ټرانسپورټ، روغنیاتو، موټرو، تکنالوژۍ، صحت او خوراکې برخو صنعتونو د پام وړ پرمختګ کړی او همدا علت دی چې یاد هیوادونه یې خودکفا حالت ته رسولي دي. په لنډ ډول ویلی شو چې صنعتونه دي چې هیوادونه یې په قوي اقتصاد بدل کړي دي.

**ساختماني کاروبارونه**

ساختماني کاروبارونه له هغو فعالیتونو څخه شمېرل کیږي چې په نتیجه کې کورونه، دفترونه، ودانۍ، سرکونه، پلونه، ویالې، پارکونه، میدانونه او ساختماني تولیدات او داسې نورې چارې ترسره کوي. په ساختماني چارو کې د بیلابیلو موادو لکه ماشینونو، اوسپنې، سیخ، پایپونو، رنګونو، سنګ مرمرو، چپسو، سیمټو، کرش، شوکانې، ګچ او نورو وسایلو استفاده کیږي. د ساختماني چارو د ضرورتونو د رفع کولو په موخه په ننګرهار ولایت کې کوچنې او متوسط کاروبارونه په فعالیت بوخت دي. یوازې که د شوکانې په برخه کې مطالعه وکړو نو وبه ګورو چې په ننګرهار ولایت کې چې کوم شوکانې راویستل کیږي نه یواځې دا چې په افغانستان کې تری په بېلابېلو سیمو کې استفاده کیږي بلکې نورو هېوادونو ته هم صادرېږي او د دې لارې دولت ته په زیاته اندازه عاید لاس ته راځي.

**زراعتي کاروبارونه**

دا چې ننګرهار د زراعت لپاره یو مساعد ولایت دی او زراعت پکې ښه وده کوي. همدا علت دی، چې د زراعت په برخه کې شته کاروبارونو هم ښه پرمختګونه کړی او د دهقانانو اړوند ستونزو په حل کې رغنده رول لوبولی.

د زراعتي برخې کاروبارونه د زراعتي سکتور د ودې په موخه د هېواد په داخل او خارج کې زراعتي تولیدات ترسره کوي.

**مشروباتو کاروبارونه**

مشـروبات د "Cold Drinks" په نوم هم پېژندل کیږي، چې د دوبي په موسم کې ورته زیاته اړتیا لیدل کیږي. دا چې ننګرهار د اقلیم له نظره یو ګرم ولایت دی، مشروباتو ته یکې زیات ضرورت لیدل کیږي. د نورو کاربارونو ترڅنګ په ننګرهار ولایت کې د مشـروباتو کاروبارونو په ډېرۍ چټکۍ سره وده کړې او ورځ تربلې پانګوونه زیاتیږي. دا هغه کاروبارونه دي چې د بیلا بیلو میوه جاتو څخه جوس او نور مشروبات تولیدوي.

**خوراکي توکو تولیدي کاروبارونه**

د خوراکي توکو تولیدات په اصل کې د وسایلو، کېمیاوي او بیولوژیکي پروسو او بشري ځواک څخه کار اخیستل او خوراکي محصولات چمتو کول دي. د خوراکي توکو په تولید کې کاروبارونه خوراکي خام مواد په لویه کچه په محصولاتو بدلوي. په ننګرهار ولایت کې کوچني او متوسط کاروبارونه د خوراکي توکو په تولید کې د پام وړ ونډه لري او د خلکو اړتیاوې ورسره پوره کیږي.

**د جامو وینځلو د موادو کاروبارونه**

د جامو وینځلو لپاره د ځانګړو موادو څخه استفاده کیږي، چې د Detergent په نامه یادیږي. دغه مواد په مایع، پودرو او جامد حالت کې په بازارونو کې پیدا کیږي. ننګرهار له هغه ولایتونو څخه دي، چې د جامو وینځلو مواد کاروبار د خلکو پام ځانته اړولی دی.

**پلاستیکي توکو تولیدي شرکتونه**

پلاستیک مصنوعي یا نیمه مصنوعي هغه مواد دي، چې پولیمر یکې د اصلي جز په توګه کارول کیږي. د پلاستیکي توکو کارونه اوس وخت عامه شوې او د ژوند په مختلفو برخو کې ترې استفاده کیږي. په ننګرهار ولایت کې د پلاستیکي توکو کاروبارونه زیات شوي او د داخلي تولید زیاته برخه جوړوي.

**عطرونو کاروبارونه**

اوسمهال د نړۍ د نورو هیوادونو په څېر په افغانستان کې هم د عطرو استعمال دود شوی. دغه دود د هیواد د بیلابیلو ولایتونو ترڅنګ په ننګرهار ولایت کې هم اوږده مخینه لري چې مشران ، واړه او ځوانان یې د ځانګړو مراسمو سربیره په عادي ورځو کې هم ترې استفاده کوي. د عطرو کارونه نه یوازې انسانانو ته یو ډول راحت وربخښي بلکې د اسلام سپېڅلي دین هم د عطرو استعمال سنت ګڼلی. زمونږ ستر لارښود محمد مصطفی صلي الله علیه وسلم به تل اصحابو کرامو ته د عطرو د استعمال سپارښتنه کوله. په ننګرهار ولایت کې د عطرونو او خوشبویې سره د خلکو علاقه زیاته ده او کاروبارونه خپلو

مشتریانو ته د بېلابېلو هېوادونو عطرونه او خوشبویې راوارد وي.

**تیرو لیکنو ته کتنه**

تېرو لیکنو ته په کتنې سره اساسي ننګوونې چې کوچنې او متوسط کاروبارونه ورسره مخ دي، د مالي معلوماتو نابرابري، د وثیقې نشتوالی او د کمزوریو مالي پالیسیو شتون دی. دا ستونزې نه یواځې د پور ترلاسه کولو او د پانګونې بهیر ستونزمنوي بلکې د کوچنو او متوسطو کاروبارونو پرمختګ هم له خنډ سره مخ کوي.(Yang et al., 2024; Guo et al., 2024) همدارنګه اقتصادي بی ثباتی، د اسعارو د تبادلې لوړه کچه او مالیاتي فشار شتون د کوچنو او متوسطو کاروبارونو د فعالیت چاپېریال غیر باوري کوي او پانګونه یې محدودوي (Doan et al., 2020; Moder & Bonifai, 2017). د پور محدودیتونه هم د کوچنو او متوسطو کاروبارونو لپاره جدي خنډونه دي. څېړنې ښیي چې د ریسک لوړوالی، د پور اخیستو قیمت، د پور اندازه او د معاملې لګښتونه هغه فکتورونه دي چې د مالي لاسرسي مخه نیسي (Aminkeng et al., 2024; Archer et al., 2024).

له بلې خوا د نغدو پیسو کمښت او ضعیف مالي حسابونه نه یوازې د کوچنو او متوسطو کاروبارونو داخلي عملیاتي چارې له خنډ سره مخ کوي بلکې د یادو کاروبارونو مالي ثبات له منځه وړي او په کاروبارونو د پانګوالو باور ته زیان رسوي(Mittal & Raman, 2021; Vismaya & Sandhya, 2025) **.** د دولت لخوا ورکړل شوې سبسایي که له یو خوا ستونزې حلوي له بلې خوا کله ناکله دا مرستې پخپله د مدیریت او شفافیت د نشت له امله د کوچنو او متوسطو کاروبارونو پرمختګ محدودوي **(**Sun et al., 2024**)**. همدا ډول د بانکي پورونو د اخیستو لپاره اداري ستونزې، د وثیقې سخت شرایط او اوږدې بیروکراتیکې پروسې د کوچنو او متوسطو کاروبارونو پراختیا په وړاندې خنډ جوړوي **(**Jalolovich et at**)**. ترڅنګ یې په فزیکي او ټولنیزو زیربناوو کې کمښت، لکه برېښنا، سړکونه او انټرنټ، د کاروبارونو دوامداره فعالیتونه له خنډ سره مخ کوي. دا کمښتونه په ځانګړي ډول د پرمختګ په لومړیو پړاوونو کې کوچني او متوسط کاروبارونه ډېر اغېزمنوي (Khan, 2022; Makhdom et al., 2025**)**. سیاسي بې ثباتي او امنیتي ننګونې هم د پانګوالو اعتماد ته زیان رسوي او د اقتصادي فعالیتونو دوام ته خطر پېښوي (Fayaz & Emran, 2024; Makhdom et al., 2025**).**

د اداري د ظرفیت کموالی او د مدیریت ستونزې، چې د پلان جوړونې، منابعو تنظیم او ستراتیژیک لید د نشتوالي له امله رامنځته کېږي، هم د کوچنو او متوسطو کاروبارونو لپاره لوی چیلنجونه ګڼل شوي (Bakare et al., 2024; Shinwari et al., 2024). په نوي اقتصادي چاپېریال کې د دیجیټلي مهارتونو کمښت، د بدلون پر وړاندې مقاومت او د کارکوونکو کم ظرفیت د نوښت مخه نیسي او د نړیوال رقابت وړتیا کموي(Omowole et al., 2024; Sudirman, 2025). همداراز د تعلیم نشتوالی او د کارکوونکو مهارتونو ټیټوالی، د کار د کیفیت او تولیدي ظرفیت د ټیټې کچې لامل ګرځي ( Khan, 2022; Ahmad & Kaur, 2025). په نهایت کې د حکومت سخت مقررات، بیروکراسي او مالیاتي فشار د سوداګرو د هڅونې پر ځای هغوی مایوسه کوي او د غیر رسمي سکتور پراخېدو ته زمینه برابروي (Bui et al., 2021).

## د څېړنې تګلاره

### د څېړنې ډول

په لومړي سر کې باید روښانه کړم، چې نوموړې څېړنه په کیفي بڼه ترسره شوې ده.

د څېړنې جمعیت او نمونه: څرنګه چې ننګرهار ولایت کې کوچني او منځني کاروبارونه محدود دي؛ نو لدې امله د ننګرهار ولایت سوداګرۍ خونې ریاست څخه په رسمي توګه د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو اړوند معلومات ترلاسه شوي. د دغې احصایې په اساس یاد کاروبارونه، چې تولیدي برخه کې فعالیت کوي، (۲۷۲) تولیدي کوچني او منځني کاروبارونه دي. دغه کاروبارونه په مجموع کې زما د څېړنې جمعیت تشکیلوي او هدف ته د رسېدلو لپاره ترې لومړی (A Sample Frame) اخستل شوی، چې د ننګرهار ولایت په مرکزي برخو کې واقع ول. دغه څېړنه د (Cross Sectional Research Design) په اساس ترسره شوې، ځکه سروې په یو وخت په یوه نقطه کې ترسره شوی. د (Non-available of Sample) لپاره د (Two Stage Sampling Method) څخه استفاده شوې.

جلال اباد ښار کې په مجموعي توګه دولس (۱۲) ناحیې دي، چې د څېړنې لپاره په (Randomly) توګه اوله ناحیه، دوهمه ناحیه، دریمه ناحیه، څلورمه

ناحیه او پنځمه ناحیه انتخاب شوي. په یاد (Randomly) انتخاب کې (۱۵۹) کوچني او متوسط کاروبارونه د یادو ناحیو څخه انتخاب شوي.

## موندنې او تحلیل

### موندنې

د څېړنې موندنې په دې ډول لنډیز کېږي: د افغانستان په عمومي اقتصادي چاپېریال کې کوچني او متوسط کاروبارونه (SMEs) د حیاتي رول لرونکو بنسټونو په توګه پېژندل کېږي، چې نه یوازې د دندو ایجاد لپاره زمینه برابروي، بلکې د اختراع، اقتصادي پراختیا او نوښتونو په راوستلو کې هم مهمه ونډه لري. په ننګرهار ولایت کې د تولیدي SMEs وضعیت له جدي ستونزو سره مخ دی. په دې څېړنه کې څرګنده شوې چې دغه کاروبارونه له ګڼ شمېر مالي او غیر مالي خنډونو سره مخ دي، لکه د مالي منابعو کمښت، د فني او ماهرو کارکوونکو نشتوالی، د بازار محدودیت یا بشپړ نشتون، سخت رقابت، د برېښنا او انرژۍ ستونزې، د خامو موادو قلت، د قاچاق او نامنظم وارداتو اغېزونه، د دولت د ملاتړ نشتوالی او د مالیاتو او ګمرکاتو پیچلې ستونزې، سربېره پر دې د کاري ځواک د مهارتونو ضعف هم د پرمختګ مهم خنډ ګڼل کېږي. همچنان، په دې څېړنه کې څو تکرارېدونکې ستونزې هم روښانه شوي دي چې تر ټولو مهمې یې عبارت دي له: د پور نه ترلاسه کېدل، د سود لوړه کچه، د تولیداتو لپاره د بازار نشتوالی او د مناسب کاروباري پلان نشتوالی چې په پایله کې د تشبث ضعیف ظرفیت ته هم لاره هواروي.

### تحلیل

د څېړنې د تحلیل پراساس، کوچني او متوسط کاروبارونه (SMEs) د ننګرهار ولایت په کچه له متعددو مالي او غیر مالي ستونزو سره مخامخ دي، چې د دوی د پرمختګ پر وړاندې اساسي خنډونه بلل کېږي. د تحلیل پایلې ښیي چې شاوخوا ۶۰ سلنه کاروبارونه هممهاله له مالي او غیر مالي محدودیتونو سره لاس و ګرېوان دي، چې پدې کې د پانګې نشتوالی، د مسلکي کارکوونکو کموالی، د بازار نه شتون، او د زیربناوو نشتوالی تر ټولو زیات یاد شوي. دا وضعیت ښیي چې د یاد ولایت د تولیدي سکتور پراخېدو ته جدي تهدیدونه موجود دي.

له احصايې څخه څرګندېږي چې د پورونو ترلاسه کول تر ټولو جدي مالي ستونزه ده؛ ځکه چې ۶۳ سلنه کاروبارونه وايي چې دوی د تمويل يا پور ته لاسرسی نه لري. دا حالت له دې امله هم ستونزمن شوی چې د سود کچه لوړه ده، او ۴۳ سلنه ګډونوال يې د "ډېرو" ستونزمنو عواملو په توګه يادوي. دا پايله ښيي چې بانکونه او تمويلوونکي اداري د SME سکتور د اړتياوو سره همغږي نه لري.

له بلې خوا، د دولت له لوري ملاتړ هم کمزوری ارزيابي شوی؛ ځکه چې يوازې ۵ سلنه کاروبارونه د دولت له پاليسيو او اقداماتو رضايت لري، حال دا چې تر نيمايي زيات يې دولت بې پروا بللی. دا د دولت د سياستي ناسموالي او نشتوالي ښکارندويي کوي، چې د سوداګرۍ د پرمختګ فضا محدوده کړې ده.

همدارنګه، نږدې نيمايي کاروبارونه ادعا لري چې د کاروباري پلان نه درلودو له امله يې کاروبارونه له ستونزو سره مخ شوي، چې دا خپله د مديريتي ضعف نښه ده. سربېره پردې، د بازار محدوديت، د انرژۍ کمښت، د خامو موادو قلت، او د فني مهارتونو کمښت هغه غير مالي ستونزې دي چې د توليد د کچې ټيټېدو او د سوداګرۍ د ودې د محدودېدو سبب ګرځېدلي دي.

**مناقشه**

په ننګرهار ولايت کې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو د پرمختيا په وړاندې ځينې ستونزې موجودې دي چې په دې څېړنه کې يې لاملونه او اغيزې روښانه شوي دي . ددې څېړنې په پايله کې په ننګرهار ولايت کې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو په وړاندې مالي ستونزې او غير مالي ستونزې رابرسيره شوی دي. په ياد ولايت کې د مالي ستونزو له کبله نه يوازې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو پيل ناشونی کړی بلکې په دوامداره توګه يې د دوی فعاليتونه هم د سقوط سره مخ کړي دي؛ ځکه ياد کاروبارونه نشي کولی توليدي عوامل لکه پانګه، تجهيزات، بشري قوه، اداري چارې او مناسب ځايونه ترلاسه کړي.

په ننګرهار ولايت کې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو په وړاندې غير مالي ستونزې بله ننګونه ده چې له امله يې کاروبارونه بې شميره ستونزو

سره مخ دي. د غیرمالي ستونزو له کبله د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د منابعو څخه په اغیزنه توګه استفاده نه کیږي او امکانات یې ضایع کیږي. د اړونده غیرمالي ستونزو په نتیجه کې نه یوازې یې مصارف بې هدفه وي بلکې تولیدي پروسه یې هم له خنډ سره مخ کیږي او تولیدات یې بې کیفیته کیږي. یاد کاروبارونه مسلکي کسان له لاسه ورکوي چې وروسته د نوښتونو او اختراعاتو د کموالي سره مخ کیږي. غیرمالي ستونزې د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو مولدیت له منځه وړي او په مارکیټ کې راتلونکو بدلونونو ته توانایي اغیزمنه کیږي. غیرمالي ستونزې نه یواځې د کاروبارونو فعالیتونه ستونزمن کړي بلکې په دوامداره توګه یې مشتریان هم له لاسه ورکړي، خرڅلاو او ګټه یې کمه شوی او زیاتره کاروبارونه له همدې امله سقوط سره مخ شوی دي.

**پایله**

نوموړې څېړنه چې په افغانستان کې خاصتآ په ننګرهار ولایت کې د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو په وړاندې د ستونزو او د تکراریدونکو ستونزو مشخص کول دي. د څېړنې په پایله کې مو ترلاسه کړل چې د اړونده کاروبارونو په وړاندې لاندې ستونزې موجود دي. قرضو ته نه لاسرسی، د سود د نرخ زیاتوالی، تمویل، ضایعات، د خامو موادو کموالی، مارکیټ ته د لاسرسي محدودیت، د کاروباري پلان نشتون، د کارمندانو مظاهری او اعتصابات، د دولت لخوا د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د حمایت نشتون، د مدیریتي مهارتونو کموالی، د بازارموندنې او تخنیکي برخې د معلوماتو کموالی، د کاروباري امکاناتو کموالی، د کاروباري قوې د مهارتونو ضعف، د تشبث په برخه کې د تعلیم او روزنې کموالی، د زیربناو کموالی، د انرژۍ کموالی او د امکاناتو غیر ضروري مصارف دي.

د دغې څېړنې پایله ښیي چې د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د پرمختیا په وړاندې تکراریدونکې ستونزې عبارت دي له مارکیټ ته د لاسرسي محدودیت، تمویل، د مسلکي بشري قوې کموالی، زیربناو نشتون، د خامو موادو کموالی، د تشبث په برخه کې د تعلیم او روزنې نشتوالی دي.

**وړاندیزونه**

د مارکیټ د پراختیا په موخه باید نړیوال او سیمه ییز نندارتونونه رامنځته شي.

بانکونه باید کوچنیو او متوسطو کاروبارونو لپاره د قرضې مختلف سکیمونه رامنځته کړي.

د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو مالکانو ته پکار ده چې د کار کوونکو د ظرفیت لوړونې لپاره مختلف ورکشاپونه ارایه کړي.

د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو اړوند زیربناوې باید په زیات مقدار او ښه کیفیت سره رامنځته شي.

دولت ته پکار ده چې ګاونډیو هیوادونو ته د خامو موادو په قاچاق بندیز ولګوي.

**ماخذونه**

حبیبی ,عنابت الله. (۲۰۱۶). په افغانستان کې د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستونزې.

خلیلزی، صفی الله. (۱۳۹۶). کاروبار پیژندنه .جلال اباد، ختیځ خپرندویه ټولنه.

خونه, افغانستان سوداګرۍ. (۱۳۹۸). د کاروبار د وضعیت سروې.

درانی ,حامدالله. (۱۳۸۴). بازار دوه میاشتنۍ خپرونه، لومړۍ ګڼه.

ستانکزی، امین الله. (۲۰۲۲). د کوچنیو او توسطو کاروباري فرصتونو ایجاد.

سکون، طیب الله. (۱۳۹۸). د کاروبار تمویل .

شفق، حسام. (۱۴۰۱). په ننګرهار ولایت کې د کوجنیو او متوسطو کاروبارونو سروې .جلال اباد، ننګرهار تجارت خونه.

شیرازي حبیب. (۱۳۹۰ هـ ش). نقش شرکت های کوچک و متوسط در اقتصاد ایران، ایران.

عبدالحق. (۱۳۸۳). ادارچی ځواکونه او شرایط، کابل، کابل پوهنتون.

نابیزی، عبدالوافی. (۲۰۲۲). کوچني او منځي کچی کاروبارونه.

ننګ, محمد اصف. (۱۳۸۴). د افغانستان اقتصا، میوند خپرندویه ټولنه.

نیازی. (۱۳۹۱). کاروبار پیژندنه .جلال اباد، ګودر خپرندویه ټولنه.

Abdullah, M. H. (2021). SMEs' Development in Afghanistan: Issues and New Management Perspectives. Management, 9(4), 295-333.

Ali, S., Muhammad, H., & Migliori, S. (2024). R&D investment and SMEs performance: the role of capital structure decisions. EuroMed Journal of Business.

Aminkeng, T. A., Huaming, S., Mukete, N. B., & Mwalupaso, G. E. (2024). Impact of credit constraints on financial performance of small and medium size enterprises. The European Journal of Development Research, 36(4), 868-896.

Archer, L., Sharma, P., & Su, J. J. (2024). Investigating SME's credit constraints: a trinary approach. Journal of the Asia Pacific Economy, 29(3), 1533-1563.

Bakare, O. A., Achumie, G. O., & Okeke, N. I. (2024). The impact of administrative efficiency on SME Growth and Sustainability.

Doan, A. T., Le, A. T., & Tran, Q. (2020). Economic uncertainty, ownership structure and small and medium enterprises performance. Australian Economic Papers, 59(2), 102-137.

Durrani, N., Raziq, A., Mahmood, T., & Khan, M. R. (2024). Barriers to adaptation of environmental sustainability in SMEs: A qualitative study. Plos one, 19(5), e0298580.

Fayaz, M., & Emran, A. (2024). Kardan Research Journal (KRJ).

Guo, L., Xu, L., Wang, J., & Li, J. (2024). Digital transformation and financing constraints of SMEs: evidence from China. Asia-Pacific Journal of Accounting & Economics, 31(6), 966-986.

https: //acci.org.af/provincial-chambers/provincial-news.html.

Jalolovich, K. A., Ahmadjanovna, M. T., & Ghafor, F. M. G. I. A. The Place of Small Business in Afghanistan. International Journal on Economics, Finance and Sustainable Development, 3(5), 47-51.

Khan, M. A. (2022). Barriers constraining the growth of and potential solutions for emerging entrepreneurial SMEs. Asia Pacific Journal of Innovation and Entrepreneurship, 16(1), 38-50.

Linda Williams, Lumen. (2017). Advantages and disadvantages of Small Business Ownership.

Makhdom, M. A., Arian, R., Intezar, A., & Adib, H. (2025). Identifying Barriers to the Development of Small and Medium Enterprises (SMEs) in Afghanistan. Nangarhar University Social Science Journal, 2(02), 41-51.

Mambula, C. (2002). Perceptions of SME growth constraints in Nigeria. Journal of small business management, 40(1), 58-65.

Shinwari, O., Sherzai, A., & Mujaddidi, J. A. (2024). Kardan Journal of Economics and Management Sciences (KJEMS). Management, 7(1), 43-54.

Tambunan, T. (2009). Development and some constraints of SME in Indonesia. Center Industrial SME Business Competition Studies University Trisakti, 1(1), 1-9.

Yang, J., Zhang, Y., Gong, J., & Liu, T. (2024). How Does Fintech Development Affect Financing Constraints of Smes? Evidence From China. ECONOMICS-INNOVATIVE AND ECONOMICS RESEARCH JOURNAL, 12(3), 1-32.

**استاد عبدالرشید هلال**
فقه او قانون څانګه، شرعیاتو پوهنځی، تابش پوهنتون

# په ننګرهار ولایت کې د سوال کولو لاملونه او د حل لارې چارې یې

**لنډيز**
الله جل جلاله انسانان داسې نه دي پیدا کړي، چې هر یو یې په پوره توګه پر خپل ځان بسیا شي او د ژوند په چارو کې یې بل چا ته اړتیا پیدا نه شي. د اړتیا د پوره کولو لپاره په عرف کې بېلابېلې لارې چارې شته، چې په اوسني وخت کې ډېر خلک دا کار د سوال کولو له لارې کوي، په همدې اساس ما (په ننګرهار ولایت کې د سوال کولو لاملونه او د حل لارې چارې یې) تر عنوان لاندې دغه میداني څېړنه غوره کړې وه، چې هدف یې په ننګرهار ولایت کې یې لاملونه معلومول او هغې ته د حل لارې چارې لټول دي. په دې لیکنې سره به په ټولنه کې د سوال کولو عادت راکم شي او خلک به یې له بدو دنیوي او اخروي پایلو خبر شي، دا لیکنه د سوال کولو د حکم او لاملونو په اړه راپیدا شویو پوښتنو ته ځواب وایي او په دې لیکنې سره امید کیږي، چې ډېر سوال کوونکي به د سوال کولو څخه خلاص او ټولنه به له دې ناسورڅخه پاکه شي. دا لیکنه د ځانګړې کړنلارې په پام کې نیولو سره ترسره شوې او د معتمدو پخوانیو او اوسنیو ماخذونو څخه پکې استفاده شوې ده.

په ننګرهار ولایت کې د سوال کولو لاملونه عبارت دي له: فقر او غربت، د زکات په سمه توګه نه اداء کول، د سوال کولو عادت، د تعلیم څخه لرې والی، معیوب والی، د نشه یي توکو استعمال او داسې نور... او ورڅخه د خلاصون لارې چارې، لکه: په قرآني او نبوي نصوصو د خلکو پوهاوی، د ټولنې وګړو ته د کار زمینه برابرول، زکات په سمه توګه اداء کول، د اړو وګړو سره مرسته کول، د جنګ او جګړو له منځه وړل، د نشه یي توکو له منځه وړل او داسې نور... پکې راوړل شوي دي.

**کلیدي کلمې:** سوال، لاملونه، حل لارې چارې، ننګرهار

**سریزه**

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين ، نبينا محمد وعلى آله واصحابه ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين. اما بعد: فقد قال الله تعالى: ﴿لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ﴾().

ژباړه: خیراتونه ستاسې د هغه فقیرانو لپاره دي چې حصار شوي دي په لاره د الله عز وجل کې چې توان نلري دوی د ګرځېدلو په ځمکه کې، ګومان کوي په دوی باندې ناپوه د غنیانو له امله د ځان ساتلو د سوال څخه، پېژنې به ته دوی لره په نښو او علامو باندې، سوال نه کوي د خلکو څخه په وازې خولې سره او هر شی چې تاسې مصرفوئ د خير نه پس بېشکه الله په هغه باندې عالم دی.()

دا چې الله ج انسان ته خورا ډېر لوړ مقام او ارزښت ورکړی، له همدې امله الله عزوجل انسان ته په ټولو هغه کارونو امر کړی چې د انسان شرافت او عزت وربادنې زیاتيږي او د ټولو هغه کارونو څخه یې منع کړی چې د انسان د ذلت او سپکاوي سبب کيږي؛ نو یو د هغه کارونو څخه چې د انسان د سپکاوي سبب ګرځي د یو چا څخه څه غوښتل دي. له همدې امله اسلامي شریعت خپل پیروان د سوال کولو څخه منعه کړي او د یوبل مرستې ته یې هڅولي چې د مسلمانانو ټولنه د سوال کولو او ذلت د کارونو څخه خلاصه شي؛ نو په همدې اساس مې د څېړنې لپاره دا موضوع (په ننګرهار ولایت کې د سوال کولو لاملونه او دحل لارې چارې یې) انتخاب کړه او دا لیکنه مې پرې وکړه. د الله عزوجل څخه غوښتونکی یم چې زما دغه لیکنه د خپلې رضا لپاره وګرځوي او د ټولنې وګړي ورڅخه مستفید شي.

**د موضوع د اختيار اسباب (لاملونه)**

دغه موضوع چې (په ننګرهار ولایت کې د سوال کولو لاملونه او د حل لارې چارې یې) تر عنوان لاندې لیکل شوې د غوراوي ځینې لاملونه یې دا دي:

1. په ننګرهار ولایت کې د سوال کوونکو د شمېر زیاتېدل او د هغې حل او مخنیوی

2. د حقیقي او عادتي فقیر او سوال کوونکي پېژندل.
3. د پیسو د ګټلو لپاره د ناروا لارو څخه ګټه پورته کول او د نورو خلکو عزت له منځه وړل.

دا او دېته ورته لاملونو وهڅولم چې نوموړې موضوع خوښه او علمي څېړنیزه لیکنه پرې وکړم.

**د موضوع موخې**

د موضوع لیکنې ځینې اهداف په لاندې ډول دي:
۱_ د سوال کولو حکم خلکو ته روښانه کول.
۲_ د سوال کولو لاملونه روښانه کول او د حل لارې یې پیدا کول.
۳_ په ننګرهار ولایت کې د سوال کوونکو ډولونه بیانول او د هغې حقیقت خلکو ته ښکاره کول.

**د موضوع اهمیت**

دا چې افغاني ټولنه څو لسیزو جګړو ځپلې ده او خلک یې له زده کړو څخه لرې پاتې شوي او اکثره خلک یې په غربت او فقیرۍ کې ژوند ګې ترسره کوي تردې چې د تیرو وختونو په پرتلې سره په اوس وخت کې د سوال کولو ناوړه پدیده د اوج نقطې ته رسیدلې، د ټولنې اکثره وګړي په سوال کولو بوخت دي او حقیقي غریب په ټولنه کې د خلکو څخه ورک شوی له همدې امله (په ننګرهار ولایت کې د سوال کولو لاملونه او د حل لارې چارې یې) داسې موضوع ده چې څېړل یې د ټولنې لپاره ډېر ارزښتناک دي؛ ځکه چې په اوس وخت کې د خلکو توجه سوال کولو ته ډیره زیاته شوېده. په اوس وخت کې د هغه لویو موضوعاتو څخه چې خلک یې حیران کړي د سوال کولو موضوع ده؛ نو اړینه ده چې د دې احکام وڅېړل شي، چې د ټولنې وګړي د سوال کولو حکم او دهغې د بدو عواقبو څخه خبر او ځان ورڅخه وژغوري.

د موضوع د اهمیت بله نقطه دا ده چې د دولت او د ټولنې مالداره وګړي باید د دې خلکو د ژوند په هکله سوچ او فکر وکړي ترڅو دوی د سوال کولو څخه منع شي او د عادي ژوند اسباب ورته برابر شي.

**پوښتنې**

کوښښ کوم چې په دې بحث کې لاندې پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړم:
۱_ د سوال کولو ناوړه اغیزې څه دي؟
۲_ په ننګرهار ولایت کې د سوال کولو لاملونه څه دي؟
۳_ د سوال کولو د دغه ناوړه پدیدې د حل لارې چارې څه دي ، چې زمونږ ټولنه ددغه ناوړه پدیدې څخه خلاصه شي؟

**د بحث لیکلو تګلاره**

1. لکه چې د موضوع له نوم څخه څرګندیږي زما موضوع دوه اړخونه لري چې یو اړخ یې په ننګرهار ولایت کې د سوال کولو لاملونه او دویم اړخ یې د حل لارې چارې دي نوله همدې امله به، د ځینو ریاستونو ، پوهانو، ځینو علمي اشخاصو، سوال ګرو او داسې نورو خلکو ته مې مراجعه کړې، نظرونه مې اخیستي چې زمونږپه ټولنه کې د سوال کولو لاملونه څه دي او د حل لارې چارې یې څه دي ؟. په اړه مې معلومات اخستي او په بحث کې مې په مناسب ځای کې ځای پر ځای کړي.
2. د دې تر څنګ په لیکنه کې د لیکنیزو اصولو په پام کې نیولو سره د پخوانیو علماوو نظرونه د هغوی له کتابونو څخه رانقل کړي او په وړ ځای کې مې ځای پر ځای کړي.
3. نبوي احادیث مې له اصلي مصادرو څخه رانقل کړي.
4. په لومړي ځل کې مې د هر مصدر په اړه پوره معلومات راوړي، چې لومړی د مصنف مشهور نوم، بیا یې پوره نوم، بیا د کتاب چاپ کال – چې موندلی مې دی- بیا د کتاب نوم، جلد او صفحه او بیا د چاپ اړوند معلومات چې څومره مې ترلاسه کړې دي.
5. بحث مې په ساده او روانه سیمه ایزه پښتو ژبه لیکلی؛ تر څو خلک پرې په آسانه پوه شي.
6. د بحث په پای کې مهم نتائج، وړاندیزونه، د بحث اړوند ځینې ضمایم او فهرست راوړی.

**لومړی مبحث : د سوال پیژندنه**

دا چې سوال کول څه حکم لري او لاملونه یې څه دي، ښه به دا وي چې لومړی سوال وپیژنو چې یې مونږ ته حکم او لاملونه روښانه شي؛ نو پر همدې اساس پدې مبحث کې سوال پیژنو.

**لومړی مطلب: د سوال لغوي پېژندنه**
سؤال کلمه چې د (فَتَحَ، يَفْتَحُ) د باب څخه مصدر دی، لکه: (سأل، يسأل، سؤالا، مسألة)، کله کله يې همزه حذفېږي، لکه عرب وايي: (سال، يسال) ځکه چې د عربو په اند د سؤال کلمې اصل مهموز دی؛ خو کله چې عربو ته د کلمې په تلفظ کې د همزې ويل سخت وو؛ نو ځکه يې مخفف (له همزې پرته) تلفظ کړ(). د سؤال د کلمې اطلاق په لاندې معناګانو سره کيږي:

١.(المسألة العلمية): يعنې هر هغه علمي مسأله که هغه د فقهې د علم مسأله وي، که د عقيدې د علم وي او که د نورو علمونو يوه مسأله وي.

٢.(مسألة ما في أيدي الناس) د خلکو څخه د هر هغه څه غوښتلو په معنی چې د هغوی په لاسونو کې وي().

**دويم مطلب: د سوال اصطلاحي پېژندنه**
د سوال اصطلاحي تعريف د لغوي معنی څخه خارج ندی؛ ځکه چې يا د مال غوښتل دي او يا د چا څخه علمي پوښتنه کول دي او دا دواړو ته شاملېږي، البته ځينې علماوو يې تعريفونه کړي چې دلته يې يادونه کوو.

١ـ (مسألة الناس ما في أيديهم والسائل غني عنها). ()

ژباړه: د خلکو څخه د هر هغه څه غوښتل چې د خلکو په لاس کې وي او سوال کوونکی ورته اړتيا نلري.

٢ـ (سؤال المرء لنفسه أو لغيره أموال الناس تصريحا أو تعريضا). ()
ژباړه: د يو شخص لخوا د خلکو د مالونو غوښتل دي د خپل ځان يا د بل چا لپاره په تصريحي ډول او يا په اشارې سره.

**دويم مبحث: د اسلام له نظره د سوال کولو حکم**
دا چې په تېر مبحث کې مو سوال وپېژندلو، اوس غواړو چې پدغه مبحث کې د سوال کولو په هکله د اسلامي شريعت دريځ ذکر کړو چې د سوال کولو په هکله د اسلامي شريعت دريځ څه دی؟

دا چې نبي صلی الله عليه وسلم د سوال کولو څخه منع کړې، په حديث شريف کې راځي. عن أبي هريرة، قال: قال رسول الله صلَّى الله عليه وسلَّم: ((مَن سأل الناسَ أموالهم تكثُّرًا، فإنما يسألُ جمرًا، فليستقلَّ أو ليستكثِرْ))().

ژباړه: د أبوهريرة رضی الله عنه څخه روایت دی، هغه فرمایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: هر هغه څوک چې د خلکو څخه سوال کوي، د دې لپاره چې خپل مال وربانديې زیات کړي. دا په حقیقت کې د جهنم سکروټې د ځان لپاره غواړي، اوس دده خوښه ده که ځان ته یې زیاتوي او که کموي یې.

له همدې امله امام نووي رحمه الله فرمایلي: ټولو علماوو پدې اتفاق کړی چې د ضرورت پرته سوال کول حرام او ناروا دی. البته هغه سوال کوونکی چې د کسب او کار کولو توان لري د هغې د سوال کولو په هکله د علماءو تر منځ اختلاف دی چې پکې دوه قوله دي؛ خو راجح قول دادی چې د هغې لپاره هم سوال کول حرام دي.()

په پای کې ویلی شو چې سوال کول حرام او ناروا دی، مګر د ضرورت په وخت سوال کول روا ګرځي چې دغه حالات عبارت دي له: یو سړي د خلکو بوجونه پخپله غاړه اخستې وي او اوس یې نشي اداء کولی، د یو سړي مال د آفت له وجې هلاک شي او یو سړي ته لوږه رسیدلې وي.

**دریېم مبحث: په ننګرهار ولایت کې د ځینو ادارو، اشخاصو او سوالګرو سره مصاحبې**

پدې مبحث کې د ځینو ادارو سره مو د سوال کولو د حکم په اړه، د سوال کولو د لاملونو او د حل لارو چارو په اړه مصاحبې ترسره کړي چې دلته یې ذکر کوو:

**لومړی مطلب: د حج او اوقافو ریاست سره**

په ننګرهار ولایت کې د سوال کولو لاملونه عبارت دي له د قرآن او احادیثو په نصوصو نه پوهېدل، د فقر او غربت له امله خلک سوال کولو ته اړ دي، د بې کارۍ کچه ډېره زیاته لوړه شوې، تر دې چې د ټولنې وګړي سوال کولو ته اړ کړي همدارنګه په ټولنه کې د هغه وګړو کچه لوړه شوې چې په نشه یي توکو اخته دي او ددې تر څنګ نور لاملونه هم شتون لري چې خلک یې سوال کولو ته اړ کړي.

د حل لارې چارې: د عشر او زکات د راټولو لپاره یوه منظمه تګلاره جوړول چې زکات او عشر په سمه توګه را جمع او په مستحقینو ښه شکل

سره وويشل شي. په نشه يي توکو اخته وګړو تداوي کول او هغه خلک چې نشه يي توکي صادروونکو او وارده وونکو ته سخته سزا ورکول، د کار زمينه برابرول او داسې نور...

د سوال کوونکو ډولونه: په نشه يي توکو روږدي کسان، حرفوي سوالګر يعنې هغه خلک چې سوال يې خپل کسب ګرځولی وي، بې سرپرسته ښځې او ماشومان، د کار د کولو توان نه درلودل، ناروغان او داسې نور.

د دولت څخه غوښتنه: د نشه يي توکو د خرڅلاو مخه ونيسي، د کار زمينه برابرول، حقيقي سوال کوونکي بايد ليست شي او مرستندويه مؤسسو او بنسټونو ته معرفي شي چې مرسته ورسره وکړي. هغه سوال کوونکي چې سوال کول يې کسب ګرځېدلی وي بايد مخه يې ونيول شي.()

يادونه: د ننګرهار د حج او اوقافو رياست تر دې وخته د سوال کولو د حکم په اړه، د ناوړه اغېزو په اړه کوم عامه پوهاوی ندی ترسره کړی، البته دا وړانديز ورته د څېړونکي لخوا وشو چې بايد ددې لپاره يو پلان برابر شي. چې زمونږ په ټولنه کې د سوال کولو ناوړه پديده له منځه لاړه شي، يا يې کچه ټيټه شي.

**دويم مطلب: د پوهنې رياست سره**

د سوال کولو لاملونه: جنګ ، د سوال کولو په اړه د عامه پوهاوي نشتون، فقر او غربت، کسب او عادت ګرځېدل، معلوليت، بې روزګاري، مافيايي کړۍ شتون لرل چې خلک سوال کولو ته اړ کوي، بيا د هغوی څخه ټاکلې فيصدي اخستل، بې سرپرستي او داسې نور لاملونه دي چې خلک يې سوال کولو ته اړ کړي دي.

د حل لارې چارې: زکات په سمه توګه اداء کول، سرسايه او نور نفلي خيراتونه ترسره کول، د کار زمينه برابرېدل، د خيريه مؤسساتو ايجادول، د مخدره موادو د له منځه وړلو لپاره عامه پوهاوی ترسره کول، د کار، امور اجتماعي رياست لخوا د اړو خلکو سره مرسته کول او داسې نور.

په تعليم باندې سوال کولو ناوړه اغيزه: سوال کول په تعليم او زده کړه باندې ډېره زياته ناوړه اغېزه لري؛ ځکه کله چې يو څوک سوال کول شروع کړي، هغه بيا زده کړې ته توجه نه کوي. بل دا چې ځېنې وخت اړې کورنۍ

پخپلو بچیانو سوال کوي نو د هغوی څخه تعلیم کول پاتې کیږي. زما په آند کچېرته په ټولنه کې تعلیم او زده کړې ته پرمختګ ورکړل شي طمعه کیدلی شي چې تقریبا ۳۵ فیصده د سوال کولو کچه کمه شي.

د سوال کوونکو ډولونه: اکثره یې کسبګر دي. یعنې سوال کول یې خپل عادت ګرځولی، ځینې سوال کوونکي معلول او معیوب وي، کار نشي کولی له همدې امله سوال کوي، جنګ ځپلي. یعنې زمونږ په ټولنه کې اکثره وګړي د جنګ له امله ځپل شوي، دوی د خپلو ځایونو پرېښودلو ته اړ شوي په همدې اساس سوال کوي. کونډې او یتیمان: ځینې سوال کوونکي کونډې او یتیمان وي یعنې د کور سرپرست یې نه وي له همدې امله سوال کوي.

**له دولت څخه ِغوښتنه:** بې کاره وګړو ته د کار زمینه برابرول، د کونډو او یتیمانانو لپاره حرفوي زده کړې او فابریکې برابرول، د یتیمانانو لپاره دار الأیتامونه(یتیم خانې) جوړول چې د هغوی سالمه روزنه وشي او ددې تر څنګ زده کړه هم وکړي، معلولینو ته د وړتیا پر اساس د کار زمینه برابرول، د زکات او صدقاتو د راټولولو لپاره یو منظم سیستم برابرول چې په مستحقو خلکو وویشل شي().

**دریيم مطلب: د کار، ټولینزو او معلولینو چارو ریاست سره**

د سوال کولو لاملونه: د خلکو نفوس زیات دی او د کار زمینه برابره نده، د بې کارۍ کچه زیاته ده، فقر او غربت دی، سرپرست نلرل او داسې نور.

د حل لارې چارې: حرفوي سوالګر معلوم شي او خپلو کورنیو ته معرفي شي، مافیايي کړۍ باید د امنیتي اورګانونو لخوا ونیول شي، د اړو خلکو سره مرستې وشي، حرفوي زده کړې برابرې شي او داسې نورې لارې چارې په کار واچول شي.

د سوال کولو د مخنیوي لپاره اقدامات: زمونږ لخوا د اړو خلکو نوموونه لیکل کيږي، بیا د ریاست له لارې مرسته کوونکو ادارو ته معرفي شوي او هغوی ورسره مرستې کړي دي.

د دې تر څنګ مونږ کمپاینونه کړي دي، سوال کوونکي مو نیولي او هغوی څخه مو معلومات حاصل کړي او بیا مو خپلو کورنیو ته سپارلي او دا تعهد مو ورڅخه اخستی چې سوال به نه کوئ.

د حج او اوقافو ریاست په همکارۍ د علماوو له لارې په مساجدو کې عامه پوهاوی ترسره کړی.

په پای کې مونږ د سوال کولو د مخنیوي لپاره یو پلان ترتیب کړی چې هغه پلان د ننګرهار ولایت د محترم مقام سره شریک شوی، پدې کې مختلف ریاستونو ته ونډه ورکړل شوې او د هر ریاست ونډه په کې مشخصه شوېده چې یو کاپي به يې تاسو ته درکړو().

یادونه: په ننګرهار ولایت یوازینی ریاست چې د سوال کوونکو په اړه يې منظم فعالیت ترسره کړی د کار، امور اجتماعي ریاست دی. چې دوی کمپاینونه ترسره کړي او ددې تر څنګ منظم کاري پلان يې ورته ترتیب کړي چې د سوال کولو مخنیوی وشي، حقیقي سوال کوونکي د نورو سوال کوونکو څخه جلا شي. لیکن دوی د کمپاینونو کوم اسناد له مونږ سره شریک نه کړل چې دوی ترسره کړي؛ خو د خبرو څخه يې دا معلومیده چې واقعا دوی کمپاینونه ترسره کړي.

**څلورم مطلب: د ځینو اشخاصو سره**

د پیغام خصوصي لیسې د مدیر سره

**د سوال کولو لاملونه:** جنګ او نا امني ده، عادت دی، فقر او غربت دی، کونډوالی او د یتیمانانو شتون، د زکات په سمه توګه نه اداء کول او داسې نور دي.

**د حل لارې چارې:** زکات په سمه توګه اداء کول، عامه پوهاوی ترسره کول، د کونډو او یتیمانانو لپاره د دولت لخوا بودیجه ځانګړې کول او میاشت په میاشت معاش ورکول، حقیقي سوال کوونکي د دروغجنو سوال کوونکو څخه جلا کول او داسې نور.

دده په وینا: یوه ورځ د کابل څخه را روان وم، موټر کې ناست ووم کله چې د سرخرود دوسرکې ته را ورسیدم، ومې کتل چې یو زرنج والا ښځې له ځان سره په زرنج کې کښینولي دي. دوه ښځې یې د کامې په دوسرکه کې ښکته کړې، دوه ښځې یې د بلندغرو په بازار کې ښکته کړې، دوه یې د بهسودو پل سره ښکته کړې او دوه ښځې یې ښار ته ویوړلې() (د پوهنتون د استاد سره مرکه)

**د سوال کولو معاصرې بېلګې:** د سوال کولو معاصرې بېلګې ډیرې زیاتې دي، ځینې وخت له ماسره داسې فکر پیدا شي چې دې سوال کوونکو ته د یو چا لخوا ټریننګ ورکول کیږي او هغه طریقي چې په نورو هېوادونو کې ترسره کیږي، دوی ته زده کول کیږي. لکه د قلمونو خرڅول، د بوټانو او څپلیو پالش کول، د ګاډو شیشې پاکول او داسې نورې طریقې دي چې خلک یې د سوال کولو لپاره استعمالوي.

**د سوال کولو لاملونه:** فقر او غربت دی، په نشه یې توکو د روږدو کسانو زیاتوالی، د کار نشتون، زیاتره وګړي مونږ وګورو چې سوال کوي وایي: کار ته راوتلی وم، کار راته پیدا نشو ډوډۍ مې نده خوړلې یوه ډوډۍ راته واخله، د بې حیایۍ خپرول او داسې نور لاملونه کیدلی شي چې د ټولنې وګړي سوال کولو ته اړ کړیدي.

**حل لارې چارې:** دولت باید د ټولنې وګړو ته د کار زمینه برابره کړي. د کونډو او یتیمانو لپاره باید میاشتنی معاش او تنخوا وټاکي، د نشه یي توکو د خرڅلاو مخنیوی وکړي، د معتادینو تداوي او علاج وشي، هغه نجونې چې سوال کوي باید خپلو کورونو ته بوتلل شي او

او لیاؤو ته یې وویل شي چې دوی باندې سوال مه کوئ، ښځینه سوال کوونکو ته باید حرفوي زده کړې ترسره شي او داسې نور(د الفلاح پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاذ سره)

**د سوال کولو لاملونه:** بې کاري، مالداره وګړي زکات په سمه توګه نه اداء کوي، خیراتونه او صدقات نه ورکوي، په هېواد کې د سرمایه دارانه نظام شتون، عادت او پېشه ګرځېدل، دا احتمال هم شته چې د بې حیایۍ لپاره ځیني ښځې راوځي او سوال کوي.

**د حل لارې چارې:** باید اسلامي حکومت او نظام راشي؛ ځکه چې په اسلامي حکومت کې د خلکو دحقوقو حفاظت او ساتنه کیږي، باید مالداره وګړي داسي فکر وکړي چې فقیر او مسکین زموږ سره زموږ په مالونو کې حق او برخه لري، اقتصادي منابع باید په کار واچول شي، د کار زمینه برابره شي اوداسې نور.

**له دولت څخه غوښتنه:** خلک باید د زکات اداء کولو ته تشویق کړي، باید وګړو ته د کار زمینه برابره کړي، دولت باید د فساد او رشوت اخستنې مخه ونیسي؛ چې کار اهل کار ته وسپارل شي، د ټولنې وګړو ته عامه پوهاوی ترسره شي().

**اووم مطلب: د سوال کوونکو سره**

**لومړۍ مصاحبه:** یو تن سوال کوونکي سره مصاحبه: د سوال کولو لامل یې د پلار ناروغي ده، پلار یې عملیات کړي او نشي کولی چې کار وکړي په همدې اساس سوال کولو ته اړه شوې چې سوال ترسره کړي().

**دویمه مصاحبه:** یو بله سوال کوونکې چې نوم یې بیرو جانه وو. تقریبا د پنځوسو کالو څخه یې عمر زیات وو د سوال کولو لامل یې: دکورنۍ د سرپرست نشتون، یو زوی یې ډرېور او بل یې پوډري دی له همدې امله سوال کوي().

**درېیمه مصاحبه:** یو بل سوال کوونکی چې ځان یې د میرزاخیلو معرفي کولو او د سوال کولو لامل یې: په پاکستان کې په یو زیارت کې ملنګ پاتې شوی یم او اوس مجبور یم چې سوال وکړم().

په پای کې به دا ووایم چې د ډیری ښځینه سوال کوونکو سره مو مصاحبې وکړې، لیکن د نوم ښودلو څخه یې ډډه کوله خو د سوال کولو لامل یې اکثره دا ذکر کولو چې د کور سرپرست نه لرلو، ماشومان راته پاتې دي په همدې اساس سوال کوو.

البته ځینې ښځې چې چوړیانو ته ورته دي د هغوی بیا د ا پېشه او کسب ګرځېدلی دی او د عادت له امله سوال کوي.

**پایله (نتېجه)**

د دې ټولو مصاحبو څخه دې نتېجې ته رسیږو چې په ننګرهار ولایت کې د سوال کولو لاملونه: فقر او غربت، د نشه یي توکو استعمال، بې کاري، معلولیت، بې سوادي، د کور سرپرست نشتون، کسب او عادت، مافیایي کړیو شتون، د زکات په سمه توګه نه اداء کول، د اړو خلکو سره مرستې نه کول او داسې نور لاملونه کیدلی شي.

د حل لارې چارې: د کار زمینه برابرول، عامه پوهاوی ترسره کول، د خیریه مؤسسو ایجادول، زکات د راټولولو لپاره یو منظم سیستم جوړول، د نشه یي توکو له منځه وړل، سوله راتلل او د امنیت ټیګښت، عادت لرونکي سوال کوونکي نیول، د فساد او رشوت مخنیوی او داسې نور .

دولت باید د کار زمینه برابره کړي، خیریه مؤسسې جوړې کړي، دارالأیتامونه جوړ کړي، نشه یي توکو روږدو کسانو تداوي وکړي، د سولې لپاره هلې ځلې وکړي، د خپل ملت د ګټې لپاره اقتصادي پلانونه برابر کړي.
د زکات راټولولو لپاره یو منظمه اداره رامنځ ته کړي؛ چې د خلکو څخه زکات راټول او د هماغه ځای په اړو خلکو یې وویشي.

**پایله**

د دې څېړنې د ترسره کولو څخه وروسته دې نتېجې ته ورسېدم

1. سؤال: د مال د غوښتنې څخه عبارت دی چې یو شخص یې د خپل ځان یا بل چا لپاره په صریح ډول یا د اشارې په شکل ترسره کوي.
2. په اسلامي شریعت کې سوال کول په اصل کې حرام او ناروا دي، البته د ضرورت او اړتیا په وخت کې اسلامي شریعت د سوال کولو اجازه ورکړېده.

3. زمونږ په ټولنه کې ډول ډول وګړي سوال کوي، ځينې داسې وګړي دي چې د خلکو لخوا سوال کولو ته اړ کيږي، خينې يې داسې دي چې په يو ځانګړي موسم کې سوال کوي، ښځې سوال کوي، بوډا ګان او بوډۍ سوال کوي، پيغلې او ځوانان سوال کوي، ماشومان سوال کوي او داسې نور.
4. په اوس وخت کې سوال کوونکي د سوال کولو لپاره مختلفې طريقې په کار اچوي. لکه: د ګاړو او موټرونو شيشې پاکول، د قلمونو خرڅول، د خلکو بوټان او څپلۍ پالش کول، د سپيلنيو لوګی کول، د جوماتونو او مدارسود جوړولو په نوم چنده کول او داسې نور.
5. د سوال کولو لاملونه عبارت دي له: په قرآني او نبوي لارښوونو ناپوهي، فقر او غربت، د نشه يي توکو استعمال، عادت او کسب جوړېدل، زکات په سمه توګه نه اداء کول، بې حيايي خپرول، معيوبيت، جنګ او نا امني، د کورنۍ د سرپرست نه شتون، د تعليم او زده کړې څخه ليرېوالی، بې کاري، جاسوسي او نور لاملونه کيدلی شي.
6. د سوال کولو د ناوړه پديدې د له منځه وړلو د حل لارې چارې عبارت دي له: په قرآني او نبوي لارښوونو باندې د خلکو پوهول، د ټولنې وګړو ته د کار زمينه برابرول، د ټولنې د مالداره وګړو څخه زکات په سمه توګه راټولول او په محتاجو خلکو ويشل، تعليم او زده کړې ته پرمختګ ورکول، د جنګ ختمول او په ټولنه کې د امن راتلل، د مخدره موادو او نشه يي توکو له منځه وړل او داسې نور.
7. هغه ماشومان چې سوال کوي بايد دوی ونيول شي کچېرته دوی واقعي يتيمان وي بايد په روزنتونونو کې داخل شي، زده کړه ورباندې وشي، ددې ترڅنګ حرفوي زده کړې ورته هم برابرې شي او که کورنۍ يې هم بې وزله وي بايد د کورنۍ سره يې هم مرسته وشي.
8. هغه ښځې چې سوال کوي بايد دوی هم ونيول شي، خپلو کورنيو ته معرفي شي کچېرته دوی حقيقي سوال کوونکي يعنې د کور سرپرستې وي (کونډې وي)، بايد دولت ورسره مرسته وکړي، حرفوي زده کړې ورته برابرې شي، کچېرته سوال کول يې عادت وي بايد مخنيوی يې وشي چې سوال کول پريږدي. همدارنګه کچېرته دوی خاوندان لري بايد خاوندانو ته يې تعزيري جزا ورکړل شي.

9. هغه پېغلې نجونې چې سوال کوي باید دوی د سوال کولو څخه منع شي او زما په نظر کچېرته د دوی کورنۍ د دوی حفاظت او ساتنه نشي کولی باید کورنۍ دې ته اړ شي چې یو چاته یې په نکاح ورکړي چې خاوند یې حفاظت او ساتنه وکړي.

10. هغه بوډاګان چې سوال کوي، باید د سوال کولو څخه منع شي، که د کور سرپرست یې وي باید هغوی ته وویل شي چې باید دوی سوال ونکړي. او کچېرته همدا بوډا د کورنۍ سرپرست وي باید د کار زمینه ورته برابره شي او یا ورته د دولت لخوا میاشتنی معاش وټاکل شي؛ نو ان شاءالله زمونږ په ټولنه کې به د سوال دغه ناوړه پدیده ختمه شي.

11. د افغانستان په قوانینو کې هم د سوال کولو څخه منع راغلې چې د ټولنیز ملاتړ قانون د دیارلسمې مادې څخه تر اوولسمې مادې پورې د سوالګرۍ اړوند احکام ذکر شوي او په لومړۍ ګڼه ضمیمه کې راوړل شوي.

**مناقشه**

دا چې د سوال کولو ناوړه پدیده د نړۍ په ټولو هېوادونو کې یا په اکثرو هېوادونو کې شتون لري؟ نو په همدې اساس یکې مختلفې لیکنې ترسره شوي چې زما د لیکنې د توپیرونو څخه یو توپیر د دغه لیکنو سره دا دی چې دغه لیکنې په عربي ژبه شوې او زما لیکنه په پښتو ژبه ترسره شوېده.

بل دا د (أحکام المسألة والاستجداء فی الفقه الاسلامي) په بحث کې یوازې د تسول او سوال کولو اړوند احکام یوازې په فقه کې ذکر شوي، البته ما پخپله لیکنه کې ددې ترڅنګ میداني څېړنه هم ترسره کړې چې پخپله لیکنه کې مې ځای پر ځای کړیدي. بله دا چې پدغه لیکنه کې د سوال کولو لاملونه نه دي ذکر شوي؛ خو ما پخپله لیکنه کې د سوال کولو لاملونه ذکر کړي.

بله لیکنه (ظاهرة التسول اسبابها و علاجها)، دا چې دا یوه مقاله ده په همدې اساس پدې لیکنه کې د سوال کولو لاملونه ذکر شوي چې عبارت دي له: په الله عزوجل باندې د توکل او اعتماد کولو کمزوروالی، د فقر د کچې زیاتوالی، د بېکارۍ دکچې زیاتوالی، په ټولنه کې د ګډې همکارۍ نشتون، د سوال کولو عادت. البته د دې تر څنګ په افغاني ټولنه کې بالخصوص په ختیځو ولایتونو کې د دې تر څنګ د نشه یي توکو استعمال، د زکات په سمه

توګه نه اداء کول، معیوبوالی، د کورنۍ دسرپرست نشتون او داسې نور لاملونه هم دي.

**پایله اخیستنه**

په ننګرهار ولایت کې ډېرې سوال کوونکي شتون لري، چې پدې کې ځوانان، بوډاګان، پېغلې، ماشومان او داسې نور.

په سوال کوونکو ځینې سوال کوونکي داسې دي چې دوی واقعا د اړتیا له امله سوال کوي او داسې سوال کوونکي هم شته چې دوی د خلکو لخوا سوال کولو ته اړ کیږي یا یې عادت ګرځېدلی وي.

دا چې خلک سوال کولو ته اړکیږي عمده لاملونه یې دادي: فقر او غربت، د کارنشتون، زکات په سمه توګه نه اداء کول، جنګ او نا امني، د نشه يي توکو استعمال او داسې نور.

د حل لارې چارې یې دا دي: زکات په سمه توګه اداء کول، خلکو ته د کار زمینه برابرول، نشه يي توکي له منځه وړل او مخنیوی یې کول، جنګ او نا امني له منځه وړل او پر ځای یې سوله او امن راوستل، ضروري کارونو ته اولیت ورکول. د فابریکو او شرکتونو جوړول، خلکو ته عامه پوهاوی کول او داسې نور.

**وړاندیزونه**

۱. د ګران هېواد افغانستان اسلامي امارت ته، چې دوی باید د بې وزله خلکو لپاره د مرستې او تعاون لپاره پداسې شکل سره رسمي ادارې پرانیزي چې په حقیقي شکل سره د بې وزله خلکو سره مرسته وکړي چې د سوال کولو مخنیوی وشي.

۲. د ننګرهار ولایت محلي ادارې ته چې دوی باید د ولایت په کچه د خپلو وګړو سره مرستې وکړي، د کار او ټولینزو چارو ریاست باید د اړو خلکو سره مرستې وکړي، د حج او اوقاف ریاست باید عامه پوهاوی ترسره کړي، د زکات اخستلو لپاره باید یو تګلاره باندې کار وکړي؛ چې د ټولنې وګړي مو د سوال کولو څخه خلاص شي.

۳. د خپلې ټولنې مالداره وګړو ته دوی باید پخپل هېواد کې سرمایه ګذاري وکړي؛ چې زمونږ د ټولنې وګړو ته د کارزمینه برابره شي. بل دا چې دوی باید زکاته په سمه توګه اداء کړي او وړو اشخاصو ته یې ورکړي؛ چې زمونږ په ټولنه کې د سوال کولو ناوړه پدیده ختمه شي.

۴. د ټولنې اړو او محتاجو وګړو ته دوی باید د خلکو څخه سوال ونکړي، کوشش دې وکړي چې کار ترسره کړي او پخپل حالت دې صبر وکړي او د خلکو پر ځای دې د الله جل جلاله څخه سوال وکړي؛ نو ان شاء الله الله جل جلاله مهربانه ذات دی، د دوی مشکلات او ستونزې به حل کړي.

**مأخذونه**

قران کريم

الف: کتابونه

ابن الأثير، مجد الدين أبو السعادات المبارك بن محمد بن محمد بن محمد ابن عبد الكريم الشيباني الجزري.(۱۳۹۹هـ). النهاية في غريب الحديث والأثر.تحقيق: طاهر أحمد الزاوى - محمود محمد الطناحي.ناشر: بيروت ـ المكتبة العلمية.

ابن منظور، جمال الدين محمدبن مكرم الافريقي المصري. (۱۴۱۴ه). لسان العرب، بيروت: دار احياء التراث العربي، لومړی چاپ.

خياط، محمدبلو بن محمديعقوب. أحكام المسألة والاستجداء فى الفقه الاسلامي، سعودي عربستان: جامعة أم القرى، المكة المكرمة.

دمشقي، الحافظ اسماعيل بن كثير.(۱۴۰۸هـ.).تفسيرالقرآن العظيم، ناشر: القاهرة: دارالحديث، چاپ ګڼه: لومړۍ.

قاسمي ، محمد جمال الدين بن محمد سعيد بن قاسم الحلاق.(۱۴۱۵هــق.). موعظة المؤمنين من إحياء علوم الدين. محقق: مأمون بن محيي الدين الجنان، ناشر: دار الكتب العلمية.

نووي، يحيى بن شرف بن مري أبوزكريا.(۱۴۰۷ه)ـ المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج (شرح النووي على مسلم)، القاهرة: دارالريان. لومړی چاپ.

ب: مصاحبې

مصاحبه: بیرو جانه، د ننګرهار ولایت د بهسودو ولسوالۍ اوسېدونکې.

مصاحبه: خیال محمد لاجبر خان. د اسلامي تعلیماتو د نظارت غړی، د ننګرهار د پوهنې ریاست.

مصاحبه: ښځینه سوال کوونکې، ننګرهار ولایت د جلال آباد ښار.

مصاحبه: عبدالستار حاجي عبدالجبار د کچړې د کلي اوسېدونکی. د پېغام خصوصي لېسې د درېمې څانګې مدير.

مصاحبه: عطاء خان، د ننګرهار ولایت د میرزاخیلو اوسیدونکی.

مصاحبه: عطاءالله شګيوال فيض الله شګيوال، د عطاء خيريه بنسټ مؤسس، ننګرهار ولايت.

مصاحبه: محمدهارون عبدالمجيد، مدير عمومي تأمينات اجتماعي، ننګرهار د کار، اموراجتماعي، شهداءو او معلولينو رياست.

مصاحبه: احمدولي خادم احمد.د دارالحفاظ مدير، ننګرهار د حج او اوقاف رياست.

مصاحبه: استاد قاري رفيع الله. د کونړ ولايت اوسېدونکی، دالفلاح پوهنتون استاد

مصاحبه: استاد محمدجاويد ظريف دنورستان ولايت اوسيدونکی، د الفلاح پوهنتون شرعياتو پوهنځي استاذ

مصاحبه: اسماء مجاهد، يوه سوال کوونکې چې اصلا د سرخرود ولسوالۍ اوسېدونکې ده.

**استاد غفران الله صافی او استاد ولس صافی**
حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، تابش پوهنتون

## په اسلامي شریعت او نړیوالو حقوقي اسنادو کې د سپلانیانو حقوق

**لنډیز**
که څه هم نړیوال حقوقو کې تراوسه د سیاحت په اړه له الزامي مقرراتو څخه ګټه نه ده اخیستل شوې، خو په نړیوالو معاهداتو کې د بهرنیانو حقوقو ته ځای ورکړل شوی دی. اوسنۍ څېړنې ښیي د تفریح حق، چې په نړیوالو اسنادو کې د یو منل شوي بشري حق په توګه تائید شوی، سیاحت ته هم عام کېدای شي. نړیوال سیلانیان باید د کوربه هېوادونو داخلي الزامي قوانینو ته پرته له کوم تبعیضه غاړه کېږدي. د نړیوال قانون له نظره، د مقابل اقدام اصل تر هغه حده چې بنسټیز حقونه نه نقض کوي، د سفر ازادي هم د سیلانیانو حقوقو څخه ګڼل کیږي.

دا چې په نړیوالو معاهداتو کې د سیلانیانو حقوق ځای پر ځای شوي دي ولې اسلامي شریعت، چې د بشري کرامت او مېلمه پالنې پراخ اصول لري، هم د سپلانیانو حقوقو ځانګړې پاملرنه کړې. سره له دې، لا هم دا موضوع د معاصرو نړیوالو حقوقي اسنادو (لکه د بشر حقونو نړیوال اعلامیه، د کډوالو تړونونه، او سیاحت پورې اړوند کنوانسیونونه) او اسلامي فقهې ترمنځ د تقابل، تطبیق او توپیر د تجزیې او تحلیل شوی دی.

د دې موضوع اهمیت په دې کې دی چې دواړه حقوقي سیستمونه د سیلانیانو لپاره حقوق وړاندې کوي چې د دوی د مال، ژوند، خصوصي حریم ساتنه، اوسیدو ځای حق؛ خو په اسلامی شریعت کې د سیلانیانو لپاره حقوق دېر دي، نسبت نړیوالو معاهداتو ته لکه لارښوونې حق، ښه چلند حق او مهرباني ورسره کول.

په دې څېړه کې به معلومه شي چې اسلامي شریعت سیلانیانو حقوقو ته څومره ارزښت وکړی او همدارنګه به نړیوالو معاهداتو کې د سیلانیانو حقوق مقایسه وي ډول سره وڅېړل شي.

په ځېړنه کې د کتابتوني میتود څخه استفاده شوې ده او همدارنګه هڅه شوی ده چې لومړی لاس منابعو څخه استفاده وشي کې تر لاسه شوی ده وي دوی لاس منابعو څخه هم استفاده شوی ده.

د دې مقالې پایله ښیي چې د اوسنیو نړیوالو حقوقو له نظره، لومړی، سیلانیان مستحق دي چې له بنسټیزو حقونو لکه د ژوند حق او عادلانه محکمې ته د لاسرسي حق څخه ګټه پورته کړي، چې دا د قونسلګرۍ ملاتړ له لارې ترلاسه کېدای شي، پرته له دې چې کوم متقابل تړون موجود وي. دویم، ځیني ځانګړي حقونه شتون لري چې کوربه حکومتونه او د سفر ادارې باید یې تضمین کړي، چې په دې کې شامل دي: د معلوماتو (د سفر او ممکنه خطرونو په اړه) لاسرسي حق، رسمي، قضایي او روغتیایي خدماتو ته لاسرسی او د بهرنیو اسعارو تبادله، چې دا د سیاحت لپاره د نړیوالو اخلاقي اصولو په کوډ کې ملاتړ شوی دی.

**کلیدي کلمې:** نړیوال حقوق، سېلانیان، خوندیتوب، انساني کرامت.

**سریزه**

هېوادونه د اقتصادي پرمختګ لپاره تل هڅې کوي چې پکې یوه هم سیلانیانو د ورته فرهنګ ترویج دی چې اوسنی نړۍ کې هېوادونه تل هڅه کوي چې بهرنیانو پام ځانته راواړه وي ځکه دوی کولی شي چې له دې لارې عواید ترلاسه کړي او هېواد پرمختګ سبب شي همدارنګه په نړیواله سطحه باندې سیلانیانو ته حقوق ورکړل شوي دي لکه د انساني کرامت، عدالت چې د نورو حقوقو د ترویج لپاره خورا اړین دي.

اسلامي شریعت د انساني کرامت پر بنسټ ولاړ د حقونو داسې یو ټولیز نظام وړاندې کوي چې د ټولو خلکو په شمول د بهرنیانو او سیلانیانو، د امنیت، مال او عزت تضمین کوي. له بلې خوا، نړیوال معاهدات د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې او نورو تړونونو په چوکاټ کې د سیلانیانو د حقونو ساتنې لپاره واضح اصول وضع کړي.

د دې څېړنې موخه دا ده چې د اسلامي شریعت او نړیوالو معاهداتو په رڼا کې د سیلانیانو د حقوقو اهمیت، اهداف او تطبیق په علمي او مقایسوي بڼه تحلیل شي. دغه موضوع نه یوازې د فقهي او قانوني اړخونو د پوهېدو لپاره

مهمه ده، بلکې د نړیوالو اړیکو، سیاسي تفاهم او اقتصادي پراختیا لپاره هم ژوره اغېزه لري.

پدې څېړنه کې هڅه شوې چې د اسلامي شریعت او نړیوالو معاهداتو ترمنځ د سیلانیانو د حقوقو اړوند مشترکات او توپیرونه وڅېړل شي چې په اسلامي هېوادونو کې د نړیوالو معیارونو په رڼا کې د سیلانیانو د حقوقو د ښه تطبیق لپاره مؤثرې حللارې وړاندې شي.

**اهمیت**

دا چې څېړنه کې د سیلانیانو حقوقو څخه بحث شوی دی او نن ورځ سیلانیانو په صنعت باندې ولاړه ده، د دې لارې هېوادونه ډېر عواید تر لاسه کوي، دا څېړنه د کوربه هېواد او د نور هېوادونو د اوسیدونکو لپار حیاتي ارزښت لري چې شریعت او نړیوالو معاهداتو له نظره دلایل په لاندې ډول سره دي.

**په اسلامي شریعت کې**

1. انساني کرامت: سیلانیان د نړیوالې انساني کورنۍ برخه ګڼل کیږي، شریعت د هغوی لپاره ځانګړي حقوق تضمینوي او د دوی د هر ډول تیري څخه خوندي ګڼلی دی
2. د عدل او انصاف تطبیق: شریعت د اصولو څخه یو د عدل اصل د چې په هېواد کې په ټولو اوسیدونکو یو شان تطبیق کیږي، که هغه بهرنیان او که سیلانیان وي بس مونږ ویلی شو چې سیلانیانو حقوق شریعت کې هم شته دی.
3. دوی ته د دیني مراسمو اجراء کولو حق هم ورکړل شوی دی اسلامي اصولو مطابق.

**په نړیوالو معاهداتو کې**

1. د نړیوال سیاحت پراختیا: نړیوالو معاهداتو کې سیلانیانو حقوقو څخه ملاتړ شوی دی ځکه سیلانیان د هېوادونو اقتصادي او کلتوري پرمختګ کې مهم رول لري ویلی شو چې موضوع د اهمیت وړ ده.
2. د بشري حقونو ترویج: د سیلانیانو د حقوقو ساتنه د بشري حقونو یوه برخه ده چې بشر حقوق اعلامي هم د بشري حقوق څخه ملاتړ کړی دی.

3. د نړيوالو اړيکو پياوړتيا: نړيوالو همکاريو په رامنځته کولو کې سيلانيان هم رول لري؛ ځکه حکومتونه د خپلو اتباعو د حقوقو خونديتوب مسؤليت په غاړه لري چې دوی همدغه مسؤليت ته په پام سره دوی سره تړونوه کوي بس ويلی شو چې موضوع اهميت لرونکې ده.

**اهداف**

**اصلي موخه**

په اسلامي شريعت او نړيوالو حقوقي اسنادو کې په پرتلييز ډول د سېلانيانو حقوق څېړل

**فرعي موخې**

په اسلامي شريعت کې د سېلانيانو د حقوقو څېړل

په نړيوالو حقوقي اسناد کې د سېلانيانو د حقوقو څېړل

**څېړنيزې پوښتنې**

**اصلي پوښتنه**

1. په اسلامي شريعت او نړيوالو معاهداتو کې سيلانيانو حقوق تر کومه بريده سره ورته والی لري؟

**څېړنې فرعي پوښتنې**

1. اسلامي شريعت سيلانيانو ته د کومو اصولو له مخې حقوق ورکړي دي؟
2. سيلانيانو د حقوقو په اړه نړيوالو معاهداتو کوم اصول وضع کړي دي؟
3. په افغانستان کې سيلانيانوته د اسلامي شريعت او نړيوالو تړونونه سره سم ورکول کيږي؟
4. .ميتودولوژي

**کتابتونيزه څېړنه**

د اسلامي شريعت اړوند کتابونه (قرآن، حديث، فقهي اصول) او نړيوال تړونونه (د بشري حقونو نړيواله اعلاميه، سياحتي قوانينو اسناد، بشر حقوق نړيواله اعلاميه .... مدني حقوق او سياسي حقوق ميثاق) مطالعه کول.

**پخوانيو ليکونه ته ادبي کتنه**

(من فقه الدولة في الإسلام) کتاب کې خونديتوب او عهد مفاهيمو ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، چې د غير مسلمانانو د خونديتوب لپاره د اسلامي شريعت

چوکاټ تشکیلوي. هغه استدلال کوي چې اسلامي ټولنه مکلفه ده چې په خپله خاوره کې مېشتو یا راتلونکو غیر مسلمانانو ته امنیت او ښه چلند تضمین کړي.القرضاوي د سیلانیانو د حقوقو په اړه په څو مهمو ټکو ټینګار کوي، خوندیتوب، مېلمه پالنه او اقتصادي او ټولنیز عدالت چې نوموړی په خپل تحلیل کې د اسلامي شریعت انعطاف او شمولیت روښانه کړی دی. د هغه نظریات د معاصرو اسلامي ټولنو لپاره د نړیوال سیاحت په رڼا کې عملي لارښوونې وړاندې کوي (القرضاوي، ۱۹۹۷).

تفسیر القرآن العظیم د اسلامي نړۍ له خورا مشهور او معتبر تفسیرونو څخه دی، چې د قرآن کریم د ایتونو په ژوره او پراخه تفسیر تمرکز لري. امام ابن کثیر په دې تفسیر کې د قرآن کریم د ایتونو تشریح د نبوي احادیثو، د صحابه کرامو ویناوو او د اسلامي فقهي له اصولو سره نغښتې وړاندې کوي؛ که څه هم تفسیر القرآن العظیم په مستقیم ډول د سیلانیانو په اړه بحث نه کوي؛ خو د اسلامي شریعت هغه عمومي اصول چې د غیر مسلمانانو، مېلمنو او مسافرو د حقونو په اړه وړاندې کوي، د سیاحت لپاره مهم چوکاټ برابروي. د دې کتاب د ځینو برخو اهمیت د سیلانیانو د حقونو په اړه په دې ډول دی امنیت اصل ، مېلمه پالنې اصل او کلتورونو د توپیر اصل په دی کتاب کې سیلانیانو له دی حقوق څخه یادونه شوی ده (ابن کثیر۷۵۹ هـ (۱۴۰۰ ق. ح).

محمد هاشم کمالي په خپل کتاب فقه اسلامي اصول او معاصر مسائل کې د اسلامي شریعت د اصولو په معاصرې نړۍ کې د تطبیق په اړه هر اړخیز بحث وړاندې کړی. دغه کتاب د اسلامي قانون د بنسټیزو اصولو په رڼا کې د معاصرو ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري ستونزو د حللارې موندلو هڅه کوي.کمالي په دې اثر کې د اسلامي شریعت هغه انعطاف تشریح کړی چې د معاصرو شرایطو سره د تطبیق وړتیا لري. هغه په ځانګړي ډول د سیلانیانو او مسافرو د حقونو په اړه د اسلامي اصولو اړوند څو مهم ټکي یادوي خوندیتوب، مېلمه پالنې ښه چلند ، کلتور تنوع او زغم اصل، نړیوالو اصولو سره همغږي څخه یادونه کړې ده (کمالي، ۲۰۱۰).

احمد عبدالله په خپل کتاب *اسلام او پایښت لرونکی سیاحت* کې د سیاحت او اسلامي اصولو ترمنځ اړیکې څېړلې دي. لیکوال د سیاحت په برخه کې د

اسلامي شریعت هغه اصول روښانه کړي چې د طبیعي چاپېریال ساتنې، کلتوري درناوي، او ټولنیز عدالت په رڼا کې د پایښت لرونکي سیاحت بنسټ جوړوي عبدالله د سیلانیانو د حقونو د خوندیتوب لپاره د اسلامي اصولو او اخلاقي لارښوونو پراخ بحث وړاندې کړی. هغه د سیاحت په برخه کې د اسلامي شریعت بنسټیز اصول په لاندې برخو کې توضیح کړي دي پورته چې کوم حقوق ذکر شول ورته حقوقو څخه په دې کتاب کې هم یادونه شوی ده (عبد الله ۲۰۱۵).

د بشري حقونو نړیواله اعلامیه د بشري حقونو په اړه لومړنی نړیوال سند دی چې د ټولو انسانانو لپاره د مساوي او نه بېلېدونکو حقونو تضمین کوي. دا سند ۳۰ مادې لري، چې د فردي، ټولنیزو، اقتصادي، کلتوري او سیاسي حقونو په ګډون، د انسانانو د عزت او آزادۍ ساتنې اصول بیانوي که څه هم د بشري حقونو نړیواله اعلامیه په ځانګړې توګه د سیلانیانو یادونه نه کوي؛ خو د هغې اصول د ټولو انسانانو، په شمول د سیلانیانو، لپاره د حقونو د خوندي کولو بنسټیز چوکاټ برابروي. د دې سند ځینې مهم ټکي چې د سیلانیانو د حقونو سره تړاو لري ازاد تګ راتګ، مساوات او عدم توپیر، خوندیتوب او عدالت غوښتنې حق څخه یادونه کړې ده (بشر حقوق نړیوال اعلامیه۱۹۴۸).

د سیاحت نړیوال سازمان (UNWTO) د ملګرو ملتونو یوه تخصصي اداره ده چې د نړیوال سیاحت د پرمختګ، همغږي او تنظیم لپاره کار کوي. دا سازمان د سیاحت په برخه کې د پالیسۍ جوړوني، نړیوالو معیارونو ټاکلو او د پایښت لرونکي سیاحت د اصولو پلي کولو لپاره بنسټیز رول لري د سیلانیانو د حقونو د خوندیتوب لپاره ځانګړې ټګلارې او اصول وړاندې کړي دي. د دې سازمان د فعالیتونو ځینې مهم ټکي چې د سیلانیانو د حقونو سره تړاو لري لکه سیلانیانو مسؤلیتونه کوربه هېواد مسؤلیتونه، دوامداره سیاست، سیلانیانو حقوق تضمین او سیلانیانو ننګونو په اړه ملاتړ څخه یادونه کړې ده (د سیاحت نړیوال سازمان (UNWTO, 1975) .

سمیت په خپل کتاب کې د نړیوالو معاهداتو د قانوني چوکاټ او د سیلانیانو د حقونو خوندي کولو په اړه بحث کوي. هغه د نړیوالو تړونونو رول د سیاحت د مدیریت په برخه کې څېړلی او د سیلانیانو د امنیت، خوندیتوب، او د هغوی

د حقونو د تضمین لپاره د نړیوالو اصولو اهمیت روښانه کړی د(سمیت، ۲۰۱۲؛ هېګنز ډیسبیولس، ۲۰۱۷).

اسلامي شریعت او نړیوال معاهدات دواړه د سیلانیانو د حقونو خوندیتوب ته ژمن دي، خو د خپلو بنسټیزو اصولو له مخې توپیر لري. شریعت په اخلاقي او دیني ارزښتونو ټینګار کوي، په داسې حال کې چې نړیوال معاهدات د بشري حقونو په نړیوال چوکاټ ولاړ دي.

څېړونکو لکه ایسپوزیتو (۲۰۱۶) د دواړو ترمنځ ورته والیونه څېړلي، چې د امنیت ساتنه، کلتوري درناوی او د سیلانیانو د زیان مخنیوی په کې شامل دي. د خان (۲۰۲۰) څېړنه ښیي چې اسلامي اصول په ځانګړي ډول په اسلامي هېوادونو کې د نړیوالو سیاحت قوانینو لپاره متمم کېدای شي، ترڅو د کلتوري تفاهم خلاوې ډکې کړي.

**د سیلانیانو حقوق د اسلامي تاریخ په رڼا کې:** په دې څېړنه کې د اسلامي تاریخ د لومړیو وختونو تجربې تحلیل شوي، چې څنګه سیلانیانو ته خوندیتوب او ملاتړ ورکړل شوی. په ځانګړي ډول د مدینې په تړون کې د غیرمسلمانانو د امنیت ضمانتونه د سیلانیانو د حقوقو لپاره یوه مهمه بېلګه ګڼل شوې. (مصطفی، ۲۰۲۰)

**د سیلانیانو لپاره د نړیوال بشري حقونو ارزونه:** په دې څېړنه کې د بشري حقونو نړیواله اعلامیه او د هغې تطبیق د سیاحت په برخه کې ارزول شوي دي. د دې څېړنې پر بنسټ، د کلتوري درناوي او مذهبي آزادۍ اصول په نړیوالو معاهدو کې لا زیاتې همغږۍ ته اړتیا لري (رچرډ، ۲۰۱۹).

**د اسلامي او نړیوالو اصولو همغږي:** په دې څېړنه کې د اسلامي شریعت او نړیوالو معاهداتو ترمنځ د ورته والي او توپیرونو پرتله شوې او د دې وړاندیز شوی چې دواړه سیستمونه په ګډه د سیلانیانو د حقوقو د ښه خوندیتوب لپاره کارول کېدای شي (خان، ۲۰۲۱).

سیلانیانو حقوق په لاندې ډول دي:

**امنیت او خوندیتوب حق په اسلامي شریعت کې**

د اسلامي شریعت له نظره امنیت او خوندیتوب د هر انسان یو بنسټیز حق دی، که هغه مسلمان وي یا غیرمسلمان او په ځانګړي ډول سیلانیانو لپاره د

دې حق تأمین ځانګړې اهمیت لري. د امنیت او خوندیتوب مفهوم په دې معنا دی چې سیلانیان د خپل ځان، مال، او عزت په اړه د هر ډول زیان او خطر څخه خوندي وي او هغوی ته په ټولنه کې د آرام ژوند کولو او سفر کولو زمینه برابره شي.

**امنیت د اسلامي شریعت له نظره**

اسلام د امنیت د حق د خوندي کولو لپاره په ښکاره ډول لارښوونې کړې دي. دا لارښوونې په لاندې برخو کې شاملې دي:

الف. د ژوند او ځان خوندي کول

د قرآن کریم او احادیثو له مخې، د انسان ژوند ډېر ارزښت لري. په اسلام کې د یوه انسان ژوند ژغورل د ټول بشریت د ژوند ژغورلو په څېر ګڼل شوی دی.

د قران کریم آیت:

مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي ٱلْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۚ وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًا

ژباړه: څوک چې یو بې ګناه انسان ووژني، داسې ده لکه ټول انسانان یې وژلي وي او څوک چې یو انسان ژوندی وساتي، داسې ده لکه ټول انسانان یې ژوندي ساتلي وي.

**ب. د سیلانیانو مال خوندي کول:** اسلامي شریعت، د هر چا مال باید خوندي وي او پر هغه تېری کول د جرم په توګه ګڼل کیږي. سیلانیانو سره هر ډول غلا، خیانت یا د هغوی د شتمنۍ زیان رسول منع دي.
حدیث شریف کې راځي: ستاسو مالونه، وینې او عزتونه پر یو بل حرام دي

**ج. د عزت خوندي کول:** اسلام د هر انسان عزت او کرامت خوندي ګڼي. د سیلانیانو عزت ته سپکاوی یا د هغوی په اړه توهیني خبرې منع دي.
د قران کریم آیت:

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ...(الإسراء: ۷۰) ژباړه: موږ د آدم اولاد ته عزت ورکړی دی .

دا آیت د انسانانو ځانګړی مقام او ارزښت بیانوي، چې الله تعالی هغوی ته ځانګړې ورتیاوې او نعمتونه ورکړي دي. دا مقام د شکر ادا کولو او د الله تعالی د لارښوونو تعقیب ته اړتیا لري

**سیلانیانو ته د امنیت تضمین**

اسلام سیلانیانو ته د امنیت د تضمین لپاره لاندې عملي اصول وضع کړي دي:

**الف. د پناه ورکولو اصل:** سیلانیانو ته د امن ورکول د مسلمانانو دنده ده. که یو غیرمسلمان سیلانی په اسلامي سیمه کې د پناه غوښتنه وکړي، نو د شریعت له مخې هغه ته پناه ورکول واجب دي.
د قران کریم آیت: وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ(التوبة: ۶)

ژباړه: او که په مشرکانو کې یو تن له تا نه امان (پناه) وغواړي، نو هغه ته امان ورکړه تر هغه پورې چې هغه د الله کلام واوري، بیا هغه خپل د امن ځای (وطن) ته ورسوه، دا په سبب د دې چې یقینًا دوی داسې قوم دی چې نه پوهیږي.

**ب. د سیلانیانو لپاره د جګړې بندول:** که سیلانیان په اسلامي سیمه کې شتون ولري، د هغوی پر وړاندې هر ډول جګړه بندول لازمي ده. حتی که د هغوی هېوادونه د مسلمانانو سره په جګړه کې وي، سیلانیانو ته باید امن ورکړل شي.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: المسلمُ مَن سَلِمَ المسلمونَ من لسانِهِ ويدِهِ.

په دې حدیث کې، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته یو مهم اخلاقي اصل وړاندې کوي، چې مسلمان باید د خپل عمل او خبرو له مخې داسې وي چې نور مسلمانان له هغه څخه په امن کې وي. دا د انسانیت، پخلاینې، او همدردۍ یوه ستره لارښوونه ده .

**د امنیت د حق سرغړونه او سزاوې**

که یو څوک د سیلانیانو د امنیت او خوندیتوب خلاف عمل وکړي؛ نو د شریعت له مخې سخت مجازات ورته ټاکل شوي دي.

د قران کريم آيت: إِنَّمَا جَزَٰٓؤُا ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓا أَوْ يُصَلَّبُوٓا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ...(المائدة: ۳۳)

ژباړه: د هغو کسانو سزا چې د الله او د هغه د رسول سره جګړه کوي او په ځمکه کې فساد خپروي، دا ده چې ووژل شي، یا صلیب شي، یا د هغوی لاسونه او پښې پرې شي .

امنيت او خديتوب حق په نړيوالو معاهداتو کې

د سيلانيانو لپاره تر ټولو اړين حق هغه د ژوند او دوی ته امنيت دی که چېرې دوی په برخه کی اسانتيا رامنځته نشي دوی نشي کولی چې په اسانۍ سره د هېوادونو تاريخ ځايونو او پارکونو څخه ليدنه وکړي د دې لپاره چې سيلانيانو ته دغه حق ورکړل شي دولتونو ځينې معاهدات منلی چې په لاندې ډول به ترې يادونه شوی ده.

د بشر حقوق نړيوالی اعلامې په خپل مختلفو مادو کی سيلانيانو ته حقوق ورکړی دی دغه حقوق يي په ايشارتاً ورکړي په مستقيم ډول سره د سيلانيانو څخه يادونه نه ده کړی چې په لاندې ډول سره دی.

بشر حقوق نړيواله اعلاميه دريمه ماده کې: هرڅوک د ژوندانه، ازادۍ او ځاني امنيت حق لري

تحليل: د سيلانيانو لپاره دا ماده د دې ضمانت ورکوي چې کله دوی په بهر کې سفر کوي، نو د هغوی ژوند او امنيت بايد د قانون په مطابق خوندي وي. د دې ماده له مخې، هر هېواد بايد د خپلو اتباعو او بهرنيو سيلانيانو امنيت تضمين کړي.

**بشر حقوق نړیواله اعلامیې په ۱۳ ماده: د حرکت او اقامت حق**
**تحلیل:** سیلانیان حق لري چې په هر هېواد کې آزادانه حرکت وکړي او د هغه ځای په اړه تصمیم ونیسي چې هغوی غواړي ورته سفر وکړي. دا ماده د سیاحت په برخه کې د سیلانیانو لپاره بنسټیز حق ورکوي .

ملګرومتلونو د منشور اړونده مواد **ماده (۲):** د ملګرو ملتونو هدف د ملتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو پراختیا او د ملتونو د حقوقو او د خپلواکي احترام په اساس د سولې او امنیت ته وده ورکول دي.

**تحلیل:** دا ماده د هېوادونو ترمنځ د سولې او همکارۍ د ترویج لپاره اصول وضع کوي. د سیلانیانو د امنیت په برخه کې د دې هدفونو پر بنسټ، هېوادونه باید د خپلو اتباعو او بهرنیو سیلانیانو د امنیت په اړه اقدامات وکړي.

ماده 56: هر غړی هېواد ژمن دی چې د ملګرو ملتونو د هدفونو په ترلاسه کولو کې د نړیوالې همکارۍ په اړه کار وکړي .

تحلیل: په ماده کې په مستقیم ډول سره سیلانیانو په اړه یادونه نه ده شوی ولی په ضمني ډول سره د دې ماده له مخې، د ملګروملتونو سازمان ټول غړي هېوادونه ژمن دي چې د نړیوالو قوانینو په اساس د سیلانیانو د امنیت لپاره اقدامات وکړي. دا ژمنه په دې معنا ده چې هېوادونه باید د نړیوالو معیارونو او مقرراتو سره سم د بهرنیو سیلانیانو د خوندیتوب لپاره کار وکړي په ماده کې اساسي هدف دادې چې دولتونو ترمنځ باید اړیکو ته متقابل احترام وشي.

**لومړۍ ماده: د سیلانیانو د حقوقو او د هغوی د خوندیتوب تضمینول**
د سیاحت نړیوال اخلاقي منشور لومړۍ ماده ټینګار کوي چې سیلانیان باید د انساني حقونو له مخې درناوی شي او د هغوی خوندیتوب او امنیت باید په ټولو حالاتو کې خوندي پاتې شي. د سیلانیانو د سفر حق باید په عادلانه، خوندي او د انسانیت په رڼا کې خوندي شي.

1. د سیلانیانو حقوق: سیلانیان د نړیوالو قوانینو او بشري حقوقو له مخې حق لري چې د سفر، تفریح او د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د تجربو اخیستلو حق ولري.

2. د خوندیتوب تضمین: سیلانیان باید د هر ډول خطر، تشویش یا د هغوی د شخصي امنیت د تهدید په وړاندې خوندي پاتې شي. په دې ماده کې ټینګار کېږي چې د سیاحت صنعت باید د سیلانیانو د امنیت لپاره اړین تدابیر ونیسي.
3. د قانوني ملاتړ: سیلانیانو ته باید د هغه هېواد د قوانینو له مخې د قانوني ملاتړ حق ورکړل شي، که چېرته دوی د کوم ډول جرم یا ناوړه چلند سره مخ شي .

**د مذهبي آزادۍ حق**

اسلام د غیرمسلمانانو مذهبي آزادي ته درناوی لري. سیلانیان چې په اسلامي هېوادونو کې راځي، د خپلو عقایدو او عباداتو په ترسره کولو کې آزاد دي، تر هغه چې د اسلامي قوانینو خلاف عمل ونه کړي.

قراني دلیل: الله تعالی په قرآن کریم کې فرمايي: لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ)البقره: 256).

دین کې هیڅ زور نشته.

د آیت تفسیر: الله تعالی فرمايي: په دین کې هیڅ اجباري نه ده؛ حقیقت له باطل څخه څرګند شوی دی. دا آیت د دې حقیقت څرګندوي چې دین د زړه او عقیدې مسأله ده او هیڅوک نه شي کولی بل څوک په زور او جبر سره په دین کې داخل کړي.

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) عملي مثال: د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په وخت کې، غیر مسلمانان (لکه یهودان او عیسویان) د مدینې منورې کې د خپل مذهب په ازادۍ سره ژوند کاوه. دوی ته د دین د آزادۍ حق ورکړل شوی و او دوی په خپلو عبادتونو کې ګډون کولی شو .

**د مدینې منورې تړون**

د مدینې منورې تړون چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له خوا لاسلیک شو، د مسلمانانو او غیر مسلمانانو ترمنځ د حقوقو او مسئولیتونو یو اساسي سند و. په دې تړون کې د غیر مسلمانانو د مذهبي آزادۍ حق تضمین شوی و. مدینې میثاق دغه موضوع په لاندې ډول سره ده

پنځه ویشتمه ماده: دا چې د بني عوف یهود د مسلمانانو سره یو امت(یو لاس یا یو ډله) دي، د یهودو لپاره خپل دین دی او د مسلمانانو لپاره خپل دین، د

دوی دوستان / غلامان او ځانونه يې، مګر که څوک ظلم او ګناه وکړي؛ نو هغه هلاکت ندی رسولی مګر خپل ځان او خپلې کورنۍ ته .

د عدل او انصاف امر: اسلام د عدل او انصاف په ټينګار سره د هر انسان حقونه ساتي. الله تعالی فرمايي:

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ(النحل 90) بېشکه الله د عدل او احسان حکم کوي

**عدل:** د هر څه په ځای کې د حق او انصاف پلي کول، د خلکو حقوقو ته درناوی کول او د ظلم او بې عدالتي څخه ډډه کول.

**احسان:** د ښه چلند او مهربانۍ سره د خلکو سره سلوک کول، د هغوی سره د ښه سلوک کولو هڅه کول او د هغوی سره د ښه چلند کولو لپاره زيار ايستل

د غير مسلمانانو سره ښه چلند: اسلام د غير مسلمانانو سره د نيکي او عدل سره چلند کولو ته ډير اهميت ورکوي. الله تعالی فرمايي:

لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ (الممتحنه: ٨)

ژباړه: الله تاسو نه منع کوي له هغو کسانو څخه چې په دين کې ستاسو سره جنګ نه دي کړي او تاسو نه دي شړلي، چې تاسو دوی سره نيکي وکړئ او عدل وښيئ

دا آيت څرګندوي چې د غير مسلمانانو سره د نيکي او عدل سره چلند کول د اسلامي تعليماتو مسلمانانو ته ورښودل شوی دی چې دوی بايد د سيلانيانو سره داسې چلنده وکړی دوی اسلامي فرهنګ او ټولنې څخه متاثره شي د اسلام په دين په لور ميلان پيدا کړي.

د عهدونو پابندي: اسلام د عهدونو او تړونونو پابندي ته ډير اهميت ورکوي. که چيرې د سيلانيانو سره د مذهبي آزادۍ حق په اړه تړون وشي، نو اسلام د دې تړون پابندي کوي. الله تعالی فرمايي: وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا (الاسراء: ٣۴).

او په عهد باندې وفا وکړئ، ځکه چې عهد مسئوليت لري .

**په نړیوالو معاهداتو کې د دین ازادۍ حق**
د سیلانیانو د دین ازادۍ په اړه مختلف معاهداتو کې یادونه شوی ده زه به دلته یو څو معاهداتو څخه یادونه وکړم چې په لاندې ډول دي.

بشر حقوق نړیوالو اعلامیې په اتلسمه ماده کې داسې وضاحت کړی دی: هر انسان د فکر، وجدان، او دین د آزادۍ حق لري. دا حق په خپله د دین یا عقیدې د بدلولو آزادۍ او د خپل دین یا عقیدې د ښوولو، عملي کولو، عبادت کولو او د خپلو تعلیماتو د پیروۍ لپاره په انفرادي یا ډلهییز ډول، په عام یا خصوصي توګه شامل دی

د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون ۱۸ ماده کې هم د سیلانیانو د دین ازادۍ په اړه اشاره شوی ده په لاندې ډول تیرې یادونه کوو.

**اتلسمه ماده: هر انسان د فکر، وجدان او دین د آزادۍ حق لري**
د اروپا د بشري حقوقو کنوانسیون ۹ ماده: هر څوک د فکر، وجدان او دین د آزادۍ حق لري .

دا حق په ځان کې د دین یا عقیدې د بدلولو آزادي او د خپل دین یا عقیدې د ښوولو، عملي کولو، عبادت کولو او د مذهبي مراسمو د ترسره کولو آزادي شاملوي، که په انفرادي توګه وي یا په ډلهییز ډول، په عام محضر کې یا په خصوصي توګه

د امریکا د بشري حقوقو کنوانسیون، چې د "سن خوسې کنوانسیون" په نوم هم یادیږي، د فکر، وجدان او دین د آزادۍ حق تضمینوي. د دې کنوانسیون د ۱۲مې مادې موضوع د دین او عقیدې د آزادۍ اړوند حقوق او د دې حقوقو په اړه د دولتونو مسؤلیتونه بیانوي

سیلانیانو حقوقو نړیوال کنوانسیون هم د دوی لپاره د دین ازادي منلې ده چې په لاندې ډول سره تیرې یادونه شوی ده.

**د ۱۲مې مادې لاندې مهم ټکي**
1. **د دین د انتخاب حق:** سیلانیانو ته د دې حق ورکول کیږي چې خپل دین یا عقیده په آزاده توګه غوره کړي، بدل کړي یا له یوه دین څخه بل دین ته واوړي.

2.لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ په دین کې هېڅ زور نشته؛ یعنې څوک نه شي مجبورولای چې یو دین ومني، بلکې هر څوک باید د عقل، فکر، او تحقیق له لارې خپله عقیده خپله وټاکي. بېشکه چې د هدایت لاره.

اسلامي شریعت کې مرتد به نه وژل کیږي مګر دا چې بالغ او عاقل وي او له ارتداد څخه توبه و نه باسي او ارتداد په اقرار او شهادت سره ثابتیږي. د مرتد د قتل په وجوب باندې د فقهاؤ اتفاق دی په دلیل د دغه حدیث شریف (من بدل دینه فاقتلوه) ، یعنې : چا چې دین بدل کړ (مرتد) شو هغه ووژنئ

او په بل حدیث شریف کې راغلي : لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ، إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: الثَّيِّبُ الزَّانِي، وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ، وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ (متفق علیه) ، یعنې : د مسلمان سړي د وینې تویول (وژل) جایز نه دي مګر د دریو کسانو : زنا کاره کونده او واده شوی، نفس په نفس (قصاص) او د دین ترک کوونکی د جماعت څخه جلا شوي.

3. **د دیني مراسمو د ترسره کولو حق:** سیلانیانو ته د خپلو مذهبي فعالیتونو، عباداتو او مراسمو د ترسره کولو حق ورکول کیږي، پرته له دې چې کوم ډول فشار یا محدودیت شتون ولري.
4. **د دیني عقایدو څرګندولو حق:** سیلانیان کولی شي خپل دیني عقاید په علني توګه څرګند کړي، د دین د تعلیماتو د خپرولو لپاره

د اسلامي شریعت له نظره، غیرمسلمان سیلانی یا ذمي ته دا اجازه نشته چې په عامه توګه خپل دین تبلیغ کړي یا مسلمانان له خپل دین څخه واړوي.

لا يُؤذَنُ لأهل الذمة بإظهار شعائرهم علنًا

**د عدل او انصاف حق**

اسلامي شریعت د هر چا لپاره د عدل او انصاف حکم کوي، پرته له دې چې هغه مسلمان وي یا غیرمسلمان. د سیلانیانو سره په هر ډول تعامل کې باید انصاف وشي، که هغه د سوداګرۍ، کوربانه توب یا نورو چارو په برخه کې وي.

قرآني آیت: إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ (القرآن: سوره النحل، آیت). ۹۰ یقینا الله تعالی عدل، ښېګڼې او د کورنیو سره ښه چلند کول امر کوي

دغه آیت د عدل، انصاف او نېک چلند په اړه یو واضح امر دی، چې نه یوازې مسلمانان بلکه غیر مسلمانان هم باید د دې اصولو په اساس چلند وشي. بشر حقوق په خپله اوومه ماده چې عدالت او انصاف په اړه داسې وضاحت لري چې لاندې ډول دی

**اوومه ماده: ټول افراد په قانون کې مساوي دي او د قانون په وړاندې د برابرۍ حق لري.**

ماده ۷ په دې ټینګار کوي چې ټول انسانان، پرته له دې چې کومه ټولنیزه، اقتصادي، نژادي، مذهبي یا هره بله ځانګړتیا ولري، باید د قانون په وړاندې مساوي وي. هیڅوک باید د قانون له پلي کولو څخه مستثنی نه وي او ټولو ته باید د قانون د محافظت حق ورکړل شي

د ضروري مرستې حق: که یو سیلانی د سفر په جریان کې له ستونزو سره مخ شي، لکه مالي، صحي یا نورې اړتیاوې، اسلامي شریعت ټولنې ته د هغه د مرستې کولو سپارښتنه کوي. د زکات یوه برخه هم د مسافرو لپاره ځانګړې شوې ده.

الله تعالی فرمايي: إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَٱلْمَسَٰكِينِ... وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ(سورة التوبة) ۶۰

یعنې زکات د بېوزلو، مسکینانو او مسافرو حق دی .

د بشري مرستو د اصولو او چلند لارښود(1991) د بشري مرستو د اصولو او چلند لارښود کی هم د ضروري مرستې حق یادونه شوی ده چې په لاندط ډول ده.

- لومړی اصل: د مرستې حق باید د سیاسي، کلتوري، یا مذهبي توپیرونو پرته وي.
- څلورم اصل: د مرستې لپاره لاسرسی باید د ټولو اړتیا مندو کسانو ته برابر وي.

بی ځایه شوی کسانو د حقوق اصلو چې په کال ۱۹۹۸م رامنځته شوي دي په دې کې هم د ضرورممسرستی په اړه وضاحت شوی دی په دې اصولو کی مستقیم ډول سره سیلانیانو یادونه شوې نه ده ولې په ضمنی ډول سره لومړنیو مرستو یادونه شوې ده چې په لاندې دول سره دي.

اتلسم اصل: د خوراک، اوبو، روغتیايي خدماتو، او پناه حق په کې تثبیت شوی دی .

تبصره: په دې اړه نړیوالو حقوقو کی په مستقیم ډول سره سیلانیانو څخه یادونه نه ده شوی بیلګې په توګه IOMد مهاجرینو او کډوالو لپاره د مرستې او د هغوی د حقونو د ملاتړ لپاره کار کوي چې یاد سازمان لومړنۍ مرستې لکه خوراک، سرپنا او روغتیا په برخه کی مهاجرینو لپاره کار کوي دوی لپاره چې کوم حقوق څخه یادونه کړی ده سیلانیانو لپاره هم ضمني منل شوي حقوق دي.

**د توهین او ضرر څخه د خوندیتوب حق**

اسلامي شریعت منع کوي چې د سیلانیانو سپکاوی وشي یا هغوی ته زیان ورسېږي. سیلانیانو ته درناوی او هغوی ته زیان نه رسول د اسلامي اخلاقو برخه ده.

- **امان ورکول:** که یو سیلانی د اسلامي هېواد سرحد ته داخل شي او مسلمانان ورته د امان ضمانت ورکړي، نو هغه ته ضرر رسول شرعاً حرام دي.
- **عدالت او نه‌تاوتریخوالی:** قرآنکریم مسلمانان د انصاف او مهربانۍ حکم کوي، حتی له هغو کسانو سره چې د دوی له عقیدې سره موافق نه وي (الممتحنة: ۸).
- **د ضرر مخنیوی:** د (لا ضرر و لا ضرار) اصل پر بنسټ، هیڅوک نشي کولای بل چاته توهین یا ضرر ورسوي، چې دا اصل پر سیلانیانو هم تطبیقېږي.

**په نړیوالو معاهداتو کې د سیلانیانو خوندیتوب**

د سیلانیانو د حقونو خوندیتوب ته د نړیوالو قوانینو له مخې هم ژمنه شوې:

- **د بشري حقونو نړیواله اعلامیه) ۱۹۴۸:** دا اعلامیه د هر انسان د کرامت، آزادۍ او امنیت حق تضمینوي (۱۶مه ماده).

- **د سیلانیانو د خوندیتوب نړیوال تړونونه:** لکه د د ملګرو ملتونو کنوانسیون د سیلانیانو د حقوقو لپاره، چې سیلانیان د توهین، ناوړه چلند او هر ډول تاوتریخوالي څخه ساتي.
- **د جرمونو او سیلانیانو د خوندیتوب پروتوکولونه:** په نړیوالو قوانینو کې د سیلانیانو د امنیت لپاره ځانګړي اقدامات مشخص شوي، لکه د ویزې قوانینو اسانتیاوې، قونسلګرۍ مرستې او د کوربه هېواد مسؤلیتونه.

**مناقشه**

د دین ازادي، چې پکې د عقیدې غوره کول، تغییر ورکول، یا د دین د تعلیماتو تبلیغ شامل دي، د بشري حقونو له بنسټیزو اصولو څخه ګڼل کیږي. دا اصل په نړیوالو اسنادو لکه د بشر د حقونو نړیوالې اعلامیې (UDHR) او د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق (ICCPR) کې خوندي شوی. خو اسلامي شریعت بیا د دیني ازادۍ خپل ځانګړی لیدلوری لري، چې د عقیدې ساتنه، د ټولنیز نظم تأمین او د مسلمانانو د عقیدوي خوندیتوب پر محور ولاړ دی.

- دواړه نظامونه سیلانیان د ژوند، مال او عزت له اړخه خوندي ګڼي په چې دواړه حقوقي سیستمونه د سیلانیانو د حقوقو پوره پابندي د دی د ټولو لازمه حقوقو څخه ملاتړ کوي همدارنګه د اسلامي شریعت د سیلانیانو دین ته هم احترام لري خو په اسلامي شریعت کې دوی کولی شي خپل دیني مراسم تر سره کړي ولی دوی نشي کولی خپل دین په پار تبلیغ وکړي، خوپه نړیوالو معاهداتو کې خبر بر عکس ده دوی کولی شي خپل دین ته هم تبلیغ وکړي، سیلانیان کولی شي عدالت لاسرسی ولري چې دغه حق ورته اسلامي شریعت او نړیوالو تړونونو هم منلی دی او همدارنګه دوی سره د نیک چلند په اړه اسلامي شریعت او نړیوالو تړونونو ټینګار کړی دی

**د دین ازادي**

- د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه په خپله ۱۸مه ماده کې وایي: هر څوک د فکر، وجدان او دین د ازادۍ حق لري؛ دا حق پکې شامل دی چې خپل

دین یا عقیده بدل کړي، او د خپل دین د ښوونې، عبادت، عمل او مراسمو اظهار ازادانه وکړي.

- همدارنګه، د مهاجر کارکوونکو د حقوقو کنوانسیون، د نړیوالو سیلانیانو لپاره د دین اظهار حق پېژني.

**اسلامي شریعت کې دریځ**

- اسلامي شریعت د انسان د فطرت مطابق د دین اختیار حق پېژني، لکه قرآن وایي (لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ) (البقره: ۲۵۶) یعنې: په دین کې زور نشته.
- شخصي دیني عقاید او عبادات د اهل‌الذمه یا سیلانیانو لپاره جایز دي، تر هغه چې دا د مسلمانانو عامه نظم یا عقیده ته ضرر ونه رسوي. خو علني تبلیغ او د اسلام خلاف دیني افکارو خپرول ناجایز ګڼل کیږي.

**بحث او پایلې**

- په اسلامي شریعت کې د ځان خوندیتوب حق، سیلانیانو د خوندیتوب حق، عزت خوندیتوب حق، پناه ورکولو حق او سیلانیانو په پار جګړې د بند ولو حق، په اسلامي شریعت کې سیلانیانو په پار پورته ټول حقوق په نظر کیو نیول شوي اسلامي شریعت په ټوله معنی دغه ذکر شوی حقوق ورکړي دی او په پوره معنی ورځخه ملاتړ کوي په الزامي ډول سره یې منلي دي.
- په نړیوالو معاهداتو کې ژوندحق، ازادی حق، امنیت حق، حرکت او اقامت حق، مذهب ازادۍ حق او انصاف او عدالت حق په عینې ډول نړیوالو معاهداتو هم پورته حقوق سیلانیانو ته منلي دی باید یادونه وکړم چې نړیوالو معاهداتو کې ذکر شوی حقوق هغه هېوادونو باندې الزامي دی چې د نوموړو معاهداتو امضاء کوونکي یا غړي هېوادونه دي ولی هغه هېوادونه چې نوموړي معاهدات یې نه وي لاسلیک کړي نو په دوی باندې الزامي نه دي خو په اسلامي شریعت کې ټول هغه هېوادونه چې د اسلامي شریعت څخه پیروي کوي دوی په الزامي ډول سره دغه حقوق سیلانیانوته ورکوي.
- مذهب د ازادۍ حق: په نړیوالو معاهداتو کې د سیلانیانوته مذهب د ازادۍ حق ورکول شوی دی چې دوی کولی شي چې د ځان په پار

مذهب یا دین انتخاب کړي په دې معنی چې دوی کولی شي چې دین تغیر کړي ولي په اسلامي شریعت کې هر چا د دین او مذهب احترام کوي غیر مسلم نشي کولی چې د خپل دین په پار تبلیغ وکړي دوی ته مذهبي مراسمو تر سره کولو اجازه اسلامي شریعت او نړیوالو معاهداتو ورکړي ده.

- ضروري مرستې په اړه اسلامي شریعت اصولو مطابق باید سیلانیانو په ټول اړینې مرستې ورکړل شي مثال په ډول سره که چېرته بهرنیانو روغیتا په برخه کې ستونزه پیدا شي؛ نو په صورت کې اسلامي حکومت مسؤلیت دی چې دوی سره مرسته وکړي. په عینې ډول سره نړیوالو معاهداتو هم سیلانیانو ته حق ورکړی دی چې روغتیا اسنتیاؤ څخه ګټه واخلي.

**پایله اخېستنه**

په دې څېړنه کې ثابته شوه چې اسلامي شریعت او نړیوال حقوقي اسناد دواړه د سیلانیانو حقوقو ته جدي پام کوي؛ خو د تطبیق او بنسټیزو اصولو له مخې ترمنځ یې توپیرونه شته. اسلامي شریعت د انسان کرامت، امنیت، عزت او مېلمه پالنې پر اصولو ولاړ دی او سیلانیانو ته نه یوازې د فزیکي خوندیتوب حق ورکوي، بلکې د مهربانۍ، هدایت او لازمي مرستو چمتو کولو ته هم ژمن دی.

برعکس، نړیوال حقوق د بشري حقونو نړیوالې اعلامیې او نورو معاهداتو له لارې سیلانیانو ته د ژوند، ازادۍ، دین، عدالت او سفر حق تضمینوي؛ خو دا حقوق یوازې پر هغو هېوادونو لازمي دي چې د یادو اسنادو غړي وي.

همدارنګه، د دین ازادۍ په برخه کې تر ټولو لوی توپیر څرګند شو: اسلامي شریعت سیلانیانو ته د عبادت حق ورکوي؛ خو د علني تبلیغ اجازه نه ورکوي، په داسې حال کې چې نړیوال اسناد د تبلیغ، تبدیل او اظهار بشپړ ازادي تضمینوي.

په پای کې ویلای شو چې دواړه حقوقي نظامونه سیلانیانو ته د خوندیتوب، عدالت، درناوي او بشري کرامت په برخه کې جدي ژمنتیا لري او کولی شي

د یو بل متمم واقع شي، چې د سیلانیانو حقوق هم له شرعي او هم له نړیوالو اصولو سره خوندي شي.

**وړاندیزونه**

د اسلامي شریعت او نړیوالو معاهداتو په چوکاټ کې د سیلانیانو د حقوقو د خوندي کولو او د هغوی د اسانتیاوو د ښه والي لپاره لاندې وړاندیزونه کوم چې دغه وړاندیزونه به علمي برخې کې وي.

**قانوني او مقرراتي اصلاحات**

- د ملي قوانینو او سیاحتي مقرراتو په متن کې باید د سیلانیانو حقوق په واضح ډول خوندي او تضمین شي. دا اصلاحات کولای شي د اسلامي اصولو(لکه مهمان پالنې، عدالت او انساني کرامت) سره همغږي ولري او د نړیوالو معاهداتو له مخې هم موافقه ولري.

**ښوونه او عامه پوهاوی**

- د سیلانیانو، د سیاحتي سکتور کارکوونکو او عمومي ولس لپاره باید په ښوونیزو پروګرامونو او عامه کمپاینونو کې د اسلامي شریعت د مهمو اخلاقو (مثلاً، د میلمه پالنې، احترام او عدل) په اړه معلومات وړاندې شي.
- د نړیوالو بشري حقونو د اساسي اصولو په اړه هم باید پوهاوی زیات شي ترڅو د دواړو نظامونو ترمنځ همغږي رامنځته شي.

**د نړیوالو معاهداتو تطبیق او همغږي**

- حکومتونه باید د نړیوالو معاهداتو او نړیوالو بشري حقونو بنسټونو (لکه ملګرو ملتونو او نړیوالې بشري حقونو کمیټې) سره همکاري وکړي چې د سیلانیانو حقوق په عملي توګه تطبیق او څارنه وشي.
- د سیاحتي سکتور ادارې باید د نړیوالو معیارونو سره سم خپل سیستمونه او پالیسۍ نوې کړي.

**د شریعت اصولو په عملي تطبیق کې همکاري**

- اسلامي علماوو، سیاسي او حقوقي کارپوهانو ترمنځ یو ګډ فورم جوړ شي چې د اسلامي اصولو او نړیوالو معیارونو ترمنځ اړیکه واضح او شفافه شي.

- د اسلامي شریعت د ارزښتونو په رڼا کې باید د سیلانیانو لپاره د ځانګړو اسانتیاوو (لکه د ښځو د سر او بدن د حجاب په رعایتولو سره اسانتیاوې) تضمین وشي.

**زېر بناوو او امنیتي تدابیر**

- په سیاحتي ځایونو کې د امنیتي سیستمونو پیاوړتیا او د اضطراري حالتونو لپاره چمتووالي پراختیا ورکول، چې سیلانیان له هر ډول ناوړه چلند، تاوتریخوالي او بې عدالتي څخه خوندي پاتې شي.
- د ځایي چارواکو او د سیاحتي صنعت مسوولینو لپاره ځانګړي روزنیز کورسونه او ورکشاپونه جوړول چې په کې د اسلامي شریعت د مهمو اخلاقو او نړیوالو معیارونو عملي تطبیق باندې ټینګار وشي.

**د سیمه ییزو او نړیوالو همکارۍ پراخول**

- د نورو هیوادونو سره د فرهنګي تبادلې، اقتصادي همکاریو او سیاحتي تجربو د شریکولو له لارې باید ګډې تجربې او غوره کړنلارې راوسپړل شي.
- د سیلانیانو د حقوقو د خوندي کولو لپاره د نړیوالو سازمانونو (لکه نړیوال ټوریزم سازمان او نړیوال بشري حقونو سازمانونه) سره په ګډو پروژو او څېړنیزو غونډو کې ګډون اړین دی.

**مأخذونه**

القران کریم

البخاري، محمد بن إسماعیل .(n.d.) *صحیح البخاري*، کتاب الحدود، باب لا یحل دم المسلم إلا بإحدی ثلاث، حدیث نمبر ۶۸۷۸.

حمیدالله، م) .۱۹۸۵ .(*مجموعة الوثائق السیاسة للعهد النبوي والخلافة الراشدة* )چاپ پنځم، ص. ۵۷). بیروت، لبنان: دارالنفائس.

الطبري، ج. ب. (بېکاله) *جامع البیان عن تأویل آي القرآن* )جلد ۲۲، ص. ۲۲۳

الطبري، محمد بن جریر) .۲۰۰۱ .(*جامع البیان عن تأویل آي القرآن* )جلد ۳، مخونه ۶–۹). بیروت، لبنان: دار إحیاء التراث العربي.

عبد الرزاق الصنعاني. (۱۴۰۳هـ / ۱۹۸۳م) *المصنف* )ج ۱۰، ص ۱۵۲، حدیث: ۱۸۷۰۴). تحقیق: حبیب الرحمن الأعظمي. بیروت: المکتب الإسلامي.

القرطبي، محمد بن احمد الأنصاري) .۲۰۰۶ .(*الجامع لأحکام القرآن* )جلد ۲، ص ۴۸۴). بیروت، لبنان: دار الکتب العلمیة.

وردک، ی) .۱۳۷۶ .(*بشري حقوق نړیواله اعلامیه* )ژباړه). کابل، افغانستان: افغانیک خپرندویه.

Ahmad ibn Hanbal. (n.d.). Musnad Ahmad ibn Hanbal (Vol. 1: Musnad ʿAbd Allāh ibn ʿAbbās). Wikisource. Retrieved July 18, 2025, from https: //ar.wikisource.org/wiki/ مسند_أحمد_بن_حنبل/المجلد_الأول/مسند_عبد_الله_بن_العباس_

International Federation of Red Cross and Red Crescent Societies (IFRC). (1991). Code of conduct for the International Red Cross and Red Crescent Movement and NGOs in disaster relief. Geneva, Switzerland: IFRC. Retrieved July 18, 2025, from https: //www.ifrc.org/document/code-conduct-international-red-cross-and-red-crescent-movement-and-ngos-disaster-relief

United Nations. (1945). *Charter of the United Nations*. Article 55.

United Nations. (۱۹۶۶). *International Covenant on Civil and Political Rights.* https: //www.ohchr.org/en/professionalinterest/ccpr

United Nations. (1990). International Convention on the Protection of the Rights of All Migrant Workers and Members of Their Families. Adopted December 18, 1990; entered into force July 1, 2003. United Nations. Retrieved July 18, 2025, from https: //www.echr.coe.int/documents/convention_eng.pdf

United Nations. (1998). Guiding principles on internal displacement. New York: United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA). Retrieved July 18, 2025, from https: //www.ohchr.org/en/documents/tools-and-resources/guiding-principles-internal-displacement

UNWTO. (1999). *Global Code of Ethics for Tourism*. https: //www.unwto.org/global-code-of-ethics-for-tourism.

**استاد فتح‌الله محمدي**
حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، تابش پوهنتون

# د قاضي د عزل اسباب د اسلامي فقهې او د افغانستان د نافذه قوانینو له نظره

**لنډیز**

دا څېړنیزه مقاله د قاضي د عزل یا لرې کولو اسباب د اسلامي فقهې او د افغانستان د نافذه قوانینو له دوه اړخیزې حقوقي لید لوري څېړي. په مقاله کې هڅه شوې چې قاضي ته د ورکړل شوي مقام، صلاحیت او مسؤلیتونو پر بنسټ، د هغه د عزل اسباب روښانه شي، چې عدلي سیستم شفاف، عادلانه او له فساد څخه پاک وساتل شي.

مقاله لومړی د اسلامي فقهې د مختلفو فقهي مذاهبو (حنفي، مالکي، شافعي، حنبلي) له نظره هغه موارد تشریح کوي چې پکې قاضي له دندې لرې کېدای شي لکه: فاسق کېدل، عقلي اختلال، د قضا شرایطو له لاسه ورکول، رشوت اخیستل، او یا له شریعت څخه ښکاره انحراف.

وروسته د افغانستان د نافذه قوانینو په رڼا کې د قاضي د عزل حقوقي او اداري اصول تحلیل شوي، چې پکې د اساسي قانون، د قضا قانون او د سترې محکمې د تشکیل، صلاحیتونو او دندو اړوند مواد شامل دي.

د مقالې هدف دا دی چې د قاضي د عزل د اسبابو په اړه یو مقایسوي تحلیل وړاندې کړي، چې عدلي او قضایي ادارو ته یو حقوقي او فقهي رهنما برابر شي. همدارراز، مقاله هڅه کوي هغه موارد تشخیص کړي چې د فقهې او قانون تر منځ مشابهت یا توپیر شتون لري.

د څېړنې پایلې ښیي چې که څه هم اسلامي فقهه او د افغانستان قوانین دواړه د قاضي د مسؤلیتونو پر ساتنه او د عدالت د تحقق پر اهمیت ټینګار کوي، خو ځینې مواردو کې توپیرونه لیدل کیږي، چې اصلاح او همغږي یې د یو اغېزناک عدلي نظام لپاره مهم ګڼل کیږي.

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام على اشرف الانبیاء والمرسلین

اما بعد:
قضاء د اسلامي شریعت او مدني قوانینو په چوکاټ کې یوه اساسي او حیاتي قوه ګڼل کیږي، چې د عدالت د تامین، د حق د ورکولو او د ظلم د مخنیوي مهم مسؤولیت لري. قاضي د عدلي نظام د ستنې حیثیت لري او د هغه امانتداري، دیانت او تخصص د ټولنې د باور بنسټ جوړوي. له همدې امله، دا مهمه ده چې قاضي نه یوازې د ټاکلو پر مهال د لوړ معیار خاوند وي، بلکې د دندې پر مهال هم باید همدغه معیارونه وساتي.

د قاضي د عزل موضوع یو له هغو حساسو حقوقي او فقهي مسائلو څخه ده چې مستقیم ډول د عدلي نظام د اعتبار، عدالت د تحقق او د خلکو د باور د بقا سره تړاو لري. که چیرې یو قاضي د شریعت یا قانون له مخې نور د قضا وړتیا ونه لري نو عزل یې یوه ضروري اړتیا ګرځي.

په دې مقاله کې هڅه شوې چې د قاضي د عزل اسباب له دوو مهمو زاویو، یعنې د اسلامي فقهې او د افغانستان د نافذه قوانینو له نظره وڅېړل شي. دا مقایسوي تحلیل نه یوازې د قضاء په برخه کې د اصولو یو روښانه انځور وړاندې کوي، بلکې له قضایي شفافیت، مسلکیتوب او حساب ورکونې سره د عدالت د ودې لپاره زمینه برابروي.

د مقالې علمي ارزښت له دې امله دی چې د فقهې او قانون ترمنځ ورته والی او توپیرونه تشخیصوي، او هغو حقوقي خلاوو ته اشاره کوي چې د اصلاح غوښتنه کوي. دغه څېړنه د حقوقپوهانو، قضایي چارواکو او د پالیسي جوړوونکو لپاره د یو مهم مراجع په توګه ارزښت لري.

**د موضوع اهمیت**

د قاضي د عزل اسبابو څېړنه یو له هغو مهمو موضوعاتو څخه ده چې له قانوني، فقهي او ټولنیز اړخه ژوره ارزونه او وضاحت ته اړتیا لري. دا موضوع ځکه مهمه ده چې قاضي د عدلي نظام محوري شخصیت دی، او د هغه ثبات، پاکوالي او اهلیت د عدالت د تحقق، د قانون د حاکمیت او د عامه باور د دوام لپاره بنسټیز ارزښت لري.

اوسمهال د افغانستان قضايي نظام له بېلابېلو ننګونو سره مخ دی چې پکې د قاضي د عزل د بهير ناسم مديريت، سياسي نفوذ، يا غيرمعياري پرېکړې هغه عوامل دي چې د عدلي نظام مشروعيت تر پوښتنې لاندې راولي. له همدې امله، دا څېړنه يوه مهمه اړتيا ده چې وښيي د اسلامي فقهې له نظره کوم اصول او شرايط د قاضي د عزل لپاره وضع شوي دي، او آيا د افغانستان نافذه قوانين له دغو اصولو سره همغږي لري او که نه.

دا څېړنه يوه علمي تشه هم ډکوي؛ ځکه تر دې وړاندې د قاضي د عزل پر موضوع ډېر پراخ، تحليلي او مقايسوي تحقيقات نه دي شوي چې هم فقهي او هم قانوني اړخونه يکې يو ځای تحليل شوي وي. همداراز، ډېری پخواني آثار يا يوازې فقهي بُعد لري، يا صرف د قانون له زاويې مسأله څېړي.

د دې څېړنې ترسره کول په اوسني وخت کې ځکه خورا اړين دي، چې هېواد د قضايي اصلاحاتو، د عدالت د بنسټونو د بيا رغونې، او د قانون حاکميت ته اړتيا لري. د قاضي د عزل د شفافو اسبابو ټاکل او تعريف د دې پروسې يوه مهمه برخه ده. که چيرې دا اسباب روښانه، شرعي او قانوني بنسټ ولري؛ نو هم عدالت تحقق مومي او هم قضاء له سياسي نفوذ او شخصي مداخلو څخه خوندي پاتې کيږي.

**د موضوع اهداف**

دا يو څرګند حقيقت دي چې هر عمل د ځانګړو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره تر سره کيږي. ما هم په خپله موضوع کې لاندې اهدف په نظر کې نيولي دي:

د الله جل جلاله رضا حاصلول.

د افغانستان په محاکمو کې د عدالت د تامين غوښتل.

د افغانستان د محاکمو لپاره د اشخاصو عزل بايد د قانون له لارې تنظيم شي.

**د موضوع په اړه پوښتنې**

په دې موضوع کې چې کومې پوښتنې را ولاړې شوې دي هغه په ښه شکل ځواب شوي دي په دې موضوع کې چې د دې پوښتنو څخه په لاندې ډول يادونه کوو:

**اصلي پوښتنه**

ايا د افغانستان د محاکمو لپاره د قاضيانو د عزل څرنګوالي په څه ډول صورت نيسي؟

**فرعي پوښتنه**

آيا د افغانستان د محاکمو لپاره د قاضيانو د عزل د قانون له لاري تر سره کيږي او که نه؟

دا او داسې ډيرئ پوښتنې په دې موضوع کې ځواب شوي دي چې لوستلو سره يې د لوستونکي تنده خړوبيږي.

**د موضوع محدوديت**

که څه هم دا څېړنه هڅه کوي چې د قاضي د عزل اسباب له فقهي او قانوني دواړو اړخونو څخه پراخ تحليل وړاندې کړي، خو بيا هم له يو شمېر محدوديتونو سره مخ ده چې بايد ورته اشاره وشي:

**د منابعو محدوديت:** د افغانستان د نافذه قوانينو په برخه کې د ځينو حقوقي اسنادو، تطبيقي قضيو او عدلي پرېکړو ته لاسرسی محدود و، چې د موضوع پر عملي تحليل يې اغېز کړی. همداراز، د اسلامي فقهې په برخه کې د ځينو نادره منابعو ترلاسه کول اسانه نه وو، چې دا کار د فقهي تحليل ژورتيا ته خنډ وګرځېد.

**د قضايي نظام د شفافيت نشتوالی:** په افغانستان کې د قضايي نظام د ننه د معلوماتو او شفافو اسنادو نشتوالی هم د دې څېړنې يو مهم محدوديت و. د قاضيانو د عزل واقعي قضيې او احکامو ته لاسرسی نه لرل، څېړنه تر ډېره پر نظري تحليل محدوده کړه.

**مقايسوي تحليل محدود شوی چوکاټ کې:** څېړنه د اسلامي فقهې له مهمو مذاهبو سره قانوني مقايسه کوي، خو د نورو اسلامي هېوادونو د عملي تجاربو تحليل پکې نه دی شوی، چې دا هم د څېړنې د نړيوال ارزښت د محدودېدو لامل شوی.

**د محدوديتونو اغېز:** پورته ياد شوي محدوديتونه د څېړنې پر ژورتيا، د پايلو پر عموميت او پر تطبيقي وړانديزونو محدود اغېز لري. له همدې امله، پايلې بايد د همدې محدوده چوکاټ دننه تفسير شي. سره له دې، څېړنه لا هم

د قاضي د عزل په اړه يو مهم علمي بنسټ برابروي، چې د راتلونکو پراخو تحقيقاتو لپاره لاره هواروي.

**د ليکنې کړنلاره**

ياده څېړنه يوه توصيفي ـ تحليلي بڼه لري، چې هدف يې د قاضي د عزل اسباب له اسلامي فقهې او د افغانستان له نافذه قوانينو سره مقايسوي ارزونه ده. دا څېړنه د کتابتون‌محورۍ او اسنادي تحقيق پر بنسټ ولاړه ده او معلومات تر ډېره له مستندو منابعو راټول شوي دي.

**۱. د معلوماتو راټولولو لارې**

**ابتدايي (لومړنۍ) منابع:** دا منابع پخپله د اسلامي فقهې اصلي کتابونه دي، لکه:

"الهدايه" د علامه مرغيناني

"بدائع الصنائع" د کاساني

"المجموع" د امام نووي

د قرآن کريم آياتونه او د نبوي سنتو متونه

**ثانوي منابع:** دا منابع هغه معاصره فقهې، حقوقي او قضايي ليکنې دي چې د موضوع وضاحت کې مرسته کوي، لکه:

د اسلامي فقهې معاصر کتابونه او رسالې

**د څېړنې ستونزې**

د افغانستان د نافذه قوانينو رسمي نسخې (لکه اساسي قانون، د سترې محکمې قانون او نور فرعي قوانين).

د "د قاضي د عزل اسباب د اسلامي فقهې او د افغانستان د نافذه قوانينو له نظره" تر عنوان لاندې دې څېړنې په ترسره کولو کې له يو شمېر جدي ستونزو سره مخامخ شوو، چې ځينې يې دا دي:

**د فقهي نظرياتو پراخوالی او اختلافات:** د اسلامي فقهې څلور مذهبونه د قاضي د عزل په اړه مختلف نظريات لري. د دغو نظرياتو راټولول، تنظيم، او تحليلي مقايسه يو پېچلی او وخت خور کار و، چې د دقيقې او بې‌طرفه څېړنې لپاره زيات احتياط ته اړتيا لرله.

**د حقوقي اسنادو نشتوالی يا محدود لاسرسی:** په افغانستان کې د نافذه قوانينو عملي تطبيق ډېر کله د اسنادو او شفافو پرېکړو پر بنسټ نه وي. د

قاضيانو د عزل دقيقې قضيې، عدلي پرېکړې او د محاكمو اسنادو ته لاسرسی ستونزمن و، چې د تطبيقي ارزونې محدوديت لامل شو.

**سياسي او حقوقي بې‌ثباتي:** د افغانستان وروستي سياسي بدلونونه او د قانوني نظام ابهام د دې لامل شوی چې بعضې نافذه قوانين يا خو تطبيق نه شي، يا له نوې حقوقي وضعيت سره همغږي نه لري. دا موضوع د څېړنې د اعتبار او د پايلو د تطبيق وړتيا ته يو چلنج رامنځته کوي.

**د معاصرو حقوقي نظرياتو کمښت:** د افغانستان د عدلي او قضايي چارو په اړه معاصرې علمي ليکنې، ژور تحليلي مقالې او نقدي آثار ډېر محدود دي. دا حالت د څېړنې علمي بنسټونه نسبتا کمزوري کړي.

**ژبنيز محدوديتونه:** ځينې فقهي او قانوني منابع يوازې په عربي ژبه موجود دي او په پښتو يا دري ژباړې نه لري. دا کار د منابعو د دقيقې مطالعې او تحليل په برخه کې تخنيکي ستونزې رامنځته کړې.

**د تيرو اثارو کتنه(Literature Review)**

د قاضي د عزل موضوع، که څه هم د اسلامي فقهې په متونو کې تر ډېره بحث شوې، خو د معاصر حقوقي چوکاټ سره يې همغږه تحليلي څېړنه ډېره محدوده ده. د موضوع په اړه له مخکې شوي مهمو فقهي او حقوقي آثارو ته لنډه کتنه په لاندې ډول ده:

١ .**فقهي آثار:** د اسلامي فقهې د کلاسيکو متونو په کچه، د قاضي د عزل شرايطو او اسبابو ته پام شوی دی. مهم آثار چې په دې برخه کې ارزښتناک ګڼل کيږي عبارت دي له:

"الهداية" د علامه مرغيناني ـ په کې د قاضي د اهليت، صفاتو او عزل پر شرعي شرايطو بحث شوی.

"بدائع الصنائع" د امام کاساني ـ پدې اثر کې د قضا شرطونه، د قاضي د اخراج دلايل او د فاسق قاضي د شرعي وضعيت تحليل شوی.

"المغني" د ابن قدامه د ـ حنبلي فقهې له نظره د قضا، عزل او استيضاح موضوعات تفصيل شوي.

"المجموع" د امام نووي د ـ شافعي فقهې له نظره د قاضي د عزل اصول بيانوي.

"المدونة" د امام مالک د – مالکي فقهې د بنسټيز اثر په توګه، د قاضي د عزل اړوند قضاوتونه لري.

٢ .**حقوقي آثار او څېړنې :** په معاصرو حقوقي څېړنو کې هم د قاضي د عزل موضوع ياده شوې، خو تر ډېره يې تمرکز د عمومي دولتي مأمورينو د نظم او حساب ورکونې په چوکاټ کې شوی.

د افغانستان د نافذه قوانينو )لکه: اساسي قانون، د قضا قانون، د سترې محکمې قانون) له مخې د قاضي د عزل ميکانېزمونه تعريف شوي؛ خو تشريح، تحليلي او فقهې پرتله پکې نه ده شوې.

يو شمېر ماستري او دکتورا تېزسونه د قضا، د قانون حاکميت او د قضايي نظام اصلاحاتو په اړه ليکل شوي، خو د قاضي د عزل موضوع ورته يوازې په فرعي توګه اشاره کړې.

په علمي مجلو کې هم په انفرادي توګه د قاضي د اهليت، فساد او قانوني مسؤليتونو په اړه مقالې خپرې شوي؛ خو د اسلامي فقهې او قانون مقايسه پکې نادره ده.

٣ .**د تيرو اثارو محدوديتونه:** که څه هم ياد شوي آثار د قاضي د عزل په اړه مهم معلومات وړاندې کوي؛ خو تر ډېره يې تحليل يا خو فقهي دی يا صرف قانوني. د دواړو اړخونو تر منځ مقايسوي تحليل او د معاصر افغانستان د حالاتو سره تطبيق، لا تر اوسه پراخ علمي کار ته اړتيا لري.

**عمومي معلومات**

پيل کی مو د قاضی د عزل مفهوم، د قاضي دندې او همدارنګه د قاضيانو ټاکنې ، تجربو، د قاضي ارزښتونو او داسې نورو موضوعاتو ته ځانګړې کړي چې دغه لومړی برخه مو د عمومي معلوماتو په نامه باندې نومولې ده.

**د قاضي د عزل مفهوم**

د "عزل" لغوي معنا ده ليرې کول، له دندې ايستل، يا د مسؤليت پای ته رسول. په فقهي او حقوقي اصطلاح کې د قاضي عزل هغه قانوني يا شرعي اقدام ته ويل کيږي چې پر بنسټ يې قاضي له خپلې قضايي دندې ليرې کيږي، يا نور د قضا حق نه لري.

فقهاوو د عزل تعریف داسې کړی دی:
"العزل هو إنهاء ولاية القاضي من قبل من له سلطة التعيين، لسبب مشروع أو مانع شرعي".
ژباړه: عزل د قاضي د ټاکنې د صلاحیت لرونکي لوري له خوا د قضا دنده پای ته رسول دي، د مشروع دلیل یا شرعي مانع له مخې.

په معاصرو حقوقي اصطلاحاتو کې هم عزل داسې تعریفېږي
"عزل د یوې دولتي قضایي اداري یا قانون جوړونکي بنسټ لهخوا د قاضي له دندې قانوني لیرې کول دي، چې معمولاً د مشخصو قانوني شرایطو او د اصولو له مخې ترسره کیږي".

**د قاضي پر دنده واکمن ارزښونه او میتودونه**

په هر قضایي نظام کې د پرمختګ چورلیخ (محور) او قطب او د عدالت عملي کېدل قاضي تشکیلوي، او له شک پرته قاضي هغه مهال کولای شي د دې ستر ې او خطرناکې چارې له عهدې څخه ووځي چې د قضا په دنده ایزو ارزښتونو او میتودونو باندې یې منګولې لګولې وي، د هغه اهمیت له کبله چې د قضا خطرناکه دنده یې لري، لومړې باید له دې مسلک سره د یو ځای کېدو لپاره د اشخاصو په غوراوي کې لازم دقت او خبرتیا په کار یووړل شي، بیا په بشپړه غمخوارۍ او اهتمام سره د قضا ارزښتونه او میتودونه او قانوني پوهه ورته د قاضیانو د تمرین او تیارۍ په مرکزونو کې ورکړل شي او دا ښوونه او روزنه د ښوونې د مرکزونو کې لنډه نه شي، بلکې دندې د تر سره کولو په ترڅ کې د هغوی د ښوونې او اهلیت په اړوند لازمه پاملرنه صورت ومومي، چې دا ارزښتونه او میتودونه د دوی په ذهن کې نهال شي، په دې مبحث کې به په همدې ټکیو باندې بحث وکړو:

**د قاضیانو د ټاکنې څرنګوالی په قانون کې**

کوم ارزښت چې باید د قاضیانود ټاکنې پر مهال په پام کې ونیول شي د ښه او نیک سیرت او شهرت له درلودلو څخه عبارت دی، دا ارزښت د قاضیانو یو له عمده او اساسي شرطونو څخه ګڼل کیږي چې نه ښایي هیڅکله له دې لوړ ارزښت څخه محروم شي هماغه ده چې د دندې د استمرار او پر له پسې والي صلاحیت او واک له لاسه ورکوي، د سترې محکمې له لورې د یو قرار په ذریعه په تقاعد محکومیږي، البته اړتیا نه شته چې دا قرار د قاضي

د یو ټاکلي عمل پر بنسټ نیول شوي وي، بلکې ممکنه ده د قاضي د کړنو او اعمالو د عمومي ارزونې په لړ کې چې د محکمې د وجدان په وړاندې یې د ده اعتماد او شهرت زیانمن کړي وي، ونیول شي.

دا معیار په دې خاطر د قاضیانو په اړوند، د عامه خدمتونو د نورو موظفینو پر خلاف تطبیقیږي ځکه هغوی د هغه دریځ او مقام په پام کې نیولو سره چې لري له نورو موظفینو سره د پرتلنې او مقایسې وړ نه دي او نه د دوی وظیفوي ضوابط په هغوی باندې د تطبیق وړ دی بلکه په دې لورې کې له هغوی سره له یو ډول ځانګړې جدیت څخه کار اخیستل کیږيچې چې قضا له هر ډول شکوکو او شبهاتو څخه چې د قاضي ناپلوي توب، پرهیزګاري او اعتماد د خلکو په وړاندې خرپړ کوي، لیرې او پاک وساتل شي، که چېرې یو قاضي په یو عمل باندې چې نه ښایي لاس ورته واچوي ککړیږي، د ده د صلاحیت د ردحکم مطرح کیږي او د قضا له ساحې څخه شړل کیږي، چې د قضاهیبت وساتل شي او کرامت یې پر خپل حای ټینګ پاتې شي.

له هغه څه څخه چې شرحه شول دا رنګه نتیجه اخلو چې د صلاحیت د شرط معنا دا ده چې قاضي د ښه او نیک سیرت څښتن وي، دا هغه شرط دي چې د هغه شتون په ټولو پړاوونو کې د قاضي لپاره لازمي دي، که له ګومارلو څخه وړاندې د ټاکنې پر مهال او یا له ګومارلو وروسته دندې د تر سره کولو پر مهال د تقاعد تر وخته پورې.

وروسته له هغې چې د قضا د منصب د داوطلبانو په وجود کې د قضایي صلاحیت د توافر (پراختیا، زیاتوالي) په اړوند ټینګار صورت وموند، د هغوی ټاکنې او غوراوي ته اقدام کیږي، نو له دې کبله ایجاب کوي چې د هغوی د غوراوي او ټاکنې میتود مشخص کړو، د افغانستان اساسي قانون او د محکمو د تشکیلاتو او واک قانون، دا موضوع تنظیم کړي ده، د قضایي انسلاک شرطونه یې توضیح کړي او د سوګند یادولو (تحلیف) طریقه یې شرحه کړې ده چې دا دي، اړوند موادو ته یې لاندې اشاره کیږي.

**د اساسي قانون یو سلو دوه دېرشمه ماده**

قاضیان د سترې محکمې په پیشنهاد او د جمهور رئیس په منظورۍ ټاکل کیږي.

د قاضيانو مقرري، تبديلي، ترفيع، مواخذه او د تقاعد پيشنهاد د سترې محکمې صلاحيت دي ستره محمه داجرايي او قضايي چارو د ښه تنظيم او دلازمو اصلاحاتو د تامين لپاره د قضائيه قوې عمومي ادارې آمريت تاسيسوي.

د محکمو د تشکيلاتو او واک د قانون اته پنځوسمه ماده

(۱) د لاندې شرطونو لرونکې شخص د سترې محکمې د رئيس په وړانديز او د جمهور رئيس په منظورۍ د قاضي په توګه مسلک او ټاکل کيږي.
(۱) د انسلاک په وخت کې لږ تر لږه لس کاله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د تابعيت لرونکې وي.
(۲) د واکمنې محکمې د قطعي حکم په موجب، د جنايت يا جنحي په عمدي جرم محکوم شوي نه وي.
(۳) د حقوقو يا شرعياتو له پوهنځيو څخه د ليسانس يا له هغوی څخه د لوړ تحصيلي سند او يا د دولت د رسمي ديني مدرسو يا د هغو د معادل تحصيلي سند لرونکې وي.
(٤) په ساري ناروغيو يا معيوبيتونو باندې چې د دندې د اجراء خنډ شي، مصاب نه وي.
(٥) د قضا په کادر کې د انسلاک په وخت کې يې پنځه ويشت کلنۍ سن بشپړ کړی وي.
(٦) د قضايي ستاژ دوره يې په برياليتوب سره تېره کړې وي.

(۲) د دولت د رسمي ديني مدرسو يا د هغو د معادل تحصيلي سند لرونکې شخص، د دې مادې د (۱) فقرې په (۱، ۲، ۳، ٤، ٥، ٦) جزء کې د درج شوو شرطونو له په پام کې نيولو سره د لومړيو دريو کلونو لپاره د ابتدايه محکمې د غړي په توګه مقرريدای شي.

(۳) که چېرې د شرايطو لرونکې داوطلبان د اړتيا له حد څخه زيات وي، ستره محکمه کولای شي د داوطلب د جذب او شاملولو لپاره اضافي شرطونه وضع کړي.

**د قاضيانو عزل کېدل د فقهي او قانون له نظره**

دوهمه برخه کې مو د قاضیانو د نه عزل کېدو نه نیولي آن بیا د قاضي تر عزل کېدو پورې معلومات راجمع کړي دي البته د اسلامي فقهي او قانون له نظره، یعني په دې فصل کې مو هغه اسباب څېړلي دي چې یو قاضي ورباندې عزل یا توقیف کیږي.

۱ .د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲ هـ ش)
**ماده ۱۲۷:** قاضي نه شي عزلېدلی، مګر په هغو مواردو کې چې قانون صراحت ولري

دا ماده اصل تأکید کوي چې د قاضي عزل یوازې د قانون له مخې، نه د شخصي یا سیاسي فشار له مخې، ممکنه ده. دا د قضا د خپلواکۍ تضمین دی.

۲ .د قضا قانون (۱۳۸۴ هـ ش) " ـقانون تشکیلات و صلاحیت قوهٔ قضائیه"
**ماده ۸۳:** د قاضیانو د عزل لپاره باید مشخص قانوني او مسلکي دلیل موجود وي، لکه:
د قضا د اهلیت له لاسه ورکول
د اخلاقي یا مسلکي سرغړونې ارتکاب
د قانون د اصولو نه رعایت
فساد، رشوت، یا سوء استفادې قضیه

د همدې قانون له مخې، د قاضي د عزل پرېکړه باید د د قضا د عالي شورا او د سترې محکمې له خوا تأیید شي.

۳ .د قاضي د نظم او مسؤولیت قانون (که نافذ وي)
په ځینو دورو کې ځانګړی قانون نافذ و چې د قاضیانو د نظم، تأدیب، او عزل شرایط یې تعریف کړي دي. دا قانون صراحت لري چې:
که قاضي له قانوني، مسلکي یا اخلاقي پلوه سرغړونه وکړي،
عدلي تعقیب کیږي. او که جرم یا فاحشه سرغړونه تایید شي، عزلیږي.
**د قاضیانو د نه عزل کېدو پر وړاندی د قوانینو دریځ**
دا اصل افاده کوي چې له قضایي منصب څخه د قاضي لیرې کول جواز نه لري، څرګنده خبره ده لیرې کول که د انفکاک په ذریعه وي یا د تقاعد ته د ماضي د سوق کولو او یا یې له کار څخه لاس نیول او یا له قضا څخه بلې دندې ته تبدیلول وي، مګر په هغه حالتونو او مواردو کې چې قانون پرې

تصریح کړیده، په دې کې شک نشته چې د قضایانو عزل کول یوه خطرناکه وسله ده چې د دوی خپلواکي تهدیدوي (کوابنې) او اغیزه یې د عدالت په غوره بهیر کې غبرګون (انعکاس) کوي ځکه دا چاره د قاضي په راتلونکي ژوندانه پورې اړه نیسي او د احکامو په درستوالي او د محکمو په غوره بهیر باندې خطرناکې اغیزې لري.

له همدې کبله ده چې د قاضیانو د نه عزل کېدو اصل له ډېرو مهمو تضمینونو څخه دی چې د قاضیانو د خپلواکۍ رښتینی رمز ګڼل کیږي، چې د دوي په لاسونو کې د عدالت تلې (میزان – ترازو) ته زیان ونه رسیږي، ځکه کله کله داسې پیښیږي چې قاضي د عدالت په تأمین کې کله تابع او کله ناپلوی وي او دا په دې خاطر دي چې د هغه کسانو رضایت ترلاسه کړي چې د ده په ګومارلو او ټاکنه کې یې رول درلودلې دی، چې له د ې لارې څخه به خپله دنده کې خپل پاته کېدل (ابقاء) وساتي.

په هغې سربیره ددې مبدأ ټینګښت له ویرې او ډار پرته د حکم په صادرلو کې د ده خپلواکي تضمینوي چې د حق او عدالت کلمه له هر ډول لاسوهنې او ویرې او ډار څخه پرته څرګنده کړي، په دې کې شک نشته چې د قضاء خپلواکي او آزادي متصوره نه ده مګر د قاضیانو په خپلواکۍ کې، کوم قاضي چې د خپل عزل کېدو په خاطر ویره او ډار لري، د حق او عدالت لاره ترې ورکیږي. دا روښانه ده چې د قاضیانو د نه عزل کېدو ضمانت که هر څومره د قاضي د ډار او اطمینان لامل ګرځي او د اجرائیه ځواک د اغیزو او فشارونو په وړاندې دده ملاتړ او ننګه کوي؛ خو دا چاره نه یوازې د قاضي لپاره یو امتیاز نه دی، بلکې په لومړي ګام کې د دعوې د خاوندانو ضمانت او د قضاء د چارو ښه اداره کول دي.

نوموړې مبدأ په دې معنا نه ده چې قاضي د خپلې دندې مطلق خاوند دی او سره له دې چې د خطا او بدۍ مرتکب هم شي، په خپله دنده کې دې پاتې شي، بلکې دا مبدأ ددې افاده کوي چې قاضي د هر خطر په وړاندې چې کله کله نوموړی تهدید وي او یا هر فشار چې دده د لارې خنډ کیږي، په امان کې وي، پرته له دې چې د ده مسؤلیت د هغه اشتباه ګانو په وړاندې چې ده ته پیښیږي اغیزمن شي.

**د قاضي د نه عزل کېدو په وړاندې د اسلامي شریعت دریځ**

اسلام په رښتیا سره د قضاء درناوی کړی دی؛ ځکه قضاء قدرمن او لوړې رتبې مسؤلیت او دنده ده، په دې کې د شک ځای نشته چې قاضي د رسوالله صلی الله علیه وسلم ځای ناستی او خلیفه دی او دده جناب یوه دنده ترسره کوي، هغه دنده چې څښتن تعالی جل جلاله محمدصلی الله علیه وسلم د هغې پر مخ وړلو باندې مکلف کړی دی او په قرآن مجید کې فرمایي: (وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ) ژباړه: او نازل کړی (لیږلی) دی مونږ تا ته (ای محمده!) کتاب (قرآن) په حقه سره.

همدارنګه فرمایلي یې دي: (وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ) ژباړه: او (ته لیږلی ئی مونږ او دغه حکم مو فرمایلی دی تاته) چه حکم کوه! په منځ د دوی کښی په هغه شی چه نازل کړی (لیږلی) دی الله.

څرنګه چې ځلانده شریعت په مخلوقاتو باندې د حجت د اقامې په موخه د قضاء د خپلواکۍ مبادي پیاوړې کړیده، چې هغه امانت چې رب العزت د هغه په اداء کولو کې دوي امین ګڼلي دي، تر سره کوي. څښتن تعالی جل جلاله فرمایي:

(إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ)

ژباړه: بشکه الله امر کوی په تاسی (ای مؤمنانو!) د دی چه وسپارئ تاسی امانتونه اهل د اماناتو ته او کله چه حکم کوئ تاسې (ای قاضیانو!ای حاکمانو!) په منځ د خلقو کښی نو (امر کوی الله چه) حکم وکړئ په انصاف سره سره له دې هم خلیفه او یا والي د قاضیانو له حالتونو څخه ځان خبراوه، ځکه هغوی وو، چې ددې ځواک په راس کې یې قرار درلود او د چارو واګې د هغوی په لاس کې وې او خلیفه یا والي د دوی قضایي اجراأت کتل او د حق سره د توافق په صورت کې یې تاییدول او د مخالفت په صورت کې یې د هغو په الغا او فسخه او استدراک (د نیمګړتیاوو په لیرې کولو) باندې لاس پورې کاوه. د قضاوت چارې یې څارلې او د خلکو تر منځ یې د دوی د سیرت په تحسین باندې دارنګه اقدام کاوه چې د دوی په هکله یې د باوري او ثقه کسانو څخه استعلام او پوښتنې کولې، په هغه صورت کې چې په سمه لار روان و او د غوره سلوک او چال چلند درلودونکي و، ښه او پرته له هغې، هغوی یې له قضاء څخه عزل کول.

د قاضي د عزل په اړوند د اسلام فقها اختلاف لري، خو فتوا په دې ده چې د قاضي د حال د سلامتيا په صورت کې، امام يا والي نشي کولای، نوموړی عزل کړي خو د مصلحت جلبولو يا مفسدې د دفع کولو په صورت کې، نو تر هغه مهاله چې قاضي د څښتن تعالی جل جلاله د حکم په تطبيق باندې ولاړ وي، په عدالت حکم وکړي او په خپل عهد او امانت وفادار وي، د خپل عقل او پوهې ساتندوي وي، والي نشي کولای، نوموړی د قضاء له منصب څخه عزل وکړي. په اسلامي شريعت کې قاضي د لاندينو دريو سببونو په يوه معزول کيږي.

خلاصه: د قاضي عزل په څلورو صورتونوکې قرار نيولای شي چې کله قاضي د عدالت ضد کار تر سره کړي يا ورباندې خلک شکايت وکړي او يا په خپله د قضاء د دندې څخه استعفاء وړاندې کړي، يا دا چې داسې يو حالت ورته پېښ شي چې د هغې سره د قضاء دنده نشي تر سره کېدلای لکه ليونتوب، ګونګوالی او داسې نور.. چې مونږ به دا موضوع په دوه مطلبونو کې بيان کړو يو د فسق او ظلم عنوان او بل د جهل او ناپوهۍ عنوان.

**فسق، عصيان او ظلم**

د الله تعالی د اطاعت څخه ځان ويستل دي سره له دې چې په زړه کې انکار نه وي خو په ظاهر بغاوت کوي دې ته فسق ويل کيږي، د الله تعالی د امر او د رسول الله د امر څخه سرغړوني ته عصيان ويل کيږي چې انکار په کې نه وي وايي چې زه تابعدار يم خو بيا هم د ځينو کارونو سره مخالفت کوي، فسق کبيره ګناه او عصيان صغيره ګناه ته ويل کيږي

فسق د عدالت له ړوبلونې (جرحې) څخه عبارت دی، چې له شهوت څخه د پيروۍ او نفساني غوښتنو د تابعدارۍ په نتيجه او پايله کې او يا په شبهاتو باندې د استناد په پايله کې منځته راځي.

الله تعالی فسق او عصيان نا خوښه ګڼلی دی لکه چې فرمايلي دي:
وَٱعلَمُوٓاْ أَنَّ فِيكُم رَسُولَ ٱللَّهِ لَو يُطِيعُكُم فِي كَثِيرٍ مِّنَ ٱلأَمرِ لَعَنِتُّم وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيكُمُ ٱلإِيمَٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِي قُلُوبِكُم وَكَرَّهَ إِلَيكُمُ ٱلكُفرَ وَٱلفُسُوقَ وَٱلعِصيَانَ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ (الحجرات، ۷).

ژباړه: او پوه شئ تاسې په منځ ستاسې کې رسول د الله تعالی دی (نو مه وایئ دورغ) که چېرې پیروي وکړي رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسې لره په ډېرو امورو کې چې هغه خلاف د واقعیت او حقیقت وي؛ نو خامخا به تاسې مشقت او ګناه کې ولوېدئ، لیکن الله تعالی دوست او محبوب ګرځولی دی تاسې ته ایمان او ښائسته کړی یې دی دغه ایمان په زړونو ستاسو کې، او بد او منفور یې ګرځولی دی تاسو لره کفر، فسق او نافرماني له اوامرو د الله تعالی نه، همدوی دي ثابت په دین حق باندې.

**مختصر تفسیر:** الله تعالی مؤمنان وېرولي دي چې که هر ډول دروغ ووائی نو د الله تعالی رسول ستاسو په منځ کې دی نو الله به هغه ته وحي وکړي او تاسې به رسوا کړي او خبره به تحقیق ته ورسېږي نو دروغ مه وائي!، نو د الله تعالی د رسول تعظیم احترام او توقیر پکار دی، د هغه هر امر ومنئ ځکه هغه مو په مصالحو پوه او تاسو باندې مشفق دی او د ده رأیه ستاسو له رأیو ښه کلکه ده.
الله تعالی د فاسق شاهدې رد کړې لکه چې فرمایلي یې دي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ (الحجرات، ۶).

ژباړه: ای هغو کسانو چې تاسو ایمان راوړی! که چېرې راتګ وکړ تاسو لره فاسق او بد کار په یوه خبره سره، نو تاسو ښه تحقیق په وکړئ! له جهته د وېرې د دې چې وبه رسوئ تاسو یوه قوم لره ضرر او تاوان په ناپوهۍ سره، نو پس وبه ګرځئ تاسو په هغه څه سره چې عمل مو کړی دی، خفه او پښېمانه

**مختصر تفسیر:** په دې آیت کې درېیم ادب دی چې په دې سره ټولنه واحده او یوځای اوسېږي، خو کوم خلک چې دا اتحاد خرابوي هغه فاسق دی دا چې شخړي او عداوتونه کله کله سړی په دورغو ویلي اخته کوي نو الله تعالی امر کړی دی چې د فاسق د خبري تحقیق وکړو چې خبره ښه ثابته شي بیا د موضوع حل وغوښتل شي، که څوک تحقیق ونه کړي نو حاکم به د فاسق په خوله پرېکړه کړي وي چې په دې کار باندې به د هغه پسې روان وي چې هغه یو فاسق دی او د فاسقانو د اتباع څخه الله تعالی منعه کړي ده، نو کومه پرېکړه چې په تحقیق نه وي بناء هغه به په احساساتو بناء وي او چستي به

پکې وي نه به په کې عدالت وي او نه انصاف بلکه د ظلم او عدوان رېښې به په کې زغلول شوي وي.

**(فَاسِقٌ)**

هر هغه کس فاسق دی چې د ګناه کبیري ښکاره مرتکب وي او هیڅ حیاء نه لري، لکه دورغ ویل او د مسلمانانو تر منځ چغلخوري کول او داسې نور. فاسقان درواغ وایې یوه خبره یې هم باید بې له تحقیقه ونه منل شي.

په عمومي ډول فاسق په خپل دیانت کې متهم (تورن) دی او قضاء د امانت قاعده او طریقه ده. په هغه صورت کې چې فاسق په خپل نفس باندې د اعتماد وړ نه دی؛ نو څرنګه به د مسلمانانو په قضاء باندې امین وګڼل شي.

الله جل جلاله فرمایي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ (الانفال، ۲۷).

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) مه کوئ خیانت له الله سره او ((مه کوئ خیانت د الله)) له رسول سره او ((مه)) کوئ خیانت تاسی په امانتونو خپلو کې حال دا چې تاسې پوهېږئ چې د امانت ساتل واجب دي))

ظلم په عمدي صورت د باطل په لورې له حق څخه د تېري ځینې عبارت دی، ظلم د هغه چارو له جملې څخه دی، چې څښتن تعالی جل جلاله هغه په خپلو بندګانو باندې حرام کړي او هغوی یې د هغه څخه منعه کړي دي، ځکه ظلم د مفاسدو، بدیو او ګناه درلودونکي دي. څښتن تعالی جل جلاله په ډېرو ایتونو کې ظالمانو ته له بد انجام او د هغه له دردونکي عاقبت څخه اخطار ورکړی دی، چې له هغې جملې دوه ایتونو ته اشاره کوو: (قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَى رَبِّهِ فَيُعَذِّبُهُ عَذَابًا نُّكْرًا) ( الکهف، ۸۷). ژباړه: نو وویل (ذوالقرنین) هر څه هغه څوک چې ظلم یې وکړ (په نفس خپل په دوام د کفر) پس ژر به په عذاب کړو دی (په دنیوی عذاب) بیا به بوتلل شي (طرف د) رب خپل ته پس په عذاب به کړی (الله) دی په عذاب لوی سره (په عقبی کښی).

(فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ) (البقره، ۵۹).

ژباړه: پس بدله کړه هغو کسانو چې ظلم يې کړی وو (په خپلو ځانو) خبره په بل شان له هغې خبرې څخه چې ويلې شوې وه دوی ته پس نازل کړ مونږ پر هغو کسانو چې ظلم يې کړی ؤ عذاب له (طرفه) د آسمانه په سبب د دې چې وو دوی چې سر به يې غړاوه (د الله له فرمانه).

نو د فاسق قاضي کول په کار نه دې په دې مسئله کې ژور اختلاف دی د فقهاؤ خو خلص ويلی شو چې کله بادشاه فاسق قاضي کړ صحي پرېکړه يې نافذه ده؛ خو دا کار د کولو نه دی بايد فاسق قاضي عزل شي لکه څه ډول چې وروسته فاسق شوی قاضي عزل کيږي.

**جهل او ناپوهي**

دا چې د قضاء لپاره څو شرطونه دي لکه، عدالت درلودل، ناريتوب، ذکاوت او په شرعي احکامو باندې پوهه او داسې نور... چې ټول د اهليت مفهوم افاده کوي

جاهل له پيل څخه اهليت نه لري، ځکه د قضاء په منصب باندې د ګومارلو د شرطونو له جملې څخه د دين او دنيا په چارو کې علم اوفقاهت (د شريعت په احکامو پوهېدل) دي په همدې دليل هغه قاضي چې جاهل وي عزل يې واجب دی، ځکه دده د جهالت له کبله په خلکو ظلم کيږي.

د قضاء د اهليت د استمرار په نفي کوونکو چارو باندې د قاضي موصوفيدل

د قاضي د غوره کولو په اړوند د اسلامي شريعت فقهاؤ پاملرنه کړې ده. د قضاء د اهليت د تحقق (ريښتيني) په هکله يې لکه څرنګه چې وړاندې يې يادونه وشوه، بې شمېره شرطونه وضعه کړي دي، چې ګومارل يې صحت ومومي او احکام يې نافذ شي ځکه د قضاء مسؤليت، د درناوي د سترتوب، د منزلت د لوړوالي، د جسامت د لويوالي له لحاظه د سترو دندو له جملې څخه ګڼل کيږي.

د يادونې وړ ده چې نوموړي شرطونه د قضاء په منصب باندې د ګومارل کېدو او په هغه کې د ا ستمرار له شرايطو څخه دي هر کله که قاضي يو له دوی څخه له لاسه ورکړل، د قضاء د پر مخ بيولو صلاحيت له لاسه ورکوي او د نوموړي عزل ورکړل د قضاء د پر مخ بيولو صلاحيت له لاسه ورکوي او د نوموړي عزل لازميږي.

**د قاضیانو د عزل کېدو د مبداء حدود او اسباب**

مخکې مو توضیح کړه چې نوموړې مبدأ ددې افاده نه کوي چې قاضي د هغه د ژوندانه د عمر په اوږدو کې په خپل منصب کې باقي پاتې کیږي، همدارنګه د هغه معنی دا نه ده چې قاضي د خطا له ارتکاب سره سره، د خپلې دندې څښتن دی او هغې ته دوام ورکوي. په دې کې شک نشته، د نوموړې مبدأ پیاوړي کول هغه عمر ته له رسیدلو وروسته چې په قانون کې تصریح شوي دي، تقاعد ته د سوقیدلو مانع نه ګرځي، همدارنګه په هغه صورت کې چې د روغتیایي سببونو په علت د ده ناتواني څرګنده شي او ونه شي کولای خپله دنده په مناسب ډول ترسره کړي، قانوني عمر ته له رسیدلو څخه وړاندې تقاعد ته د ده د سوقیدلو مانع نه ګرځي.

سربیره پر دې، په هغه صورت کې چې قاضي دنده بیزې وجیبې او د هغه غوښتنې اخلال کړي او د خپلې دندې له قانوني حدودو څخه تیری وکړي، نوموړې مبدأ نشي کولای هغه له تادیبي مؤاخذې او هغه مجازاتو څخه چې کېدای شي د ده په عزل یا تبدیلی منجر شي، وژغوري.

د نوموړې مبدأ حدود د ۲۰۰۵/۱۳۸۴ د خپاره شوي د قضائیه قوې د محکمو د تشکیلاتو او واک له قانون سره په سمون کې په لنډه توګه لاندې شرحه کوو:

لومړی سبب: قاضي نشي کولای چې د څلویښت کاله بالفعل خدمت وروسته په قضایي منصب کې پاتې شي

د محکمو د تشکیلاتو او واک قانون دوه شپیتمې مادې د قاضیانو د تقاعد حالتونه تنظیم کړي دي، چې د نوموړې مادې د لومړی فقرې په لومړي بند کې یې دارنګه تصریح کړې ده: (د ۴۰ کاله بالفعل خدمت په پای کې).

دوهم سبب: هغه شخص چې عمر یې له پینځه شپیته کلونو څخه پورته شوی وي، د قضاء په دنده د بقاء جواز نه لري.

د محکمو د تشکیلاتو او واک قانون د دوه شپیتمې مادې د دوهمې فقرې لومړي بند تصریح کړې ده، دا چې د ۶۵ کلنی سن بشپړول له قضایي دندې څخه د قاضي د تقاعد له موجباتو څخه یوه موجبه ګرځي.

خو قانون د محکمو د تشکیلاتو او واک د قانون د دوه شپیتمې مادې د دوهمې فقرې له مخې د استثناء حق سترې محکمې ته ورکړی دی.

(ستره محکمه کولای شي، د اړتیا پر وخت کې د هغو قاضیانو د کار دوام چې ددې مادې د (۱) فقرې په (۳) جزء کې د درج شوي تقاعد سن ته رسیدلی دی او د علمي او مسلکي پوهې او تجربو لرونکی وي، تقاعد ته له سوق د مخه د واکمن مقام په منظورۍ حد اکثر تر لسو کلونو پورې تمدید کړي. د کار د دوام منظوري هر کال نوې کیږي).

درېیم سبب: په هغه صورت کې چې قاضي د ناروغۍ په علت ونه شي کولای دنده ترسره کړي، تقاعد ته د ده سوقول ممکن دي.

په دې کې شک نشته چې ناروغي له قضایي دندې سره یو ځایي ستونزه ده او یا په بل عبارت قضایي دنده په طبیعي توګه د پرله پسې هلو ځلو او شدیدې ذهني ستړیا په پایله کې، د هغې پازوال (مؤظفین) په امراضو اخته کوي.

د محکمو د تشکیلاتو او واک د قانون د دوه شپیتمې مادې د لومړۍ فقرې دوهم بند دارنګه تصریح کړیده: (د کلي دایمي معلولیت او دوامداره ناروغۍ په صورت کې چې د دندې د اجراء خنډ شي) قاضي متقاعد کیږي.

د پورتنۍ مادې په پام کې لرلو سره وینو چې قانون د ناروغۍ په حالت کې د قاضي د تقاعد په اړوند لاندیني ضوابط وضعه کړي دي.

واجب ده چې دا ناروغي د دندې له ترسره کولو څخه د قاضي په ناتوانۍ منجر شي.

د اول بست او له هغه څخه د لوړ بست د قاضیانو تقاعد ته د سوق اجراأت د سترې محکمې رئیس د وړاندیز پر بنسټ او د جمهور رئیس په منظورۍ صورت مومي چې د محکمو د تشکیلاتو او واک د قانون د شپیتمې مادې لومړۍ فقره په دې هکله صراحت لري:

د دوهم او له هغه څخه د ټیټ بست د قاضیانو تقاعد ته د سوق اجراأت د قضائیه قوې د اداري عمومي آمر د وړاندیز پر بنسټ او د سترې محکمې په

تائيد او د هغه د رئيس په منظورۍ د محكمو د تشكيلاتو او واک قانون د شپيتمې مادې د دوهمې فقرې مطابق صورت مومي.

يادونه: محترم لوستونكي به متوجه شوي وي، چې مؤلف د ۱۳۸۴ل كال د قضائيه قوې د محكمو او تشكيلاتو او واک په قانون باندې استناد كړی دی، په داسې حال كې چې په ۱۳۸۷ ل كې د نوموړي قانون ځينې مادې تعديل شوي او په ځينو نورو كې ا يزاد رامنځه شوی دی، په لاندې توګه د دوه شپيتمې مادې تعديل درج كيږي. (پښتون ژباړن – حسامي).

**دوه شپيتمه ماده**

۱. بشپړ دايمي معلوليت او هغه دوامداره ناروغي چې د دندې د اجراء خنډ شي.

۲. د ۶۵ كلنۍ سن بشپړول.

(۲) ستره محكمه كولای شي، د اړتيا په وخت كې د هغو قاضيانو د كار دوام چې ددې مادې د لومړۍ فقرې په دويم جز كې د تقاعد درج شوي سن ته رسيدلي دي او د مسلكي پوهې او تجربو لرونكی وي. تقاعد ته له سوقيدو د مخه د واكمن مقام په منظورۍ تر لسو كلونو پورې كه څه هم چې د قاضي د خدمت ټوله موده له څلويښتو كلونو څخه تجاوز وكړي، تمديد كړي. د كار دوام منظوري هر كال نوې كيږي.

(۳) ددې مادې په دويمه فقره كې درج شوي حكم ته د توشيح له نېټې څخه تر پينځو كلونو مودې پورې د اعتبار وړ دي.

څلورم سبب: د قاضي عزل يا توقيف په هغه حال كې د جنايت او يا جنجي په جرم مرتكب شي

الف: د سترې محكمې د غړيو عزل او توقيف
د افغانستان د اساسي قانون د ۱۱۷مې مادې وروستۍ فقرې دارنګه تصريح كړې ده: (د سترې محكمې غړي ددې اساسي قانون په (يوسلو اوه ويشتمې) مادې كې راغلي حالت پرته، د خدمت د دورې تر پايه له خپلو وظيفو څخه نه عزليږي).

د اساسي قانون ۱۲۷مې مادې تصريح كړې ده چې: (كه چيرې د ولسي جرګې درييمې برخې زيات غړي، د سترې محكمې د رئيس يا غړيو

محاكمه، د وظيفوي جرم يا د جنايت د ارتكاب د اتهام پر اساس وغواړي او ولسي جرګه دا غوښتنه د وظيفي څخه عزل او موضوع خاصې محكمې ته سپارل كيږي.

د محكمې تشكيل او د محاكمې طرزالعمل د قانون په وسيله تنظيميږي.

ب: د نورو قاضيانو عزل او توقيف

د اساسي قانون ۱۳۳مه ماده دارنګه صراحت لري: كه قاضي د جنايت په ارتكاب متهم شي، ستره محكمه د قانون له حكمونو سره سم د قاضي پر حالت غور كوي، كه ستره محكمه د ده د دفاع تر اوريدو وروسته اتهام وارد وبولي، جمهور رئيس ته يې د عزل پيشنهاد كوي، د جمهور رئيس له منظورۍ وروسته متهم قاضي له وظيفي څخه عزل او د قانون له حكمونو سره سم جزا وركول كيږي.

د محكمو د تشكيلاتو او واک قانون په خپلو بېلابېلو مادو كې د اساسي قانون په پورتني ذكر شوي نص باندې ټينګار كوي او د هغه د تطبيق لارې چارې تنظيموي.

د ساري په توګه په ۵۸مه ماده كې يادونه شوې ده، چې د قضاء د اهليت له شرطونو څخه يو دا دی، چې قاضي د واكمنې محكمې د قطعي حكم په موجب، جنايت يا جنحې په عمدي جرم محكوم عليه واقع شوی نه وي.

د نومړي قانون ۶۷مه ماده دارنګه صراحت لري:

۱- قاضي د جمهور رئيس له حكم پرته نيول يا توقيف كېدای نشي. د مشهود جرم حالات له دې حكم څخه مستثنی دي.

۲- كه چيرې د جنايت په ارتكاب تورن شي، ستره محكمه د اساسي قانون د يوسلو درې ديرشمې مادې مطابق اجراأت كوي.

ج: د قاضي د نه عزل كېدو د مبداء شرطونه

كه چيرې معلومه شوه چې د قاضي د نه عزل كېدو مبدأ د اساسي قانون د قواعدو له جملې څخه دي، چې د عامه آزاد يو له مسئلې سره نه پرې كېدونكې اړيكه لري، په دې اعتبار سره چې د قضاء خپلواكي او د هغې پياوړې كېدل د حقوقو او ازاديو د ملاتړ او ننګې لپاره دوه بنسټيز تضمينونه

دي، نو دا چاره ددې لامل ګرځي، چې د هغه موخې د تحقق په منظور چې انتظار يې کيږي، ددې مبدأ د تطبيق ضوابط په دې ډول انځورور:

١. کوم مهال چې اساسي قانون هغه احکام تشخيص کړل چې د هغو پر بنسټ د عزل پورې اړوندې چارې، سببونه، حدود، شرايط او اجراأت يې توضيح کيږي، نو دا تنظيم بايد يوازې د همدې احکامو پر موجب وي. له دې امله نه ښايي چې د ښکتنيو (تحتاني) قوانينو مواد د اساسي قانون له احکامو سره په مخالفت کې وي او يا له هغه مبادي او ضوابطو څخه چې په اساسي قانون کې انځور شوي دي، انحراف وکړي ځکه د اساسي قانون قواعد د لوړو (عليا) قانوني موادو حيثيت لري. تر څو وي چې د هغه د قانونيت هر مبدأ او لوړتيا باندې ټينګار صورت ومومي.

٢. اجرائيه ځواک حق نه لري، چې قاضي که څه هم د هغه عمل مرتکب شوي وي چې د نوموړي د عزل موجب هم شي، عزل کړي. بلکې په دې صورت کې مناسب ده چې د قاضي عزل د اړوندې واکمنۍ ادارې په ذريعه ترسره شي. ځکه تر هغه مهاله چې قاضي له ډاډ څخه برخمن نه وي نشي کولای خپل اجراأت په ښه ډول ترسره کړي. قاضي ډاډ نه شي کولای مګر په هغه صورت کې چې د نوموړي د ښو کړنو او مؤاخذې د ارزونې صلاحيت او واک يوازې هغه مرجع ولري چې قاضي ورته منسوب دي. هر کله که قاضي له دې طريقې او لارې چارې پرته له خپل منصب څخه کړل شي له يوې خوا د ده په وړاندې د خلکو اعتماد او ډاډ له منځه ځي او بلې خوا د ده په روح او روان کې پريشاني او ناآرامي لاره پيدا کوي، نو د قاضي عزل بايد يوازې د قضائيه ځواک په واسطه صورت ومومي. هغه ځواک چې بايد له مجريه او مقننه ځواکونو څخه خپلواک وي. هغه ځواک چې بايد د قاضي د عمل د څېړنې په اړوند چې د ده د عزل لامل او موجب ګرځيدلی دی، د جلا کوونکي او بېلوونکي خبرې او قول درلودونکی وي.

٣. هغه قانوني مواد چې د قاضي د نه عزل کېدو د مداأ ضمانتونه تنظيم او ترتيبوي لازم ده چې د هغه اصول او اجراأت چې د قاضي په محکمه کې د تأديت او عزلبه مواردو کې تطبيق کيږي. په واضح او روښانه توګه انځور شي، په داسې شکل چې په هغو کې هېڅ ډول ابهام او ترديد شتون ونه لري، نو له دې کبله ايجابوي، چې دا مواد په عامو او مجردو قواعدو

باندې مشتمل وي، چې د عزل پورې اړوند سببونه، قيود، شرطونه او اجراأت توضيح کړي. ځکه په هغه صورت کې چې عزل په واضحو او ټاکلو اصولو او اجراأتو باندې ولاړ نه وي، د قضاء خپلواکي د عدالت د بهير ښکلا هسې له منځه ځي.

۴. قاضي په هغه صورت کې چې د عزل حکم یې صورت نه وي موندلی، باید د تقاعد سن ته په رسیدو چې د قضائیه ځواک په قانون کې تنظیم او ترتیب شوي دي، په پرله پسې توګه خپله دنده وساتي، پرته له دې چې کوم بل ځواک یا اړخ دده په اړوند د عزل، ګوښه کولو له دندې څخه د لیرې کولو او د فشار د میتودونو په راوړلو او د دندې په پریښودولو باندې د اکراه د کارولو حق ولري.

**پایله**

دا چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی، نو په همدې اساس په افغانستان کې د قوانینو د جوړولو لوړه مرجع قرآن، احادیث او حنفي فقه ده. نو د همدې په اساس د افغانستان ټول قوانین د اسلامي شریعت په رڼا کې وضع کیږي او زموږ په هېواد کې د قاضیانو نصب او عزل د قوانینو په رڼا کې ترسره کیږي چې کله یو قاضي په دنده ګمارل کیږي، هغه باید د هغو اصولو، قواعدو او مقرراتو پابندي وکړي چې په قوانینو کې وضع شوي دي، د همدې په اساس یو قاضي په خپله دنده کې پرمختګ کولای شي او ددې اصولو د نه مرعاتولو سره په خپله دنده کې پرمختګ نشي کولای او بلاخره د خپلې دندې د قوانینو په رڼا کې له دندې عزل کیږي، د افغانستان په اساسي قانون کې د قاضیانو د نصب او عزل په اړه صراحت شته دی، د محاکمو د تشکیلاتو او واک قانون کې هم وضاحت شته دی.

باید زموږ په قوانینو کې د قضاتو د عزل کېدو موضوع روښانه شي، تر کوم ځایه چې ما خپله مطالعه او څیړنه سرته رسولې ده، د افغانستان په قوانینو کې د قضاتو د عزل کېدو موضوع ګونګه پاتې ده، یعنې کوم روښانه دلیل او ماده د قضاتو د عزل کېدو په هکله نه ده موجوده، چې قضات به څوک او څنګه له خپلې دندې او د کومې سرغړونې په صورت کې به عزل کیږي، چې زما لپاره او نورو محصلینو لپاره دا یوه مغلقه او پیچلې موضوع ده.

مقننین باید دغې موضوع ته په جدي توګه پاملرنه وکړي، چې تر څو د اجتماعي عدالت په تأمین کې زموږ د ټولنې سره مرسته وکړي.

**وړاندیزونه**

۱. کله چې یو قاضي مقررېږي، هغه باید ټول شرایط پوره کړي وي، چې په قوانینو کې درج شوي دي.

۲. زموږ په قوانینو کې د قاضیانو د نصب په اړه یادونه شوې، خو پوره وضاحت نشته دی.

۳. دا چې زموږ ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده، قاضي باید پوره په اسلامي شریعت او محمدي سنتو سمبال وي او په ځان یې عملي کړي.

۴. د قاضیانو د نصب او عزل په اړه باید په پوهنتونونو کې کتاب ولیکل شي، ځکه چې دا یوه لویه موضوع ده.

۵. په اساسي قانون کې د قاضي د نصب په اړه مواد شته؛ خو د قاضي د عزل په اړه پوره وضاحت نشته دی.

۶. دلته د قاضیانو د نصب او عزل په اړه بحث شوی دی؛ خو دا نه ده معلومه چې د کوم بست یا د کومې محکمې قاضیان ترې مراد دي.

۷. د قاضي د نصب او عزل په اړه په اسلامي شریعت کې په پوره ډول وضاحت شته، خو دلته په تمامه معنا نه دي ذکر شوي.

۸. دا چې قضاء یو درونږ مسؤلیت دی، هغه څوک باید د قضاء چارې پر مخ یوسي، چې د قضاء وړتیا ولري.

**ماخذونه**

قران کریم

ابن کثیر، ابو الفداء، اسماعیل بن عمر بن کثیر القرشي البصري ثم الدمشقي المتوفی (۷۷۴هـ ق)، تفسیر القران العظیم، المحقق: سامي بن محمد سلامه، چاپځای: دار طیبه للنشر والتوزیع چاپوار الثانیة ۱۴۲۰هـ ۱۹۹۹م، عددالأجزاء: ۸.

ثعلبي، أبو إسحاق، أحمد بن محمد بن إبراهيم (المتوفى: ٤٢٧هـ)، الكشف والبيان عن تفسير القرآن ، تحقيق: الإمام أبي محمد بن عاشور مراجعة وتدقيق: الأستاذ نظير الساعدي الناشر: دار إحياء التراث العربي، بيروت – لبنان الطبعة: الأولى ١٤٢٢ هـ - ٢٠٠٢م عدد الأجزاء: ١٠. " TA \l ثعلبي، أبو إسحاق، أحمد بن محمد بن إبراهيم (المتوفى: 427هـ) الكشف والبيان عن تفسير القرآن ج۹ص۷۷، تحقيق: الإمام أبي محمد بن عاشور مراجعة وتدقيق: الأستاذ نظير الساعدي الناشر: دار إحياء التراث العربي، بيروت – لبنان الطبعة: الأولى 1422، هـ - 2002 م عدد الأجزاء: 10،" s\ "ثعلبي، أبو إسحاق، أحمد بن محمد بن إبراهيم (المتوفى: 427هـ) الكشف والبيان عن تفسير القرآن ج۹ص۷۷، تحقيق: الإمام أبي محمد بن عاشور مراجعة وتدقيق: الأستاذ نظير الساعدي الناشر: دار إحياء التراث العربي، بيروت – لبنان الطبعة: الأولى 1422، هـ - 2002 م عدد الأجزا3 c\ "

الجوزي، جمال الدين أبو الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد، (المتوفى: ٥٩٧هـ)، زاد المسير في علم التفسير، تحقیق کوونکی: عبد الرزاق المهدي چاپځای: دار الكتاب العربي – بيروت چاپوار: لومړی – ١٤٢٢هـ.

د افغانانستان، د محکمو تشکیلاتو او واک قانون، چال کال: (۱۳۸۳ هـ ش)، پر له پسې ګڼه (۵۸۱).

د افغانستان ، د جزایي اجراتو موقت قانون، کال: (۱۳۹۳ هـ ش)، پر له پسې ګڼه (۱۱۳۲).

د افغانستان د قاضیانو لپاره لاربنود، د چاپ کال: ۱۳۹۱هـ ش.IDLO

د قضایي سلوک شرحه او جزایي اجراتو ۱۳۹۱کال

رستمي ، ابوزکریا، عبدالسلام ، (ب –ت)، تفسیر احسن الکلام، چاپځای: جامعه عربیه لاشاعة التوحید والسنة بډه بېر پشاور.
الزحیلي: وهبة المصطفی، ۱۳۸٦ هـ ش، قاضي قضاوت واحکام امور قضاء، چاپ: تهران.
السجستاني: ابو داود سلیمان بن الاشعث، (ب – ت)، سنن ابي داود، الناشر: دار الكتاب العربي ، بيروت.
شبیر احمد عثماني، (۱٤۲۲)، کابلی تفسیر ، د افغانستان د جیدو علماوو ژباړه: د فهد بن عبدالعزیز د قران کریم چاپخانه، مدینه منوره.
عدلیې وزارت، رسمي جریده، . د افغانستان اساسي قانون ، کال: (۱۳۸۲ لمریز) پرله پسې ګڼه (۸۱۸).
نسفي، الامام عبد الله بن احمد بن محمود النسفی المتوفی (۷۱۰هـ)، تفسیر النسفی (تفسير النسفی المسمی مدارک التنزیل وحقائقو التأويل)، چاپځای: دار الكلم الطيب، بيروت چاپوار: لومړی، ۱٤۱۹ هـ - ۱۹۹۸م ، عدد الأجزاء : ۳ .
وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت ، الموسوعة الفقهية الكويتية، د جزونو شمېر: ٤٥، جزء چاپوار: (من ۱٤۰٤-۱٤۲۷هـ).

**دوکتور اسدالله محمدي**
فقه او قانون څانګه، شرعیاتو پوهنځی، تابش پوهنتون

# مدافع وکالت د اسلامي شریعت او د مدافع وکیلانو د انسجام کړنلارې له نظره

**لنډیز**
دا یو څرګند حقیقت دی چې الله عزوجل انسان ټولنیز پیدا کړي چې په ټولنه کې د یو بل سره په شریکه ژوند وکړي، په همدې اساس د هغوی د ژوند د تنظیم په خاطر په ټولنه کې اصولو او قواعدو ته اړتیا ده چې د هغې په رڼا کې ژوند تېر شي او ټولنیز ژوند له منځه لاړ نشي، په همدې اساس ما د مدافع وکالت د اسلامي شریعت او د مدافع وکیلانو د انسجام کړنلارې له نظره عنوان لاندې موضوع واخیسته چې کتابتوني ده، چې هدف یې د مدافع وکالت حکم معلومول، په ټولنه کې ورته دخلکو اړتیا ده.

په دې لیکنې سره به د ټولنې وګړو ته د مدافع وکالت حکم د ټولنې افرادو ته معلوم شي او د ګټو څخه به یې خبر شي. همدارنګه دا لیکنه به د مدافع وکالت اړوند پوښتنو ته ځواب وایي او پدې لیکنې سره امید کیږي، د مدافع وکالت اړوند ستونزې راکمې شي.

دا لیکنه د ځانګړې کړنلارې په پام کې نیولو سره ترسره شوې او د معتمدو پخوانیو او اوسنیو ماخذونو څخه پکې استفاده شوې ده.

د مدافع وکالت په حکم کې د علماوو ترمنځ اختلاف دی، خو راجح قول د ځینې شرطونو په نظر کې نیولو سره دا دی چې دا جایز دی، مدافع وکالت ډیرې ګټې لري. د خلکو د حقوقو څخه دفاع کوي، یوې قضیې ته په ښه شکل سره رسیده ګي کوي، د ظلم مخنیوی کوي او تاوانونه هم لري لکه: په ناروا سره د مجرمانو سره مرسته کول، کله کله ځینې اشخاص د مدافع وکیل لرلو او پیژندلو په وجه په نورو د تجاوز په صورت کې ډاډه او مطمئن وي

ځینې مدافع وکیلان چې د دفاع وکالت له اصولو خبر نه وي او یا یې هم نه عملي کوي بیا په فساد کې اخته کیږي،

**کلیدي ټکي:** اسلامي شریعت، مدافع وکالت، مدافع وکیل.

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین ، نبینا محمد وعلی آله واصحابه ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین. اما بعد: څرګنده ده چې الله عزوجل انسانان د ټولنیز ژوند لپاره پیدا کړي، چې د یو بل سره یو ځای ژوند وکړي. بیا الله عزوجل ټولو انسانانو ته یو ډول ژوند ندی ورکړی، بلکې د یو بل سره په ژوند کې توپیر لري، د چا ژوند ښه او د چا ژوند ښه نه وي او پدې کې حکمت دا دی چې د یو بل سره ګډ ژوند وکړي، نو دا چې د یو بل سره یې ژوند توپیر لري، کیدای شي د یو بل په حقوقو تیری وکړي نو د تیري د مخنیوي په خاطر په ټولنه کې اصولو او قواعدو ته اړتیا ده؛ چې هیڅوک پخپل سر انتقام او بدله وانخلي. په همدې اساس په ټولنه کې قضائي ارګان ته اړتیا ده؛ چې د خلکو قضایاو ته رسیده ګي وکړي، د اسانتیا او دقت په خاطر باید خلک خپلې قضیې په کتبي شکل محاکمو ته واستوي، خو دا لیکنه باید د مسلکي شخص لخوا وشي، چې دغه مسلکي اشخاصو ته زمونږ په ټولنه کې مدافع وکیلان ویل کیږي. نو په همدې اساس ما (د اسلامي شریعت او افغاني قوانینو له نظره د دفاع وکالت د شرایطو پرتلیزه څیړنه) موضوع د څېړنې لپاره انتخاب کړه؛ چې زمونږ د ټولنې وګړي د مدافع وکالت په ارزښت او حکم پوه شي. الله تعالی دې زما دا لیکنه د ټولنې د خدمت لپاره وګرځوي.

**د څېړنې اهمیت او اړتیا**

ددې موضوع اهمیت ددې څخه معلومیږي چې اسلامي شریعت د راتللو مقصد د پنځه شیانو ساتنه او حفاظت کول دي چې هغه عبارت دي له: د دین ساتنه، د نفس ساتنه، د عقل ساتنه، د عزت او ناموس ساتنه او د مال ساتنه. نو ددې شیانو ساتنې یوه لار د مدافع وکالت ده. یعنې دا چې مدافع وکیل د قضا په اصولو ښه پوهیږي، نو په ښه شکل سره کولی شي چې د خلکو حقوقو څخه ساتنه او حفاظت وکړي.

د اهمیت بله نقطه یې دا ده: چې نن سبا د خلکو ترمنځ دعواګانې او لانجې ډیرې دي چې اکثره یکې ظالم او هوښیار د مظلوم او ساده شخص اموال په اسانه ډول حیف او میل کوي، چې دلته د نومړی مظلوم او ساده شخص د

حقوقو دفاع د عدلي او قضایي ارګانونو پر وړاندې مدافع وکیل په ښه او مناسبه توګه کولی شي، نو باید د مدافع وکیل رول، صلاحیت او مسؤلیت روښانه شي.

**د څېړنې اهداف**

د څېړنې د ترسره کولو ځینې اهداف په لاندې ډول دي:

۱_ مدافع وکالت حکم پېژندل.

۲_ د مدافع وکیل پېژندل .

۳_ د مدافع وکیل شرطونه په اسلامي شریعت او قانون کې.

۴_ دمدافع وکالت ګټې او زیانونه پېژندل.

**د څېړنې پوښتنې**

کوښښ کوم چې په دې بحث کې لاندې پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړم:

۱_ مدافع وکالت څه ته ویل کیږي؟

۲_ مدافع وکالت څه حکم لري؟

۳_ د مدافع وکالت شرطونه څه دي؟

٤_مدافع وکالت څه ګټې لري؟

**تېرو لیکنو ته کتنه**

۱ـ المحاماة في الفقه الإسلامي دراسة فقهية مقارنة مع دراسة تطبيقية لنماذج من المحاماة .بندر بن عبدالعزيز اليحيى.

۲ـ المحاماة في الشريعة الإسلامية ـ نظرية التوكيل في الدعوى بين المتخاصمين. سيدأحمد رجائي، ۰۱ يناير .2006

۳ـ ضوابط وأحكام ممارسة مهنة المحاماه ` وفقاً لأحكام قانون المحاماه وتعديلاته والقوانين المتصلة به وآراء الفقة وقضاء المحاكم.محمود سعد عبدالمجيد.ناشر: المكتب الجامعي الحديث.

نومړو لیکنو سره زما د د لیکنې د توپیر اساسي نقطې دا دي:

زما په لیکنه کې د مدافع وکالت اړوند د انسجام د کړنلارې څخه استفاده شوېده.

بل توپیر یې دا دی، چې زما په لیکنه کې د اسلامي شریعت او د مدافع وکیلانو د انسجام کړنلارې ترمنځ مقایسه او پرتله شوېده.

بل توپیر یې دا دی چې ما پخپله لیکنه کې د مدافع وکالت ګټې او تاوانونه ذکر کړي دي، حال دا چې دا په پورته ذکر شوو څېړنو کې ندي ذکر شوي.

**د لیکنې د ترسره کولو تګلاره**

1. لکه چې د موضوع له نوم څخه څرګندیږي چې زما موضوع کتابتوني ده نو په همدې اساس به زه د مدافع وکالت د پیژندنې حکم، د مدافع وکیل شرطونه او داسې نورو موضوعاتو لپاره د کتابونو څخه استفاده کوم او د مدافع وکالت د ګټو او زیانونو په اړه به د خلکو څخه نظرونه را اخلم.
2. د موضوع په اړه مې د معاصرو علماوو ویناوې د هغوی له ویبسایټونو څخه رانقل کړي.
3. د دې تر څنګ په لیکنه کې د لیکنیزو اصولو په پام کې نیولو سره مې د پخوانیو علماوو نظرونه د هغوی له کتابونو څخه رانقل کړي او په وړ ځای کې مې ځای پر ځای کړي.
4. قرآني آیتونه مې له حرکت لرونکي مصحف څخه رانقل کړي او په عثماني رسم الخط مې لیکلي.
5. د قرآني آیتونو ژباړه مې له کابلي تفسیر څخه رانقل کړې او په لمنلیک کې مې حواله ذکر کړې.
6. نبوي احادیث مې له اصلي مصادرو څخه رانقلوم. اود صحیحینو پرته به د بل کتاب د حدیث د حکم په اړه دعلماوو ویناوې رانقل کړي.
7. په لومړي ځل کې مې د هر مصدر په اړه پوره معلومات راوړي، چې د مؤلف مشهور نوم، بیا مکمل نوم.(د نشر کال). د کتاب نوم، تحقیق ـ که چېرته وو ـ ناشر، چاپ وار او کال. بیا جلد او صفحه. بیا ځلې د کتاب نوم ، جلد او صفحه
8. بحث مې په ساده او روانه سیمه ایزه پښتو ژبه لیکلی؛ چې خلک پرې په آسانه پوه شي.
9. د بحث په پای کې مې پایله، مناقشه، پایله اخیستنه، وړاندیزونه، مصادر او مراجع ذکر کړي.

**لومړی مبحث: د مدافع وکیل پېژندنه، حقوق او وجایب او د شتون شالید یې**

دا مبحث مې په پنځو مطالبو ویشلی دی، چې د مدافع وکیل انفرادي او مرکبه پېژندنه د دفاع وکالت په شغل د بوختیدو شرطونه، د مدافع وکیل حقوق او وجایب، د دفاع وکالت د شتون شالید.

**لومړی مطلب: د مدافع وکیل انفرادي پېژندنه**

مدافع د دفع څخه اسم فاعل دی په معنا د دفاع کوونکي راځي.

او د وکالت په اړه د مجلة الاحکام په (۱۴۴۹) ماده کې راځي چې (الوکالة: تفویض احد امره الی اخر واقامته مقامه، ویقال لذلک الشخص: مؤکل، ولمن اقامه مقامه: وکیل، ولذلک الامر: موکل به).

ژباړه: وکالت یو شخص بل شخص لره د یو کار د ترسره لپاره د ځان لخوا مقررول دي او همدغه شخص ته مؤکل ویل کیږي او مقرریدونکي ته وکیل ویل کیږي او د کوم کار لپاره چې مقرریږي مؤکل به نومیږي.

**دویم مطلب: د مدافع وکیل مرکبه پېژندنه**

د مدافع وکیلانو د انسجام کړنلاره په دریمه ماده کې مدافع وکیل داسې پېژندل شوی (مدافع وکیل: هغه شخص دی چې د دفاع وکالت جوازلیک د دې کړنلارې له حکمونو سره سم ترلاسه او د محکمو او نورو مراجعو په وړاندې د خپل مؤکل له حق څخه دفاع یا دعوی اقامه کوي.

په الموسوعة الجنائية الإسلامية المقارنة بالأنظمة المعمول بها في المملكة العربية السعودية کې مدافع وکالت داسی تعریف شوی دی (المحاماة هي المدافعة أمام الجهات المختصه عن حق من الحقوق المشروعة للغير. والمحامي: هو المدافع عن حق من الحقوق المشروعة)

ژباړه: د دفاع وکالت د بل شخص د شرعي حقوقو څخه دفاع کول دي په خاصو ځایونو کې، او مدافع وکیل هغه شخص دی چې د یو حق د مشروع حقوقو څخه دفاع کوي.

**دریم مطلب: د دفاع وکالت په شغل د بوختېدو شرطونه**

لومړی فرعه: په اسلامي شریعت کې

په اسلامي شریعت کې د مدافع وکالت لپاره ځانګړي شرطونه شتون نلري. البته دوکالت عمومي أحکام ورباندې تطبیقیږي، نو په همدې اساس به هغه څوک چې د مدافع وکالت دنده پرمخ وړي، باید بالغ، عاقل وي، عادل وي او په ځینې شرطونو کې اختلاف دی، لکه: نارینتوب او داسې نور.

**دویمه فرعه: د مدافع وکیلانو د انسجام په کړنلاره کې د مدافع وکیل شرطونه**

د مدافع وکیلانو د انسجام په کړنلاره اوومه ماده کې داسې صراحت شوی دی (هغه شخص د دفاع وکالت په شغل بوختېدی شي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي):

۱- د افغانستان د تابعیت لرل.

۲- د جنایت په جرم نه محکومیت.

۳- د هېواد له دننه یا بهر څخه د حقوقو یا شرعیاتو له پوهنځیو یا له هغو پورته د فراغت د سند لرل، د لوړو زده کړو وزارت د تأیید وروسته.

۴- د دفاع د وکالت یا حقوقي زده کړو د ملی مرکز د ستاژ د فراغت د سند لرل.

۵- د دفاع وکالت د شاملیدو په ازموینه کې بریالیتوب.

۶- د معلوماتي فورم ډکول او بشپړول.

**د اسلامي شریعت او کړنلارې پرتله**

دا چې اسلامي شریعت د ټولې نړۍ لپاره راغلی، ټولو خلکو ته په یوه سترګه ګوري، هر ډول تبعیض یې له منځه وړی نو په همدې اساس په اسلامي شریعت کې هر مسلمان او هر فرد د بل وکالت کولی شي، البته د هغه په اجازه باندې؛ خو په قانون کې د مدافع وکیل لپاره دا شرط دی چې باید د افغانستان تابعیت ولري.

پاتې نور شرطونه چې کوم دي، هغه هیڅ د اسلامي شریعت سره په ټکر کې ندي، بلکې اسلامي شریعت یې کاملا تأیید کوي.

**د دفاع وکالت په شغل د بوختیدو موانع**

**په اسلامي شریعت کې:** په اسلامي شریعت کې د دفاع وکالت په شغل د بوختیدو موانع عبارت دي له: اهلیت له لاسه ورکولو څخه (عقل له منځه تلل)، مرتد کیدل، د وکالت وړتیا نلرل او داسې نور.

**په قانون کې:** لاندې اشخاص نشي کولی، چې د دفاع وکالت په شغل بوخت شي:

۱- قاضي، څارنوال، د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو منسوبین، د استخباراتو مؤظفین، د وزارتونو او نظامي تشکیلاتو لرونکو ادارو منسوبین، د خپلواکو کمیسیونونو، ښاروالیو، تصدیو او امارتي او مختلطو

شرکتونو کار کوونکي او د دندې د تصدۍ په وخت کې نور امارتي منسوبين.

۲- هغه شخص، چې د جنایت یا رشوت په جرم او یا د اختلاس د جرم په ارتکاب محکوم شوی وي.

۳- هغه شخص چې د محکمې له حکم سره سم د دفاع وکالت له شغل څخه محروم شوي وي.

**د اسلامي شریعت او کړنلارې پرتله**

د دفاع وکالت موانع که چیرته دواړه سره مقایسه کړو، نو دې نتبیجې ته رسیږو، چې هغه موانع کوم چې په قانون کې ذکر شوي، د اسلامي شریعت سره په ټکر کې ندي. بلکې اسلامي شریعت یې تأیید کوي.

**څلورم مطلب: د مدافع وکیل حقوق او وجایب**

الف: د مدافع وکیل حقوق:

مدافع وکیل د لاندې حقوقو لرونکی وي:

۱- له مؤکل څخه په نیابت د محکمې او نورو مراجعو په وړاندې د دعوی اقامه، دفع دعوی او اعتراض.

۲- د محکمې او نوورو مراجعو پر وړاندې د مؤکل له حقوقو څخه دفاع.

۳- د دار الوکالې جوړول.

۴- د کشف، تحقیق او محاکمې په پړاونو کې ګډون او له مؤکل څخه په نیابت د ځواب وړاندې کول له هغه سره له مفاهمې وروسته.

۵- د مؤکل د کشف، تحقیق او محاکمې له بهیر او له اړوندو مراجعو څخه د هغه له پایلو څخه د خبر ترلاسه کول.

۶- په مؤکل پورې د اړوندو جزایي او حقوقي دعوی د پاڼو مطالعه کول.

۷- په خوندي او محرمانه چاپیریال کې تر څارنې او توقیف لاندې مؤکل سره ملاقات، مفاهمه، مراسلات او مخابرات.

۸- حقیقي او حکمي شخص ته دحقوقي مشورې ورکول.

۹- د دواړو خواوو له توافق سره سم د حقوقي خدمتونو او مشورو د سرته رسولو په بدل کې له مؤکل څخه د حق الزحمې اخیستل.

۱۰- په تقنیني سندونو کې له درج شویو نورو حقوقو څه ګټه اخیستل.

ب: د مدافع وکیل وجائب: د افغانستان مدافع وکیلانو د انسجام کړنلاره پخپله یوویشتمه ماده کې داسې راځي (مدافع وکیل د لاندې وجیبو لرونکی دی):

۱- د مؤکل د اسرارو او نورو هغه معلوماتو ساتل، چې د دندې د ترسره کولو په بهیر کې ترلاسه کوي.
۲- په رېښتینولۍ او ایماندارۍ او داشخاصو حیثیت ته په درناوي سره د وکالت د چارو اجراء کول.
۳- د محکمو او نورو مراجعو د نظم په پام کې نیول.
۴- په قضایي غونډو کې ګډون کول.
۵- د مؤکل مقابل لوري ته له هر ډول حقوقي مساعدت څخه ډډه کول.
۶- د مؤکل د پاڼو او سندونو ساتل او د مطلب له حل کېدو وروسته د هغو مستردول.
۷- د سندونو او پاڼو د اخستلو او مستردولو په وړاندې د لیکلي سند ورکول.
۸- د نورو وکیلانو پر ضد له ناوړو تبلیغاتو څخه ډډه کول.
۹- له هغو اعمالو څخه ډډه کول، چې بې موجبه د محکمې د حکم او تحقیق د بهیر د ځنډیدو سبب شي.
۱۰- نورو اشخاصو ته د دارالوکالې د نوم او عنوان له په عاریت ورکولو څخه ډډه کول.
۱۱- د دفاع د وکالت د ادرس د ټاکلو او بدلولو په هکله اړوندو مراجعو ته خبر ورکول.
۱۲- د مقاولو او عوایدو د ثبت د کتاب اخیستل.
۱۳- د دې کړنلارې له حکمونو سره سم د جوازلیک نوي کول.
۱۴- د عدلیې وزارت په معرفي او تأیید په یوه کال کې په وړیا توګه لږ تر لږه له دریو جنایي قضیو څخه دفاع.
۱۵- د سلوکي قواعدو په پام کې نیول.

**پنځم مطلب: د دفاع وکالت د شتون شالید**

د وکالت د شغل رامنځته کیدل د پخوانیو مصریانو په وخت کې چې د میلاد څخه ۲۷۷۸ کاله مخکې وخت ته ګرځي، چې په هماغه وخت کې د اهل علومو یوې ډلې به د دعوی دواړه خواو ته مشورې ورکولې او د مخکینیو سومریانو په شان همداسې وه. همدارنګه د حمورابي په زمانه کې ۱۷۵۰

کاله پخوا د میلاد څخه هر خصم په مدني او جنائي خصومتونو کې د خپل ځان پرځای یې بل شخص من حیث د وکیل ټاکلی شو؛ چې د هغه د حق څخه دفاع وکړي او د خلاصون غوښتنه یې وکړي.

اسلامي نړۍ کې د مدافع وکالت منحیث د شغل پیژندل پدې ډول دي چې په عثماني خلافت کې به تقاضا کوونکو کولی شو، چې د موضوعاتو د حل لپاره د خپل ځان پرځای هر شخص وکیل ټاکلی شو؛ چې د محاکمو پر وړاندې ټول اجراءات ترسره کړي او د دوی د حقوقو څخه دفاع وکړي، صرف دومره به وه چې هماغه وخت به وکیل هغه شخص ټاکل کیدو چې علمیت او مهارت یې درلود. هماغه وخت به د دعوی وکیل او یا عالم وکیل په نومونو نومول کیدل، بیا چې کله د ترکیانو عثمانیانو ته ددې شغل مقام او اهمیت معلوم شو، نو هغوی په پایتخت کې د حقوقو مدرسه جوړه کړه او په ۱۲۹۲/۱۲/۱۶ ق کال د (نظام وکلاء الدعاوي فی المحاکم) په نوم قانون یې تصویب او نافذ کړ، چې د همدې قانون د صراحت له مخې د وکالت شغل صرف د هغه چا لپاره خاص کړل شو چې د عدلي محکمې رسمي جواز به یې درلود. په همدغه نظام کې د مدافع وکیلانو لومړنی ټولنه رامنځته شوه، چې په منظم ډول یې ټول مسؤولین او غړي تعین شو او د هر شخص مسؤولیت او صلاحیت په رسمي توګه وپیژندل شو.

**دویم مبحث: د دفاع وکالت شرعي حکم**

د دفاع وکالت په حکم کې اختلاف دی، یو ډله علماء یې غیر مشـروع او ناروا بولي او اکثره علماء او فقهاء کرام یې مشـروع بولي، چې پوره تفصیل یې دلته د څیړنې لاندې نیسو:

**لومړی مطلب: مدافع وکالت ناروا دی**

الف: علامه مودودي رحمه الله نظر د دفاع وکالت په اړه چې مسلم الیوسف په خپل کتاب (هل المحاماة حلال ام حرام کې رانقل کړی دی: (هذه المهنة من أکبر معایب النظام الحاضر للمحکمة ، بل لعلها أکبرها وأشنعها ولا یمکن أن تقال أي کلمة في تبریر بقائها من الوجهة الخلقیة أما من الوجهة العملیة فلیس هناك حاجة حقیقیة لأعمال المحکمة لا یمکن سدّها بطریق غیر طریق المحاماة إن حرفة المحاماة مما یأبی مزاج الإسلام وجوده إباءً شدیداً ...).

ژباړه: د مدافع وکالت کسب او مهنت د اوسني قضائي نظام د لویو عیبونو له جملې څخه دی، شاید دا یې د هغه لوی او بدترین معایبو څخه وي او د اخلاقي اړخه ددې د پاتې کیدو له پاره داسې یوه کلمه نشته چې امکان دې ولري او د عملي اړخه په محاکمو کې وکالت ته په حقیقي ډول هیڅ اړتیا نشته. څوک داسې نشي ویلی چې ددې پرته د محکمو کارونه پرمخ نشي تللی؛ ځکه چې مدافع وکالت د اسلام د مزاج سره په ټکر کې دی او اسلام یې په سختۍ سره ممانعت کوي.

بیا مولانا مدودي رحمه الله د دفاع وکالت شغل په دوه ډوله نورو شغلونو باندې وویشلو؛ چې د هغه د نظر مطابق پکې اشکال ونه اوسي او هغه وکالت او افتاء ده.

ولې که چېرته د دفاع وکالت شغل د همدغه ذکر شوو عیبونو څخه پاک شي او د اسلامي شریعت د اصولو موافق شي او د نن زمانې غوښتنې پکې په سمه توګه پوره شي، بیا پکې هیڅ ستونزه نه لیدل کیږي.

ب: شهید دکتور عبدالله عزام: (قال بعضهم إن عمل المحامي حرام؛ لأنه يترافع أمام الطاغوت ويوقر الحكم بأحكام الكفر ، ويبجل القضاة الذين يحكمون بغير ما أنزل الله ، وقد تدخل المبالغات والزيادات والتهويلات في مرافعاته ...).

ژباړه: ځینې خلکو ویلي چې د مدافع وکالت ترسره کول حرام دي؛ ځکه چې دا د خلکو قضایا د طاغوت په وړاندې پېش کوي او د هغه فیصلې توقیر کوي چې په کفري احکامو سره صادر شوې او د هر هغه قاضیانو عزت کوي چې هغوی د ما أنزل الله پرته په نورو شیانو فیصلې کوي او کله کله پخپلو قضایاو کې ډیره زیاته مبالغه او د اړتیا پرته شیان اضافه کوي.

د شهید عبدالله عزام د نظر پر اساس که چېرته د دفاع وکالت په اسلامي ټولنه کې ترسره شي او د اسلامي شریعت د اصولو موافق وسي بیا دا وکالت شرعي صورت مومي.

ج: دکتور خادم حسین: د دفاع وکالت سخت دریځ مخالف وو، نوموړي د دفاع وکالت د څو وجو څخه حرام باله:

۱- د دولسمې پېړۍ څخه مخکې ددې شغل نه پېژندل کېدل، چې اروپا څخه دا شغل زموږ هیوادونو ته راغلی کله چې اروپايي هیوادونو زموږ هیوادونه اشغال او مستعمره کړل.
۲- اسلامي شریعت د قضاء پر وړاندې توکیل بالخصومت روا ندی ګرځولې، مګر په اضطراري حالاتو کې.
۳- کوم اجرت چې مدافع وکیل یې مستحق ګرځي هغه مجهول وي او دلته غرر پیدا کیږي چې اسلامي شریعت دا قسم تړونونه ناروا ګرځولي دي.
۴- د متهم څخه د حد د دفع کولو په اړه وکالت په اسلام کې ندی جایز.
۵- دفاع وکالت د وکیل د شفاعت څخه عبارت دی، چې وکیل پکې سفارش کوونکی او موکل پکې هغه شخص دی چې سفارش د هغه لپاره ترسره کیږي. ښکاره خبره ده چې پداسې مواردو کې سفارش نه صحیح کیږی ؛ بناء د دفاع وکالت شغل حرام دی.

د دکتور خادم حسین دا مقاله د قطر هیواد یو تن قاضي عبدالقادر العماري او دکتور عبدالله رشوان په لاندې ډول رد کړېده:
۱- د دفاع وکالت او هغه څه چې فقهاء کرامو ورباندې د وکالت بالخصومت اطلاق کړی، زموږ په هیوادونو شرعي محاکمو کې د پخوا زمانې څخه راپاتې دي، لیکن کله چې غربي استعمار راغی؛ نو دې شغل رشد وکړ او موږ اوس د استعمار د ختمیدو څخه وروسته کولی شو چې دې شغل ته د شریعت د اصولو او د اسلامي ټولنې سره سمه عیار کړو.
۲- حقیقت دادی چې اسلامي شریعت په ټولو قضایاوو کې وکالت بالخصومت روا ګرځولی. لکه د یوې عامې قاعدې په څیر چې کله د حقیقت د ښکاره کولو او د شریعت د تطبیق لپاره وي.
۳- کوم اجرت چې وکیل تر لاسه کوي د موکل څخه هغه د وکیل د زحمت او خوارۍ په مقابل کې وي، نه دا چې د کوم خاص نتیجې پورې اړه ولري او پدې کې هیڅ اشکال نشته.
۴- فقهاء کرامو په صریح ډول د حد او قصاص په دعوی کې د مدعی علیه لپاره وکیل نیول قابل قبول ګرځولي دي.
۵- دا معلومه خبره ده چې د هغه چا لپاره سفارش کول ناروا دي چې حد قایمول پرې واجب ګرځیدلي وي، ولې که یو وکیل پداسې قضایاو کې ددې لپاره مداخله وکړي چې شاید حقیقت روښانه شي، نو بیا هیڅ پروا نه

کوي، [او بله دا چې اکثره وخت کې مدافع وکیل د جرم د اثبات او یا هم د حد د واجب کېدو مخکې په قضایاو کې مداخله کوي، کوم چې ددې شبهې څخه خالي ګرځي پدې معنا چې مخکې د جرم د اثبات څخه او د حد د واجب کېدو څخه یو شخص ته مجرم نشو ویلی]، همدارنګه که په یو حد کې مخکې د واجب کېدو یعني حاکم او قاضي ته د رسېدو څخه وکیل متضرر لره قناعت ورکړي؛ چې د بحث مورد موضوع قضاء ته وړاندې نکړي او یو څه جوړ جاړی وشي؛ نو دلته کوم حرج نشته او نه هم دا په حدودو کې د سفارش په معنی راځي، د کوم څخه چې په صحیح احادیثو کې منع راغلې ده.

**دویم مطلب: مدافع وکالت جایز دی**

دفاع وکالت په مختلفو دلایلو سره ثابت دی چې په لنډ ډول ورته دلته اشاره کووم:

الف: قرآن کریم: په قران کریم کې داسې نصوص شته چې د هغې څخه مدافع وکالت روا والی معلومیږي چې مونږ یې دلته د یو څو نصوصو یادونه کوو

۱ـ الله تعالی د موسی علیه السلام په اړه فرمایلي: {قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْساً فَأَخَافُ أَنْ يَقْتُلُونِ. وَأَخِي هَارُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَاناً فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءاً يُصَدِّقُنِي إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُكَذِّبُونِ} (القصص، ۳۴).

ژباړه: وویل موسی علیه السلام ای ربه زما یقینا ما وژلی دی د دوی څخه یو تن، نو ویریږم چې دوی به ما قتل کړي. نو زما ورور هارون هغه ډېر فصاحت لرونکی دی زما څخه په ژبه کې پس ولیږه هغه زما سره زما همکار؛ چې زما تأیید کوي، یقینا زه ویریږم چې ما به درواغجن وګڼي.

نو دلته موسی علیه السلام د الله تعالی څخه غوښتنه وکړه چې هارون علیه السلام ورسره ولیږي ترڅو د فرعون پر وړاندې تری ملاتړ او دفاع وکړي.

۲ـ الله تعالي فرمایلي: {فَابْعَثُوا أَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هَذِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ فَلْيَنْظُرْ أَيُّهَا أَزْكَى طَعَامًا فَلْيَأْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلاَ يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا} (الکهف، ۱۹).

ژباړه: ولیږئ له تاسو څخه یو تن پدې روپو سره ښار ته پس ودې ګوري چه کوم یو د دوی نه پاک (حلال) خوراک والا دی، نو د هغه څخه دې خوراک راوړي او نرمي دې کوي او نه دې خبروي په تاسو باندې هیڅوک.

۳ـ الله تعالي فرمایي : {فَابْعَثُواْ حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلاَحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا} (النساء، ۳۵).

ژباړه: پس مقرر کړئ یو فیصله کوونکی د خپلوانو د خاوند څخه او یو فیصله کوونکی د خپلوانو د ښځې څخه که دوی غواړي صلح کول جوړښت به پیدا کړي الله په مینځ د دوی کې، یقینا الله تعالی دی پوهه او خبردار.

تفسیر ابن کثیر کې د دی ایت په رابطه راځی چی د وکالت مشروعیت ترې ښکاره کیږي او د هغه چا وینا چې حکم وکیل وي د زوجینو نه د هغوی قول په همدې ایت بنا دی.

ب: یو شمیر احادیث هم شته چې د وکالت په مشروعیت دلالت کوي:

۱- حدیث: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی(إنكم تختصمون إلي ولعل بعضكم ألحن بحجته من بعض فمن قضيت له بحق أخيه شيئا بقوله فإنما أقطع له قطعة من النار فلا يأخذها) .

ژباړه: تاسې ماته خپلې لانجې راوړئ او کیدی شي چې په تاسو کې ځینې ډیر چالاکه اوسي په استدلال کې د ځینو نورو څخه نو که ما د چا په حق کې فیصله وکړه د هغې د خبری او ستدلال له وجې بیشکه دا داسې ده لکه ما چې ورته د اور یوه ټوټه بیله کړې وي نو ندې اخلي.

۲-عَنْ عُرْوَةَ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ الْبَارِقِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَاهُ دِينَارًا يَشْتَرِي لَهُ بِهِ شَاةً، فَاشْتَرَى لَهُ بِهِ شَاتَيْنِ، فَبَاعَ إِحْدَاهُمَا بِدِينَارٍ، فَجَاءَ بِدِينَارٍ وَشَاةٍ، فَدَعَا لَهُ بِالْبَرَكَةِ فِي بَيْعِهِ، وَكَانَ لَوِ اشْتَرَى التُّرَابَ لَرَبِحَ فِيهِ .

ژباړه: د عروة رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته یو دینار ورکړ؛ چې یو وزه پرې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته واخلي. هماغه وو چې هغه پرې دوه وزې واخیستی، نو یوه یې ترې بیرته په یو دینار خرڅه کړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې یو دینار او یوه وزه راوړه، نو هغه مبارک ورته په بیع او شراء کې د برکت دعاء وکړه، نو که هغه چیرته خاورې هم اخیستی وی ګټه به یې پکې کړی وی.

دا حدیث په بیع او شرا کې د وکالت په مشروعیت دلالت کوي.

ج- اجماع: د ټولو فقهاء کرامو په نزد وکالت جائز او پدې یې اجماع کړې ده چې وکالت د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زمانې څخه تر نن ورځ پورې مشروع دی او ددې اجماع مخالفت هیچا ندی کړی.

د: قیاس: وکالت (د یوشخص څخه نیابت) په حقوقي موضوعاتو کې عام شخص کولی شي چې مجلة الاحکام (۱۴۵۹) ماده کې ورته اشاره شوې ده

(یصح ان یوکل احد غیره فی الخصومات التی یقدر علی اجرائها بالذات وبایفاء واستیفاء کل حق متعلق بالمعاملات) .

ژباړه: شخص کولی شي چې د هغه چارو د اجراء لپاره وکیل ونیسي، کومې چارې چې خپله ترسره کولی شي او همدارنګه هغه حق چې معاملاتو پورې اړه ولري پوره کول او یا یې د وکیل پواسطه پوره کولی شي، نو مدافع وکیل یې په طریق اولی ترسره کولی شي.

هـ - عقلي دلیل: د وکالت مشروعیت ته حاجت لیدل کیږي؛ ځکه چې دا ممکنه نده چې هر شخص دې یو کار په خپله ترسره کړي، چې کله یې ورته حاجت وي، نو دلته د همدې اړتیا له مخې وکالت مشروع دی.

الله تعالی فرمایی: {وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ } .

ژباړه: او نه ده ګرځولې الله تعالی په تاسو باندې په دین کښ هیڅ تنګستیا.

راجح قول زما په نظر د دویمې نظریې والا دی، چې د دفاع وکالت مشروعیت ته قایل دي؛ ځکه چې نقلي او عقلي دلایل پرې دلالت کوي.

**درېیم مبحث: په ترافعي مجالاتو کې د دفاع وکالت ګټې او زیانونه**

**لومړی مطلب: د دفاع وکالت ګټې**

**د دفاع وکالت ډېرې ګټې لري چې یو څو ته یې دلته اشاره کوم:**

١- مدافع وکیل د حق د اثبات او د مظلوم د حقوقو څخه په دفاع کې مهم رول لوبوي.

٢- هر شخص خپله نشي کولی چې خپل شرعي او قانوني حقوق ترلاسه کړي، نو دلته د مدافع وکیل ټاکلو ته حاجت لیدل کیږي .

٣- مدافع وکیل د خپل موکل د حقوقو څخه په هره اداره کې د دفاع حق لري.

٤- مدافع وکیل یو تجربه ناک او پوه شخص دی، چې په لنډه طریقه په کم وخت کې د خپلو موکلینو ستونزو ته رسیده ګي کوي .

٥- مدافع وکیل خپل موکل ته د وخت سره سمې مناسبې مشورې ورکوي؛ چې د قانون څخه په مخالفت کې واقع نشي.

٦- مدافع وکیل ډیری پیچیده او سخت موضوعات په ښه طریقې سره بررسي کوي.

۷- مدافع وکیل په عدلي او قضائي ارګانونو کې د اړونده مسؤولینو سره په قضایاو کې لازمه همکاري کولی شي.
۸- د مظلوم د حقوقو څخه دفاع کې مدافع وکیل مأجور دی؛ ځکه چې الله تعالی په نیکو کارونو کې په همکاري کولو امر کړی.
۹- مدافع وکیل د ورسپارل شوې دوسیې د ټولو جزئیاتو څخه خبر او په هره مربوطه مرجع کې یې تعقیبوي.
۱۰- د څارنوال، قاضي، او مقابل لوري سره د اصولو سره سمې نیوکې اعتراضات، پیشنهادات، او استدلال کول.
۱۱- د شکمن شخص د نیول کیدو څخه تر د اړوندې محکمې د قطعي یا نهائي فیصلې پورې د ذکر شوي شخص د حقوقو څخه دفاع کول, چې په اړه یې د افغانستان د ۱۳۸۲کال اساسي قانون (۳۱) مه ماده پوره صراحت لري (هر شخص د نیول کیدو سره سم ....
۱۲- د دولت خزانې ته دکلني عاید څخه د پام وړ مبلغونه د مالیه په حیث تحویلول.

**دویم مطلب: په ترافعي مجالاتو کې د دفاع وکالت زیانونه**

څرنګه چې اکثره کارونه دوه مخې لري ښه او بد؛ نو همدارنګه د دفاع وکالت شغل هم زیانونه لري چې یو څو ته ورته په لاندې ډول اشاره کوم:
۱- په دفاع وکالت کې کله کله یو مدافع وکیل د ظالم او مجرم د جرم څخه دفاع کوي، چې په اړه یې الله تعالی فرمایلي: (وَلا تَكُنْ لِلْخائِنِينَ خَصِيماً)

ژباړه: او مه کیږه د خیانت ګرو لپاره طرف دار.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي: (من خاصم فی باطل وهو یعلمه لم یزل فی سخط الله حتی ینزع).

ژباړه: چا چې په باطله سره جګړه او لانجه وکړله او هغه پرې پوهیده دا به همیش د الله په غوصه کې وي تر دې چې د جګړې څخه لاس واخلي.

دیته ورته بل حدیث کې راځی چې (من اعان علی خصومة بظلم فقد باء بغضب من الله).

ژباړه : چا چې د یوشخص سره په لانجه کې په ناحقه کومک او همکاري وکړه یقینا دا شخص د الله په غضب اخته شو.

۲- کله کله ځیني اشخاص د مدافع وکیل لرلو او پېژندلو په وجه په نورو د تجاوز په صورت کې ډاډه او مطمئن وي چې دا هم په ټولنه کې د جرایمو د ډېریدو او د ظالمانو مجرمینو د ازاد ګرځیدو یو لامل دی.

۳- ځیني مدافع وکیلان چې د دفاع وکالت له اصولو خبر نه وي او یا یې هم نه عملي کوي بیا په فساد کې اخته کیږي، د مثال په ډول: کمیشن کاري کول، د رشوت د ورکړې واسطه ګرځیدل، د مقابل لوري سره د خپل موکل د دعوی اړونده معلومات شریکول او داسې نور.

**پایله**

1. دفاع وکالت د بل شخص د شرعي حقوقو څخه دفاع کول دي په خاصو ځایونو کې او مدافع وکیل هغه شخص دی چې د یو حق د مشروع حقوقو څخه دفاع کوي.
2. مدافع وکیل: هغه شخص دی چې د مدافع وکیلانو په فهرست کې شامل وي، د قانون د حکمونو مطابق د محکمو او نورو مراجعو په وړاندې د خپل موکل له حق څخه دفاع یا دعوی اقامه کوي.
3. مدافع وکیل ځیني حقوق او وجایب لري، چې په لومړي مبحث کې په تفصیل سره ذکر شویدي.
4. مدافع وکالت د میلاد څخه د مخه موجود وو او په اوس وخت کې هم شتون لري.
5. مدافع وکالت کې غوره قول دا دی چې مدافع وکالت روا دی او پدې باندې ډېری دلایل شتون لري چې په مستقل مبحث کې ذکر شویدي.
6. د مدافع وکالت ګټې د تاوان څخه زیاتې دي.
7. د ذکر شوو تاوانونو او ضررونو له امله مدافع وکالت؛ځکه نشي حرامیدلی چې دا د شخص مشکل دی او هر څوک چې پخپل ځان باندې باور او اعتماد نلري، دا ویره له ځان سره لري چې په فساد کې واقع کیږم، نو بیا باید مدافع وکالت ترسره نکړي.
8. په اوس وخت کې مدافع وکالت ته ډېری خلک اړتیا لري؛ ځکه چې د ټولنې اکثره وګړي د صورة دعوی په ترتیبولو، د دفاعیې په ترتیبولو، د مظنون او خصم په حقوقو او د محکمې اړند چارو باندې نه پوهیږي.

**مناقشه**

**د مدافع وکیلانو د انسجام کړنلاره پرتله د اسلامي شریعت سره**

مونږ که د افغانستان د اسلامي امارت لخوا د مدافع وکیلانو لپاره د انسجام کړنلاره د اسلامي شریعت سره پرتله کړو؛ نو داسې کومه ستونزه پکې نشته، چې د اسلامي شریعت سره دې په ټکر کې وي، بلکې داسې ده، چې اسلامي شریعت عمومي او کلي قواعد ذکر کړي، چې د هغې د تطبیق لپاره دا کړنلاره جوړه شوې، تر څو په ټولنه کې عدالت په ښه شکل سره تطبیق شي او هر وګړي ته خپل حق ورسیږي، د ظلم مخنیوی وشی؛ نو په همدې اساس ویلی شي چې نوموړې کړنلاره ښه او تفصیلي ده، چې اساسي موضوعات یې پکې د بحث لاندې نیولي دي.

**د مدافع وکالت شرعي حکم:** مدافع وکالت د حکم په اړه د فقهاء کرامو ترمنځ اختلاف دی، خو راجح قول دا دی، چې مدافع وکالت روا دی، په ځانګړي ډول په اوس وخت کې؛ ځکه چې ډیری وګړي د عریضې د لیکلو په شکلیاتو، دفاعیې، اعتراض لیکنې او دفعې په لیکلو باندې او د هغې شکلي جوړښت په نظر کې نیولو باندې نه پوهیږي، نو په همدې اساس د مدافع وکیل ټاکل په اسلامي شریعت کې روا دي او پدې کې هیڅ کومه ستونزه او مشکل نشته.

**پایله اخیستنه**

د مناقشې څخه دې نتیجې ته رسیږو:

د مدافع وکیلانو د انسجام کړنلاره د اسلامي شریعت سره په ټکر کې نده او د مدافع وکیلانو اړوند مسایل او احکام یې په تفصیل سره څیړلي دي.

مدافع وکالت یو مشروع او روا عمل دی، چې د ټولنې د وګړو د حقوقو د ساتنې، د هغوی څخه دفاع او د عدالت د تطبیقه یوه لاره ده.

**وړاندیزونه**

1. د افغانستان اسلامي امارت ته مې وړاندیز دا دی چې په محاکمو کې د خلکو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي؛ چې د قضایي قضایاو حل چټک شي. د مدافع وکیلانو سره د ډیرې نرمې رویې او شفقت څخه کار واخلي؛ چې د دوی په مرسته د محاکمو کارونه چټک شي.
2. مدافع وکیلانو ته مې وړاندیز دا دی چې باید دوی په صادقانه ډول د ټولنې خدمت کوونکي جوړ شي، د پاکدامنو خلکو څخه دفاع وکړي، د

مجرمانو سره د هر قسم همکارۍ څخه ځان وساتي، په مجموع کې باید د عدالت د تطبیق لپاره کار وکړي؛ چې په ټولنه کې د جرمونو کچه کمه او عدالت په ښه شکل سره پلی شي.

**مأخذونه**


قران کریم

ابن قدامه، عبدالله بن احمد المقدسي، المغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني.ناشر: دار الفكر –بيروت.

ابن کثیر، ابوالفداء اسماعیل بن عمر بن کثیر، تفسیر ابن کثیر، ت: محمودحسن، ناشر: دارالفکر ، ط ۱۴۱۴ق، مکتبة الشاملة.

البخاري، محمد بن اسماعیل الجعفی، صحیح البخاري، دار ابن کثیر، الیمامة-بیروت- ط الثالثة، ۱۴۰۷، ت د.مصطفی دین البغا.

د عدلیې وزرات، د مدافع وکیلانو قانون، پرله پسې ګڼه (۹۳۴) نیټه: ۱۳۸۶/۹/۲۶.

دعدلیی وزارت رسمي جریده، د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۳ هـ ش کال، پرله پسې ګڼه (۸۱۸) .

صنعاني، محمد بن اسماعیل بن صلاح، سبل السلام، ناشر: دار الحدیث، مکتبة الشاملة.

العتیبي، سعود بن عبدالعالي البارودي، الموسوعة الجنائیة الاسلامیة المقارنة بالانظمة المعمول بها فی المملکة العربیة السعودیة، ط: الثانیة، ۱۴۲۷- ریاض.

لجنة مکونة من عدة علماء وفقهاء فی الخلافة العثمانیة، تحقیق: نجیب هواوینی، ناشر: نورمحمد، کارخانه تجارت کتب، ارام باغ، کراتشي،

الیوسف، الشیخ المحامي د. مسلم الیوسف، هل المحامات حلال ام حرام؟ المکتبة الشاملة.

www.al-rustomlaw.com

www.dtoitenterprise.com

**استاد اسلام‌الدین عاکف او استاد عاشق الله کریمي**
مدیریت څانګه، اقتصاد پوهنځی، روښان د لوړو زده کړو مؤسسه ، مالي څانګه، اقتصاد پوهنځی، روښان د لوړو زده کړو مؤسسه

# په ختیځ زون کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې د ستونزو تحلیل

**لنډیز (Abstract)**
افغانستان له اقتصادي اړخه کم پرمختللی هېواد دی او پدې هیواد کې د کاروبار لوی تصدي او پروګرامونه صرف د ګوتو په شمارلیدل کیږي، د خلکو مالي توان ډېر کمزورې دی له دې کبله زیات تمرکز په کوچنیو او منځنیو کاروبارونو شوی. که دغو کاروبارونو ته نوره پاملرنه وشي؛ زمونږ هیواد وال به په نسبي شکل دفقر له دایرې څخه نجات پیداکړي. د همدغه هدف لپاره د دوی ټولې ستونزې مطالعه او ممکنه حللارې ورته ولټول شي.

هر کاروبار که هغه لوی او یاهم کوچنی وي د خپلو فعالیتونو د سرته رسولو لپاره وسایلو او لوازمو ته اړتیا لري ددې وسایلو د تهیه کولو لپاره مالي منابع پیداکول یو لازمي شرط دی. داچې مالي منابع ورته له کومه ځایه کړي، همدا د مالي منابعو برابرول او د کاروبار په واک کې ورکول د تمویل مفهوم لري.

په ختیځ زون کې کڼ شمیر دولتي او غیر دولتي کوچني او منځني کاروبارونه شتون لري چې د ټولو په نماینده ګۍ یو څو محدود کاروبارونه په نمونوي ډول د اعدادو او ارقامو څخه په مرسته څیړل شوي. ددغې څېړنې د ښې سرته رسونې لپاره د اړتیا په وخت کې د احصایوي جدولونو، میتودونو، ګرافونو او د spss سافټویر استعال شوی؛ د لومړي لاس معلوماتو په ټولولو کې questioner او انټرویو څځه استفاده شوې او دویم لاس معلومات د څیړنو د معتبرو کتابونو او انټرنیټي منابو څخه راټول شوي.

په ختیځ زون کې کوچني او منځني کاروبارونه د تمویل له ځینو جدي ستونزو سره مخ دي لکه: دمالیاتو لوړوالی، د پور ورکونکو ادارو لخوا په

کوچنیو کاروبارونو بې اعتمادي، د اسلامي بانکدارۍ ورو وده، انفلاسیوني تاثیرات. د ستونزو حل لارې یې په هېواد کې یو نوی بانک ایجادول دي چې مهمه وظیفه یې د کاروبارونو تمویل وي. نړیوالو مالي بازارونو ته د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو لاسرسی دی. په ملک کې د اسلامي بانکدارۍ ته وده او پر مختګ ورکول دي.

**کلیدي کلمې:** ختیځ زون، کوچني او منځني کاروبارونه، تمویل، د تمویل په وړاندې ستونزې، د تمویل د ستونزو تحلیل.

## سریزه (Introduction)

کوچني او منځني کاروبارونه د هېواد په اقتصادي وده او پرمختګ کې اغیزناک رول لوبوي. په ځانګړي ډول په اوسنیو شرایطو کې چې دولت نه شي کولای په هره برخه کې سرمایه ګذاري وکړي او د خلکو لپاره د کاروبار زمینه برابره کړي. د ملي اقتصاد اهدافو ته د رسیدو لپاره مهم ګڼل کیږي. کوچني او منځني کاروبارونه د نړۍ ډېرو هېوادونو ته په کافي اندازه د ضرورت وړ محصولات او خدمات وړاندې کوي او له ځانګړي اهمیت څخه برخمن دي. دا چې افغانستان کم پرمختللی هېواد دی او له ډېر وخت راهیسې جنګونو او نورو ستونزو له امله د هېواد د اقتصاد مختلفې برخې زیانمنې شوي چې له جملې څخه یوه مهمه برخه کوچني او منځني کاروبارونه هم دي چې رغونه یې پکارده.

په افغانستان کې د ASMED ادارې د ۲۰۰۵زیږدیز کال کې کوچنیو او منځنیو کاربارونو د پرمختیا ادارې دغه ډول کاروبارونه په دریو کټګوریو؛ مایکرو یا ډېر کوچني، کوچني او منځنیو ویشلي دي. مایکرو یا ډېر کوچني هغه کاروبارونه دي چې تر لسو پورې کارکوونکي او کلني عاید یې تر سلو زرو پورې ورسیږي. کوچني کاروبارونه هغه دي چې د کارکوونکو تعداد یې د ۱۱ څخه تر ۵۰ تنو پورې وي او کلنی عاید یې تر دریو میلیونو پورې وي. او متوسط کاروبارونه هغه دي چې د کارکوونکو شمیر یې د ۵۱ څخه تر ۳۰۰ پورې وي او کلنی عاید یې تر پنځلس ملیونو پورې ورسیږي.

هر کاروبار د خپلو اقتصادي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره بایدیوڅه مالي او پولي وسایل په واک کې ولري چې د هغوی په درلودلو سره وتوانیږي خپل هدف وړ فعالیتونه ترسره کړي. که دغه پولي او مالي پانګه خپله نه وي پس

اړ دي چې د هدف وړ پانګې اچونې په موخه مالي او پولي وسایل د نورو مالي ادارو څخه ترلاسه کوي چې د مالي او پولي وسایلو کمښت جبران کړي. دا چې دغه پولي او مالي وسایل څه ډول ترلاسه شوي، مالي او پولي وسایل څه ډول وکارول شي؟ نو اړینه ده چې د تمویل او د هغوی د ستونزو د تحلیل په هکله پوره پوهاوی موجودوي.

### د څېړنې ستونزې (Research problem)

کوچني او منځني کاروبارونه دکم پرمختلليو هيوادونو لپاره د اقتصادي پراختيا اساسي وسايل ګڼل کيږي په نړۍ کې هر کاروبار که هغه کوچنی دی که لوی د هغه دحرکت او پرمخ بيولو لپاره تمويل يو اساسي ستونزه ده. د کوچني او منځني کاروبارونو د ستونزو مشکلاتو او تمويل په اړه مختلفې ليکنې شوي؛ خو په ختيځ زون کې دغه موضوع په پوره توګه چانه ده څيړلې، د دغې ستونزې د لپاره په دې موضوع څېړنه شوې ده.

### د څېړنې موخې (Objectives of Study)

1. په ختيځ زون کې د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو پيژندل
2. د کوچني او منځني کارويارونو د تمويل پيژندل
3. د کوچني او منځني کاروبارونو د تمويل په وړاندې د ستونزو په ګوته کول
4. د کوچني او منځني کاروبارونو د تمويل په وړاندې د ستونزو تحليل
5. د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو د تمويل په وړاندې د ستونزو حل لارې

### د څېړنې اساسي پوښتنې (Research questions)

کوچني او منځني کاروبارونه څه ډول کاروبارونه دي؟

د کوچني او منځني کاروبارونو تمويل څه مفهوم افاده کوي؟

د کوچني او منځني کاروبارونو د تمويل په وړاندې کومې ستونزې وجود لري؟

د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو د تمويل په وړاندې د ستونزو حل تحليل څه ډول کيدای شي

د کوچني او منځني کاروبارونو د تمويل په وړاندې د ستونزو حل لارې کومې دي؟

### د څېړنې اړتيا (Importance of Research)

د دغې څېرنې په مطالعه کولو سره کوچنۍ او منځنۍ تصدۍ دا وړتيا پيدا کولی شي چې څرنګه د خپل کاروبار لپاره پيسې چمتو او هغه په ښه ډول مديريت کړي. د دې ترڅنګ کوم خنډونه چې د کوچنيو کاروبارونو د تمويل په وړاندې شته هغه سره اشنا او د هغه لپاره مناسبې حل لارې پيدا کړي؛ نو لدې ځايه مونږ ته د دې څېړنې اهميت را په ګوته کيږي او مونږ کولای شو

ددې څېړنې د نتایجو په اساس خپل هیوادوالو سره مرسته وکړو چې وکولای شي په لنډ وخت کې خپلو کاروبارونو ته په ښه شکل سره وده ورکړي او هم وکولای شي د خپل کاروبار لپاره سرمایه برابر کړي.

**د څېړنې تګلاره (Research Methodology)**

**د څېړنې ډیزاین (Research design)**

د څېړنې ډیزاین د یو ماستر پلان په څیر دی؛ هغه میتودونه او تګلارې په ګوته کوي چې د معلوماتو په راټولو او د هغې د تحلیل په برخه کې ترې ګټه اخیستل کیږي. د موضوع د نتایجو د لا ښه روښتیا لپاره له کمي او کیفي میتودونو څخه ګټه پورته شوې او څېړنه په تشریحي بڼه ترسره کوم. د کیفي میتود څخه ددې لپاره ګټه اخلم چې د موضوع غیر تحلیلي برخه پرې واضح کړم او د کمي برخې څخه ځکه استفاده کوم چې د تحلیل هره برخه په مقداري ډول اندازه او څرګند شي، د دې لپاره چې په ختیځ زون کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستونزې تحلیل کړم؛ نو د احصایوي ګرافونو، څخه استفاده کوم. همدارنګه د(SPSS) احصائیوي (Application) په مټ، تجزیه او تحلیل ترسره کوم چې په غوره ډول وروستی پایله ترلاسه کړم.

**د څېړنې نفوس (Research population)**

څرنګه چې د غه څیړنه په ختیځ زون کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې د ستونزو تحلیل کوي؛ نو د شرقیزون کوچني او منځني کاروبارونه، زمونږ د څېړنې جمعیت دی چې په ختیځ زون کې رسمي ثبت شوي ټول فعال کوچني او منځني کاروبارونه ۷۵۰ بابه دي چې پدې کې ۵۷۵ بابه په ننګرهار ولایت او ۱۰۰ بابه په لغمان لایت او ۷۵ بابه په کونړ ولایت کې ښودل شوي او نورستان ولایت ته د اخراب اقلیمي او جغرافیوي شرایطو او اقتصادي ستونزو له کبله لاسرسی نه دی شوی. پورته معلوما ت مې د نوموړو ولایتونو د مستوفیتونو د شرکتونو د مدیریت د برخې څخه ترلاسه کړي چې د هغوی په ډیتابیس کې ثبت دي چې پدې کې مختلف ډوله کوچني او منځني کاروبارونه شامل دي. لکه صنعتي، تجارتي، زراعتي او نور....

**نمونه او د نمونې اندازه (Sample and sample size)**

نمونه اخیستنه هغه پروسه ده چې پر مټ یې له جمعیت څخه یو وړ او مناسبه اندازه عناصر (غړي) ټاکل کیږي. د ختیځ زون کوچني او منځني کاروبارونه زمونږ د څیړنې جمعیت دی چې ټول فعال کوچني او منځني کاروبارونه ۷۵۰دي. د څیړنې لپاره چې کله له جمعیت څخه نمونه اخلو باید دیومنل شوی قانون او فرمول له مخې نمونه واخستل شي نو د یمني فرمول په اساس چې $(n = N 1 + N e 2)$ ده ماهم نمونه اخستنه کړې چې د فرمول مطابق د نمونې اندازه ۲۶۰ ته رسیږي ماهم ۲۶۰ پوښتنلیکونه په مختلفو شرکتونو وویشل چې له هغه څخه ۱۴۰ پوښتنلیکونه ترلاسه شول او ۱۲۰ پوښتنلیکونه چارا ونه سپارل. بیا په ۱۴۰ ترلاسه شویو پوښتنلیکونو کې ۶۵ پوښتنلیکونه د قضاوت وړنه وه له هغې څخه پاتې ۷۵ سالم او سم پوښتنلیکونه وو چې په همدې با ندې مې خپل تحقیق ترسره کړ.

**د څیړنې نمونه ګیري(Research sampling)**

دغه څیړنه د احتمالي میتود (Probability Method) په اساس د تصادفي نمونه اخیستنې (Random Sampling) په ډول ترسره شوي، کله چې له څیړونکي سره د څیړنې د جمعیت یا نفوس اړوند یو مکمل جدول د (Sample Frame) په نامه یادیږي موجود وي بیا څیړونکي کولای شي له دغه میتود څخه استفاده وکړي او د خپلې څیړنې لپاره د نمونې اندازه وټاکي.

**ډیټا ټولونه (Data Collection)**

د څیړنې اهمیت ته په کتو په خپله څیړنیزه لیکنه کې له لومړني ډیټا او دویمې ډیټا څخه استفاده کړې. دویمه ډیټا چې دویم لاس معلومات هم ورته وایي عموماً له مخکې څخه د نورو څیړونکو، حکومتونو، سازمانونو انجوګانو او نورو څیړونکو ادارو له لوري ترسره شوي وي او عموماً چاپي بڼه لري. ما هم د دویم لاس معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره له انترنیټ، کتابونو، مقالو، لیکچرنونو، ویډیوګانو او نورو چاپي رسنیو څخه ګټه پورته کړې. د لومړي لاس ډیټا عموماً د څیرونکي لخوا عملاً راټولیږي، ما هم د خپلې موضوع اړوند لومړني لاس معلومات د پوښتنلیک، تیلفوني مرکې له لارې راټول کړي دي.

پوښتنلیک دوه برخې درلودې چې لومړۍ برخه یې تړلې پوښتنې درلودې او تعداد یې ۲۴ پوښتنې وې چې اول څلور پوښتنې دیموګرافیکي برخه وه او

نورې ۲۰ پوښتنې د موضوع د وضاحت لپاره کارول شوې وې چې ټاکلی هدف ترلاسه شي او د پوښتنلیک دویمه برخه اختیاري جوړښت درلود چې د موضوع د لا وضاحت لپاره د هغوی نظریات په دوه برخو کې غوښتل شوي وه چې لومړۍ برخه یې د تمویل په وړاندې د ستونزو وضاحت وه او دویمه برخه یې د ستونزو د حللارو په هکله معلومات غوښتل شوي وو.

**تیرو لیکنو ته لنډه کتنه (Literature review)**

په ۲۰۱۸میلادي کال د (SME Financing Constraints: Evidence from Survey of Construction Firms in Ghana) ترعنوان لاندې د ګینیا په هیواد کې د.Erykah Alex K لخوا یوه څېړنه ترسره شوې چې په کې یې د کوچنیو او منځنیو کارو بارونو د تمویل پرووړاندې ستونزو څخه یې په لاندې ډول یادونه کړې: د لوړ تضمین اړتیا تر ټولو سخته ستونزه ده، سود نرخ لوړوالی، د پورونو بیرته ورکولو لپاره ورکړل شوې موده، ناکافي فنډونه، په خدماتو کې ځنډ همدارنګه د قوي مشاورینو نشتون. د یادو ستونزو لپاره یې حللاره داسې بیان کړې: حکومت دې له کاروبارونو سره مالي مرسته وکړي لکه د سبسایډي ورکړه او همدارنګه په ملک کې دې کاروبارونو ته د پور ورکونې یوځانګړی بانک تاسیس شي چې کوچني او منځني کاروبارونه په اسانه پور ترلاسه کړي، کوچني او منځني کاروبارونه دې ګروپ بندي شي، د هر ګروپ ستونزې دې وکتل شي او د کاروبارونو د هر ګروپ ستونزو ته دې بیلا بیله حللاره ولټول شي.

په (۲۰۱۸) م کال ترکیې هېواد کې د ( Mustafa Kara, Şeyda Yoltaş, Sevim Nur Şahbalı) لخوا د financial problems of SMEs and problems encountered to access financing ترعنوان لا ندې یوه څېړنه ترسره شوې د کوچني او منځني کاروبارونو خنډونه یې په لاندې ډول بیان کړي دي (د پور کارولو په وخت کې تر ټولو عام مشکلات د تضمین موندلو، د پور لوړ لګښتونه او د امنیت نشتوالی دی، په څېړنه کې لیدل شوي چې سوداګر د هغو مؤسسو او بنسټونو په اړه کافي معلومات نه لري چې له لارې یې خپلې مالي اړتیاوې پوره کړي). حللاره یې دا ښودلې چې د حکومت لخوا لازمې پالیسۍ جوړې شي، د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو لپاره لازمې مشورې ورکول شي چې ترلاسه شوی تمویل په ښه ډول استفاده کړي، د مالي مدیریت په

اصولو هغوی پوه کول چې هرڅه ښه مدیریت کړي، د تمویل لپاره مختلف بانکونه او مالي مؤسسې تشویقول او هغوی ته داډ ورکول چې کاروبارونه تمویل کړي.

پـه ۲۰۱۶م کـال د افغانسـتان پـه هیـواد کـې د اسـتاد عنایـت الله حبیبـي لخـواد (Challenges of Financing SMEs in Afghanistan – A Case Study of Nangarhar Province) ترعنوان لاندې یوه څیړنه ترسره شوې چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستونزې په ګوته کـړي چـې عبـارت دي له: د بانک لخوا د لوړ تضمین غوښتنه، د کاروبارونو عدم ثبات بانک لـه لـوري په قرضه باندې د سود لوړ نـرخ، پـه اداري چـارو کـې کاغذ پرانـي، د اسـلامي تمویل نشتوالی، د دولت لخوا د تشویق نه شتون، اوږد مهاله قرضـونو نـه شـتون او ګڼې نورې ستونزې.)

په ۲۰۱۷ م کال د افریقا په لویه او پراخه وچه کې یوه هر اړخیزه څیړنه د Dr. Samuel Muiruri Muriithi لخوا د African small and medium enterprises (SMES)contributions, challenges and solution تر عنوان لاندې ترسره شوې. پایلې یې دا ښیي چې د تمویل په وړاندې ستونزې یې بریښنا کموالي، تمویل او د تمویل منابعو ته عدم لاسرسی، د سالم مدیریت نشتوالی، د افریقایي تولیداتو په وړاندې شدید رقابت خصوصاً د پرمختللو هیوادونو له لوري چې لویې پانګونې لري او کوښښ کوي پرمختیایي کاروبارونه ترخپل اغیز لاندې راولي، کره معلوماتو ته نه لاسرسی، د دولت لخوا عدم حمایت چې دغه خبره په افریقا کې د کاروبارونو لپاره ډیر اهمیت لري ځکه دولتونه په یو ډول نه یو ډول کولای شي د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو مؤثریت تر خپل تاثیر لاندې راولي او وروستی دا چې فساد هم د کاروبارونو په وړاندې یو ستر خنډ دی.

په(۲۰۲۰)م کال استرلیا هیواد کې د (Financial Constraints and Small and Medium Enterprises) ترعنوان لاندی د (Bakhtiari Sasan) لخوایوه څیړنه ترسره شوې د تمویل په وړاندې خنډونه په لاندې ډول ښودلي دي د تضمین کمزوری حالت، د سود درجې لوړوالی، د قوي روزل شویو کارکونکوکموالی چې د تمویل په برخه کې په ښه ډول اقدامات سرته ورسوي او قانع کوونکی کار وکړي، د دولتونو نه پام لرنه او داسې نور. حللاره یې دا ښودلې چې غیر

انتفاعي اداري او سازمانونه دي وهڅول شي چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو سره مرسته وکړي، بل د دولت مداخله په تضمین کې ډیره موثره بلل کیږي چې د کوچنیو او منځنیوکاروبارونو د تمویل په برخه کې بانکونه او نور سازمانونه باور پیداکړي، همدارنګه د تضمین د جوړولو سیستم بل عامل دی چې پدې کې دولت لوی مالي سازمانونه او بانکونه غړي دي چې د کوچنیو اومنځنیوکاروبارونو تمویل پیاوړی کوي او بله داچې د خطر د شریکولو نقشه او چوکاټ هم د تمویل په وړاندې د خنډونو په کمولو کې مرسته کوي.

**کوچنیو او منځینیو کاروبارونو تعریف او پیژندنه**

که د دنیا کاروبارونو ته وګورو نو د دنیا کاروبارونه په مختلفو ډولونو د مختلفو خصوصیاتو له مخې ویشل شودي چې عبارت دي له ډېرو کوچنیو کاروبارونو، کوچني کوچني کاروبارونه، منځني او لوی کاروبارونه. هر هیواد ددغو کاروبارونو ځانته تعریفونه کړي او د تعریف لپاره بېل بېل معیارونه لري چې ځینو هیوادونو د کاګرو تعداد معیار نیولی، ځینو نورو ماشینري، تجهیزات او کلنی تبادله معیار ټاکي، بعضې بیا پانګه اچونه سټندرد بښي چې په لاندې ډول د ځینویادونه کولای شو:

**اروپایي اتحادیه: په اروپایي اتحادیه (EU) کې SMEs**

اروپایي اتحادیه (EU) د هغه څه تعریفونه وړاندې کوي چې د کوچنۍ اندازې شرکت هم رامینځته کوي. کوچنۍ تصدۍ هغه شرکتونه دي چې له 50 څخه کم کارمندان لري او د منځنۍ اندازې تصدۍ هغه شرکتونه دي چې له 250 څخه کم کارمندان لري. د کوچنیو او منځنیو شرکتونو سربیره، کوچني شرکتونه شتون لري، چې تر 10 پورې کارمندان کار کوي.

**په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو پیژندنه**

1. هغه کاروبارو چې په هغې کې د (۵۰۰۰-۱۰۰۰۰) ډالرو پورې سرمایه ګذاري شوې وي هغې ته کوچنۍ صنایع وایي.
2. هغه کاروبار، چې په هغې کې (۱۰۰۰۱-۱۰۰۰۰۰۰) ډالرو پورې سرمایګذاري شوي وي هغه ته منځنۍ منابع یا متوسط کاروبار وایي.
3. هغه کاروبار، چې په کې د (۱۰۰۰۰۰۰) میلیون ډالرو څخه زیات سرمایګذاري شوي وي هغې ته لوی صنایع وایي، چې دا تعریف د

(AISA) لخوا شوی دی او یو بل تعریف، چې د یوې نوې سروې څخه لاس ته راغلی عبارت دې له:

کوچنۍ صنایع هغه صنایع دي، چې په کې د بوختو کارمندانو تعداد (۱-۱۰) پورې وي او منځنۍ صنایع هغه صنایع دي، چې په هغې کې د بوختیا کارمنداو تعداد د (۱۰-۵۰) پورې وي او لوی صنایع هغه دي، چې په هغې کې د بوختیو کارمندانو تعداد د (۵۰) څخه زیات وي.

په ختیځ کې اوس مهال (۷۵۰) کوچنۍ او منځنۍ صنایع وجود لري، چې په مختلفو برخو یې ویشلي دي لکه: د پلاستیک جوړولو فابریکه، د تخنیکي اسبابو کارخانه چې په دې کې (تریشلو، دیګبخار، خرادۍ او داسې نورې راځي) د خوارکي تولیداتو کارخانه، د قالین اوبدلو دستګاه، د صابون جوړولو کارخانه د د مرمرو کارخانه، د اوبو او یخ جوړولو کارخانه چې په دې کې ټولې نوشابې راځي لکه : پیپسي او داسې نور، تعلیمي مرکزونه، مکتبونه، صحي کلینیکونه، د رخت کارخانه او د چرګوړو تولیدول شامل دي.

**تمویل (Financing)**

**د تمویل مفهوم او پیژنده**

د هر اقتصادي فعالیت د تر سره کولو لپاره یو اندازه پولي پانګې یا پیسو ته اړتیا پیدا کیږي چې نوموړې پولي پانګه یا پیسې د بیلا بیلو منابعو څخه د خپلې پانګې او یاهم پردۍ پانګې په شکل ترلاسه کیداکی شي. دغه اقتصادي فعالیتونه د یو فرد، کورنۍ، تصدۍ او یاهم د دولت لخوا تر سره کیږي. د یو فرد کورنۍ، تصدۍ او یا هم د دولت له لوري د یو اقتصادي فعالیت د تر سره کولو لپاره د پولي پانګې یا پیسو چمتو کولوي، برابرولو او تهیه کولو ته تمویل ویل کیږي. د تمویل له تعریف څخه څرګندیږي چې تمویل کیدای شي د یو فرد یاکورنۍ له لوري یوشمیر اړتیاوو د رفع کولو لپاره وشي. همدارنګه تمویل کیدای شي د دولت په سطحه وي، یعنې دولت کولای شي د عادي بودیجې د تمویل لپاره د مختلفو منابعو څخه استفاده وکړي. د دې ترڅنګ تصدي او کاروباري واحدونه هم د خپلو فعالیتونو لپاره تمویل ته اړتیالري چې زموږ د بحث موضوع یوازې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو تمویل دی.

**د کاروبار تمویل (Business finance) تعریف**

یوکاروبار د فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د مالي امکاناتو، پولي پانګې او یا هم پیسو چمتو کولو ته او تهیه کولو ته د کاروبار تمویل ویلېږي، د لومړي ځل لپاره د یو کاروبار د پیل کیدو په خاطر، د کاروبار د پیل څخه وروسته د کاروبار د پراختیا په خاطر او هم د کاروبار د ورځنیو فعالیتونو د ترسره کولو په خاطر د پولي پانګې او یا هم پیسوتهیه کولو ته د کاروبار تمویل وايي.

**د تمویل په وړاندې ستونزې**

سره له دې چې کوچني کاروبارونه د هیواد په اقتصادي پراختیا کې مهم رول لوبوي. بیاهم کوچني کاروبارونه له ډېرو زیاتو مشکلاتو سره مخ کیږي چې پدې برخه کې ډېره اساسي ستونزه د تمویل ستونزه ده. د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې زیات مشکلات وجود لري چې ځیني یې په لاندې ډول دي:

1. د پور ورکونکو ادارو لخوا په کوچنیو کاروبارونو بې اعتمادي: پوروروکوونکي د دوو علتونوپه اساس بې اعتمادي لري او دوی ته په اسانۍ پور نه ورکوي؛ ځکه چې دغه کوچني کاروبارونه لنډ مهاله وي او ډېر ژر له منځه ځي. بل دغه کاروبارونه له ځانه سره داسې لویه مادي شخصي شتمني نه لري چې د افلاس په وخت کې د پور ورکوونکو ادارو پورونه خلاص کړي.
2. د پور اخیستلو لپاره لوړ تضمین نشتوالی: په ختیځ زون کې د کوچني کاروبارونو لپاره ملي او لوړ تضمین نه تر سترګو کیږي. د همدې لپاره بانکونه او نورې ادارې پور نه ورکوي.
3. د بانکي خدماتو او اسانتیاوو کمبود: بانکونه کولای شي د آسانه او پراخه پورونو په ورکولو سره په داخلي او خارجي سطحه د تجارت زمینه برابره کړي، د پیسو د لیږد رالیږد نظام فعالول، سوداګرو او نورو کاروباریانو ته د پورونو په ورکولو، د زیان او تاوان په حالت کې د متشبثانو او تجارانو ضمانت او مرسته کول او داسې نورو آسانتیاوو په برابرولو سره د کاروبار په وړاندې د تمویل ستونزې له منځه وړل اسانتیاوې برابریږي؛ خو په ختیځ زون کې دغه اسانتیاوې ډېر نه په سترګو کیږي.

4. د مالي مدیریت د یو مناسب سیستم نشتوالی: ډیری کوچني او منځني کاروبارونه نشي کولای چې خپل مالي سیستم محاسبې د اصولو په اساس په منظم شکل جوړ او برابر کړي او همدارنګه د پورد ترلاسه کولو لپاره هر اړخیز پلان هم نه لري چې مالي ادارو ته قانع کونکې واوسي د یادونې وړده چې مالي بیلانس هم دوی په ښه شکل نشي جوړولای او همدارنګه تحلیل کی هم ناتوانه دي.
5. د اوږد مهاله قرضونو نه شتون: د اوږدې مودې قرضونونو نشتون هم لویه ستونزه ده چې په ختیځ زون کې کاروبارونه ترې بې برخې دي په اوږد مهاله قرضو سره کاروبارونه مخکې تګ کوي او د لمنځه تلو مخنیوی یې کیږي.
6. انفلاسیوني تاثیرت: د انفلاسیون هغه حالت ته وایي چې د اجناسو قیمتونه لوړ ځي او پیسې خپل حقیقي ارزښت دلاسه ورکوي. د خلکو د خرید په قوه کې کموالی راځي. افراد سپما نشي کولی حتی خپل ورځني ضروریات هم نشي پوره کولی چې مالي ادارته له خپل ضرورت څخه زیاتې پیسې ورکړي؛ نو په همدې بنا دا هم یوه ستونزه ده.
7. لوړ مالیات او تعرفې: د کوچنیو کاروبارنو په وړاندې د دولت لخوا لوړ مالیات او تعرفې اخیستل د کوچنیو کاروبارونو په حاصل کې کموالی راوړي کله چې د کوچنیو کاروبارونو په حاصل کې کموالی راشي؛ نو هغه مالي ادارې چې په مضاربت او مشارکت او یاهم په کومه بله طریقه دوی ته پورونه ورکړي او له دوی څخه خپل پور بیرته غواړي نو دوی خپل پورنشي تادیه کولی.

**په نړۍ کې ستونزې**

په نړۍ کې د کو چنیو او منځنیوکاروبارونو د تمویل په وړاندې ډیری ستونزې ښودل شوي چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې ځینې مستقیم اوځینې غیر مستقیمې ستونزې دي چې په تحقیقي مقالاتو کې ذکرشوي او په لاندې ډول ترې یادونه کولای شو؛ د بانکونو لخوا د لوړ او قوي تضمین غوښتنه کله چې قرض ترې غوښتل کیږي د پورونو د بیرته ورکړې د مودې کمښت هم یوه ستره ستونزه ده. کاروبارونو لپاره د امنیت او مسئونیت نشتون، دکاروبارپه هکله د قوي مشاورینو کموالی چې د کاروبار د پرمختګ لپاره مشوره ورکړي او لارښوونه وکړي،

کاروبارونه د هغه چاپه هکله ډېر معلومات نلري چې پور ترې واخلي، د ښه سوداګریز چاپېریال نشتون چې کاربارونه پکې ښه وده او پرمختګ وکړي، د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د تمویل لپاره د حکومتونو په پالیسیو کې د نیمګړتیاوو شتون، په مالي سیستم کې ستر مشکلات هم د تمویل په وړاندې ستونزه ده، د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو د تمویل په وړاندې چې کوم خطرات واقع کیږي د خطراتو مدیریت کې کافي ضعف وجود لري یا هم د خطراتو مدیریت شتون نلري، د لوی اقتصاد په بر خه کې قوي بې ثباتي، پرمختللي تکنالوژۍ ته د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو نه لاسرسی، د تولید په برخه کې د قوي ظرفیت نشتون، د دولت لخوا د تشویق نشتون، محدوده سرمایه او پوهه، د بازارموندنې غیر موثره ستراتیژي، د څوملیتي شرکتونو ترمنځ ناسالمه سیالي او رقابت، د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو په کله د حکومت جدي پاملرنه نه کول، د تمویل منابعو ته عدم لاسرسی، انفلاسیون شدت، د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په هکله په قوانینو او نظم کې مشکلات، د خامو موادودقیمت لوړوالی او خامو موادو ته په اسانه نه لاس رسی. همدارنګه په تحقیقي مقالاتو کې د تمویل په وړاندې ستونزې یې په دوه محیطونو ویشلي چې یو داخلي محیط او بل د بهرني محیط ستونزې دي چې داخلي محیط کې بې کفایته مدیریت، خراب مالي سیستم، د کاري ګرو د ظرفیت کمزورتیا او په خارجي محیط کې بیا بانکونو لخوا د پور په برخه کې نه لیوال تیا او بې باوري، مشکلات ښودل شوي.

**د تمویل په وړاندې د پرتو ستونزو تحلیل**

ددې څېړنې په موخه لومړی لاس معلومات د پوښتنلیک په ذریعه راټول شوي چې د دې څېړنې لپاره نمونه ۷۵ تنه ځواب ویونکي انتخاب شوي وو. د څېړنې پایله مو د تحلیل او تشریح په موخه د spss احصائیوي وسیلې په اساس ترلاسه کړې چې پایله یې په لاندې ډول تشریح کوو:

(۱) جدول

| | [illegible] | تعلیم | عمر Age | جنسیت | په ولایت کې موقعیت | کارکوونکو تعداد | کاروبار نوعیت | ولایت | (نوم) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| N Valid | 75 | 75 | 75 | 75 | 75 | 75 | 75 | 75 | 75 |
| N Missing | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال ، دspss په واسطه پایله ترلاسه شوې

جدول کې ځواب ویونکي د یموګرافیکي بڼه لري چې پدې کې ۷۵ تنه ځواب ویونکو څخه ۷۵پوښتنلیوکونه ترلاسه شوي؛ نو د ځواب ویونکو نرخ ۱۰۰٪وو، په دیموګرافیکي څیړنه کې د کاروبار نوم، ولایت، په ولایت کې موقعیت، کاروبار نوعیت، د کارکوونکو تعداد، جنسیت، تعلیم کچه اووظیفه په نظر کې نیول شوی و.

(۲)جدول

**د معلوماتو د ترلاسه کولو غوره شوي ولايتونه**

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | کونړ | 10 | 13.3 | 13.3 | 13.3 |
| | لغمان | 15 | 20.0 | 20.0 | 33.3 |
| | ننګرهار | 50 | 66.7 | 66.7 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچنیه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، دspss په واسطه پایله ترلاسه شوې

جدول کې د ختیځ زون درې ولایتونو کې د پوښتنلیکونو هغه تعداد دی چې د معلوماتو د ټولولو لپاره توضح شوي و چې پدې کې (۱۰) د کونړ ولایت، (۱۵) په لغمان ولایت او (۵۰) پوښتنلیکونه د ننګرهار ولایت ښودنه کوي. همدارنګه که وګورو د کونړولایت ټولې نمونې ۱۳.۳٪ د لغمان ولایت۲۰٪ او د ننګرهار ولایت ټولې نمونې ۶۶.۷٪ ښودنه کوي.

(۳) جدول: د جنسیت په اساس د یموګرافي ویشنه

| **Gender جنسیت** | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid( | Male | 73 | 97.3 | 97.3 | 97.3 |
| | Female | 2 | 2.7 | 2.7 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچنیه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د spssپه واسطه پایله ترلاسه شوې

(۳)نمبرجدول ته په کتو دیموګرافي څېړنې برخه کې د ځواب ویونکو جنسیت په نظر کې نیول شوی دی چې پدې برخه کې ۹۷.۳٪ نارینه او ۲.۷٪ ښځینه څرګندیږي چې ښځینه ځواب ویونکي ډېر اقلیت کې قرار لري

(۴)جدول: د عمر په اساس دیموګرافي ویشنه

| **Ageعمر** |
|---|

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | 18-35 years | 41 | 54.7 | 54.7 | 54.7 |
| | 36-50 years | 30 | 40.0 | 40.0 | 94.7 |
| | 51-70 years | 4 | 5.3 | 5.3 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچنیه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، دspss په واسطه پایله ترلاسه شوې

په (۴)نمبرجدول او پورته څېړنه کې د ځواب ویونکو د عمر لپاره څلور کټه ګورۍ په نظر کې نیول شوې وې چې لومړۍ کټه ګوري ۱۸-۳۵ کلونو عمر درلودونکي و چې پدې کې ۴۱ تنوګډون درلود چې نمونې یې ۵۴.۷٪ کیږي. دویمه کټه ګوري ۳۶-۵۰ کلونو عمر درلودونکي چې پدې کې ۳۰ تنو ګډون درلود چې نمونې یې ۴۰٪ کیږي او دریمه کټه ګوري ۵۱-۷۰ کلونو عمر درلودونکي و چې پدې کې ۴ تنو ګډون درلود او نمونې یې ۵.۳٪ کیږي او څلورمه کټه ګورۍ د۷۱-۱۰۰ کلونو عمر درلودونکي ټاکل شوي وو چې په پدې برخه کې هېڅ کوم ځواب ویونکی نه لیدل کیږي.

(۵)جدول: د تعلیم په اساس دیموګرافي ویشنه

| Educationتعلیم | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | 12Grade | 26 | 34.7 | 34.7 | 34.7 |
| | 14 Grade | 16 | 21.3 | 21.3 | 56.0 |
| | Bachelor | 30 | 40.0 | 40.0 | 96.0 |
| | | | | | |
| | Master | 3 | 4.0 | 4.0 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، دspss په واسطه پایله ترلاسه شوې

له (۵) نمبر جدول څخه څرګند یږي چې د تعلیم په اساس د ډیموګرافي ویشنه کې مو د ځواب ویونکو د تعلیم څلور سطحې په نظرکې نیولي دي چې د ځواب ویونکو څخه ۲۶ تنه د لیسې فارغ چې نمونې یې ۳۴.۷ ٪ کیږي. همدارنګه څوارلسم پاس ۱۶تنه ځواب ویونکي دي چې نمونه یې ۲۱.۳٪ کیږي، لیسانس ۳۰ تنه دي چې د نمونه یې ۴۰٪ تشکیلوي او ماستر یا دوکتور ۳ تنه دي چې نمونه اندازه یې ۴٪ کیږي له پورته جدول څخه معلومیږي چې د ځواب ویونکو لوړ مقدار لیسانس او ترټولو کم ځواب ویونکي ماستر او دوکتور تشکیلوي.

(۶) جدول: د دندې په اساس دیموګرافي ویش

| وظیفهDuty | | | | | |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | Owner | 31 | 41.3 | 41.3 | 41.3 |
| | Admin & Finance | 13 | 17.3 | 17.3 | 58.7 |
| | Supervisor | 11 | 14.7 | 14.7 | 73.3 |
| | Employee | 20 | 26.7 | 26.7 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه ساحوی سروی ۱۴۰۲هـ ش کال ، spss په واسطه پایله ترلاسه شوې

له (۶)نمبر جول څخه څرګندیږی چې ددندې په اساس ددیموګرافی په ویشنه کی ځلورګټه ګوری افراد په نظرکی نیول شوی وه .دکاروبارمالک چې پدی کی ځواب ویونکي ۳۱ تنه سره براره ده او نمونې مقدار يې ۴۱.۳٪ تشکیلوي، مالي اداري چې پدې کې د ځواب ویونکو مقدار ۱۳تنه ده او د نمونې مقدار یې ۱۷.۳٪ جوړیږي، منشي یا سوپروایزر چې پدې کې د ځواب ویونکو مقدار ۱۱تنه ښودل شوی او د نمونې یې ۱۴.۷٪ ده، کارمند چې پدې کې د ځواب ویونکو مقدار ۲۰ تنه کیږي او د نمونې مقدار یې ۲۶.۷٪ جوړیږي.

(۷)جدول:

| Question سوال1 | | | | | |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | شخصي سپما | 51 | 68.0 | 68.0 | 68.0 |
| | خپلوان اودوستان | 20 | 26.7 | 26.7 | 94.7 |
| | بلاعوضه مرسته | 4 | 5.3 | 5.3 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲هـ ش کال، د (spss)په واسطه ترلاسه شوې پایله

(۷)جدول کې څرګندیږي چې د لومړۍ پوښتنې لپاره ۷۵ تنو ځواب ورکړی، پدې کې درې ډولو ځواب ویونکو برخه اخستې، چا چې خپل کاروبار په شخصي سپما، خپلوان او دوستان، بلاعوضه مرستو تمویل کړی و، چاچې د شخصي سپما په اساس خپل کاروبار تمویل کړی هغه ۵۱ تنه کاروبار درلودونکي وو نمونې یې ۶۸٪ کیږي، هغه کاروبار درلودونکي چې خپلوان او دوستانو څخه خپل کاروبار تمویل کړی و، هغوی ۲۰ تنه دي چې نمونې یې ۲۶.۷٪ کیږي او همدارنګه هغه کاروبار درلودونکو چې خپل کاروبار په بلاعوضه مرستو تمویل کړی ۴ تنه دي نمونی یې ۵.۳٪ دي.

پايله: ډېرى کاروبارونو د تمويل په هکله د شخصي سپما څخه استفاده کړې چې فيصدي يې ۶۸ ته رسيږي.

(۸)جدول

| Question 2 سوال | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | د تمويل کموالی | 36 | 48.0 | 48.0 | 48.0 |
| | د تمويلي ادارو کموالی | 10 | 13.3 | 13.3 | 61.3 |
| | امنيتي شرايط | 14 | 18.7 | 18.7 | 80.0 |
| | شديد رقابت | 15 | 20.0 | 20.0 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچينه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال ، د (spss)په واسطه ترلاسه شوی پايله

(۸)جدول کې څرګندېږي چې د دويمې پوښتني لپاره ۷۵ تنو ځواب ورکړی او د خپل کاروبار په وړاندې د ستري ستونزې د ښودنې له کبله څلور ډلولو ځواب ويونکو برخه اخستې، چا چې د خپل کاروبار ستره ستونزه د تمويل کموالی ښودلی هغه ۳۶ تنه کاروبار درلودونکي وو نمونې يې ۴۸٪کيږي. هغه کاروبار درلودونکي چې د تمويل ستره ستونزه يې د تمويلي ادارو کموالی ښودلی و هغوی ۱۰تنه دي چې نمونې يې ۱۳.۳٪ کيږي او همدارنګه هغه کاروبار درلودونکو چې ستره ستونزه يې امنيتي شرايط ښودلي ۱۴تنه دي نمونې يې ۱۸.۷٪ دي او هغه کاروبار درلودونکي چې ستره ستونزه يې شديد رقابت ښودلی و هغه ۱۵تنه دي او نمونې يې ۲۰٪ دي.

پايله: ډېرى کاروبارونو د تمويل په وړاندې ستونزه د تمويل کموالی ښودلی چې ۴۸ فيصده تشکيلوي.

(۹)جدول:

| Question 3 سوال | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | د پور ترلاسه کولو ستونزمن شرايط | 30 | 40.0 | 40.0 | 40.0 |
| | کمزورى مديريت | 18 | 24.0 | 24.0 | 64.0 |
| | د مالي مارکيټونو نشتون | 18 | 24.0 | 24.0 | 88.0 |
| | کمزوري زيربنا | 9 | 12.0 | 12.0 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچينه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss)په واسطه ترلاسه شوې پايله

(۹) جدول کې څرګندېږي چې د درېيمې پوښتنې لپاره ۷۵ تنو ځواب ورکړی او د خپل کاروبار د تمويل په وړاندې د خنډونو د ښودنې په برخه کې څلور ډلولو ځواب ويونکو برخه اخستې، چاچې د خپل کاروبار د تمويل ستر خنډ د پور د ترلاسه کولو ستونزمن شرايط ښودلي و، هغه ۳۰ تنه کاروبار درلودونکي وو، نمونې يې ۴۰٪کيږي. هغه کاروبار درلودونکي چې د تمويل په وړاندې خنډ يې کمزورې مديريت ښودلى و، هغوی ۱۸تنه دي چې نمونې يې ۲۴٪ کيږي او همدارنګه هغه کاروبار درلودونکو چې د تمويل خنډ د مالي مارکيټونو نشتون ښودلى ۱۸ تنه دي نمونې يې ۲۴٪ دي او هغه کاروبار درلودونکي چې د تمويل په وړاندې ستر خنډ يې کمزورې زېربنا ښودلې وه هغه ۹تنه وو او نمونې يې ۱۲٪ دي.

پايله: ډېری کاروبارونو د تمويل په وړاندې ستونزه د پور د ترلاسه ستونزمن شرايط ښودلي چې ۴۰ فيصده تشکيلوي.

(۱۰)جدول:

| سوال 4 Question | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | شخصي پانګه | 26 | 34.7 | 34.7 | 72.0 |
| | بانکي پور | 3 | 4.0 | 4.0 | 37.3 |
| | د ملګرو او دوستانو مرسته | 25 | 33.3 | 33.3 | 33.3 |
| | قرض حسنه | 21 | 28.0 | 28.0 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچينه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss)په واسطه ترلاسه شوې پايله

(۱۰)جدول کې څرګندېږي چې څلورمې پوښتنې لپاره ۷۵ تنو ځواب ورکړی، کله چې دوی د پيسو د کمبود سره مخ شي داچې خپل کاروبار څه ډول تمويلوي، دوی په څلور ګروپو دي: چاچې د شخصي پانګې په اساس خپل کاروبار تمويل کړی هغه ۲۵تنه کاروبار درلودونکي وو نمونې يې ۳۳.۳٪ کيږي، هغه کاروبار درلودونکي چې بانکي پور په اساس خپل کاروبار تمويل کړی و هغوی ۳ تنه دي چې نمونې يې ۴٪ کيږي او

همدارنګه هغه کاروبار درلودونکو چې خپل کاروبار د ملګرو او دوستانو په مرسته تمویل کړی ۲۶تنه دي نمونې یې ۳۴.۷٪ دي او هغه چاچې په قرض حسنه خپل کاروبار تمویل کړی ۲۱تنه دي او نمونې ۲۸٪ کیږي.

پایله: ډېری کاروبارونو د تمویل په هکله د شخصي پانګې څخه استفاده کړې چې فیصدي یې ۳۴.۷٪ ته رسیږي.

(۱۱)جدول:

| Question 5 سوال | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | د کاروبار روسته پاتې والی | 27 | 36.0 | 36.0 | 36.0 |
| | تولید مقدارکموالی | 16 | 21.3 | 21.3 | 57.3 |
| | خپل اهداف په غوره ډول نشولاسته راوړلای | 25 | 33.3 | 33.3 | 90.7 |
| | د رقابت توانایي د لاسه ورکول | 7 | 9.3 | 9.3 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

(۱۱) جدول کې څخه څرګندېږي چې پنځمي پوښتني لپاره ۷۵ تنو ځواب ورکړی، هر کاروبار چې د مالي منابعو د کمبود سره مخ شي څه تغیرات به پکې لیدل کیږي. پدې برخه کومو ځواب ویونکو چې د کاروبار روسته پاتی والی حس کړی هغه ۲۷ تنه دی او نموني ۳۶٪ تشکیلوي، هغه ځواب ویونکو چې پخپل کاروبار کې د تولید مقدار ښودلی ۱۶ تنه دي چې نموني یې ۲۱.۳٪ جوړیږي، هغه کاروبارکونکو چې خپل اهداف په غوره ډول لاسته راوړلو کې ستونزه ګوري ۲۵ تنه دي او نموني ۳۳.۳٪ کیږي، هغه ځواب ویونکو چې د رقابت توانایي له لاسه ورکول ښودلي هغه ۷ تنه دي چې نموني یې ٪ ۹.۳ تشکیلوي.

پایله: په پورته جدول کې د تمویل کمبو د تر ټولو ډیر اثر لرونکي فکتور د کاروبار روسته والی ښودل شوی.

(۱۲)جدول:

| **6 سوال Question** | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | دشخصی پانکي نشتون | 44 | 58.7 | 58.7 | 58.7 |
| | شریکانو نشتون | 9 | 12.0 | 12.0 | 70.7 |
| | حسنه پورنشتون | 15 | 20.0 | 20.0 | 90.7 |
| | اسلامی بانکداری دفعالیتونوکموالی | 7 | 9.3 | 9.3 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د (۶) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۱۲) نمبرجدول څخه څرکندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۴۴ تنه د تمویل ستونزه د شخصي پانګې نشتون په ګوته کوي چې نمونې یې ۵۸.۷٪ جوړیږي، د شریکان نشتون ستونزه ۹ تنه منلې چې نمونې یې ۱۲٪جوړیږي، حسنه پور نشتون بیا۱۵۰ تنو ښودلې چې نمونې یې ۲۰۰٪ تشکیلوي، هغه ځواب ویونکي چې اسلامي بانکداري د فعالیتونو کموالی تایید کړی ۷ تنه او نمونې یې ۹.۳٪ جوړیږي له دې جدول څخه معلومیږي چې ستره ستونزه د شخصي پانګې نشتون دی.

پایله: ډېری کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستره ستونزه د شخصي پانګې نشتون ښودلې چې ۵۸.۷٪ فیصده تشکیلوي.

(۱۳)جدول:

| Question 7 سوال | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | مالي خطرات | 28 | 37.3 | 37.3 | 37.3 |
| | د کیفیت په مدیریت کې ضعف | 9 | 12.0 | 12.0 | 49.3 |
| | د مالیاتو لوړوالی | 30 | 40.0 | 40.0 | 89.3 |
| | مناسب تکنالوژۍ نشتون | 8 | 10.7 | 10.7 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د(7) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۱۳) نمبر جدول څخه څرګندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۲۸ تنه د تمویل کمزورتیا او ستونزه مالي خطرات په ګوته کوي چې نمونې یې ۳۷.۳٪ جوړیږي، د کیفیت په مدیریت کې ضعف ستونزه ۹ تنه منلې چې نمونې یې ۱۲٪ جوړیږي، د مالیاتو لوړوالی بیا۳۰ تنو ښودلی چې نمونې یې ۴۰٪ تشکیلوي، هغه ځواب ویونکي چې د مناسبې تکنالوژي نشتون تایید کړی ۸ تنه او نمونې یې ۱۰.۷٪ جوړیږي له دې جدول څخه معلومیږي چې ستره ستونزه د مالیاتو لوړوالی دی.

پایله: ډېری کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستره ستونزه د مالیاتو لوړوالی ښودلی چې ۴۰٪ فیصده تشکیلوي.

(۱۴)جدول:

| Question 8 سوال | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | هو | 26 | 34.7 | 34.7 | 34.7 |
| | نه | 49 | 65.3 | 65.3 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

(۱۴)جدول: څخه معلومیږي د کاروبار د تمویل لپاره یوستره منبع بانک ده. په نړۍ کې زیاتره کاروبارونه له بانک څخه ځان تمویلوي؛ نو له کاروبارکوونکو څخه هم پدې هکله معلومات اخستل شوي چې د پورته جدول په مرسته یې وضاحت کولای شو. هغه کاروبارکونکو چې له بانک څخه پورترلاسه کړی، هغه ۲۶ تنه دی او نمونې یې ۳۴.۷٪ تشکیلوي او

هغه چاچې له با نک څخه پورنه دی ترلاسه کړی هغه ۴۹ تنه او نمونې يې ۶۵.۳جوړوي له دې څخه څرګندېږي چې ډېری کاروبارکونکو د بانکي پور سره علاقه نه ښودلې.

پایله: په پورته جدول کې کاروبار د خپل تمويل لپاره يې د بانک څخه قرض اخستی او که نه؛ نو۶۵٪فیصدي ښيي چې له بانک څخه دوی قرض نه دی اخستی چې خپل کاربارتمويل کړی او خپل تمويل يې له نورولارو څخه ترلاسه کړی.

(۱۵) جدول:

| سوال 9 Question | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | د نوي کاروبار د پيل لپاره تمويل | 45 | 60.0 | 60.0 | 60.0 |
| | د اضافي مصارفو تر سره کول | 8 | 10.7 | 10.7 | 70.7 |
| | د کاروبار توسعه | 16 | 21.3 | 21.3 | 92.0 |
| | د کاروبار شهرت | 6 | 8.0 | 8.0 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچينه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د(9) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۱۵) نمبر جدول څخه څرګندېږي هغه ځواب ویونکي چې پور يې د نوي کاروبار د شروع تمويل لپاره اخستی هغه ۴۵ تنه دي او نمونې يې ۶۰٪ تشکیلوي. هغه ځواب ویونکو چاچې پور د اضافي مصارفو د ترسره کولو په موخه ترلاسه کړی ۸ تنه دی چې نمونې يې ۱۰.۷٪ جوړيږي او هغه ځواب ویونکو چې پور د کاروبار د توسعې په منظور ترلاسه کړی هغه ۱۶تنه دي چې نمونې يې ۲۱.۳٪ جوړوي، همدارنګه چاچې پور د خپل کاروبار د شهرت په موخه اخستې ۶ تنه دي او نمونې يې ۸٪ جوړيږي.

پایله: (۱۵) نمبر جدول څخه څرګندیږي چې هغه ځواب ویونکي چې پور يې د نوي کاروبار د شروع تمويل لپاره اخستی هغه ۴۵ تنه دي او نمونې يې ۶۰٪ تشکیلوي او دا تر ټولو لړه فیصدي ده.

(۱۶)جدول

| سوال 10 Question |
|---|

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | تریو حده مثبت تغیر | 44 | 58.7 | 58.7 | 58.7 |
| | بشپړ مثبت تغیر | 11 | 14.7 | 14.7 | 73.3 |
| | هدف ترلاسه کیدونکی دی | 12 | 16.0 | 16.0 | 89.3 |
| | د سیالی جوګه شو | 8 | 10.7 | 10.7 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د (10) نمبر پوښتني په ځواب کې له (۱۶) نمبر جدول څخه څرګندیږي، هغه ځواب ویونکي چې بانکي پور تر یوحده مثبت تغیر کړی هغه ۴۴ تنه دي او نموني یې ۵۸.۷٪ تشکیلوي. هغه ځواب ویونکو چې بانکي پور په هکله یې بشپړ مثبت تغیر ښودلی ۱۱تنه دي چې نموني یې ۱۴.۷٪ جوړیږي او هغه ځواب ویونکو چې بانکي پور پخپل کاروبار کې د ټاکلي هدف د ترلاسه کولو لپاره چې خپل ځیني اهداف لاسته راوړي هغه ۱۲تنه دي چې نموني یې ۱۶٪ جوړوي، همدارنګه چاچې پور د دې لپاره اخستی چې په مارکیټ کې د سیالی او رقابت جوګه شي موخې رقابت کول و ۸ تنه دي او نموني یې ۱۰.۷٪ جوړیږي په نتیجه کې لومړي جز ته په کتو ویلای شو چې بانکي پور د تمویل په برخه کې یو اساسی رکن دی او په کاروبار کې مثبت تغیر راوستی شي.

پایله: (۱۶) نمبر جدول څخه څرګندیږي، هغه ځواب ویونکي چې بانکي پور تر یو حده مثبت تغیر کوي هغه۴۴ تنه دي او نموني یې ۵۸.۷٪ تشکیلوي او دا تر ټولو لوړه فیصدي ده.

(۱۷)جدول:

| **Question سوال 11** | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | لوړ تضمین | 26 | 34.7 | 35.1 | 35.1 |
| | لوړ سود | 14 | 18.7 | 18.9 | 54.1 |
| | د بانک له لوري عدم اعتماد | 16 | 21.3 | 21.6 | 75.7 |
| | د پور د شرایطو ستونزه | 18 | 24.0 | 24.3 | 100.0 |
| | Total | 74 | 98.7 | 100.0 | |
| Missing | System | 1 | 1.3 | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| Total | 75 | 100.0 | | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د (11) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۱۷) نمبر جدول څخه څرګندیږي چې له بانک څخه ولې پورنه دی ترلاسه شوی، د پور د نه ترلاسه کولو علت څه وه؟ په لاندې ډول یې وضاحت شوی. هغه ځواب ویونکو چې لوړ تضمین د پور د نه ترلاسه کولو علت ښودلی ۲۶ تنه دي او نمونې یې ۳۴.۷٪ جوړوي، هغه ځواب ویونکو چې د پور د نه ترلاسه کولوعلت لوړ سود ښودلی هغه ۱۴تنه دي چې نمونې ۱۸.۷٪ جوړوي، هغه ځواب ویونکو چې د پور د نه ترلاسه کولو علت د بانک له لوري عدم اعتماد ښودلی هغه ۱۶تنه دي او نمونې یې ۲۱.۳٪ کیږي.

پایله: له (۱۷) نمبر جدول څخه څرګندیږي چې له بانک څخه ولې پور نه دی ترلاسه شوی، د پور د نه ترلاسه کولوعلت څه و؟ لوړ تضمین د پوردنه ترلاسه کولوعلت ښودلی ۲۶تنه دي او نمونې یې ۳۴.۷٪ جوړوي همدا لوړ تعداد دی.

(۱۸)جدول

| Question 12 سوال | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | دولت ښه پالسي جوړه کړي | 32 | 42.7 | 42.7 | 42.7 |
| | اسلامي بانکداري پیاوړې شي | 26 | 34.7 | 34.7 | 77.3 |
| | نړیول پولي مارکیټ ته د پور ترلاسه کولو لپاره لاره هواره شي | 6 | 8.0 | 8.0 | 85.3 |
| | دولت باید د بانکدارۍ یو نوي سیستم باندې غور وکړي | 11 | 14.7 | 14.7 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د (12) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۱۸) نمبر جدول څخه څرګندیږي دا چې د کاروبار چلولو لپاره تمویل یوه حیاتي مسله ده؛ نو پکارده چې تمویل خومره پیاوړی شي په هماغه اندازه کاروبار ښه والی پیداکوي چې پدې

برخه کې هم له کاروبارکوونکو نظراخستل شوی چې په لاندې ډول یې تشریح کولای شو:

له ځواب ویونکو څخه ۳۲ تنو چې نمونې یې ۴۲.۷٪ کیږي د دولت په بنې پالیسۍ جوړولو ټینګار کوي او د اسلامي بانکدارۍ په پیاوړتیا بیا ۲۶تنه ځواب ویونکي موافق دي چې نمونه یې ۳۴.۷٪ جوړوي، همدارنګه نړیوال پولي مارکیټ ته لاسرسي په برخه کې ۶ تنه ځواب ویونکي موافق دي چې نمونه یې ۸٪ جوړوي، د نوې بانکدارۍ د ایجاد لپاره بیا ۱۱ تنه موافقه لري چې نمونه یې ۱۴.۷٪ تشکیلوي.

پایله: له (۱۸) نمبر جدول څخه څرګندیږي داچې د کاروبار چلولو لپاره تمویل یوه حیاتي مسله ده؛ نو پکارده چې تمویل څومره پیاوړی شي په هماغه اندازه کاروبار ښه والی پیداکوي چې پدې برخه کې هم له کاروبارکوونکو نظر اخستل شوی چې په لاندې ډول یې تشریح کولای شو: له ځواب ویونکو څخه ۳۲تنو چې نمونې یې ۴۲.۷٪ کیږي د دولت په بنې پالیسۍ جوړولو ټینګار کوي.

(۱۹)جدول:

| Question 13 سوال | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | دولت له لوري بلاعوضه مرستي وشي | 29 | 38.7 | 38.7 | 38.7 |
| | سوداګریز بانکونه د اسلامي اصولو په رڼاکې کوچنیو کاروبارونو ته پور ورکړي | 25 | 33.3 | 33.3 | 72.0 |
| | بانکونه په اسانه شریطو سره کوچنیو کاروبارونو ته پور ورکړي | 13 | 17.3 | 17.3 | 89.3 |
| | بانکونه دې په کاروبارونو کې شراکت وکړي | 8 | 10.7 | 10.7 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د (13) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۱۹) نمبر جدول څخه څرګندیږي د کوچنیو او منځنیو کاروباروبارونو لپاره تمویل یو اساسي برخه ګڼل کیږي بې د مالي تمویل څخه مخ په وړاندې نشي تللی پکار داده چې د تمویل په

وړاندې کومې ستونزې وي د هغه د حل لپاره خواري وشي چې ځینې یې له جدول څخه په لاندې ډول واضح کوو:

د دولت له لوري بلاعوضه مرستې د تمویل ستونزې حل ده د دې سره ۲۹ تنه موافق دي چې نمونې ۳۸.۷٪ جوړېږي.

پایله: له (۱۹) نمبر جدول څخه څرګندېږي د دولت له لوري بلاعوضه مرستې د تمویل ستونزې حل ده ددې سره ۲۹ تنه موافق دي چې نمونې ۳۸.۷٪ جوړېږي.

(۲۰)جدول:

| Question سوال 14 | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر موافق | 39 | 52.0 | 52.0 | 52.0 |
| | موافق | 24 | 32.0 | 32.0 | 84.0 |
| | بې تفاوته | 8 | 10.7 | 10.7 | 94.7 |
| | موافق نه یم | 2 | 2.7 | 2.7 | 97.3 |
| | هیڅ موافق نه یم | 2 | 2.7 | 2.7 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د (14) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۲۰) نمبر جدول څخه څرګندېږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۳۹ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۵۲٪ جوړېږي، د موافق کسانو شمېر ۲۴ تنه وچې نمونې یې ۳۲٪ جوړېږي، بې تفاوته برخه ۸ تنه دي چې نمونې یې ۱۰.۷٪ تشکیلوي، هغه ځواب ویونکي چې موافق نه وو ۲ تنه وو او نمونې یې ۲.۷٪ جوړېږي او هغه ځواب ویونکي چې هیڅ موافق نه وو ۲ تنه وو او نمونې یې ۲.۷٪ برابرېږي.

پایله: له (۲۰) نمبر جدول څخه څرګندېږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۳۹ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۵۲٪ جوړېږي چې د تمویل په وړاندې ستره ستونزه د منظم بانکي سیستم نشتون دی.

(۲۱)جدول

| **Question سوال 15** | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | ډېر موافق | 28 | 37.3 | 37.3 | 37.3 |
| | موافق | 41 | 54.7 | 54.7 | 92.0 |
| | بې تفاوته | 4 | 5.3 | 5.3 | 97.3 |
| | موافق نه يم | 2 | 2.7 | 2.7 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچينه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پايله

د (15) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۲۱) نمبر جدول څخه ځرګنديږي چې د ځواب ويونکو له جملې څخه ۲۸ تنه ډېر موافق چې نمونې يې ۳۷.۳٪ جوړيږي، د موافق کسانو شمېر ۴۱ تنه و چې نمونې يې ۵۴.۷٪ جوړيږي، بې تفاوته برخه ۴ تنه دي چې نمونې يې ۵.۳٪ تشکيلو. هغه ځواب ويونکي چې موافق نه وو ۲ تنه وو او نمونې يې ۲.۷٪ جوړيږي او هغه ځواب ويونکي چې هيڅ موافق نه وو، و نه ليدل شول.

پايله: داچې د تمويل په وړاندې ستره ستونزه لوړ ماليات دي پدې ۴۱ تنه موافق دي چې فيصدي يې ۵۴.۷٪ جوړيږي همدا لوړه فيصدي ده.

(۲۲)جدول

| **16 سوال Question** | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر موافق | 37 | 49.3 | 49.3 | 49.3 |
| | موافق | 19 | 25.3 | 25.3 | 74.7 |
| | بې تفاوته | 16 | 21.3 | 21.3 | 96.0 |
| | هيڅ موافق نه يم | 3 | 4.0 | 4.0 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچينه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پايله

د (16) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۲۲) نمبر جدول څخه ځرګنديږي چې د ځواب ويونکو له جملې څخه ۳۷ تنه ډېر موافق چې نمونې يې ۴۹.۳٪ جوړيږي، د موافق کسانو شمېر ۱۹ تنه وو چې نمونې يې ۲۵.۳٪ جوړيږي، بې تفاوته برخه ۱۶ تنه دي چې نمونې يې ۲۱.۳٪ تشکيلوي، هغه ځواب ويونکي چې موافق نه ۲ تنه وو هيڅ ونه ليدل شول او هغه ځواب ويونکي چې هيڅ موافق نه وو ۳ تنه وو او نمونې يې ۴٪ برابريږي.

پایله: له (۲۲) نمبر جدول څخه څرکندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۳۷ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۴۹.۳٪ جوړیږي. دوی وايي چې د تمويل په وړاندې ستره ستونزه د بنې پالیسی نشتون دی.

(۲۳)جدول:

| Question سوال 17 | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر موافق | 31 | 41.3 | 41.3 | 41.3 |
| | موافق | 32 | 42.7 | 42.7 | 84.0 |
| | بې تفاوته | 10 | 13.3 | 13.3 | 97.3 |
| | موافق نه یم | 1 | 1.3 | 1.3 | 98.7 |
| | هیڅ موافق نه یم | 1 | 1.3 | 1.3 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د (17) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۲۳) نمبر جدول څخه څرکندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۳۱ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۴۱.۳٪ جوړیږي، د موافق کسانو شمېر ۳۲ تنه وو چې نمونې یې ۴۲.۷٪ جوړیږي، بې تفاوته برخه ۱۰تنه دي چې نمونې یې ۱۳.۳٪ تشکیلوي، هغه ځواب ویونکي چې موافق نه وو ۱تن و او نمونې یې ۱.۳٪ جوړیږي او هغه ځواب ویونکي چې هیڅ موافق نه و ۱تن و او نمونې یې ۱.۳٪ برابریږي.

پایله: له (۲۳) نمبر جدول څخه څرکندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه د موافق کسانو شمېر ۳۲ تنه و چې نمونې یې ۴۲.۷٪ جوړیږي دوی وايي چې د اسلامي بانکدارۍ وده د تمويل ستونزه کموي.

(۲۴)جدول

| Question سوال 18 | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر موافق | 36 | 48.0 | 48.0 | 48.0 |
| | موافق | 22 | 29.3 | 29.3 | 77.3 |
| | بې تفاوته | 14 | 18.7 | 18.7 | 96.0 |
| | موافق نه یم | 2 | 2.7 | 2.7 | 98.7 |
| | هیڅ موافق نه یم | 1 | 1.3 | 1.3 | 100.0 |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د (18) نمبر پوښتني په ځواب کې له (۲۴) نمبر جدول څخه څرګندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۳۶ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۴۸٪ جوړیږي، د موافق کسانوشمېر ۲۲ تنه و چې نمونې یې ۲۹.۳٪ جوړیږي، بې تفاوته برخه ۱۴تنه دي چې نمونې یې ۱۸.۷٪ تشکیلوي، هغه ځواب ویونکي چې موافق نه وه ۲ تنه وو او نمونې یې ۲.۷٪ جوړيږي او هغه ځواب ویونکی چې هیڅ موافق نه و ۱تن و او نمونې یې ۱.۳٪ برابريږي.

پایله: له (۲۴) نمبر جدول څخه څرګندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۳۶ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۴۸٪ جوړیږي چې دوی وایي د دولت لخوا سبسایډي او ملاتړ د تمویل ستونزې حل دی.

(۲۵)جدول

| Question سوال 19 | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر موافق | 52 | 69.3 | 69.3 | 69.3 |
| | موافق | 15 | 20.0 | 20.0 | 89.3 |
| | بې تفاوته | 6 | 8.0 | 8.0 | 97.3 |
| | موافق نه یم | 1 | 1.3 | 1.3 | 98.7 |
| | هیڅ موافق نه یم | 1 | 1.3 | 1.3 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د(19) نمبر پوښتني په ځواب کې له (۲۵) نمبر جدول څخه څرګندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۵۲ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۶۹.۳٪ جوړیږي، د موافق کسانو شمېر ۱۵ تنه وو چې نمونې یې ۲۰٪ جوړیږي، بې تفاوته برخه ۶تنه دي چې نمونې یې ۸٪ تشکیلوي، هغه ځواب ویونکي چې موافق نه وه (۱) تن و او نمونې یې ۱.۳٪ جوړيږي او هغه ځواب ویونکي چې هیڅ موافق نه و ۱تن و او نمونې برابريږي.

پایله: له (۲۵) نمبر جدول څخه څرګندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۵۲ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۶۹.۳٪ جوړیږي دوی وایي چې نړیوال مالي بازارونو ته لاسرسی د تمویل ستونزه کموي.

(۲۶)جدول:

| Question سوال 20 | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
| Valid | ډېر موافق | 47 | 62.7 | 62.7 | 62.7 |
| | موافق | 17 | 22.7 | 22.7 | 85.3 |
| | بې تفاوته | 8 | 10.7 | 10.7 | 96.0 |
| | موافق نه یم | 1 | 1.3 | 1.3 | 97.3 |
| | هیڅ موافق نه یم | 2 | 2.7 | 2.7 | 100.0 |
| | Total | 75 | 100.0 | 100.0 | |

سرچینه: ساحوي سروې ۱۴۰۲ه ش کال، د (spss) په واسطه ترلاسه شوې پایله

د (20) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۲۶) نمبر جدول څخه څرکندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۴۷ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۶۲.۷٪ جوړیږي، د موافق کسانو شمېر ۱۷ تنه و چې نمونې یې ۲۲.۷٪ جوړیږي، بې تفاوته برخه ۸ تنه دي چې نمونې یې ۱۰.۷٪ تشکیلوي، هغه ځواب ویونکي چې موافق نه وو، ۱تن و او نمونې یې ۲٪ جوړیږي او هغه ځواب ویونکي چې هیڅ موافق نه وو، ۲تنه وو او نمونې یې ۲.۷٪ برابریږي.

پایله: له (۲۶) نمبر جدول څخه څرکندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۴۷ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۶۲.۷٪ جوړیږي دوی وایي چې هیواد کې د یو نوي بانک ایجاد د کاروبارنو د تمویل لپاره ستونزې حل کولی شي.

**پایله (Result)**

د دې څېړنې اساسي موخه په ختیځ زون کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې د ستونزو تحلیل دی. دا څېړنه دا په ډاګه کوي چې ځواب ویونکي د دریو ولایتونو اوسیدنکي دي چې ۱۳.۳٪ ځواب ویونکي د کنړ ولایت، ۲۰٪ د لغمان ولایت او ۶۶.۷٪ د ننګرهار ولایت اوسیدونکي دي. د ځواب ویونکو اکثریت نارینه چې تقریبا۹۷.۳٪ جوړې او باقی نور ځواب ویونکی چې ۲.۷٪ اناث دي. د عمر په لحاظ اکثریت ځواب ویونکي چې د ۱۸-۳۴ کلونو ترمنځ عمر درلود ګډون وال وو. د تعلیم او تحصیل له پلوه اکثریت ګډون کونکي لېسانسه وو. همدارنګه ډېری ځواب ویونکي د کاروبار مالکان وو. د دې څېړنې د لومړی پوښتنې په ځواب او په

(۷) نمبر جدول ته په کتو ۵۱ تنه کاروبار درلودنکو چې نمونې یې۶۸٪ جوړیږي د کاروبار شروع یې په خپل شخصي سپما تر سره کړې او همدارنګه د څلورمې پوښتنې په ځواب په (۱۰) جدول څخه څرګندیږي چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو اکثریت مالکان کله چې د تمویل ستونزې سره مخ شي خپل کاروبار پخپل شخصي لګښت تمویلوي. همدارنګه د اتمې پوښتنې په ځواب او له (۱۴) نمبر جدول څخه معلومیږي ۴۹ تنه کاروبار درلودونکي چې نمونې یې ۶۵.۳٪ جوړیږي د خپل کاروبار د تمویل لپاره یې له بانک څخه پورنه دی ترلاسه کړی. له پورته جریان څخه ښکاري چې زیات کوچني او منځني کاروبارونه پخپل لګښت او تمویل فعالیت لري، بانکي سیستم او نورو تمویلي برخو ته ډېر لاسرسی نلري.

د دویمې پوښتنې د ځواب او (۸) نمبر جدول کې ۳۶ تنو چې نمونې یې ۴۸٪ جوړیږي د ځواب ویونکو لوړ مقدار تشکیلوي، دوی ویلي چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په وړاندې ستره ستونزه او ستر خنډ د تمویل کموالی او تمویل په برخه کې مشکلات دي. د دریمې پوښتنې په ځواب او په (۹) نمبر جدول کې ۳۰ تنه ځواب ویونکو چې نمونې ۴۰٪ جوړوي د ځواب ویونو لوړ مقدار دی. دوی ویلي چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستره ستونزه د پور د ترلاسه کولو ستونزمن شرایط ښودلي دي. د شپږمې پوښتنې په ځواب او په (۱۲) نمبر جدول کې ۴۴ تنو ځواب ویونکو چې نمونې ۵۸.۷٪ جوړیږي د همدې پوښتنې د ځواب اکثریت بلل کیږي. د دوی د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستره ستونزه د شخصي یاخپلې پانګې نشتون ښودلی دی. د اوومې پوښتنې په ځواب او په (۱۳) نمبرجدول کې ۳۰ تنو ځواب ویونکو چې نمونې یې ۴۰٪ جوړیږي د دې برخې اکثریت تشکیلوي، دوی پخپلو څرګندونو کې کوچني او منځني کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستره ستونزه د مالیاتو لوړوالی په ګوته کړی دی. د یوولسمې پوښتنې ځواب په (۱۷) نمبر جدول کې ۲۶ تنه ځواب ویونکي چې نمونې یې۳۴.۷٪ جوړیږي د دې برخې اکثریت دي. دوی د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د بانکي تمویل په وخت کې ستره ستونزه او مشکل لوړ تضمین ښودلی دی د څوارلسمې پوښتنې په ځواب او په (۲۰) نمبر جدول کې ۳۹ تنه ځواب ویونکو چې نمونې یې ۵۲٪ جوړیږي او د دې برخې اکثریت دي. دوی له دې سره ډېر موافق دي چې د کوچنیو او منځنیو

کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستره ستونزه د منظم بانکي سیستم نشتون دی. د پنځلسمې پوښتنې په ځواب او په (۲۱) نمبر جدول کې ۴۱ تنه ځواب ویونکو چې نمونې یې ۵۴.۷٪ جوړېږي او د دې برخې اکثریت دي دوی له دې سره موافق دي چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستره ستونزه لوړ مالیات دي. د شپاړسمې پوښتنې په ځواب او په (۲۲) نمبر جدول کې ۳۷ تنه ځواب ویونکو چې نمونې یې ۴۹.۳٪ جوړېږي او د دې برخې اکثریت دي، دوی له دې سره ډېر موافق دي چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستره ستونزه په ملک کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو لپاره دښې او منظمې پالیسۍ نشتون دی. د پوښتنلیک په اخري برخه کې ځینو ځواب ویونوکو لخوا د تمویل د ستونزو تر عنوان لاندې یو څو نورې ستونزې هم ښودلي چې له تاسو سره یې شریکوو. د پور ورکونکو ادارو لخوا په کوچنیو کاروبارونو بې اعتمادي، د بانکي خدماتو او آسانتیاوو کمبود، د اسلامي بانکدارۍ ورو وده، د حسنه قرض ورکول سره د خلکو نه لیوالتیا، د مالي مدیریت د یو مناسب سیستم نشتون، د اوږدمهاله قرضونو نشتون، انفلاسیوني تاثیرات.

**حل لارې**

د دولسمې پوښتنې ځواب په (۱۸) نمبر جدول کې ۳۲ تنو ځواب ویونکو چې نمونې ۴۲.۷٪ جوړېږي د همدې پوښتنې د ځواب ویونکو اکثریت بلل کیږي، دوی د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې د ستونزو حل لاره د دولت لخوا د ښې پالیسۍ جوړول په ګوته کړې ده. د دیارلسمې پوښتنې ځواب په (۱۹) نمبر جدول کې ۲۹ تنو ځواب ویونکو چې نمونې ۳۸.۷٪ جوړېږي د همدې پوښتنې د ځواب ویونکو اکثریت بلل کیږي دوی د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې د ستونزو حل لاره د دولت له لوري بلاعوضه مرستې په ګوته کړي دي. دوولسمې پوښتنې په ځواب او په (۲۳) نمبر جدول کې ۳۲ تنه ځواب ویونکو چې نمونې یې ۴۲.۷ ٪جوړېږي او ددې برخې اکثریت دي، دوی له دې سره موافق دي چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې د ستونزو حللاره په هېواد کې د اسلامي بانکدارۍ ته وده او پرمختګ ورکول دي. د اتلسمې پوښتنې په ځواب او په (۲۴) نمبر جدول کې ۳۶ تنه ځواب ویونکو چې نمونې یې ۴۸٪ جوړېږي او د دې برخې اکثریت دي. دوی له دې سره ډېر

موافق دي چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې د ستونزوحللاره د دولت لخوا د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو حمایت او هغوی ته سبسایډي ورکول دي. د نولسمې پوښتنې په ځواب او په (۲۵) نمبر جدول کې ۵۲ تنه ځواب ویونکو چې نمونې یې ۶۹.۳٪ جوړیږي او د دې برخې اکثریت دي، دوی له دې سره ډېر موافق دي چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې د ستونزو حللاره نړیوالو مالي بازارونو ته د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو لاسرسی دی. د شلمې پوښتنې په ځواب او په (۲۶) نمبر جدول کې ۴۷ تنه ځواب ویونکو چې نمونې یې ۶۲.۷٪ جوړیږي او د دې برخې اکثریت دي. دوی له دې سره ډېر موافق دي چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې د ستونزو حللاره په هېواد کې یو نوی بانک ایجادول دي چې لویه دنده یې د کا روبارونو تمویل و. په پورته لیکنه کې په ترتیب سره د تمویل په وړاندې ستره ستونزه د شخصي پانګې نشتون، لوړ مالیات، د دولت په ښې پالیسۍ جوړولو ټینګار کوي. همدارنګه تر ټولوښه حللاره نړیوالو مالي بازارونو ته لاسرسی، هیواد کې د یو نوي بانک ایجاد د کاروبارنو د تمویل لپاره ښودل شوی.

**مناقشه**

په ختیځ زون کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د تمویل په وړاندې ستونزو د تحلیل ترعنوان لاندې ترسره کړې دا نتیجه لاسته راغله چې په ختیځ زون کې کوچني او منځني کاروبارونه د تمویل دلاندې ستونزو سره مخ دی:

د پور د ترلاسه کولو ستونزمن شرایط، د شخصي یا خپلې پانګې نشتون، د مالیاتو لوړوالی ستره ستونزه او مشکل لوړ تضمین ښودلی دی، د منظم بانکي سیستم نشتون، د ښې او منظمې پالیسۍ نشتون، تمویل او د تمویل منابعو ته عدم لاسرسی، د پور ورکونکو ادارو لخوا په کوچنیو کاروبارونو بې اعتمادي، د بانکي خدماتو او آسانتیاوو کمبود، د اسلامي بانکدارۍ ورو وده، د حسنه قرض ورکول سره د خلکو نه لیوالتیا، د مالي مدیریت د یو مناسب سیستم نشتون، د اوږدمهاله قرضونو نشتون او انفلاسیوني تاثیرات.

په همدې څېړنه کې د تمویل په وړاندې د ستونزو حللاری عبارت دي له: په هېواد کې یو نوي بانک ایجادول دي چې اهمه وظیفه یې د کاروبارونو

تمویل وي. نړیوالو مالي بازارونو ته د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو لاسرسی دی. د دولت لخوا د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو حمایت او هغوی ته سبسایډي ورکول، په ملک کې اسلامي بانکداری ته وده او پرمختګ ورکول دي، د دولت له لوري بلاعوضه مرستې، د دولت لخوا دښې پالیسۍ جوړول.

د تېرو لیکنو او د همدې لیکنې ترمنځ چې کومې ګډې او شریکې ستونزې دي عبارت له تمویل او د تمویل منابعو ته عدم لاسرسی په قانون او نظم کې مشکلات، د حکومت په پالیسۍ کې نیمګړتیاوې، دښې او منظمې پالیسۍ نشتون، تمویل او د تمویل منابعو ته عدم لاسرسی، لوړ تضمین، د مالیاتو لوړوالی، د مالي بنسټونو بې باوري په کوچني او منځني کاروبارونو، د حکومت په پالیسۍ کې نیمګړتیاوې، د پور ورکونکو ادارو لخوا په کوچنیو کاروبارونو بې اعتمادي. د اوږدمهاله قرضونو نشتون دی. د ورته والي استلال یې دادی چې کومې ستونزې هلته په کوم عبارت وجود درلود هماغه عین نتیجه دلته هم لاس ته راغله.

د تېرو او اوسنۍ لیکنې ترمنځ غیرمشابه ستونزې عبارت دي له: سود نرخ لوړوالی، د پورونو بیرته ورکولو لپاره ورکړل شوې مودې کموالی، د امنیت نشتوالی دی، بې کاره او بې کمزوری مالي سیستم، د خطر د مدیریت نشتون، د ښه سوداګریز چاپیریال نشتون، د لوی اقتصاد بې ثباتي او دپ رمحتللې تکنالوژۍ نشتون، په اداري چارو کې کاغذ پراني، د اسلامي تمویل نشتوالی، د دولت لخوا د تشویق نه شتون، اوږد مهاله قرضونو نه شتون، محدوده سرمایه او پوهه. د مناسبې ټیکنالوژۍ نشتوالی، د تولید کم ظرفیت. د بازار موندنې غیر موثره ستراتیژي، په ارزانه بیه د ماهرو کارګرانو نشتوالی. د بانکونو څخه د کریډیټ نشتوالی، د څو میلتي شرکتونو سیالي، ضعیف زیربنا، فساد، مقرراتو کې ستونزې، د نوښت او تکنالوژۍ نشتون، د حکومت بې غوري، د قرض ورکونکو بانکونو او پور ورکوونکو ادارو بې باوري، برېښنا کموالی، د سالم مدیریت نشتوالی، د افریقایي تولیداتو په وړاندې شدید رقابت کره معلوماتو ته نه لاسرسی، د دولت لخوا عدم حمایت، د پور د ترلاسه کولو ستونزمن شرایط، د شخصي یا خپلې پانګې نشتون، بانکي سیستم نشتون، د پور ورکونکو ادارو لخوا په کوچنیو کاروبارونو بې

اعتمادي، د بانکي خدماتو او آسانتیاوو کمبود، د اسلامي بانکدارۍ ورو وده، د حسنه قرض ورکول سره د خلکو نه لیوالتیا، د مالي مدیریت د یو مناسب سیستم نشتون او انفلاسیوني تاثیرات. کومې ستونزې چې په ختیځ زون کې وجود لري دغه ډول ستونزه په تیرو لیکنو کې نه وه او کومې ستونزې چې په تیرولیکنو کې وې د دې مقالې د ستونزو په لست کې وجود نه درلود؛ نوپه همدې اساس دواړه سره تفاوت لري.

**پایله اخیستنه**

د کوچني او منځني کاروبارونه هر هېواد او ټولنې د خپلو قوانیو او پالیسیانو مطابق تعریف کړي او کوم ځانګړی تعریف نلري. هغه شرکتونه چې د کارکونکو تعداد یې د لسو(۱۰) کسانو څخه تر پنځوس(۵۰) تنوپورې وي او د معاملاتو حجم یې له ۲-۱۰ میلون یورو پورې یو کال کې وي د کوچنیو کاروبارونو په نامه یادیږي. هغه شرکتونه چې د کارکونکو تعداد یې له پنځوس (۵۰) کسانو څخه تردوسوه پیځوس (۲۵۰) تنو پورې وي او معاملاتوحجم یې په کال کې د۱۰-۵۰ میلون یورو پورې وي د متوسط کاروبارونو په نامه یادیږي.

هر کاروبار د خپلو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره په شکل د اشکالو یو اندازه ثابتو شتمنیو (ځمکه، ماشین الات، فرنیچر، موټرې، تجهیزات او داسې نور... .) ته اړتیا لري چې پرته لدې شاید د یو کاروبار پیل کیدل او په ښه شکل سره پر مخ تلل ممکن نه وي. د نوموړو شتمنیو د اخیستلو لپاره تمویل ضروري دی. د کاروباري فعالیتونو د پرمخ وړولو لپاره د پولي پانګې، پیسو یا مالي امکاناتو برابرولو، چمتو کولو او تهیه کولو ته د کاروبار تمویل ویل کیږي.

داچې تمویل یو دیوکاروبارلپاره ډیراهمیت لري، همدا څېړنه مونږ په ختیځ زون کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په وړاندې د تمویل ستونزو په باره کې ترسره کړې، دا نتیجه لاسته راغله چې په ختیځ زون کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په وړاندې د تمویل ستونزې عبارت دي له د پور د ترلاسه کولو ستونزمن شرایط، د شخصي یا خپلې پانګې نشتون، د مالیاتو لوړوالی، د بانکونو او مالي ادارو لخوا پور لپاره د لوړ تضمین غوښتنه، د منظم بانکي سیستم نشتون، د ښې او منظمې پالیسۍ نشتون، د پور ورکونکو ادارو لخوا په

کوچنیو کاروبارونو بې اعتمادي، د بانکي خدماتو او آسانتیاوو کمبود، د اسلامي بانکدارۍ ورو وده، د حسنه قرض ورکول سره د خلکو نه لیوالتیا، د مالي مدیریت د یو مناسب سیستم نشتون، د اوږدمهاله قرضونو نشتون، انفلاسیوني تاثیرات

د (۶) نمبر پوښتنې په ځواب کې له (۱۲) نمبر جدول څخه څرګندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۴۴ تنه د تمویل ستونزه د شخصي پانګې نشتون په ګوته کوي چې نمونې یې ۵۸.۷٪ جوړیږي، (۲۱) نمبر جدول (۱۵) پوښتنې کې ښودل شوې چې د تمویل په وړاندې ستره ستونزه لوړ مالیات دي پدې ۴۱ تنه موافق دي چې فیصدي یې ۵۴.۷٪ جوړیږي همدا لوړه فیصدي ده، (۸) جدول کې څخه څرګندیږي چې ددویمې پوښتنې لپاره ۷۵ تنوځواب ورکړی، چاچې د خپل کاروبار ستره سونزه د تمویل کموالی ښودلی هغه ۳۶ تنه کاروبار درلودونکی، و نمونې یې ۴۸٪ کیږي، له (۱۸) نمبر جدول څخه څرګندیږي. له ځواب ویونکو څخه ۳۲ تنو چې نمونې یې ۴۲.۷٪ کیږي د دولت په ښې پالیسۍ جوړولو ټینګار کوي، له (۲۵) نمبر جدول څخه څرګندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۵۲ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۶۹.۳٪ جوړیږي دوی وایي چې نړیوال مالي بازارونو ته لاسرسی د تمویل ستونزه کموي. له (۲۶) نمبر جدول څخه څرګندیږي چې د ځواب ویونکو له جملې څخه ۴۷ تنه ډېر موافق چې نمونې یې ۶۲.۷٪ جوړیږي، دوی وایي چې هیواد کې د یو نوي بانک ایجاد د کاروبارونو د تمویل لپاره ستونزو حل کولی شي.

په پورته لیکنه کې په ترتیب سره د تمویل په وړاندې ستونزه د شخصي پانګې نشتون، ستره ستونزه لوړ مالیات، د دولت په ښې پالیسۍ جوړولو ټینګار کوي، همدارنګه تر ټولو ښه حللاره نړیوال مالي بازارونو ته لاسرسی، هیواد کې د یو نوي بانک ایجاد د کاروبارنو د تمویل لپاره ښودل شوی.

همدارنګه پدې څېړنه کې مونږ یو څه اندازه ستونزو حللاره هم موندلې چې عبارت ده: له په هېواد کې د یو نوي بانک ایجادول چې اهمه وظیفه یې د کاروبارونو تمویل وي. نړیوالو مالي بازارونو ته د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو لاسرسی دی. د دولت لخوا د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو حمایت

او هغوی ته سبسایډي ورکول، په هېواد کې اسلامي بانکداری ته وده او پرمختګ ورکول دي، د دولت له لوري بلاعوضه مرستې او د دولت لخوا د ښې پالیسی جوړول دي.

**وړاندیزونه Recommendations**

1. کوچني او منځني کاروبارونه باید د مالي ادارو په وړاندې خپل اعتماد ثابت کړي او په خپلو ژمنو وفا وکړي.
2. کوچني او منځني کاروبارونه باید مالي ادارو ته سالم تضمین ورکړي او پدې برخه کې دولت ته پکار ده چې مرسته ورسره وکړي.
3. د بانکونو لخوا باید په بانکي خدماتو کې اسانتیاوې راوستل شي او کاروبارونو سره په هره برخه کې مرسته وکړي چې د هیواد اقتصاد مو وده وکړي.
4. دولت لخوا باید اسلامي بانکي سیستم پیاوړی شي چې د تمویل ستونزې کمې شي.
5. مالي ادارې باید کوچنیو کاروبارونو ته په ټیټ سود سره پورونه ورکړي.
6. د کاروبارونو لخوا باید یو ښه مدیریتي سیستم رامنځته شي.
7. کوچنیو کاروبارونو ته باید دولت د اوږد مهاله پورونو زمینه برابره کړي.
8. کوچني کاروبارونه باید تر ډېر حده کوښښ وکړي چې مناسب ګټه ترلاسه کړي چې تمویل ستونزه له منځه لارشه .

**ماخذونه**

اتل نقیب الله چاپ کال (۱۴۰۳ه ش)، کتاب نوم (کاروبارتمویل)

پاول ستیپن(۱۳۹۰ ه ش) ، د شرکتونو د تمویل او پانګې اچونې اساسات، ژباړن پوهیالی رحمان الله رسا.

سبحاني مطیع الله، (۱۳۹۸ه ش) په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو دودی او پرمختګ عوامل

کوټوال الفت الله، (۱۴۰۱هش) د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په ګټورتوب د کوېډ-۱۹ اغیزې

Abdullah, M. H. (2021). SMEs’ Development in Afghanistan: Issues and New Management Perspectives. Management, 9(4), 295-333

Aftab, R., Naveed, M., & Hanif, S. (2021). An analysis of Covid-19 implications for SMEs in Pakistan. Journal of Chinese Economic and Foreign Trade Studies.

Bakhtiari, S., Breunig, R., Magnani, L., & Zhang, J. (2020). Financial constraints and small and medium enterprises: A review. Economic Record, 96(315), 506-523

Beck, T. (2007, April). Financing constraints of SMEs in developing countries: Evidence, determinants, and solutions. In KDI 36th anniversary international conference (pp. 26-27).

Beck, T. H. (2007). Financing constraints of SMEs in developing countries: Evidence, determinants and solutions. Financing innovation-oriented businesses to promote entrepreneurship.

Biswas, A. (2014). Financing constraints for MSME sector. International Journal of Interdisciplinary and Multidisciplinary Studies, 1(5), 60-68.

Eyiah, K. A., Kheni, N. A., & Acquah, R. (2018). SME financing constraints: evidence from the survey of construction firms in Ghana. Int J Small Medium Enterp Bus Sustain, 3(2), 23-4

Gourinchas, P. O., Kalemli-Özcan, Ş., Penciakova, V., & Sander, N. (2021, May). COVID-19 and Small-and Medium-Sized Enterprises: A 2021" Time Bomb". In AEA Papers and Proceedings (Vol. 111, pp. 282-86).

Habibi, E. (2016). Challenges of financing SMEs in Afghanistan–A case study of Nangarhar province. Afghan Economy Society

Kara, M., Yoltaş, Ş., & Şahbalı, S. N. (2018). Financial Problems Of Smes And Problems Encountered To Access Financing. Economy & Business Journal, 12(1), 341-356.

Kira, A. R. (2013). Determinants of financing constraints in East African countries' SMEs. International Journal of Business and management, 8(8), 49. ،

Madrid-Guijarro, A., García-Pérez-de-Lema, D., & Van Auken, H. (2016). Financing constraints and SME innovation during

economic crises. Academia Revista Latinoamericana de Administración.

Mambula, C. (2002). Perceptions of SME growth constraints in Nigeria. Journal of small business management, 40(1), 58-65.

Muriithi, S. M. (2017). African small and medium enterprises (SMEs) contributions, challenges and solutions.

Tambunan, T. (2009). Development and some constraints of SME in Indonesia. Center Industrial SME Business Competition Studies University Trisakti, 1(1), 1-9.

Yoshino, N., & Taghizadeh-Hesary, F. (2017). Solutıons For Small And Medıum-Sızed Enterprıses’ Dıffıcultıes In Accessıng Fınance: Asıan Experıences. Asian Development Bank Institute, (768).

Ziyu, Z. H. A. N. G. (2014). Financing problems and solutions of SMEs. Management Science and Engineering, 8(3), 50.

**محمد ابراهیم سکندري[۱] او عبدالبصیر منظور [۲]**
حقوق څانګه، حقوق او سیاسي علومو پوهنځي ، امیر شیر علي نوایي د لوړو زده کړو مؤسسه . د ښوونې او روزنې پوهنځي ، امیر شیر علي نوایي د لوړو زده کړو مؤسسه

# د شبهې په اساس د حدودو د سقوط مواردو څېړنه

**لنډیز**

حدود د حد جمع ده او په حقیقت کې حد هغه څه ته ویل کیږي چې ددو شیانو په منځ کې حایل واقع شوی وي؛ نو بناء د حد لغوي معنی منع ده او حد په نفس معصیت باندې هم اطلا ق کیږي لکه چې الله جل جلا له فرمائې: (تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا).

ژباړه: حد په شریعت کې له هغې جزا څخه عبارت ده چې د الله() د حق په خاطر مقرره شوي وې، یعني تقدیر او اندازه یې هم خپله الله() ټاکلې ده، نوله همدې امله تعزیر د عدم تقدیر پر بنا ء له حد څخه خارجیږي؛ ځکه د هغه اندازه دحاکم رایې ته راجع شویده ، همدارنګه قصاص هم له حد څخه خارجیږي ځکه هغه دانسان حق ده. د دې موضوع اهمیت دادی چې د ټولنې افرادو ته د حدود واضح کوي او د شبهو په احکامو یې پوهوي، چې په اساس به یې د حدود اقامې لپاره شرایط مهیا او اماده شي.

د دې لیکنې موخه د حدود په هکله د احکامو روښانه کول او د شبهو په اساس د حدودو د سقوط د مواردو واضح کول دي. د دې موضوع په پای کې دې نتیجې ته ورسېدم چې حدود د شبهو په اساس درول کیږی او هرکله چې په حد کې شبهه رامنځته شي، ولوکه د حد هر ډول وي، نوموړی حد د تطبیق څخه درول کیږی، په حدودو کې د شبهاتو د ډولونو په رابطه د علماؤ ترمنځ اختلاف وجود لري؛ خو په مجموع کې ویلای شو، چې شبهات په حدودو کې په درې ډوله دي، چې عبارت دي له؛ په عمل کې شبهه، په جهت کې شبهه، په محل کې شبهه.

**کلیدي کلمې:** حدودود، جهت، شبهت، محل.

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین ، والصلوة والسلام علی سیدالانبیا والمرسلین وعلا اله واصحابه طیبین الطاهرین اجمعین: وبعد

تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا ؕ كَذٰلِكَ يبَينُ اللهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يتَّقُوْنَ (سورة البقره، ۱۸۷ ایت).

ژباړه:

تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا وَ مَنْ يتَعَدَّ حُدُوْدَ اللهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ (سورة البقرة، ۲۲۹ ایت).

ژباړه: د انسان فطري او ذاتي غوښتنه دا ده چې باید ټولنیز ژوند ولري او دغه ټولنیز ژوند باید په محبت، کرامت، عزت او متقابل احترام سره ترسره شي. د نړۍ ټول مسلمانان په حقیقت کې د یوه بدن مثال لري، نو کله چې د بدن یو غړي ته تکلیف ورسیږي، څرګنده خبره ده چې د بدن نور غړي هم ورسره په درد او تکلیف اخته کیږي.

د اسلام شرعي نظام د همدغو اهدافو د تحقق او د ټولنیز ژوندانه د لا ښه سمون په خاطر راغلی دی، چې انسان د بریاوو هغه نهایي پړاو ته ورسوي، کوم چې بشري کرامت یې غوښتنه کوي. د اسلام له راتګ سره سم الله جل جلاله د دېولو جرمونو لپاره حدود وټاکل او ددې لپاره چې ددې جرمونو څخه ځان وساتي یو ډول جزاګانې هم وټاکل شوې چې دتطبیق لپاره یې ځینې قوانین او په بعضې حالاتو کې د شاهدانو موجودیت هم ضروري وګڼل شو.

د مسلمانانو د حیا او ناموس دساتنې لپاره یې دزنا حد وټاکه، ددې لپاره چې یو مسلمان په بل مسلمان تور پورې نه کړي نو دقذف لپاره یې حد او هم یې ددې لپاره مجازات وټاکل چې ټولنه د بې لارې توب څخه وژغورل شي، د شراب، څښل د روغتیا لپاره زیات مضر دي او هم دالله جل جلاله د غضب سبب کیږي او داسلام له راتګ څخه مخکې په عربو کې د شرابو څښل زیات رواج ؤ تردې چې په هر وخت خوراک او څښاک کې تر ټولو لومړی شراب استعمالیدل، نو په تدریج سره دشرابو حرمت راغی، اسلام یو دعدل او انصاف دین دی او الله جل جلاله نه غواړي چې یو مسلمان دبل مسلمان په

حق تيری وکړی او يا د بل مسلمان څخه په غلا سره مال واخلي، نو الله جل جلاله دې لپاره هم حدود وټاکل چې ټولنه په سالمه توګه بريالیتوب ته ورسيږي.

ددې لپاره چې ددين حفاظت او ساتنه وشي او يو مسلمان داسلام څخه ونه ګرځي نو دارتداد حد يې وټاکه او مرتد لپاره يې جزا دشرايطو په پوره کېدو سره وژنه وټاکله.

په ټولنه کې مسلمانان نشي کولای چې خپل ضرورتونه په خپله سيمه کې پوره کړي نو اړ دي چې نورو سيمو ته د خپل ضرورت دحل کولو لپاره سفر وکړي، نو د دې لپآره چې دغو اشخاصو ته زيان ونه رسوي او دمالونو ساتنه يې وشي، نو د حرابت حد يې وټاکه او همدارنګه ددې د مخنيوي په خاطر چې د يو شرعي نظام ساتنه وشي او د غير مشروعو اهدافو دپوره کېدو په خاطر دشرعي نظام په ضد راپورته کېدونکو مخه ونيول شي نو دبغاوت حد يې وټاکه، چې اسلامي حکومت شرعي نظام او قوانين په خلکو کې پلي کړي او داسې خلکو لپاره يې يو څه جزاګانې هم ټاکلي چې څوک بيا ددې جرئت ونه کړي چې دداسې عمل مرتکب شي. خو کله کله يو د تطبيق ټول شرايط پوره شوي وي، مګر د ځينو شبهاتو د رامنځته کيدو په اساس قاضي نشی کولی چی نوموړی حد تطبيق کړی چې دغه شبهات د څېړنې اصلي موضوع ده چې په راتلونکي فصلونو کې په تفصيل سره څېړل شوې ده.

**د څېړنې ستونزه/ اړتيا**

لکه څرنګه چې پوهيږو جرم يوه بده پديده ده او په ټولنه کې بدبختانه نوموړې پديده وجود لري، چې د نوموړو جرايمو يوه برخه جرايم د حدودو په نامه يادېږي، د عدالت غوښتنه هم داده چې کله يو شخص د جرم مرتکب شو، نو بايد چې مجازات شي، خو د حدودو په برخه کې کله داسې واقع کيږي، چې شخص د جرم مرتکب ګرځيدلی وی ، ولی د ځينو مسايلو د واقع کيدو په اساس حد پرې نه تطبيق کيږي. چې دلته د خلکو لخوا د عدالت د تطبيق او يا هم د حدودو د عدم تطبيق په برخه کې انتقادونه کيږي او د اسلامي دولت عدالت ته د شک په سترګه کتل کيږي، نو د نوموړې ستونزې د رفع کولو په موخه د (د شبهي په اسسا د حدودو د سقوط د مواردو) څېړل

ضرور دي، چې په اساس يې د خلکو انتقاد او تشويشونه رفع او دولت ته د کار او د عدالت د تطبيق لارې هواري شي.

**د څېړنې اهميت**

د دې څېړنې اهميت په لاندې نقاطوکې روښانه کيږي.

1. د شبهو په اساس د حدودو سقوط څېړنه ځکه مهمه ده، چې موږ ته د حدودو مشورعيت، او د حدودو د سقوط موارد واضح کوي.
2. دا چې نوموړې موضوع په ټولنه کې موجوده ده، او ټولنې افراد ورسره مخ دی، نو د څېړنې په ترسره کولو سره به افراد د شبهې په اساس د حدودو د سقوط مواردو په هکله پوهه ترلاسه کړي.
3. د نوموړې موضوع څېړل ځکه مهمه ده، چې په اساس يې د حدودو د سقوط په مورد کې د اسلامي شريعت د احکامو څرنګوالی مشخص او خلک پرې پوهه ترلاسه کوي.

**د څېړنې موخې**

ددې څېړنې موخې عبارت دي له:

١ – د اسلامي شريعت له مخې د حدودو واضح کول.

٢ – د اسلامي شريعت له مخې د شبهو پيژندل.

٣ – د شبهو پواسطه د حدودو سقوط واضح کول.

**د څېړنې د اختيار لاملونه**

هره موضوع چې پرې ليکنه کيږي اويا د ليکنې لپاره ټاکل کيږي ځانته لاملونه لري نو زما د موضوع د اختيار لاملونه په لاندې ډول دي:

١. دا چې حدودو جرايم په ټولنه کې وجود لری او نوموړی پديده واقع کيږي، نو ځکه مې وغوښتل څو نوموړی موضوع د څېړلو پواسطه حدود معرفي او تر څنګ به يې د شبهو په رابطه يې وضاحت وکړم.

٢: د حدودو جرايمو په رابطه د اسلامي شريعت د دريځ روښانه کول.

٣: خپلې شخصي علاقمندی له مخې چې، د اسلامی احکامو سره يې لرم، ځکه مې نوموړې موضوع انتخاب کړه.

**د څېړنې پوښتنې**

د نوموړې څېړنې په پای کې به لاندې پوښتنې ځواب شي؛

١ – د شبهو په اساس حدود کله د سقوط (نه تطبيق) سره مخ کيږي؟

٢ – حدود څه ته ویل کیږي او د اقامې شرایط یې کوم دي؟
٣- شبه څه ته ویل کیږي او په څو ډوله دي؟

**تېرو لیکنو ته منطقي کتنه**

ما چې کومه پلټنه او ریسرچ کړی تر اوسه پورې د دې موضوع (د شبهې په اساس د حدودو سقوط) د ترعنوان لاندې کومه مشخصه لیکنه نه ده شوې؛ خو د اسلام جزا یې حقوقو په رابطه یو شمیر کتابونه او مقالی وجود لري، چې نوموړې موضوع یې په کل کې څیړلې ده چې د ځینو څخه یې یادونه کوم.

- عوده، عبدالقادر، د اسلام جنایي تشریع او وضعي قوانین، مترجم، عبدالهادي، هدایت، (کابل: دولتي مطبعه، لمړي ټوک، ١٣٤٧هجري شمسي).

نوموړي کتاب کې د حدودو اقامې شرطونو څخه یادونه شوې ده، چې پکې حدودو مشروعیت او حکمت هم بیان شوی دی؛ خو د شبهو په اساس د حدود د سقوط موارد یې نه دي واضح کړي، بلکې صرف د شبهو په تعریف یې اکتفا کړې ده؛ خو ما پخپله څېړنه کې د شبهو پیژندنه، ډولونه او د سقوط موارد ټول خای پر ځای کړي دي.

- ندوی، مولانا مجیب الله، اسلامي فقه، مترجم، فرهاد محمد غالب، ترین خویشکي، (پیشاور: زیب ارټ پبلیشرز محله جنگي پشت، ٢٠٠٣م/ اگست).

نوموړي عالم هم پخپله څېړنه کې د حدودو په ډولونو، پیژندنه او احکامو باندې بحث کړی او د شبهو په رابطه یې د احکامو په چوکاټ کې بحث کړی دی؛ خو د جلا عنوان لاندې یې نه ده څېړلې، خو ما پخپله څېړنه کې نوموړې موضوع په جدا مبحث کې تر بحث لاندې نیولې او څېړلې ده.

- حقاني، ابو عتیق محمد سعید الرحمان. شرعي حدود. کابل افغانستان. ١٩٩٣

نوموړي عالم هم په خپل کتاب کې شرعي حدود په جلا جلا ډول سره څیړلي او احکام یې ورته بیان کړی دي، خو د شبهو څخه یې په جدا ډول بحث نه دی کړی؛ خو ما پخپله څیرنه کې نوموړی موضوع په جلا، جلا بحثونو کې څیړلې ده.

- کریمي، محمد نعیم. د اسلام جزایي احکام. سباوون کابل افغانستان . ٢٠١١

نوموړی عالم هم د حدودو اړونده احکامو څخه بحث کړی: لکه د نورو علماؤ په شان؛ خو زما د څېړنې سره یې واضح توپیر دادی چې ما پخپله څیړنه کې د حدودو د شبهو څخه بحث کړی دی.

- واثق، احمد ګل. حقوق جزایي اسلام. جلال اباد افغانستان . ۲۰۰۹

قدرمن واثق صیب هم په خپل کتاب کې د حدودو موضوع تر څېړنې لاندې نیوې او هڅه یې کړې چې کامل بحث پرې وکړي، شبهو ته یې هم جدا مبحث ذکر کړی او د تعریف او ډولونو په ذکر کولو سره یې اکتفأ کړې ده، خو ما پخپله څېړنه د شبهو په واسطه د حدودو د سقوط مشروعیت دلایل هم ذکر کړي دي.

**د څېړنې تګلاره**

د دې لیکنې او څیړنې طبعیت د دې تقاضا کوي چې په هکله یې د کتابتونې او تحلیلي میتود څخه استفاده وشي، ځکه چې د شبهط په اساس د حدود د سقوط مواردو په هکله مواد په کتابونو کې شتون لري له هغوی څخه په استفاده مې نوموړي مواد د تحلیل څخه وروسته په خپله ژبه په څیړنه کې ځای پر ځای کړي.

**د څېړنې حدود**

دا چې موږ مختلف شمیر حدود لرو چې د هر حد لپاره د شبهو واضح کول به د څېړنې حجم زیات کړی، نو په همدې اساس په دې څیړنه کې زنا حد اړونده شبهات څیړل شوي دي.

**لومړی مبحث: د حدودو پیژندنه او د مشروعیت دلایل یې**

په لاندی مطلبونو کې د حد پیژندنه او د مشروعیت دلایل یې واضح شوی دي؛

**لومړی مطلب: د حد پیژندنه**

حد په لغت کې په څو معناوو سره راغلی دی، لومړی حد د منع کولو په معنی، شرعي حدود په دې وجه نافذ وي چې مجرم ته په جزا ورکولو سره مجرم اصلاح او نورو خلکو ته عبرت شي، پدې اساس به ټول خلک د مجرمانه فعل کولو منع شي(مرغینانی، علی بن ابی‌بکر، ۱۴۱۷ هـ ق)

په همدې وجه پیره دار ته هم حداد وايي او پیره دار ته ځکه حداد وايي چې خلک د داخلیدو څخه منع کوي.

همدارنګه حد د محاربه او معاصي په معنی هم راغلی دی، لکه چې الله تعالی فرمايي:

(وَ لا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَ اَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ فِي الْمَسٰجِدِؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَاؕ)(سورة البقرة ، ۱۸۷ ايت).

حد د احکا موپه معنی هم راغلی او دا ځکه چې اندازه یې الله تعالی ټاکلې ده.

لکه چې الله تبارک و تعالی په قرآنکریم کې فرمايي:

(فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا يقِيمَا حُدُوْدَ اللهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهٖؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا وَ مَنْ يتَعَدَّ حُدُوْدَ اللهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ (سورة البقرة ، ۲۲۹ ايت)

یا دا چې حدود د وو شیانو ترمنځ حایل او جلا کولو ته وايي چې یو د بل سره ګډ نه شي، یا دا چې یو پر بل تیری ونه کړي او د هرو دوو شیانو ترمنځ جلا والی حد ګڼل کیږي. په همدې ډول په جامع او مانع لفظ باندې د حد اطلاق کیږي چې خپلو افرادو ته شامل وي او نور افراد چې ددې څخه نه وي، نشي داخلیدی (سید سابق، ۲۰۰۸ م).

د اسلامي شریعت فقها د حدودو په تعریف کې مختلف نظرونه لري چې یو تعریف ورته احنافو کړی او بل تعریف ورته جمهورو علماوو کړی، موږ د دواړو نظریات (تعریفات) په جلا، جلا ډول وړاندې کوو او څیړو:

الف ـ د احنافو تعریف : حدود د هغه ټاکل شوو مجازاتو څخه عبارت دي، چې د الله تعالی د حق لپاره ټاکل شوي.

د دې تعریف څخه لاندې دوه نقطې راوځي: یو دا چې د الله حق به وي دویم دا چې ټاکل شوي مجازات دي، که اوله نقطه په نظر کې ونیسو، چې د الله تعالی د حق لپاره ټاکل شوي، نو ګورو چې قصاص او د یت په حدودو کې شامل نه شو او دا ځکه چې قصاص او دیت حقوق العباد دي او د لته حد په تعریف کې حقوق الله رابنایي.

که دویمه نقطه په نظر کې ونیسو، هغه دا چې ټاکلي مجازات دي؛ نو ګورو چې تعزیرات په حدودو کې شامل نه دي او دا ځکه چې تعزیرات ټاکلي مجازات نه

دي (محمد بن علی بن محمد شوکانی، ۱۴۲۳ هـ ق او محمد نعیم کریمی، ۲۰۱۱ م).

ب- د جمهورو علماوو تعریف: حدود عبارت د هغو ټاکل شوو مجازاتو څخه دي چې د الله تعالی او بنده ګانو په حقوقو باندې واقع کيږي، ددغه تعريف څخه هم دوه نقطې استخراج کيږي.

یو دا چې ټاکلي مجازات دي او دویم دا چې د الله تعالی او د بنده ګانو په حقوقو باندې واقع کيږي، چې د اولې نقطې له مخې تعزيرات په حدودوکې شامل نه دی او دا ځکه چې تعزيرات ټاکلي مجازات نه دي او په دې نقطه کې د احنافو د تعريف سره کوم اختلاف هم نه ليدل کيږي.

په دويمه نقطه کې قصاص او ديت په حدودو کې شامل شو او دا ځکه چې حدود د الله تعالی او بنده ګانو په حقوقو باندې واقع کيږي او په دې نقطه کې د احنافو او جمهورو علماو ترمنځ اختلاف موجود دی (احمد ګل واثق، ۱۳۹۶).

**دويم مطلب: د حدودو د مشروعيت دلايل**

د حدودو د مشروعيت په اړه په قرانکريم کې ګڼ شمېر دلايل شته چې د بېلګې په ډول يې ديو څو څخه دلته يادونه کوو:

الف: الله جل جلاله فرمايلي دي

فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا يقِيمَا حُدُوْدَ اللهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهٖ ؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا وَ مَنْ يتَعَدَّ حُدُوْدَ اللهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ(سورة البقره ، ۲۲۹ ایت) ژباړه: پداسې صورت کې که تاسې ته دا ويره وي چې هغوی دواړه به د الله تعالی پر حدودو ټينګ پاتې نشي، نو د هغو دواړو په مينځ کې د دې خبرې باك نشته چې ښځه خپل مېړه ته يو څه بدل ورکړي او ځان ورڅخه بېل کړي. دا د الله تعالٰی ټاکلې پولې دي له دېنه مه اوړئ او څوك چې د خدای د پولونه واوړي هماغوی ظالمان دي (مولانا ابوالاعلی مودودی ، ۱۳۶۰).

ب: په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي

تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ وَ مَنْ يطِعِ اللهَ وَ رَسُوْلَهٗ يدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا ؕ وَ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ(سورة النساء، ۲۳۱ ایت) ژباړه: دادالله ټاکل

شوي پولې دي څوک چې دالله او دهغه دپیغمبر اطاعت وکړي الله به هغه داسي باغونو ته ننباسي چې ترهغو لاندې به ویالې بهېږي اوهغوی به پکې دتل لپاره استوګن وي اوهمداستر بریالیتوب دی (مولانا ابوالاعلی مودودی، ۱۳۶۰).

**درېیم مطلب: د حدودو د اجرأ شرایط**

هر کله چې د حد مستوجب جرم ثابت شي؛ نو نوموړی حد راسأ نه تطبیقیږی ، بلکې د ځینو شرایطو د پوره کیدو څخه وروسته تطبیق کیږی، چی په لنډ ډول تر څېړنې لاندی نیول شوي دي؛

۱ ـ د حدودو د اجرا په وخت کې د امام حاکم یا د هغه د نایب موجودیت: په دې اړه د ټولو علماوو ترمنځ اتفاق موجود دی، چې د حدودو د اجرا حکم به امام کوي، که د اجراء په وخت کې امام موجود نه وي بیا هم څه پروا نه کوي، ځکه چې رسول اکرم په وخت کې هم داسې پیښې شته، چې رسول الله موجود نه و، همدارنګه رسول اکرم حضرت انس ته وفرمایل چې هغې ښځې ته ورشه که اقرار یې وکړ رجم یې کړه ولې د حکم په هکله داشرط دی چې امام او یا یې نائب باید موجود وي، چې په دې اړه رسول الله فرمايي: اربع الی الولاه الحدود، والصدقات والجمات والفي، څلور څیزونه حاکمانو ته سپارل شوي حدود، د صدقاتو ویشل، د مالیاتو اخیستل او د غنیمت هغه مال چې بې له جنګه د کافرو څخه لاسته راشي (عبدالقادر عوده، ۱۳۸۴).

همدارنګه رسول اکرم فرمايي چې حدود او زکات د سلطان په ذمه دی او غیر د سلطان څخه بل څوک د دې حق نه لري.

۲ ـد شاهدانو شروع د حدودو په اجرا باندې : که چیرې د زنا حد د شاهدانو په اساس ثابت شوی وي او حد رجم وي، په دې صورت کې لومړنی ګذار به شاهدان کوي، چې دا د امام ابو حنیفه او امام مالک نظر دی او دلیل یې د حضرت لاندې قول دی.

حضرت علي فرمايي که چیرې حد د شاهدئ په اساس ثابت شوی وي: نو پدې صورت کې به لومړی ګذار شاهد کوي، دویم ګذار به امام کوي او د دې نه وروسته به عوام ګذارونه کوي.

حکمت د دې خبرې دادی، چې دا ډېر سخت کار دی او کېدای شي شاهد له خپلې شاهدۍ واوړي او هر کله چې شاهد له شاهدۍ واوړي، نو پدې صورت کې شبهه واردېږي او د شبهې په اساس حد ساقطیږي.
امام شافعي او امام احمد فرمايي چې په رجم او د درو وهلو دواړو کې به لومړی ګذار امام کوي.

۳ ـ احنافو په نزد د حد د تطبیق په وخت کې باید د شاهدانو اهلیت موجود وي اما جمهور علماء فرمايي چې د حد د تطبیق په وخت کې د شاهدانو اهلیت ضرور نه دی.

۴ ـ د حدودو تطبیق په وخت کې باید د هلاکت ویره موجوده نه وي او دا ځکه چې حد زجر لپاره دی نه د هلاکت لپاره، نو په همدې اساس حدود نه باید په ډېره یخنۍ کې تطبیق شي او نه په ډېره ګرمۍ کې، همدارنګه د حمل په حالت کې یا د مرض په حالت کې باید حد تطبیق نه شي.

امام شافعي او امام احمد بن حنبل فرمايي د هغه مرض په حالت کې چې شفاء ترېنه امکان نه لري (مرض الموت) باید حد تطبیق شي او که حد تطبیق نه شي، نو په دې صورت کې به مریض مړ شي او حد به یې په غاړه پاتې شي (عبدالقادر عوده، ۱۳۸۴ او مولانا مجیب الله ندوی ، ۲۰۰۳).

دا چې حدود، مشروعیت او د اجرأ په شرایط یې پوهه ترلاسه شوه؛ نو په لاندې بحث کې د شبهې او د شبهې په اساس د حدودو د سقوط موارد څېړل شوي دي.

**دویم مبحث : د شبهې په اساس د حدود د سقوط موارد**

حدود عبارت د هغو عقوباتو څخه دي، چې د جاني (مجرم) جسمو ژوند، شهرت او حیثیت ته صدمه رسوي او هیڅوک نه شي کولای پرته د شرعي سبب څخه د بل شخص جسم، ژوند، شهرت اوحیثیت مجروح کړي؛ نو پر همدېٔ اساس حد باید په داسې دلایلو ثابت وي ، چط هیڅ شک او شبه پکې نه وي؛ ځکه چې هر وخت شک او شبهه رامنځته شي د یقیین مانع ګرځی او د هغه یقین چې په هغه باندې احکام بناء شوي وي. د موضوع د ښه وضاحت لپاره لومړی شبهه تعریف شوې، بیا یې مشروعیت دلایل واضح شوي وروسته بیا د شبهو په اقسامو باندې بحث شوی دی.

**لومړی مطلب: د شبهې پیژندنه**

شبهه په لغت کې د مشابهت او پټولو په معنا ده. دا نورې معناوې هم لري لکه خطا، د خطا احتمال او شک او همدارنګه هغه څه چې په حق او باطل کې نه وي شک بلل کیږي (معین محمد ، ۱۳۸۶).

[شک د هر هغه شکل، پوښتنې یا ابهام په معنی دی چې د یو فرد یا ټولنې د هوساینې په اړه په افکارو، تحلیلونو، تصمیمونو او چلندونو کې د حق څخه د غلط درک کولو کې د غلطیو او غلطیو سرچینه وي. په بل عبارت، شک ځان له حق سره مشابه کوي او له باطل څخه د حق د پیژندلو لاره ستونزمنوي او د خلکو د شک سبب ګرځي.]

په اصطلاح کې "شبهه" جمع "شبهات " دي، چې د شک په معنی دی او "شک" په محاوره کې د حلال او حرامو، حق او باطل ترمنځ د شک په معنی دی(احمد ګل واثق، ۱۳۹۶). او دلته تری هدف هغه شک دی چې د حد د تطبیق په وخت کې ارامنځته کیږی او د حد تطبیق سقوط کوي.

**دویم مطلب: د شبهې په اساس د حدود د سقوط مشروعیت**

د شبهی په اساس باندی د حدودو تطبیق درول شوی دی ، یعنی هر کله چې د حد د تطبیق په وخت کې شبهه واقع او یا رامنځته شي؛ نو حد نه تطبیق کیږي، ځکه چې په هکله یې لاندی احادیث بیان شوی دی؛

الف: رسول الله (ص) فرمایي: ("ادرؤوا الحدودَ عن المسلمين ما استطعتم؛ فإن كان له مخرجٌ، فخلُّوا سبيلَه، فإنَّ الإمامَ أن يُخطِئَ في العفوِ، خيرٌ من أن يُخطِئَ في العقوبةِ"(محمد بن علي بن محمد، ۱۴۲۳ او سعدي عبدالرحمن بن ناصر، ب، ت. ص ۱۳۱).

ژباړه: رسول الله (ص) فرمایلي دي: حدود د مسلمانانو نه دفع کړی، چې تاسې کولی شئ، بیا که د مجرم د خلاصي امکان موجود وي، هغه پریږدی، ځکه که امام په غلطئ سره خطأ کار اوبښی، نو دا به بهتره وي ، له دی څخه چې خطأ کار ته په غلطئ سره عذاب ورکړي.

نو د پورته حدیث شریف څخه معلومیږي چې حدود باید په یقین سره ثابت او د فرار هیڅ لاره موجوده نه وي، بیا تطبیق شي.

په بل حدیث شریف کې هم رسول الله () فرمایلي دی: (ادرء الحدود باالشبهات) (مبارکفوري، محمد عبد الرحمن. (ب، ت).

ژباړه: حدود د شبهې په اساس دفع یعنې مه یې قایموي.

عبدالله ابن مسعود (ص) دغه حدیث داسی روایت کړی دی: (ادراء الحدود باالشبهات ادفعو القتل عن المسلمین ماستطعتم(محمد بن علی بن محمد شوکانی ، ۱۴۲۳).

ژباړه: له عبدالله ابن مسعود (ص) څخه روایت دی، چې رسول اکرم (ص) وفرمایل: حدود د شبهو په اساس ودروي، او تر هغې چې ستاسې توان وي مسلمین د قتل څخه وژغوری.

د پورته دلایلو په اساس په واضح ډول ویلای شم، چې حدود د شبهو په اساس درول کیږي او باید چې تطبیق نشي؛ نو اوس دا چې شبهې په څو ډوله دي، په لاندې ډول سره واضح شوي دي

**درېیم مطلب: د شبهو اقسام**

شوافع او احنافو د شبهو د اقسامو په اړه غور او بحث کړی، لیکن نورو فقهاوو په دی اړه زیات اهتمام نه دی کړی او دا ځکه چی شبهات دومره زیات دي، چې انحصار نه مني، اما د شوافعو په نزد شبهې درې برخو تقسیم شوي دي، چې هغه عبارت دي له؛ په محل کې شبهه، په فاعل کې شبهه او په جهت یا طریقه کې شبهه.

د احنافو په نزد شبهې په دوه برخو تقسیم شوی دی، په محل کې شبهه او په فاعل کې شبهه(سید سابق ، ۲۰۰۸) ، چې دا دواړه شبهات د شوافعو لومړیو دوو شبهاتو سره مساوي دی او اخرنی شبهې سره فرق لري، نو ما هم دلته دا درې واړه شبهې جلا جلا ډول تر څېړنې لاندې نیولي دي:

۱ – په محل کې شبهه: که چیرې یو سړی د خپلې ښځې سره د حیض یا نفاس په وخت کې د روژې میاشت یا د روژې په حالت کې او یا د شاه له لارې جماع وکړي، دغه عمل یو حرام عمل دی، ولې په دغه سړي حد نشته او حد ترېنه ساقطیږي.

۲ – شبهه په فاعل کې: که چیرې یو سړی غواړي یوې ښځې سره په دې نیت چې خپله ښځه یې ده، جماع وکړي، خو هغه پردۍ ښځه وي، په دې حالت کې هم شبهه رامنځته کیږي او د سړي څخه حد ساقطیږي. دغه

شبهه په ګمان او عقیده د فاعل کې واقع شوې ده. او فاع په دې عقیده وو، چې کوم حرام فعل یې نه دی ترسره کړی، په دی ځای کې هم په فاعل باندې حد نه تطبیق کیږي.

۳ – شبهه په جهت یا طریقه کې: دغه شبهه د فعل د حرمت او عدم حرمت پر اساس رامنځته کیږی. چی ددغه شبهې منشأ د علماؤ اختلاف دی، چې د یوې مسلې په اړه یې کړی وي (سید سابق ، ۲۰۰۸)

لکه یو ډله د فقهاوو ووایي چې دغه فعل حلال او بله ډله ووایې چې دغه فعل حرام دی، دغه اختلاف د علماؤ شبهه منځته راوړې و چې د دې شبهې په اساس حد ساقطیږي. چې د ښه وضاحت لپاره یې یو څو مثالونه ذکر شوي دي؛

(۱) امام ابوحنیفه وایي چې بې د ولي له اجازی نکاح جواز لري او جمهور علمأ وایي د ولي د اجازی غیر نکاح جواز نلری، اوس دلته موږ ګورو چې د علماؤ ترمنځ اختلاف منځته راغلی دی. نو اوس که چیرې یو څوک یوې انجلۍ سره نکاح وکړي د ولي اجازه یې نه وي کړي، او د نکاح وروسته د ښځې سره جماع وکړي، په دغه سړي ځکه حد نشته چې دلته د علماؤ ترمنځ اختلاف موجود دی، یو ډله علماء وایي چې نکاح کیږی او بله ډله علماء وایي چې نکاح یې نه کیږي، چې نکاح ونشي نو جماع حرامه ده، چې همدغه حرمت او عدم حرمت حد ساقطوي(احمد ګل واثق ، ۱۳۹۶)

(۲) مثال: امام مالک (ص) فرمایي پرته له شاهدانو نکاح جواز لري، ولې نور علماؤ وایي له شاهدانو غیر نکاح جواز نه لري، چې دلته هم د علماوو ترمنځ اختلاف دی، د فعل په حرمت او عدم حرمت کې، چې دغه اختلاف شبهه منځته راوړې او د شبهې په اساس حد ساقطیږي (احمد ګل واثق ، ۱۳۹۶).

لکه څرنګه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه، چې احنافو شبهه په دوه برخو تقسیم کړې ده چې یو یې د فعل شبهه او دویم یې په محل کې شبهه ده چې دلته باید یوې خبرې یادونه وکړو چې د زنا حد کې د فعل شبهه په لاندې اوو ځایونو کې رامنځته کیدای شي

۱ – یو سړی ښځه طلاقه کړي او د طلاق څخه وروسته ورسره جماع وکړي، نو په دې سړي حد نشته
۲ – د عددت په وخت کې جماع . ۳ – د پلار د وینځې سره د جماع په صورت کې ۴ – د مور له وینځې سره د جماع په وخت کې ۵- د ښځې د وینځې سره د جماع په صورت کې ۶ – د مکاتب د وینځې سره د جماع په صورت کې ۷ – د خلع په صورت کې جماع (محمد نعیم کریمی، ۲۰۱۱)

**پایله**

د نوموړې څېړنې په پای کې دې نتجې ته ورسیدم.

- حدود د هغه ټاکل شوو مجازاتو څخه عبارت دي، چې د الله تعالی د حق لپاره ټاکل شوي. د دې تعریف څخه لاندې دوه نقې راوځ: یو دا چې د الله حق به وي دویم دا چې ټاکل شوي مجازات دي، که اوله نقطه په نظر کې ونیسو، چې د الله تعالی د حق لپاره ټاکل شوې، نو ګورو چې قصاص او یت په حدودو کې شامل نه شو او دا ځکه چې قصاص او دیت حقوق العباد دي او د لته حد په تعریف کې حقوق الله راښایي.

که دویمه نقطه په نظر کې ونیسو، هغه دا چې ټاکلي مجازات دي؛ نو ګورو چې تعزیرات په حدودو کې شامل نه دي او دا ځکه چې تعزیرات ټاکلي مجازات نه دي.

- د شبهط په اساس حدود درول کیږي او هر کله چط په یو حد کې شبهه رامنځته شي، نو قاضي ته پکار ده چې د حد د تطبیق څخه ځان وساتي .
- د شبهو د اقسامو په رابطه د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی، خو بیا هم په مجموع کې شبهې په درې ډوله دي، په فاعل کې شبهه ، په محل کې شبهه او په جهت یا طریقه کې شبهه.

**مناقشه**

د شبهې په اساس د حدودو درول یو اسلامي او شریعي حکم دی او قاضي ته پکار ده چې د شبهې د واقع کېدو سره سم د حدودو په تطبیق باندې حکم ونه کړي، ځکه رسول الله (ص) فرمایي چې: ("ادرؤوا الحدودَ عن المسلمين ما

استطعتم؛ فإن كان له مخرجٌ، فخلُّوا سبيلَه، فإنَّ الإمامَ أن يُخطِئَ في العفوِ، خيرٌ من أن يُخطِئَ في العقوبةِ"

**وړانديزونه**

د نوموړې موضوع په پاى کې لاندې وړانديزونه لرم؛

- اسلامي امارت ته مې وړانديز دا دى، د حدودو په رابطه د خلکو د پوهې کچې لوړه کړي.
- اسلامي امارت ته مې وړانديز دى، چې حدودو د تطبيق پرمهال له پوره اختياط کار واخلي او په هغه صورت کې چې په حد کې شبهه واقع شي، بايد هغه له تطبيق څخه صرف نظر شي.
- خلکو ته مې وړانديز دا دى، چې هڅه بايد وکړي، چې د الله تعالى حدود وپيژني او د ارتکاب څخه دى ځان وساتي او د حدود د تطبيق په برخه کې د دولت سره همکار پاتې شي.

**ماخذونه**


القرانکريم

سعدي، عبدالرحمن بن ناصر. (ب، ت) بهجة قلوب الأبرار وقرة عيون الأخيار في شرح جوامع الأخبار، (نسخه: المكتبة الشاملة). https: //shamela.ws/book/9945/121

سيد سابق: (۲۰۰۸). فقه السنه، توحيدي کتابخانه، لاهور

شوکاني، محمدبن علي بن محمد: (۱۴۲۳). فتح القدير ، دارالمعرفة، بيروت، لبنان

عوده، عبدالقادر: (۱۳۸۴). تشريح الجنايي، پيغام خپرندويه ټولنه، پېښور.

کريمي ، محمد نعيم : (۲۰۱۱) . د اسلام جزايي احکام . سباوون کابل افغانستان.

مبارکفوري، محمد عبد الرحمن. (ب، ت). تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي - باب ما جاء في درء الحدود. Islamweb. https: //www.islamweb.net/ar/library/content/56/2650/باب-ما-جاء-في-درء-الحدود

مرغيناني، على بن ابى‌بكر: (1417 هـ ق).الهداية شرح بداية المبتدى، مكتبه حقانيه، پشاور، ج٤

معین، محمد: (۱۳۸۱ ل). فرهنگ معین، کتاب راه نور، ادنا، تهران
مودودي، مولانا ابوالاعلی: (۱۳۶۰). تفسیر تفهیم القران، الدعوة الاسلامیه پشاور
ندوی ، مولانا مجیب الله: (۲۰۰۳). اسلامي فقه ، مترجم ، فرهاد محمد غالب ، ترین خویشکي، پیشاور: زیب ارټ پبلیشرز محله جنګي پشت
واثق احمدګل: (۱۳۹۶). د اسلام جزايي حقوق، مومندخپرندویه ټولنه

# ABSTRACTS

**Dr. Hameedullah Muzammil**

Ministry of Higher Education, Director of Research, Authorship, and Translation

# Envy and Malice in Academic Environments

**Abstract**

Academic institutions are designed to be environments for learning, collaboration, and the development of future leaders. However, underlying this noble intention, jealousy and malevolence frequently emerge as detrimental influences that hinder individual development and communal progress. Envy, rather than damaging its object, devours the individual who harbors it and deteriorating academic integrity, interpersonal trust, and the essence of collaboration.

This study examines the origins and facets of jealousy and malice within academic settings, emphasizing its social, psychological, theological, and philosophical characteristics. The research employs a descriptive and analytical methodology to elucidate the impact of negative emotions on academics, researchers, and educators, resulting in professional detriment and institutional discord. The study aims to identify the origins of this issue to promote effective strategies for mitigating jealousy and cultivating a more supportive academic environment. Ultimately, confronting envy in academic environments is not only an ethical issue but also an essential requirement for fostering inclusive, collaborative, and resilient educational institutions.

**Keywords:** Envy, Malevolence, Educational Institutions, Psychology, Sociology, Islam, Philosophy

**Dr. Said Asghar Hashimi & Teaching Assist. Khalilullah Hanif**

Languages and Literature Faculty , Syed Jamaluddin Afghani University, Kunar, Afghanistan

# The Significance, Challenges, and Solutions of Harmonizing Knowledge and Practice in University Curricula with Labor Market Demands

**Abstract**

An effectively structured curriculum is essential for equipping students for academic advancement and professional opportunities. It is imperative for institutions to ensure that curriculum integrate theoretical knowledge with practical skills to effectively address labor market demands. Currently, this equilibrium has not been completely attained, leading to considerable difficulties for graduates, institutions, and society as a whole.

This paper analyzes the significance of synchronizing academic curricula with labor market demands, identifies the primary obstacles to this alignment, and proposes pragmatic remedies. The results indicate that standardized curricula, which amalgamate theory and practice, not only improve students' employability but also address wider social, cultural, and academic issues.

The research employs a descriptive and analytical methodology to offer guidance for policymakers, curriculum developers, and educators, highlighting that closing the divide between knowledge and practice is both an academic imperative and a national priority for workforce development and sustainable advancement.

**Keywords:** Labor Market, Employment, Knowledge, Practice, Equilibrium, Curriculum

**Dr. Maiwand Safi & Patang Safi**

Faculty of Political Science, Tabesh University, Nangarhar – Faculty of Economics, Tabesh University, Nangarhar, Afghanistan

# Geopolitical Remapping of Afghanistan in Connectivity Strategies

**Abstract**

Afghanistan's geographical position, situated at the confluence of South Asia, Central Asia, and the Middle East, has historically conferred upon it significant strategic importance. Often referred to as the “Heart of Asia” and the “Crossroads of Civilizations,” the nation is perceived as a crucial conduit for regional and intercontinental communication. This paper rigorously analyzes Afghanistan's geopolitical significance in current connectivity initiatives, focusing specifically on projects like TAPI, CASA-1000, and CAREC.

The study underscores how liberal narratives depict Afghanistan as a prospective center for trade, energy transit, and regional integration, accentuating collaboration and collective economic advancement. Simultaneously, realist viewpoints indicate that power dynamics, external interests, and strategic rivalries are crucial in defining Afghanistan's involvement in these endeavors.

The article asserts that Afghanistan's geography embodies both an opportunity and a challenge; it has the potential to facilitate peace, prosperity, and economic interdependence, contingent upon the assurance of domestic stability and a critical approach to international strategic agendas.

**Keywords:** Afghanistan, Geopolitics, Connectivity Strategies, Regional Integration, Strategic Geography, Foreign Policy

**Dr. Abdul Hameed Seerat**

Teaching Assistant, Lecturer, Law & Political Science Faculty, Political Science Department, Tabesh University, Afghanistan

# Determinants of Afghanistan's Foreign Policy toward Regional Structures

## Abstract

Afghanistan, due to its unique geographic location as a strategic bridge between Central and South Asia, has the full potential to play a significant role in regional politics. However, this potential has been affected by a series of political, security, and economic factors, which can be outlined as follows:

First, the country's geographical position and its relations with neighboring states constitute the core axes of its foreign policy. Second, security challenges-particularly the presence of terrorism-play a crucial role in shaping Afghanistan's foreign policy. Third, the issue of international legitimacy of the current government is a fundamental factor, as global recognition directly influences the strength and credibility of its foreign policy. Fourth, economic cooperation and regional projects such as TAPI and CASA-1000 also represent essential dimensions of Afghanistan's foreign policy.In addition, maintaining a balance among regional and global powers, fulfilling the requirements for participation in regional organizations, and specifically respecting the rights of women and girls are issues that Afghanistan's foreign policy is built upon and are regarded as determining elements in its engagement with regional structures.The central theme of this research is that regional structures form a vital component of Afghanistan's foreign policy, and the current government must adopt effective policies in this regard. This study aims to academically highlight the determining factors of Afghanistan's foreign policy toward regional organizations. The nature of this paper is a review article, and it concludes that participation in, and contribution to, regional structures are of great significance for the effectiveness and success of Afghanistan's foreign policy.

**Keywords:** Relations, Afghanistan, Foreign Policy, Regional Structures, Determinants

**Muhibullah Allahyar & Rafiullah Rafi**

Teaching Assistant, Lecturer, Law & Political Science Faculty, Law Department, Tabesh University, Afghanistan

# The Impact of the Reservation Right on the Parties of International Treaties

**Abstract**

The reservation and its effects in international treaties areimportant rights for reserving the benefits and public interests of the states. Moreover, the states can exercise reservation to refrain from enforcing cases that are in conflict with their laws. Given this importance, I chose this topic for my thesis.

The purpose of this research is to clarify and study the reservation and its effects. Various articles have been written in different languages in this regard; some of these articles have been studied with reservation according to international documents, some of them have been studied with reservation according to Islamic law, and some of the others have been studied with reservation from the perspective of domestic law.

A reservation is a statement or declaration issued by a state while signing, approving, accepting, agreeing to, or joining a treaty, by any name, which demonstrates their conditions or adjustments in some provisions of the treaty. The reservation is discussed sometimes during the negotiations, at the time of signing, during the approving, or at the time of joining a treaty.

When states use their reservation in any stage of the treaty, the provisions of the treaty shall be amended in favor of the claimant state.Whereas, the remaining provisions of the treaty that do not contain reservations are applicable for all parties of the treaty. For the very first time, Hazrat Omar (RA) used the reservation in the treaty between Abdurahman bin Ghanm and Ahl-e Jazeera. Later, it is formally recognized in the Convention of International Treaties Law in 1969.

**Keywords:** International Treaties, Parties of the Treaty, The Reservation, The Limitation of Reservation.

**Hayatullah Ashna & Mujahid Habibi**

Lecturer, Economics Faculty, Entrepreneurship and Management, Tabesh University, Afghanistan

# Obstacles and Solutions for the Development of Small and Medium Enterprises in Nangarhar Province

## Abstract

Small and medium businesses play an important role in the economic development of developing countries. One of the reasons for the development of developed countries is small and medium businesses, which play a key role in the country's economy. These businesses are easy to start and create opportunities in various areas such as creating job opportunities, providing the basis for the improvement of technology and generally contribute for the development of the country. The main goal of this study is to reveal and analyze the obstacles and problems that are currently facing the small and medium businesses of the country, especially Nangarhar Province.In the research, we used primary data and secondary data, which is quantitative and qualitative. In Nangarhar Province, there are (272) small and medium-sized businesses operating in the production sector, which in total constitute my research population, and to reach the goal, a sample frame was taken from it, which is in Nangarhar Province. It was located in the central parts. Based on Systematic Random Sampling technique, (159) small and medium manufacturing businesses were calculated and selected with the help of (Online Sampling Size) software.The result of the research identified problems that SMEs are face in Afghanistan, especially in Nangarhar province, include lack of financial tools and technical staff, lack of market, competition, high taxes, energy, raw materials, smuggling, Customs, government support and etc. All will be analyzed and studied in this research. The importance of this research is to small and medium business owners, government agencies and researchers.

**Keyword**: Small and medium-sized enterprises (SMEs), production-related challenges, and non-production-related challenges.

**Abdul Rasheed Hilal**

Lecturer, Islamic Jurisprudence and Law Department, Tabesh University, Afghanistan

# The Causes of Begging and Its Solutions in Nangarhar Province

## Abstract

Human beings are not created to live in complete independence; they depend on one another to meet their daily needs. In today's society, however, many people turn to begging as a way of survival. This research, titled "The Causes of Begging and Its Solutions in Nangarhar Province", was carried out to identify the main reasons behind begging and to propose practical solutions. The purpose of the study is to reduce the practice of begging, to inform society about its negative social and spiritual consequences, and to guide authorities and community leaders in addressing this challenge.

The research uses a descriptive and analytical method and draws on both Islamic teachings and modern scholarly sources. The findings show that the main causes of begging in Nangarhar are poverty and unemployment, failure to distribute zakat properly, habitual begging, lack of education, disability, drug addiction, and the impact of war and insecurity. Suggested solutions include raising awareness through Qur'anic and Prophetic guidance, creating employment opportunities, ensuring proper zakat distribution, supporting vulnerable groups, eliminating drug use, and reducing conflict.

The study concludes that solving the problem of begging requires both social and economic reforms as well as strong moral and religious awareness. By addressing these issues, society can protect human dignity and move toward a healthier and more productive future.

**Keywords:** Begging, Causes, Solutions, Poverty, Zakat, Nangarhar

**Ghufranullah Safi & Walas/Olas Safi**

Lecturer, Law & Political Science Faculty, Tabesh University, Afghanistan

# Tourists' Rights in Islamic Sharia and International Legal Instruments

**Abstract**

While international law has yet to establish binding regulations for tourism, the rights of foreign individuals have been incorporated into various international treaties. Recent studies indicate that the right to recreation, as established in international documents as a recognized human right, may also extend to the realm of tourism. International tourists are required to adhere to the compulsory domestic laws of the host countries, ensuring compliance without exception. International law recognizes the principle of reciprocity, provided that fundamental rights remain intact. Additionally, the freedom of travel is acknowledged as a significant right for tourists.

International treaties acknowledge the rights of tourists, and Islamic Sharia, which encompasses overarching principles of human dignity and hospitality, includes specific regulations pertaining to the rights of tourists. This subject has been examined through the analysis, comparison, and application of contemporary international legal instruments, including the Universal Declaration of Human Rights, refugee conventions, and tourism-related conventions, alongside Islamic jurisprudence.

This topic is significant as it highlights the rights afforded to tourists by both legal systems, including the protection of property, life, privacy, and housing. In Islamic Sharia, tourists are afforded rights that surpass those outlined in international treaties, including the rights to guidance, respectful treatment, and kindness.

This study examines the extent to which Islamic Sharia recognizes the rights of tourists, while also drawing comparisons with the rights outlined in international treaties. The research is grounded in library resources and incorporates primary sources whenever accessible.

The findings of this article indicate that, according to current international law: First, tourists are entitled to essential rights, including the right to life and access to a fair trial, which can be facilitated through consular support, even in the absence of any reciprocal agreement.

Secondly, it is essential for host governments and travel agencies to ensure certain rights are upheld. These include the right to obtain information regarding travel and potential risks, access to official, judicial, and health services, as well as the ability to exchange foreign currency. The International Code of Ethics for Tourism provides support for these principles.

Keywords: Global Legal Framework, Visitors,Security, Human Worth

**Fathullah Mohammadi**

Lecturer, Law & Political Science Faculty, Tabesh University, Afghanistan

# Grounds for the Removal of Judges in Islamic Jurisprudence and Afghan Law

**Abstract**

This study looks at the grounds for dismissing judges from two different legal angles: Afghan applicable law and Islamic jurisprudence. Based on the power, duties, and confidence associated with the judicial position, the study seeks to elucidate the grounds for dismissal of judges. By doing this, it hopes to advance an open, equitable, and corrupt-free legal system.

The article begins by outlining the opinions of the main Islamic legal schools (Hanafi, Maliki, Shafi‘i, and Hanbali) on the grounds for dismissal of judges, such as bribery, mental incapacity, loss of integrity (fisq), failure to meet judicial qualifications, or blatant violations of Sharia. After then, it examines Afghan legislative provisions pertaining to judicial dismissal, paying particular attention to the Constitution, the Law on the Organization and Authority of the Judiciary, and the pertinent Supreme Court regulations.

In order to provide judicial institutions with a legal and jurisprudential guidance, the study aims to present a comparative examination of these reasons. It also identifies similarities and differences between Afghan law and Islamic jurisprudence.

The results show that there are still significant variations between the two systems, even though they both stress the need of maintaining justice and the judge's accountability. Building a more efficient and reliable legal system requires addressing these discrepancies and guaranteeing more congruence.

**Keywords:** Afghan law, Islamic jurisprudence, Audicial accountability, Justice, Judge, Removal

**Islamuddin Aakif & Aashiqullah Karimi**

Lecturer, Sharia Faculty, Islamic Jurisprudence and Law Department, Tabesh University, Afghanistan

# Defense Advocacy in Islamic Sharia and the Regulatory Framework of Defense Lawyers

## Abstract

Allah Almighty created human beings to live collectively in society, and to preserve social life, rules and regulations are essential. Within this framework, defense advocacy has emerged as a vital practice for protecting rights, ensuring justice, and preventing oppression. This research, conducted through a library-based method, explores Defense Advocacy in Islamic Sharia and the Regulatory Framework of Defense Lawyers. The purpose is to determine the legal status of defense advocacy, explain its necessity in society, and highlight both its benefits and challenges.

Drawing upon classical and contemporary scholarly sources, the study shows that while jurists hold differing views, the stronger opinion permits defense advocacy under specific conditions. It plays an important role in defending people’s rights, ensuring fair trials, and preventing injustice. However, risks also exist: supporting criminals unjustly, creating false confidence for wrongdoers, and instances where lawyers neglect ethical principles and fall into corruption.

The study concludes that defense advocacy, when practiced within the framework of Sharia and legal regulations, is both permissible and beneficial. At the same time, ethical guidelines and strict professional standards are necessary to minimize potential harms and to safeguard the integrity of the judicial system.

**Keywords:** Islamic Sharia, Defense Advocacy, Defense Lawyer

**Dr. Asadullah Mohammadi**

Lecturer, Economics Faculty, Management Science Department, Rokhan Institute of Higher Education, Afghanistan
Lecturer, Economics Faculty, Finance Department, Rokhan Institute of Higher Education, Afghanistan

# Analysis of Financing Problems of Small and Medium Enterprises in the Eastern Zone

**Abstract**

Afghanistan is an economically less developed country, and in this country large business enterprises and programs are very limited. The financial capacity of people is very weak, and because of this, more focus has been on small and medium enterprises. If these enterprises are given more attention, our people will be relatively saved from the circle of poverty. For this purpose, their problems should be studied and possible solutions should be found.Every business, whether large or small, needs tools and equipment to carry out its activities. To provide these tools, financial resources are required. Finding and providing these resources to businesses is the meaning of financing. In the eastern zone, many governmental and non-governmental small and medium enterprises exist. A few of them were selected as samples and studied with the help of data and statistics. For better completion of this research, statistical tables, methods, graphs, and SPSS software were used. For primary data collection, questionnaires and interviews were applied, and secondary data were collected from reliable research books and internet sources.Small and medium enterprises in the eastern zone face serious financing problems such as high taxes, lack of trust by lending institutions toward small businesses, slow development of Islamic banking, and inflationary effects. Solutions include establishing a new bank in the country with the main duty of financing businesses, providing access of small and medium enterprises to international financial markets, and promoting the growth of Islamic banking in the country.

**Keywords:** Eastern Zone, Small and Medium Enterprises, Financing, Financing Problems, Analysis of Financing Problem

**Mohammad Ibrahim Sikandari & Abdul Baseer Manzoor**

Lecturer & HOD, Law & Political Science Faculty, Political Science Department, Ameer Shir Ali Nawaee Institute of Higher Education, Afghanistan
Languages and Literature Faculty , Ameer Shir Ali Nawaee Institute of Higher Education, Afghanistan

# An Analytical Study of the Application of Shubha in the Suspension of Hudood Penalties

**Abstract**

The word hudood is the plural of hadd, which linguistically means a boundary or barrier between two things, and by extension, prohibition. In the Qur'an, Allah Almighty says: "These are the limits set by Allah, so do not approach them" (2:187). In Islamic law, hudood refers to fixed punishments prescribed by Allah for certain sins, whose measures and limits are divinely determined. For this reason, ta'zir punishments, which are left to the discretion of the judge, are not considered part of hudood. Likewise, qisas is excluded, since it relates to human rights rather than divine rights.

The importance of this topic lies in clarifying for society the nature of hudood and explaining the rulings of shubha (doubt), so that the conditions for the fair application of hudood may be better understood. The aim of this paper is to explain the rulings of hudood and to identify the cases where hudood are suspended due to doubt.

The study concludes that whenever doubt arises in relation to a hadd punishment—regardless of its type—the punishment is suspended and not carried out. Scholars have differing views on the categories of shubha in hudood, but in general, they can be classified into three types: doubt in the act itself, doubt in the cause, and doubt in the subject of the act.

**Keywords:** Hudood, Shubha (Doubt), Cause, Subject